د

# افغانستان

# داتنوګرافۍ په باب یوه پلټنه





لیکوال

هانري والټر بیلیو

مترجم

کاندید اکاډمیسین محمدانور نومیالی

# د

# افغانستان

# د ایتنوګرافۍ په باب یوه پلټنه

ACKU

لیکوال

**هانري والټر بیلیو**

مترجم

**کاندید اکاډمیسین محمدانور نومیالی**

بسم الله الرحمن الرحيم

د کتاب ټول چاپي حقوق په خپروونکي اړه لري

* **د افغانستان د ایتنوګرافۍ په باب یوه پلټنه**
* لیکوال: هانري والټر بیلیو
* مترجم: کاندید اکاډمیسین م. انور نومیالی

* خپروونکی: **علامه رشاد خپرندویه ټولنه**
* کندهار – افغانستان
* تلیفون: ۰۷۰۰۳۲٦۰۱۱
* ایمیل: mrohyal@yahoo.com

* کمپوز او ډیزاین: **روهیال کمپیوټر اداره**
* لومړی چاپ: ۱۳۹۰ ش – ۲۰۱۱ ع
* کچه: ۱۳/۵۰ × ۲۱ سانتي متره
* چاپ شمېر: زر ټوکه
* د مخونو شمېر: ۴۸۰
* د خپرونو لړ: ۵۰

ACKU

# فهرست


۱. د خپرونکي یادښت ........................ ۵
۲. د مترجم یادوني ........................ ٦
۳. په پښتني ټولنه کي نسبي نومونه ........................ ۳۱
۴. مقدماتي څرګندوني ........................ ۴۱
۵. مقدمه ........................ ۷۹
٦. د افغانستان د ایتنوګرافۍ په باب یوه پلټنه ........................ ۸۲
۷. لومړۍ ستراپي ........................ ۱۸٦
۸. دوهمه ستراپي ........................ ۱۸۷
۹. دریمه ستراپي ........................ ۱۹۱
۱۰. څلرمه ستراپي ........................ ۱۹۱
۱۱. پنځمه ستراپي ........................ ۱۹٦
۱۲. شپږمه ستراپي ........................ ۱۹٦
۱۳. اوومه ستراپي ........................ ۲۰۱
۱۴. اتمه ستراپي ........................ ۳۴۸
۱۵. نهمه ستراپي ........................ ۳۴۸
۱٦. لسمه ستراپي ........................ ۳۴۸
۱۷. یوولسمه ستراپي ........................ ۳۴۹
۱۸. دوولسمه ستراپي ........................ ۳۷۳


ACKU

۱۹. دیرلسمه ستراپي .......................... ۳۷۹
۲۰. څورلسمه ستراپي .......................... ۳۸۰
۲۱. پنځلسمه ستراپي .......................... ۴۱۳
۲۲. شپاړسمه ستراپي .......................... ۴۱۳
۲۳. اووه لسمه ستراپي .......................... ۴۱٦
۲۴. اتلسمه ستراپي .......................... ۴۳۸
۲۵. نونسمه ستراپي .......................... ۴۳۸
۲٦. شلمه ستراپي .......................... ۴۴۰
۲۷. د افغان د نامه منشاء .......................... ۴۴۱
۲۸. زموږ نور چاپ سوي کتابونه .......................... ۴۷۹

ACKU

# د خپرووونکي یادښت

د افغانانو د نسبي اړیکو او ایتنیک پېژندني په باب له ډېره وخته څېړني او پلټني رواني دي، په دغو څېړنو او پلټنو کي د کورنیو څېړونکو تر څنګ بهرني څېړونکي هم لوېه ونډه لري. چي له دې جملې څخه یو هم ډاکټر هانري والټر بیلیو دئ، چي د خپلې اصلي دندې او رسمي ماموریت تر څنګ ئې د افغانانو د نسب او ایتنیک پېژندني په باب پوره اوږده او د اهمیت وړ څېړنه تر سره کړې او په ۱۸۹۱م کال ئې په لندن کي د ختیځ پېژندونکو نړیوال کنفرانس ته وړاندي کړې ده. سره له دې چي ډاکټر بیلیو په خپله هم په دې نظر دئ چي د ده پلټنه د ټولو له پاره د منل سوو حقایقو د مجموعې ادعا نه سي کولای، خو د افغانانو د نسب پېژندني په باب د فقید بیلیو د دغي څېړني لوی ارزښت په دې کي دئ، چي د نورو نسلونو څېړونکو ته ئې د کره او پخو پلټنو له پاره غني لار لیکي او مدارک په میراث پرې ایښي دي.

د کتاب پښتو ترجمه د پښتو تکړه لیکوال او خواخوږي مترجم اروابناد استاد محمدانور نومیالي څه باندي شل کاله مخکي کړې ده، چي تر دې مهاله په لیکلې بڼه پرته وه. د ترجمې مسوده د اروابناد استاد نومیالي د زوم او پښتو پالونکي ډاکټر صاحب شېرحسن حسن له خوا راوسپارل سوه، چي د کمپوز او ډیزاین چاري ئې علامه رشاد خپرندویه ټولني تر سره کړې او د تصحیح او چاپي لګښت خواري ئې هم ښاغلي ډاکټر صاحب شېرحسن حسن پر غاړه اخیستې ده.

موږ د والټر بیلیو دغه څېړنه افغاني څېړونکو ته په دې امید وړاندي کوو، چي د خپل نسب په باب د کورنیو څېړونکو تر څنګ د بهرنیو نظریات هم مطالعه کړي او د علمي حقایقو په روښانه کولو کي سوچه له کوټه څخه بېل کړي، د دې تر څنګ د پښتو د منلي او خواخوږي لیکوال استاد نومیالي اروا ته د مغفرت دوعا کوو او د هغوی د کاله څراغ ډاکټر صاحب حسن ته د اوږده او سوکاله ژوند هیله کوو.

**مطیع الله روهیال**

**د علامه رشاد خپرندویه ټولني مشر**

# د مترجم يادوني

پنځلس کاله پخوا مي د پښتني خېلونو او قومونو هغه راز په راز نسبي نومو ته د يوې څېړني په نيت پام راوګرزېدی چي بايد د ژبني او تاريخي قواعدو له مخي د پښتو او پښتنو پر لرغونې تاريخي سابقه باندي يو څه رڼا واچوي. سره له هغه چي په دې ساحه کي ځيني رواجي نسبي شجرې د توالد او تناسل په ذهنيت يا د ټولنيزي درجه بندۍ په نيت يو يا بل وخت ليکلي سوي دي خو ثبوت ئې ما ته ډېر پياوړی نه ښکارېده. ځکه زياتره ئې په سر کي د (قيس) په نامه راپيل کېدې او په دې نامه کي د غټ قاف (ق) موجوديت ما ته داسي ځرګندوله چي له پښتو څخه وتلی يو پردی نوم دی. بل دا و چي (قيس) ته د مسلمانېدو په خاطر د عبدالرشيد اسلامي او عربي نوم ورکول کېدی څو د ده او د ده د اولادې سلسله د پوره باور دپاره روښانه اسلامي سابقه پيدا کړي خو دې منطقي تضاد ته د چانه و پام سوی چي تر ده رالاندي سربڼ، بټڼ، غرغښت، ماکو، خوګانی، اندړ، منګل، کيشانی، جمريانی، ميشوانی، بابړ، دوړ او داسي نور په سلهاوو هغه هويتونه راپيدا سوي دي چي يو ئې لا هم د اسلامي يا عربي نفوذ کومه نښه نه لري. دا خبره کېدای سي چي د پښتنو او پښتو خپل ذاتي انکشاف او په هغه کي د کهولونو، خېلونو، ټپو، قومونو، قبيلو او ګڼو بېلابېلو لهجو پيدايښت، پرورښت او پايښت يوه داسي څواړخيزه پروسه ګڼله کېږي چي هرومرو د زمانې يوه اوږده دوره ايجابوي او دا نه سي کېدای چي صرف د ديرلسو يا څورلسو پېړيو د لنډي زمانې په دوران کي د ودي دومره

زياتي خواوي په موجوده اندازه بشپړېدو ته ورسېږي. له ښه مرغه په دغه واقعيت باندي اوس هغه خلک لا هم ښه پوهېدای سي چي مذهبي روحيه ئې تر ملي روحيې ډېره غښتلې وي.

د پښتنو په ملي جوړښت کي که قومي نومونه د شمېر له پلوه صرف يو څو محدود نومونه وای او يا ئې سمدم د عملي ژوند په اجتماعي، اقتصادي، کلتوري او سياسي چارو کي اغېزې نه ليده کېدای نو ممکنه وه چي له پامه ولوېږي او څوک سر په ونه ګرزوي. خو څرنګه چي د پښتني ژوند په تانسته کي له ليري او لرغوني زمانې څخه دغه شان هويتونه راپاته او تر اوسه زموږ د روان ژوند حسابونه هم پر کېده نو دا ئې غوښته چي له يوه يا بله پلوه تر کره څېړني او بنيادي پلټني لاندي ونيول سي.

په ۱۹۸۴ م کال کي د لومړي ځل دپاره ما په دې باب يوه لنډه يادونه په خپله هغه ادبي ليکنه کي راوړاندي کړه چي (د پښتو ادبياتو د تاريخ يوه طرحه) مي وبلله او تر دې ګړی ئې لا د چاپ يا خپرېدو مخ نه دی ليدلی. په هر حال هلته مي هغه وخت خپل بيان داسې کښلی دی:

"د پښتنو ايتنيکي مجتمع د يو بشپړ اورګانيزم په توګه تش د منفردو وګړو مجموعه نه ده، بلکې يو اجتماعي - اقتصادي سيستم دی چي د مادي او معنوي عناصرو له تاريخي ترکيبه څخه د اوږدې زمانې په دوران کي د تشکل او تکامل پر لار باندي منځ ته راغلی دی. د دې اورګانيزم واحدونه وګړي نه دي بلکي لويي لويي قبيلې يا ټپې دي چي د هري يوې تشکل او تکامل د خورا ډېر وخت مولود معلومېږي. هره قبيله يا ټپه په خپل ځان کي دننه تر نورو واحدونو پوري ځان رسوي چي هغه خېلونه دي او دا خېلونه بيا کهولونو ته تجزيه کېږي او کهولونه بيا د کورنۍ تر اقتصادي واحده پوري راکوچني کېږي. د قبيلو هغه راز ګرافيک څېړنه چي په سر کي ئې يو جعلي يا حقيقي نوم وټاکل سي او له هغه څخه تر بل نامه پوري يوه ليکه راکش سي او بيا له هغه څخه بل نامه ته ليکه رااوږده

سي او ټوله قبیله د کاغذ پر مخ په یوه ګړي کي ترسیم سي، یوه خوشي بابېز عنعنه ده چي موږ ته تر بیروکراتیکي نسبي شجرې پورته بله کومه علمي نتیجه په لاس نه سي راکولای. خو که قبیله یا خېل او یا حتی کهول د ډېرو وګړو یوه داسي مجموعه وګڼو چي په یوه واحده ایتنیکي حوزه کي دننه د ژبي د لهجې، د کلتوري مشخصاتو، ټولنیزو مؤسساتو او داسي نورو ممیزاتو له پلوه یو بېل هویت جوړوي نو په دې خبره مو سد رسېږي چي د دې هر راز واحد جوړېده او منځ ته راتله د سلهاوو کلونو د تاریخي ودي شرایط ایجابوي.

د پښتنو پر قبیلوي سازمان باندي تر دې اوسه سم علمي کار نه دی سوی او که دا کار ونه سي نو د وچو کلماتو پر قرینو باندي ئې تاریخي ماهیت نه سو ښوولای.

د پښتني اورګانیزم د قبیلوي واحدونو نومونه چي تر اوسه نه چا راټول کړي دي او نه چا په تاریخي توګه مرتب کړي دي، په عمومي ډول دوه رازه لیده کېږي. یو هغه نومونه دي چي له کلماتو څخه ئې هیڅ تاریخي دلالت نه راوزي لکه کاکړ، منګل، ځاځي، ماکو، اندړ، وردګ او داسي نور. د دغسي نومونو د افادې دپاره زه د (جامد) اصطلاح ټاکم. بل هغه راز نومونه دي چي د نسبي سلسلې تاریخي دلالت ځني څرګندېږي لکه محمدزی، علیزی، علي خېل، سلیمانخېل، محمدخېل او داسي نور. دغسي نومونه زه د مشتق په نامه سره بولم.

جامد قبیلوي نومونه عموماً ډېر لرغوني ښکاري. د ټولنیزي ژبپوهني له پلوه ئې دلیل دا دی چي هیڅ عربي یا اسلامي نښې نه لري. د ټولنپوهني له پلوه ئې دلیل دا دی چي دا د هغي دورې نسبي نومونه دي چي هغه وخت لا د میراث موسسه نه ده غښتلې سوې او هیڅ دا اړتیا نسته چي خلګ د (زي) او (خېل) غوندي مشتقي لاحقې په خپلو نسبي نومو کي زیاتي کړي او د پلار د خوا تناسلي رابطه د میراث په خاطر ژوندۍ وساتي ...".

"په پښتنو کي مشتق قبیلوي نومونه چي کتل کېږي نو یو شمېر ئې څرګند عربي کلمات لري او دا د دې خبري ښکاره دلیل دی چي همدا راز واحدونه د پښتنو د مسلمانئ په دوره کي را پیدا سوي دي. د پښتنو د را وروسته تاریخ په زمانو کي ځیني واړه عشیروي واحدونه په ښکاره توګه د نسلي رابطې پر لار جوړ سوي دي. که یو څو ټیپیک مثالونه ئې وڅېړل سي او تر مقایسې ووزي نو بالکل موږ ته د هغي زمانې یوه اټکلي موده په لاس راکوي چي په څونه وخت کي کهول، یا یوه عشیره او یا یوه قبیله منځ ته راتلای سي. خېل، قبیله او داسي نور ټولنیز واحدونه صرف داسي نه دي چي هر زوی ئې په انفرادي صورت تر پلار وروسته پر خپل نامه جوړولای سي. بلکي بشپړي موسسې دي چي هم اجتماعي او هم اقتصادي اړخونه لري او داسي ښکاري چي یو په بل پسې څو پښته تر منځ ئې د اجتماعي - اقتصادي ضرورت په اساس تشکل موندلی وي".

همدغه پورتني مطالب مي د دوهم ځل دپاره په هغه مقاله کي څرګند کړه چي د (آریانا) مجلې د ۱۳٦۴ ش کال په دریمه او څلرمه ګڼه کي (د ټولنیزو واحدونو د پیدایښت او انکشاف تیوري) تر عنوان لاندي خپره سوې ده.

له دغو وختونو راهیسي نو هر کله دا فکر راسره مل و، چي د پښتني قبیلو او خېلو زیات شمېر نومونه چي د ټولنیزو - ژبنیو فوسیلونو په شکل ئې تر نني زمانې پوري ځان را رسولی دی او په ځینو مواردو کي لا د اقتصادي او اجتماعي چارو ژوندي حسابونه هم پر کېږي کېدلای سي چي د یوه علمي میتود په رڼا کي د پښتنو د ټولنیز تاریخ د جوړښت دپاره د عیني مدارکو په څېر تر استفادې لاندي راسي.

په ۱۹۸۸ م کال کي چي زه د یوه علمي سفر تر پروګرام لاندي د لیننګراد ښار ته راغلی وم نو هلته مي د ختیځ پېژندني په انستیتوت کي له افغان پېژندونکي عالم ولادیمیر کوشیف څخه واورېده چي یو انګرېزي

ختیځ پېژندونکي د افغاني اقوامو د نومو د راټولولو په برخه کي کار کړی دی. پر دغه ځای ما نور ټول کارونه پرېښوول او سمدستي په ډېره تلوسه په دې هڅه کي سوم چي د دغه انګرېز اثر وګورم. ښاغلي ولادیمیر چي زما زیاته علاقمندي احساس کړه نو په بېړه ئې د ایچ. ډبلیو بیلیو لیکنه یعني (د افغانستان د ایتنوګرافۍ په باب یوه پلټنه) ما ته راوسپارله. ژر تر ژره مي هلته په سرسري توګه واړوله، راواړوله او په ځینو ځایو کي ئې ما د خپلي فرضیې هغه نښي هم ولیدې چي د پښتني قبیلو او خپلو ځیني نومونه د ماقبل اسلامي زمانې په لیرو دورو کي ریښې لري او په عین زمان کي د پښتون ملت د پراخ ایتنیکي ترکیب او تکوین پر یوه اوږده تاریخي عملیه باندي هم رڼا اچوي. تقریباً په دوه ساعته کي مي دغه ټوله لیکنه سر تر پایه تر نظر وایستله او دې ته ئې نور هم زیات تشویق کړم چي په دغه ساحه کي څېړنه او پلټنه د تاریخي اهمیت له پلوه بې ارزښته نه ګڼله کېږي. تر دې لنډي او بېړنۍ کتني وروسته ما وغوښته چي د نوموړي اثر یوه کاپي زما دپاره سرښته سي خو د تخنیکي یا نورو عواملو پر بنا دا نه سوه ممکنه چي یوه نسخه ئې له ځانه سره وطن ته یوسم او هلته ئې په دقیقه توګه تر استفادې او ترجمې لاندي ونیسم. اوس زه په دې خوشحاله یم چي دا ښه کار وسو، ځکه که مي دا لیکنه وطن ته وړې وای او ډېره خواري مي هم په کښلې وای نو بالآخره به لکه زما نور آثار د جهادي(!) تاړاکګرو د خیرنو لاسونو په تورو منګلو کي له منځه تللي وای.

کله چي وطن ته راستون سوم نو تل په دې هڅه کي وم چي د (بیلیو) بېلابېل آثار ولټوم او تر کتني ئې وباسم. د ده یو شمېر آثار مي په کابل کي وموندل او په زړه پوري مطالب مي په هغو کي ولوستل. په دې لړ کي مي حتی د ده هغه اثر چي د (The Races of Afghanistan) په نامه دی په پښتو باندي واړاوه او یوه مفصله مقدمه مي هم ورته ولیکله. خو د اقوامو د ایتنوګرافۍ کتاب ئې له ډېرو پوښتنو او ګروېږونو سره زما لاس ته رانغی.

ACKU

تر هنده مي لاسونه وغزول لاکن نتیجه ئې ورنه کړه. دې ته مې ډېره تلوسه وه چې هغه پیدا کړم او پوره ځان په وپوهوم. په ۱۹۹۰ م کال کې چې ما (د پښتنو د ټولنیز تاریخ مبادي) لیکله نو په یوه ترڅ کې مې د (بیلیو) د هغه اثر په باب چې په لیننګراد کې پر پېښ سوم، خپلې څرګندوني داسې کښلي دي:

"له دې څرکه سره نو زما پام دې لوري ته راوګرزېدی چې په یوه مناسب فرصت کې د همدې فرضیې بېلګې د (بیلیو) په آثارو کې ولټوم او دغه کرښپل نور هم پسې واخلم. زه په دې باور لرم چې که زموږ څېړونکي له وختې څخه د (بیلیو) د پلټنې پر لار باندې پېښ سوي وای او له علمي نیوکو او پرمختیاوو سره په هغه جهت کې وړاندې تللي وای نو نن به د پښتنو د ټولنیز تاریخ ډېر اړخونه روښانه وای. خو څرنګه چې زموږ قبلي ذهنیتونه تل زموږ د پلټنو مخه نیسي نو ځکه دغه کار تر اوسه پوري د چا له خوا نه دی سوی. فکر کوم چې له دې لوري څخه زموږ مخه یو هم هغه تقلید راګرزولې ده چې د مقدسو نسبي شجرو په وچ تکرار مو غاړه ایستلې ده او غونډ ټولنیز اقتصادي فاکتونه مو له یاده وتلي دي. نسب نامې په تیره بیا هغه چې کتبي بڼه لري زیاتره ئې د سیاسي او اجتماعي اغېزو تر نفوذ لاندې د خواصو د ذهنیت لاس خوړلي وي او تر ډېره ځایه روښانې تمایلات انعکاسوي. هلته د یوه قوم ټولنیز واحدونه تش د یوې کورنۍ په ساده تناسلي پیوند کې د اصلي یا جعلي نامه د یادولو په وسیله خلاصه کوي. خو په داسې حال کې چې هر خېل، ټپه او هره قبیله د زیاتو طبیعي، اقتصادي او اجتماعي چارو په حساب د مادي او معنوي کلتور تاریخي مجموعه ګڼله کېږي چې تکوین ئې ارومرو د وخت یوه اوږده دوره غواړي او د تناسلي پیوندونو خورا ډېري کړۍ په ځان راکښېباسي. په دې اساس نو د نسبي شجرو شکلونه که څه هم موږ ته د ډاډ وړ کره معلومات نه راکوي خو د هغو په محتوا کې داسې عیني مدارک موجودیت لري چې د

سالمو منابعو په څېر په روانه ژبه د تاريخي تشکل او تکامل بيان کوي.

د ډاکټر بيليو ياد سوی اثر که څه هم بيا زما لاس ته نه دی راغلی چي سم ئې ولولم او يا ئې ترجمه کړم، خو د ده په نورو آثارو کي هم د قومي نومو په باب ځيني داسي يادوني سوي دي چي د ټولنيز تاريخ په برخه کي ئې اهميت روښانه دی. مثلاً "د افغانستان د توکمونو" په اثر کي (چي لوړ يې انګرېزي نوم راغلی دی -نوميالی) د پټهان تر عنوان لاندي يو ځای دې ټکي ته د لوستونکي پام راګرزوي چي، "نسبي او محلي نومونه د ملي هويتونو داسي بېلګي دي چي پلټونکي ته د نيم هيرو يا جعلي رواياتو په پر تله خورا سمه لارښوونه کولای سي."

په دې ترتيب نو په ټولو نسبي شجرو کي که شفاهي وي او که کتبي هغه نومونه په تېره بيا چي د فونيم او مورفيم په خصوصياتو کي د پښتو ژبي پراخه تاريخي زمينه هم انعکاسوي د پښتنو د ټولنيزي سابقې د روښانه کېدو دپاره له شتمنو دلالتونو څخه ډک مستند مدارک ګڼل کېږي".

د خپل دې هدف په تعقيب چي د افغانستان پر توکم پېژندنه او توکم پوهنه باندي د (بېليو) ياده سوې ليکنه لاس ته راوړم، د علومو د اکاډيمی له خوا مي د ۱۹۹۱م کال د نومبر د مياشتي په لومړيو ورځو کي دا مجال وموندی چي د هغه وخت شوروي ازبکستان ته په سفر رارهي سم. د تاشکند د علي شېرنوائي په کتابتون کي مي د بېليو يو بل اثر هم ولوستی. وروسته مي د تاشکند د ختيځ پېژندني د انستيتوټ له لاري په رسمي توګه دا اقدام وکړ چي زما د مطلوب اثر مکروفلم يا يوه کاپي له لېننګراده څخه زما دپاره راوغوښتل سي. خو څرنګه چي دا مهال د شوروي نظام د پاشل کېدو په حالت کي و او د جمهوريتونو تر منځ د روابطو پخواني انسجام مخ پر ويجاړه کېدو روان و، نو دا هڅه مي هم له هيلي سره سم کومي نتيجې ته ونه رسېده.

په دې پسې چې د ۱۹۹۲م کال د اپریل په پنځلسمه نېټه له تاشکنده ځخه راوتو ته مجبوره سوم نو له همدې تاریخه د لالهانده ژوند سرو او تودو ته راکښېوتم او مخ د تاجکستان پر لوري د خپل زوم ډاکټر شېرحسن ټاټوبي ته راغلم. دا مهال که هلته په هیواد کې ځورونکي پېښې رواني وې او یا دلته په تاجکستان کې د ناآرامیو اور ته لمن وهله کېده خو دغه شان ټولو خواشینوونکو اندېښنو او غمجنو چوړتو بیا هم زما له زړه ځخه دا هیله نه سوای ایستلای، چې د خپلي ورکي له لټوني ځخه لاس واخلم. کله چې ښاغلی شېرحسن زما په دې ځو کلنۍ غوښتنه خبر سو نو ئې په جدي توګه اراده وکړه چې د نوموړي اثر یوه کاپي تر ما پوري راورسوي. ځو هفتې وروسته ده وغوښته چې لیننګراد ته یو لنډ سفر وکړي، او په دې وخت کي مي د ښاغلي کوشیف په نامه هم یو لیک وروسپاره چې د ببلیو د لیکني د کاپي کېدو په صورت کي له ده سره مرسته وکړي. لنډه ئې دا چې د ښاغلي شېرحسن د مالي لګښت او ډېري جدي پاملرني په برکت او هم د کوشیف د زیاتي مهربانۍ په وجه د ۱۹۹۲ م کال د جولائي په دوهمه نیمائي کي زه خپلي هیلي ته ورسېدم او سترګي مي د کتاب په لیدلو روښانه سوې. د همدغو ورځو په جریان کي دې ته تیاري نیول کېده چې زما د لور دکتوریس مرغلرې او ډاکټر شېرحسن تر منځ د واده مراسم د دوشنبې په ښار کي اجراء سي. خو ځرنګه چې دا مهال زما جیب له مادي شتمنۍ ځخه تش تور و نو مي ژمنه وکړه چې که زه چیري په دې کار کي بریالی سم چې (د افغانستان د ایتنوګرافی په باب پلټنه) پښتو ته راواړوم نو د خپلي ترجمې نسخه به ئې ناوي او زوم ته د واده په مناسبت د اهداء په توګه سوغات کړم. اوس چې له هغه وخته ځخه راهیسي تقریباً درې کاله زمانه تېره سوې ده او ترجمه هم دا ده سر ته رسېدلې ده نو یو ځل بیا د زیاتي خوښۍ احساس کوم چې خپله ژمنه پر ځای کوم او د اهداء پور له خپلي غاړې ځخه اړوم. انصافي خبره دا ده چې

په رښتیا سره دوی د دغي اهداء مستحق هم ګڼم ځکه د پردېسی په ځپځپانده او لالهانده شپېو کي یوازي د دوی بشپړي پالني او پوره پاملرني ما ته دا زمینه مساعده ساتله چي دغه ګران کار په آساني پای ته ورسوم. له ټولو څخه مننه.

هغه ګړی چي د کتاب فوټوکاپي زما لاس ته ورسېده نو د سترګو د خوږ له امله ډېره راته مشکله وه چي لږ تر لږه ئې تر خپلي ساده کتني لاندي یو ځل وباسم. اما لکه څنګه چي "اهل کتاب" زما د لېوني تلوسې اندازه پوره اټکلولای سي نو ما هم د لیدني له ناوړه ستونزو او ممکنو خطرو سره دا پرهېز نه سوای کولای چي له لوستلو څخه ئې ځان راوګرزوم. که ډېر تکلیف و او که لږ، نوموړی اثر مي په دقت تر نظر وایستی او سره له دې چي د یو شمېر پوښتنو د جواب دپاره مي د مراجعې کومو آثارو ته لاس نه رسېدی خو بیا هم په دې ډاډه سوم چي په مطالبو ئې ما پوره ځان وپوهاوه. د لوستلو په ترڅ کي ئې دونه راته څرګنده سوه چي د ترجمې تر عهده ئې وتلای سم خو د پردېسی په بې ثباته شرایطو او نامعلومه حالاتو کي مي کوربړ زړه ته نه لوېده چي یو وخت به ئې د ترجمې کار هم سر ته ورسوم. په دې اثر کي چي ما یو شمېر ارزښتمني خبري د کره ابتکاري څېړنو دپاره ولیدې نو مي تر پخوا لا دې لوري ته ډېره ټینګه توجه راواوښته چي باید د امکان په صورت کي ئې په ترجمه لاس پوري کړم.

بله پلا نو بیا د دوشنبې د ښار ناکراریو زموږ د کورنی ټپک هلته ودراوه او دې ته اړ سوو چي د ۱۹۹۲م کال د اکتوبر په دوهمه نیمایي کي له تاوده تاجکستانه څخه د سړې روسیې پر خوا مخ راونیسو. واردواره مو د لیننګراد په ښار کي واړول. دلته د ۱۹۹۳م کال د اپریل په میاشت کي ما دونه سېک وموندی چي د لومړي ځل دپاره د بېلیو هغه (مقدماتي څرګندوني) راترجمه کړم چي تر اصلي لیکني وروسته ئې د یوې خلاصې په توګه په دې منظور لیکلي دي چي د ختیځ پېژندونکو هغې نهمي

نړیوالي کنګرې ته ئې وړاندي کړي چي ټاکلې وه د ۱۸۹۱م کال د سپټمبر په میاشت په لندن کي جوړه سي. په دې پسې مي د لیکني ترجمې ته هغه وخت ادامه ورکړه چي د مسکو اطرافو ته راکډه سوو او د (چیخوف) په لاګر (کمپ) کي مو واړول. د یوه یاداښت له مخي ویلای سم چي د اثر د ترجمې لومړی مسوده د ۱۹۹۳م کال د سیپټمبر په ۱۹ نېټه پای ته ورسېده.

له هغي نېټې راهیسي چي د طوفاني ژوند روانو څپو را اخیستی یم نو یوه شېبه مي په کوم ځای کي دا فکر نه دی کړی چي هلته به ښایي یوه ورځ نور هم تېک سم. که څه هم دا دی په دغه ډول مي دلته، هلته میاشتي او کلونه تېر کړه خو د نن پر ځای مي د سبا د پاته کېدو فکر بېخي له زړه څخه وتلی دی. په دغه وجه نو کله ناکله چي ما ته د بیلیو د پلټني په باب کومه خبره په زړه کي راګرځېدلې ده، نو هغه مي یو چیري یا بل چیري په دې نیت باندي یاداښت کړې ده چي ګوندي هغه څوک به استفاده څني وکړي چي تر ما وروسته ئې زما لیکني په لاس کښېوزي.

په دې لړ کي هغه لومړی یادداښت چي د لیننګراد په ښار کي مي وختي لیکلی دی لاندي څرګندوني لري:

"د پښتنو په نسبي شجرو کي د قومي پښو او خېلو نومونه که کله د تاریخي منابعو په څېر تر استفادې لاندي راسي نو هغه وخت د بېلیو اثر ډېر زیات ارزښت پیدا کولای سي. بېلیو چي په خپل څېړنیز کار کي له یوناني، رومي او هندي مدار کو څخه پوره کار اخیستی دی باید له پامه وانه چول سي. خو دا خبره چي (مخزن افغاني) او (حیات افغاني) هم ده لیدلي او کتلي دي نو د هغو سره د ده د اثر یوه مقایسه ضروري ښکاري. ځکه هغه څرګندوني چي د دې آثارو تر منځ مشترکي دي البته د ټولو حواله د منابعو په اعتبار یوه ځای ته رسېږي. د بېلیو په پلټنه کي هغه مواد ډېر زیات اهمیت لري چي ده د ساحوي څېړني او کتني له لاري راټول کړي

دي. ښايي دغسي مواد يې د نورو آثارو په تناسب هم د کميت او هم د کيفيت له بابته تاريخي ښېګڼې ولري. بېليو چي د (خېل) او (زي) لاحقې له قومي نومو څه د لنډيز په خاطر حذف کړي دي او داسي فکر ئې کړی دی چي بې له توپيره هر وخت دغو نومو ته ورلوېدای سي، يوه غټه سهوه ده. ځکه د پښتنو په نسبي شجرو کي (موسی زی) نه سي کېدای چي هغه زموږ له خوښي سره سم (موسی خېل) سي. په پښتني انسابو کي (خېل) او (زی) که څه هم لاحقې دي خو په تاريخي ډول له خاصو او يا خاصو غوندو نومو سره ټينګي تړلي دي چي يو د بل په ځای کي نه سي استعمالېدای. د دی دپاره چي پر دغه اساس يو بل جامع اثر منځ ته راسي نو په کار ده چي (مخزن افغاني)، (حيات افغاني) او د بېليو پلټنه په يوه داسي مجموعه کي توحيد سي چي د نسبي نومو ثابت شکلونه، تلفظونه او نور محلي خصوصيتونه يو د بل په ارتباط کي وښيي. د بېليو هغه څرګندوني هم خورا په زړه پوري دي چي د پښتونخوا په ساحه کي سربېره پر بومي اقوامو د ځينو پښتني قبيلو نومونه د هندي راجپوت او يوناني بقاياوو په نومو کي لټوي. ما که چيري مجال وموندی نو د يوې دغسي مجموعې په تدوين به لاس پوري کړم".

يو شمېر نور پاشلي يادداښتونه هم غواړم دلته ئې يو په بل پسې د لوستونکو دپاره رادمخه کړم: "د بېليو پلټنه داسي يوه اوږدې چوکاټي ليکنه نه ده چي بېلابېل فصلونه او څرګند عنوانونه د خپلو محتوياتو دپاره ولري. خو د يوه کلي نظر په رڼا کي کېدلای سي چي هغه پر درو متداخلو برخو باندي سره ووېشل سي. په لومړۍ برخه کي د ګڼو افغانستاني، يوناني او هندي اقوامو تر منځ د نومو پيوندونه له يو شمېر روايتي او تاريخي څرګندونو سره يو ځای بيانوي. په دوهمه برخه کي يو په بل پسې د هغو شلو ستراپيانو د هري يوې په حوزه کي د قومو نومونه سره پيوندوي چي د لرغوني آريانا يا د لوی افغانستان په احاطه کي راځي. په دريمه برخه کي د

(افغان) د نامه له څېړني سره خپله پلټنه پای ته رسوي. دا اثر چې په اصل کې یوه څېړنیزه مسوده ده او لیکونکي د ژوند په وروستیو ورځو کې را یو ځای کړې ده نو حتی بیا ئې دا مجال هم نه دی موندلی چې په هغې کې راغلي تکراري مطالب حذف کړي. له ټولو خبرو سره بېلیو هغو ټولو احتمالي نیوکو ته متوجه دی چې ښایي د ده په کار کې د نیمګړتیاوو له بابته کوم وخت منځ ته راسي. اما په عین زمان کې په هغه کشف هم پوره ډاډه دی، چې په دې برخه کې ئې سر ته رسولی دی. دی د خپلو (مقدماتي څرګندونو) په ترڅ کې یو ځای لیکي، چې وایي: "کله چې مې په همدې موضوع پوري مربوط خپل یادابښتونه وکتل نو راته معلومه سوه چې هغه خورا متفرق او یو د بل سره بېخي بې ارتباطه دي.... اوس وېوهېدم چې له دوی څخه د یوې مستقلي او میتودیکي څېړني په کار کې چې د دغي سیمي د ایتنوګرافۍ سره اړه ولري یوازې د مرستندویه موادو په څېر استفاده کېدای سي ... زه په دې عقیده یم چې په خپله همدغه پلټنه سره له هغه چې غټي نیمګړتیاوي لري خو لوستونکي ته د قبیلوي نومونو په وسیله د افغانستان د اوسېدونکو په باب لږ تر لږه یو داسې جامع نظر وړاندې کوي چې زما له معلوماتو سره سم دغه کار په پخوا کې هیڅ نه دی سوی او یا خو په هر حال په انګرېزي ژبه کې سر ته نه دی رسېدلی .... د دغو قبیلوي نومو په بیانولو او پیوند ورکولو کې بې له شکه ما ډېري تېروتني کړي دي خو په همدې دلیل زما دپاره د خوښۍ فکر دا دی چې د دغه ټاکلي جهت په خوا کې زما جرئتي اقدامات به ښايي نور کسان چې تر ما زیات مهارت ولري دې لوري ته راوبولي، چې خپل پام نوموړي موضوع ته راوګرځوي او ربښتیني هویتونه موږ ته راوپېژني". رشتیا خبره هم دا ده چې د مرستندویه موادو له پلوه د بېلیو پلټنه ډېره بډایه ده. مثلاً که مو غوښتي وي چې د (سوري)، (ګندهاري)، (کاکړ)، (بلوڅ)، (دلازاک)، (چارایماق)، (نورستاني) ولسونو او نورو په باب معلومات راغونډ کړو نو د

هغې په متن کې ډېري څرګندوني لاس ته راځي. حتی د يو شمېر هغو نومو لرغونې سابقه ئې لا هم لټولې ده چې د هزاره ولس بېلابېل خېلونه ورباندي يادېږي. د اوومي سټراپۍ تفصيلي بيان ئې له موږ سره د دې خبري په پخولو کې ډېره مرسته کوي چې د پښتونخوا په غېږ کې د پښتنو د ايتنيکي تکوين لرغوني عناصر هم دلته خپل تاريخي قوام ته رسېدلي دي."

د پلټني د ترجمې په پښتو متن کې ما هر کله د ليکونکي له خوا د (افغان) استعمال سوې کلمه په هم هغه (افغان) سره راوړې ده. خو د ده له خوا د (پټهان)، (پختو)، (پوختو) او له هم دې بابه نور استعمال کړي کلمات ما پر ته له داسي ځايو چې د مفهومي ګډوډۍ فکر مي کړی وي او هلته مي د ده له تلفظه سره سم د ختيځې پښتونخوا په لهجه ليکلې وي، نور مي نو زياتره د پښتون، پښتو او همداسي نورو په بڼه ليکلي دي. زما دپاره په هر حال د پختون، پوختون او پښتون يا پختو، پوختو او پښتو دري سره بېلابېل ډولونه د واحد مفهوم واحدي ژبنۍ افادې دي.

څو کاله وړاندی چې ما د بېليو کتابګوټی (د افغانستان تو کمونه) په پښتو باندي واړاوه او په هغه کي مي يوه مقاله د افغان او بله د پټهان تر عنوان لاندي په بېله توګه وليده نو د دغو نومو د توپير په باب مي يوه مفصله توجيهي برخه د پښتو سوي نسخې دپاره په خپله مقدمه کي وکښله. ځکه بېليو چې کله په خپلو ځينو آثارو کي د افغان او پټهان نومونه يو له بل څخه بېل راوړي دي نو ځينو وګړو ته ئې داسي ګمان ورپيدا کړی دی چې ده د سياسي مقاصدو د ناوړه نيت په سايقه د پښتانه په يوه ملي وجود کي دوګانګي ايجاد کړې ده او دی د همدغه بېلتون لومړنی تيوريسن دی چې تر ده وروسته نورو هم شخوند ورباندي وهلی دی. خو ما چې د بېليو آثار يو يا بل وخت کتله نو داسي څه په نظر نه راتله چې دغه بدګماني د ده په باره کي رشتيا کړي. حتی په ياده سوې مقدمه کي مي د

ده له يوې ليکني څخه په خپله د ده له خولې يوه داسي خبره راوړاندي کړه چي دا ولس د افغان او پښتان له دوو نومو سره د ژبنيو او کلتوري مشترکاتو په وجه يو واحد ملت ګڼل کيږي. پر بېليو باندي د دغه تور پړه اکاډيمسين عبدالشکور رشاد په هغه مقاله کي په خورا شدت اچولې ده چي د (پټهان) تر عنوان لاندي ئې د ۱۳۵۴ ش کال د وږمې د مجلې د کابل د چاپ په دريمه ګڼه کي خپره کړې ده. هلته ئې دغه انګرېز (مستشرق) له ډېره خښمه څخه د (مستشرک) په نامه ښکنځلی دی. تر کومه ځايه چي په دې موضوع کي ما ته خپلي پخوانی څرګندوني راپه يادېږي هغه مي په لاندي ډول په ياده سوې مقدمه کي د افغان او پټهان په باب راوړي دي: "څرنګه چي د پښتون مثبت يا منفي نقش د ده فعال موجوديت په سيمه کي راسربېره کړی دی نو همدا زمان نورو ګاونډيو ولسونو چي البته د پښتنو تر منځ ئې ملي مشترکات په نظر کي نيوله پر دوی ټولو باندي د (اواګنه)، (افغنه)، (افغان)، (سليماني)، (اوغان)، (اوغو)، (پټهان) او (روهيله) يو شمېر ښه او يا بد ملي نومونه ايښي دي. دا چي د يو قوم تر خپل اصلي نامه هغه نوم ډېر رواج سي چي بل ولس ورباندي ايښی وي، يوه داسي پېښه ده چي د نورو اقوامو په تاريخ کي ئې هم مثالونه تېر سوي دي. د مثال په ډول اينګلس ليکي چي د المانيانو دپاره د (دويچين) د اصلي نامه پر ځای د (جرمني) هغه نوم لومړی جامع تاريخي نوم وګرزېدی چي د سيلټيانو له خوا څخه پر دوی ايښول سوی و (د کورنی، خصوصي ملکيت او دولت منشأ - د اينګلس اثر).

د پښتنو دپاره د غير ذاتي يا خارجي نومو په جمله کي (افغان) او (پټهان) هغه خپاره نومونه دي چي د څېړنې دپاره له تاريخي پلوه د علمي اهميت په درجه کي راتلای سي. پښتون چي د خپلي پښتونخوا د طبيعي پولو په پراخه ورشو کي د کوچي پوونده ګرځي او ځائي کرونده ګرې له لاري خپل اوږد پايښت او سوکه انکشاف د زمانې په دورانو کي ساتلی دی

نو له ایتنیکي پلوه ئې د تاریخي انتخاب په حکم یوه خوا له پارسي او بله خوا له هندي کلتور سره په ګاونډیتوب کي راغلې ده. ښکاري چي پارسي کلتور دغه ملت له یوه مخه د (افغان) او هندي کلتور بیا یومخیزه د (پټهان) په نامه بللی دی. که د افغان او پټهان دوې کلمې د (پښتون) د کلمې سره په لفظي رابطه کي وکتل سي نو داسي څرګندېږي چي (افغان) له (پښتون) سره نه د فونیم او نه هم د مورفیم په سطحه کي کومي څرګندي اړیکي لري. خو (پټهان) بیا د (پښتون) سره دونه څرګنده خپلوي ـري چي که د چا ماغزه د زړو مناقشو په تعبیرونو او تاویلونو کي ډېر نه وي سربداله ـوي نو په ساده کتنه سره دغه نژدېکت ډېر روښانه لیدلای سي. ځکه د پښتون د کلمې د سر او پای ږغونه دواړه د پټهان په لفظ کي پر خپل ځای ژوندي پاته دي او که د پټهان د الف ږغ لږ څه د (واو) ږغ ته په خوله کي مایل سي نو قرابت ئې ښه ترا لیده کېدای سي. هغه څوک چي په بېلابېلو کلتوري ساحو کي د نومو د بدلون له مثالونو سره آشنا وي نو په آساني دا منلای سي چي د یوې ژبې د نامه دغونه لږ تبدیلي په بله ژبه کي چنداني د تعجب وړ نه ګرزي.

ښکاري چي پښتني پرګنې به د خپلي ژبې ذاتي نوم په لومړي سر کي په پارسي کلتور باندي نه وي اورولی او نو ځکه هغه کلتور له خورا وختي څخه دغه ولس د افغان په نامه بللی او پېژندلی دی. پارسي فرهنګ چي د سیمي د ګڼو قومونو په اشتراک کي ئې د لیک سطحي ته ځان وختي رسولی دی نو د کتبي رشد له لاري ئې د (افغان) نوم د (پښتون) دپاره په یوه لوی جامع تاریخي او ملي نوم باندي اړولی دی . د نړۍ په هر ګوټ کي د (پښتون) پېژندنه زیاتره د (افغان) تر نامه لاندي سر ته رسېدلې ده. د همدې فرهنګي غلبې په اثر د پښتنو خواصو چي کله د پوهني په ساحه کي کارونه کړي دي نو همدا د افغان کلمه ئې حتی په خپله ژبه کي هم د خپل ملت د نامه په توګه د یوې بشپړي افادې دپاره په ورین تندي منلې ده.

عوام پښتانه هم چي کله ناکله د خارجيانو سره مخامخ کيږي نو د خپلي ژبي پر ځاى د هغو سره د پارسي او يا اردو ژبي زده کړي کلمات رادمخه کوي او ځان د افغان يا پټهان په نامه ورپېژني.

د هندي کلتور په خوا کي بيا داسي څرګنديږي چي د پراخي راشه درشي په ورشو کي د ژبنيو خپلويو، ټولنيزو او سياسي اړيکو او يا داسي نورو وجوهاتو له کبله د (پښتون) کلمه د هنديانو غوږ ته څه ناڅه رسېدلې ده او د ژبني تصرف تر بدلون وروسته د (پټهان) په بڼه ثبت سوې ده. که د خواصو خبره له منځه وباسو نو حتى تر دې را وروسته وختو پوري د لوېديځي پښتونخوا عوام پښتانه چي ځان ئې خارجيانو ته د افغان په ملي نامه معرفي کاوه په دې نه پوهېده چي په يوه بله ساحه کي بيا د دوى ملي نوم پټهان دى. همداسي د ختيځي پښتونخوا عوام پښتانه بيا چي ځان ئې خارجيانو ته د پټهان په ملي نامه معرفي کاوه په دې نه پوهېده چي په يوه بله ساحه کي بيا د دوى ملي نوم افغان دى. دغه ساحوي تقسيم چي د پښتونخوا په لرغوني تاريخ کي کلتوري او سياسي تقسيم هم دى، ځينو کسانو د پښتنو د ايتنيکي تقسيم خيال وربانديي کړى دى.

بېليو چي کله د خپلي پلټني د پاى په برخه کي د افغان د نامه منشأ تر څېړني لاندي نيسي نو له وختي څخه لا په دې پوره خبر دى چي دا نوم د افغانستان د ټولو خلکو دپاره په کار اچول کيږي، ځکه دا خبره ئې د ديرلسمي ستراپى د بيان د پاى په برخه کي په خپله په ډاګه کړې ده. خو په يو شمېر مواردو کي چي بيا ځيني قبيلې په داسي تعبير څرګندوي چي دوى نه د افغان، نه پټهان، نه د غلزي او نه د تاجيک په جمله کي شمېرل کيږي نو هلته ښکاري چي د ده په نظر افغان په قبيلوي حساب يوه جلا پښه او يا بېل توکم ګڼل کيږي. د افغان د نامه په باب د بېليو دغه شان مفهومي انتباه ښايي د کندهار د سيمي د درانيانو له څرګندونو څخه ئې اخيستې وي. دى يو ځاى ليکي، چي: "دراني افغانان له دې سره موافقه نه

لري چي د افغان کلمه د سليمان د لړۍ د پښتو ويونکو قبيلو يعني په ټيک معنا د پښتنو يا پټهان دپاره په کار واچوي. همدارنګه غلزي په دغه نامه نه يادوي چي هغه په خپله هم رشتيا له دې څخه ډډه کوي چي دا نوم د خپل ملي نامه په څېر ومني. دوی همدا شان يو زيات شمېر ورې قبيلې چي نه دي تصنيف سوي لکه برکی، وردک، کوربش او نوري په دې نامه نه بولي .... د افغانستان په لوېديځه برخه کي د پښتو ويونکو قبيلو دا ادعاء چي د افغان لقب يوازي په ځان پوري منحصر بولي يوه بې اهميته خبره نه ده او په روان بيان کي به ئې تر څېړني لاندي ونيسو".

زه (نوميالی) د افغان د کلمې د قبيلوي مفهوم د احتمال په باره کي دونه ويلای سم چي ښايي يو وخت به ئې د کندهار د خلکو تر منځ د ځينو وګړو دپاره خاص استعمال درلوولی وي. ځکه د کندهار په احمدشاهي ښار کي چي ټوله کوڅې ئې د ببلابېلو قبيلو په نومو بلل سوي دي، نو هلته په دريمه ناحيه کي يوه کوڅه تر دې اوسه وخته پوري لا د (افغان پور) په نامه يادېږي. البته په دې څوک نه پوهېږي چي دا په خپل وخت کي کومه قبيله وه او که د کوم سړي خاص نوم و، چي دا کوڅه ورباندي نومېدلې ده. بېليو چي کله خپله پلټنه د افغان د نامه په باره کي يوې نتيجې ته رسولې ده نو داسي نظر ئې ورکړی دی چي دا نوم د قوم، قبيلې يا خېل په توګه د لرغوني آريانا يا لوی افغانستان په ساحه کي چيري نسته او ښايي له ارمينيائي ژبي څخه راوارد سوی وي چي په اصل کي د (غرني) يا (غروال) معنا ورکوي. د بېليو د دغي څېړني نتيجه د ده په خپله خوله داسي ځرګنده سوې ده: د (افغان) نوم صرف د غرني معنای ورکوي او دا کلمه ګردسره د يوه ځانته نژادي قوميت دپاره يو ايتنيکي نوم نه دی بلکي د يوې ټاکلي غرنۍ سيمي د اوسېدونکو دپاره بېله دې څخه چي ملي يا نژادي خپلوي ئې په نظر کي نيول سوې وي تش يو افادوي نوم دی. دا نو په دغه وروستي مفهوم دی چي د افغانستان د اوسېدونکو دپاره په کار اچول

کېږي ځکه افغانان تر هغه ځایه چي موږ ئې پېژنو په یقیني توګه له زیات شمېر بېلابېلو نژادي قومیتونو څخه جوړ سوي دي. خو افغانان په خپله هره هغه قبیله چي د مورنۍ ژبي په توګه پښتو نه وایي د افغان په څېر نه ګڼي او په دې ډول نو د دې نامه په کارولو کي یو څرګند توپیر په نښه کوي. په افغانستان کي د افغان نوم اصلاً په ځینو هغو قبیلو پوري محدود دی چي د کندهار په ملک کي اوسي او ژبه ئې پښتو ده. خو لکه څنګه چي ئې دمخه بیان تېر سوی دی نوري پوختو – ویونکي قبیلې چي د سلیمان د لړۍ او د هغې د ښاخونو اوسېدونکي دي د پوختون یا پټهان په نامه بلل کېږي. که دا بیان په نورو الفاظو کي وسي نو لوېدیځ افغانستان افغان او ختیځ افغانستان پټهان دی.

بېلیو د دې خبري په کولو سره چي افغان د خاصي نژادي ټولۍ ایتنیکي نوم نه دی له هغو ټولو تورونو څخه برائت پیدا کوي چي پر ده باندي ئې پړه اچول سوې ده. د ده له پلټني سره سم دا نوم د اتمي میلادي پېړۍ د سر په کلونو کي د عربو له خوا څخه د تاریخ پر صفحه باندي راڅرګند سوی دی. په دې ترڅ کي دا هم باید وویل سي چي د ځینو پوهانو په ګومان د (اپاګا) او (اواګنه) په نومو هغه قوم یا قومونه چي غالباً ئې د هند د نیمي قاري پر شمال لوېدیځه څنډه باندي ژوند کاوه او دغه راز نومونه ئې د شپږمي میلادي پېړۍ په دوران کي د هندي منجم واراهامیهرا په آثارو کي یاد سوي دي د (افغان) د نامه هغه لومړنی څرګندونکی دی چي په هندي تاریخ کي ثبت سوی دی.

د پښتون، پختون یا پوختون د ملي نامه په مورد کي چي هندي کلتور د پټهان په بڼه اړولی دی همدارنګه د بېلیو نظر دا دی چي د خپلي لرغوني ریښې پر بنا په لومړي سر کي د (غرني) یا (غروال) په مفهوم منځ ته راغلي دي. ځکه د ده له بیانه سره سم د لفظي اشتقاق له مخي د پارسي ژبي د (پشته) له کلمې څخه راوتلی دی چي د غونډۍ، شاګې او غرګي معنا

ورکوي. د پارسي (پشته) چې د پښتو په نرمه لهجه کې (پښته) او په زيږه لهجه کې (پخته) يا (پوخته) تلفظ کېږي د پښتون، پختون يا پوختون لغوي مبدأ ګڼله کېږي. د بېليو په تحليل تر ميلاد څو پېړۍ دمخه په هغه زمانه کې چې د اوومې ستراپۍ ورشو د پرشيائي نفوذ تر اغېزې لاندې وه نو د دې غرنۍ سيمې قومونه د اوسېدنې د موقعيت په خاطر د پشته يا پښته يا پخته او پوخته نامه ته منسوب د پښتون، پختون او يا پوختون په نامه بلل سوي دي. د ده له قوله د دغه اشتقاق مربوط کلمه (پښتونخوا) يا د هندي ژبې په سليقه (پښتون – ګا) (يعني د پښتانه مربوط) د همدې سيمې د افادې دپاره له ډېره وختې څخه رواج درلودی چې تر ميلاد څلورنيمې پېړۍ دمخه يې د تلفظ په تعقيب يا تقليد د هيرودوت له خوا څخه د پکتيکا يوناني نوم په لرغوني تاريخ کې ثبت سوی دی".

" بېليو که څه هم د پښتو ژبې سره پوره آشنا و خو څرنګه چې په انګرېزي کې د ځينو خاصو پښتو ږغونو دپاره توري نسته نو ځکه ئې هغه د پارسي د ميرزايانو په څېر د خپلې ژبې د تلفظ تابع کړي دي. مثلاً کاکړ ئې په (کاکر)، (اڅکزی) په (اچکزائي)، (ځدراڼ) ئې په (جدران)، (ځاځی) ئې په (جاجي) او داسې نور ئې په نورو ليکلي دي. د پښتو ژبې د (څ، ځ، ړ، ږ، ښ) او دا ډول نور خاص ږغونه د بېليو د انګرېزي متن په نومو کې نه دي څرګند سوي. يوازې د (ڼ) دپاره ئې د (nr) يو توری ايجاد کړی دی. ما په خپله پښتو ترجمه کې زياتره قومي نومونه د ده د انګرېزي د تورو سره سم راوړي دي. يوازې د (بلوچ) او (بريچ) نومونه مې د (بلوڅ) او (برېڅ) له پښتو تلفظ سره سم ليکلي دي.

په انګرېزي املاء کې د (gh) او (kh) له ترکيبي تورو سره په ډېرو ستونزو اخته سوی يم، ځکه زه په دوه زړه کې وم چې آيا په (غ) او (خ) ئې واړوم او که ئې په (ګهـ) يا (کهـ) باندې تلفظ کړم. د مثال دپاره د (Baghwan) د کلمې په تلفظ کې دوه ډېر متفاوت امکانات سته چې يو ئې

(بګهوان) او بل ئې (باغوان) کېږي. په همدې قياس د (kho) کلمه وبولی چي يو امکان ئې (کهو) او بل ئې له (خو) سره برابرېږي. د انګرېزي ژبې (a) هم په پښتو کي ګڼ شکلونه اخيستلای سي. مثلاً د (sanjar) نوم کېدلای سي چي د (سنجار)، (سانجر)، (سانجار)، (سنجر) په ډولو تلفظ سي. کله چي بيا (a) د کلمې په آخر کي وي نو تلفظ يې هم د (آ) او هم د (ه) په شان امکان لري. لکه د (simala) لفظ چي هم (سيمالله) او هم (سيمالا) ويل کېدای سي. بېليو په خپله ليکنه کي د (آ) لپاره يو خاص انګرېزي توری هم د (á) په بڼه را ايستلی دی. مثلاً د (سالار) کلمه ئې د (sálár) په ډول ليکلې ده. د لنډ (پېښ) دپاره ئې هم د (ŭ) خاص غوندي توری استعمال کړی دی.

له بلي خوا بيا زه د پښتو د تورو د نيمګړتيا له بابته هم په زيات مشکل اخته سوی يم. ځکه ما ته ئې چل نه راځي چي څرنګه په انګرېزي تورو Lodi او Lŭdi يا Tori او Tŭri په داسي ډول په پښتو تورو وليکم چي لوستونکی ئې توپير سره وکړای سي.

له دې بابه يو لړ نيمګړتياوي زما د ترجمې په نسخه کي سته چي يو ځای په يوه او بل ځای په بل شکل راغلي دي خو ما ئې د توحيد او يا اډيټ دپاره سم مجال نه دی پيدا کړی. سربېره پر دې ما د خپلي ليکني په املاء کي له سيمه ايزي لهجې څخه کار اخيستی دی او د هغو ټکو پالنه مي هم نه ده کړې چي ځينو کسانو په خپل خيال د پښتو ليکني د معياري کېدو ارکان ګڼلي دي.

د لوستونکو تر پام بايد دا خبره تېره سي چي د کتاب په متن کي د ځينو لرغونو قبيلو يا قومو نومونه په دوه ډوله مخ ته راځي مثلاً لکه (ماسي) او (ماسيوی) يا (ګنداري) او (ګنداريوي). هغه شکلونه چي د (يوي) شاوندی ولري په اصل کي د جمع د کلمې يوناني اشکال دي، چي بېليو په هم هغه لرغوني يوناني طرز باندې ليکلي دي. په دې صورت کې نو يوناني

(ماسیوی) د پښتو له ماسیانو او یوناني (ګنداریوی) له پښتو (ګنداریانو) سره سمون خوري. نور نو که چیري د قومي نومو تر منځ ګډوډي ولیده سي نو هغه ښایي په اصلي نسخه کي د یو لږ شمېر چاپي غلطیو او یا زما د تلفظي اشتباهاتو له درکه څخه را پیدا سوي وي".

"له هغي نېټې راهیسي چي د بېلیو د پلټني څرک مي د لومړي ځل دپاره په لیننګراد کي ومونده او په دې وپوهېدم چي څه دپاسه یوه پېړۍ پخوا ئې د هغو قومي، قبیلوي او ملي نومو تاریخي اهمیت ته په بنیادي توګه پام اړولی دی چي ما ته ئې تش په دې اوسو وختو کي یو پیکه تصور راولاړ سوی و نو د موضوع سره د علاقې د زیاتوب پر بنا مي هري خوا ته لاس او پښه وهله چي د دغه ختیځ پېژندونکي آثار او احوال ښه ترا ما ته روښانه سي. د هغي لټوني په سلسله چي د کابل په محدودو شرایطو کي مي سر ته ورسوله دونه را ته څرګنده سوه، چي تر لسو زیات آثار ئې د افغانستان د سیاسي، فرهنګي او ایتنیکي برخو په باره کي لیکلي دي او د خپلو فعالو رسمي ماموریتونو او مسلکي خدمتونو په لنډو فارغه شېبو کي ئې یو ګړی لا هم خصوصي او شخصي استراحت نه دی کړی. په دې منظور چي هغه زمانه د انګرېز سیاستمداران افغانستان ته د برتانیې د سیاسي، اجتماعي، اقتصادي او کلتوري نفوذ له دریځه څخه ګوري نو د بېلیو نظریه دا ده چي د دې هیواد د خلکو واقعي او هراړخیزه پېژندنه د همدې نفوذ له پوره بریالیتوبه سره ډېره مرسته کوي. ځکه دی په خپل هغه اثر کي چي (د افغانستان توکمونه) نومېږي یو ځای وایي چي د یو قوم رشتیانۍ پېژندنه پر هغه قوم باندي د بري نیمه برخه ده.

بېلیو چي د خپلي نظریې سره سم د سیاسي وظایفو په څنګ کي په واقعي توګه علمي او فرهنګي کارو ته په ډېر جدیت ملا تړلې وه، نو د نورو مهمو کارنامو په جمله کي ئې دا اقدام د پوهو پښتنو د ملي ذهنیت له دریځه څخه د خورا زیاتي ستاینې وړ ګڼل کېدای سي، چي د نونسمي

ACKU

پېړۍ په اوياېمو کلونو کې ئې د برتانيې د نېکمرغه نفوذ تر سيوري لاندي د پېښور په يوه چاپخانه کې د لومړي ځل دپاره د خوشال خان د دېوان يوه نسخه د عامې استفادې دپاره خپره کړه او له احتمالي ورک کېدو څخه يې وژغورله. سره له هغه چې د يو شمېر آثارو له مخې ئې ما يوه لنډه پېژندنه برابره کړه او د ده د پښتو سوي اثر دپاره مې د مقدمې په مطالبو کې راوسته خو ځيني تېک تاريخونه هغه وخت له کومي مرجع څخه په لاس رانغله. له ښه مرغه ځو مياشتي پخوا د امريکا رږغ د پښتو پروګرام په يوه برخه کې د ده يوه لنډه بيوګرافي خپره کړه، چې د اورېدو پر وخت مې ځني ثبت هم کړه. لاندي ټکي چې د دې مستندي بيوګرافۍ يوه برخه څرګندوي د همدې پروګرام له برکته لاس ته راغلي دي:

"هانري بيليو د والټر بېليو زوی د ۱۸۳۴ م کال د اګست د مياشتي په دېرشمه نېټه د هند په نصيرآباد کې وزېږېدی. پلار ئې د برتانوي هند په لښکرو کې د لوازمو رئيس و. دی په ۱۸۵۲م کال کې د لندن يوه طبي پوهنځي ته شامل سو. تر تحصيلاتو وروسته ئې په ۱۸۵۴م کال د کريميا په محاربه کې خدمت وکړ. بيا د ۱۸۵۵م کال د نومبر په ۱۴ نېټه په بنګال کې د سرطبيب د مرستيال په توګه او تر هغه وروسته په ۱۸۸۱م کال کې په خپله عسکري سرطبيب سو. بېليو د انګرېزانو د هغه سياسي هيئت غړی و، چې په ۱۸۵۷م کال کې کندهار ته راغی. دغه ورځې وې چې په هند کې هغه ښورښ وسو چې د سپاهيانو د بغاوت په نامه يادېږي. وايي چې د کندهار والي غلام حيدرخان له خپل پلار امير دوست محمد خان څخه اجازه وغوښته چې د دغه هيئت درې سره غړي هلته په کندهار کې ووژني. خو دا کار ښکاري په دې سبب ونه سو چې بېليو افغانانو ته د يوه طبيب په توګه ښه خدمتونه کړي وه. زه بايد دلته دا خبره پر زياته کړم چې د کندهار د درې مياشتنی استوګني په دغه وخت کې ئې هغه يادداښتونه کښلي دي چې په ۱۸۵۷م کال کې (افغانستان ته د سياسي

هیئت سفر) تر عنوان لاندې خپور سوی دی. په دې اثر کې د هغې زمانې د کندهار د خلکو او حکومت د ژوند جالب جریانونه ثبت سوي دي.

د شاهي آسیايي ټولني مجلې د ۱۸۹۲م کال د اکتوبر د میاشتي په ګڼه کې د بېلیو د مړیني په مناسبت د هغه سوانح خپره کړې ده. په دې سوانح کې راغلي دي چې بېلیو د پېښور د هستوګني په موده کې پښتنو ته چې هم ئې په ژبه پوهېدی او هم ئې د هغو دودونو او احساس ته درناوی لاره، د یوه طبیب په حیث دونه خدمتونه کړي دي چې له نامه سره ئې هره پښتني کورنۍ آشنا ده. وايي چې د هند برتانوي واکمن په ۱۸٦۹م کال کې بېلیو د امیرشېرعلي خان دپاره د پښتو ترجمان په صفت وټاکه. د امیر شېرعلي خان د امبالې د کنفرانس په جریانونو کې بېلیو سر تر پایه حضور درلودی. د همدې څرګندونو په لړ کې ویل سوي دي چې له امیر شېرعلي خان سره د پېژندګلوۍ په وجه بېلیو په ۱۸۷۹م کال په کابل کې د انګرېزانو د سیاسي نماینده په څېر وټاکل سو. (د افغانستان توکمونه) ئې هم په دغه وخت کې لیکلي دي.

هانري والټر بېلیو د ۱۸۸٦م د نومبر په میاشت کې متقاعد او د ۱۸۹۲م کال د جولائي په شپږویشتمه نېټه د بوکنګهمشایر په فرنهام رایل کې مړ سو. یاد دې ښاد وي.

څه د پاسه یوه پېړۍ وړاندي چې د (مقدماتي څرګندونو) په ترڅ کې ارواښاد بېلیو کومه خبره د خپل علمي او سیاسي بصیرت په رڼا کې ډېره وختي درک کړې ده، هغه نن د افغانستان د حاضر وخت په طوفاني پېښو کې په واقعي توګه رشتیا سوې ده ځکه ده د خپلو افغاني څېړنو د اهمیت په تائید کې په ډاډه توګه داسي استدلال کړی دي چې: "ښایي د منځنۍ آسیا په دغه ګوټ کې د سیاسي پېښو بهیر تر هغه زیات د افغانستان خلکو ته د لوېدیځو ملتونو پام راوګرزوي لکه څونه چې د برتانوي هند له انګرېزانو سره د دوی تېرو جګړو ور ته راوګرزاوه".

"تر هغې نېټې راوروسته چې ما د بېليو د (پلټنې) د پښتو ترجمې لومړۍ مسوده بشپړه کړه نو ځان مې په دې ډاډه ګاڼه چې که له ما څخه بل څه ته ورپاته سي ښايي چې لږ يا ډېره استفاده به ځنې وکړای سي. خو کله چې مې دا سبک وموندی چې په يوه ترڅ کې د (مقدماتي څرګندونو) برخه ئې يو ځل بيا تر کتنې وباسم نو هغه مهال راته څرګنده سوه چې نه يوازي د استفادې دپاره ښه سمه نه ده بلکې هلته مې ځيني تېروتني هم کړي دي چې زما د کار خپلو نيمګړتياوو ته ئې راپام کړه. خو ما چې په هغه وخت کې دا مجال نه درلودی چې يو وار بيا پر ټوله ترجمه راوګرزم او په ځير ئې تر کتنې وباسم نو مې په دې باب يو يادابنت د هغه چا په فکر پرېښووی چې ښايي تر ما وروسته ئې دا ترجمه په لاس کې ولوېږي. په يادابنت کې مي داسې ليکلي دي: "د دې اثر تر ژباړني وروسته مې د مقدمې برخه دوهم وار تر نظر وايسته. دا رامعلومه سوه چې څو ځايه مي ځيني جزئي تېروتني کړي دي. په دې وجه نو دا نور اثر هم له ما څخه دوهمه کتنه غواړي. که چيري زه په دې کار نه سوم بريالی نو له نورو څخه دا هيله کوم چې دا کار وکړي—نوميالی".

دريمه پلا چې بيا ما د مقدمې د برخې دوهمه مسوده ليکله نو بيا هم راته څرګنده سوه چې تېروتني راڅخه پاته سوې دي او په دې ډول څو ما دا ومنله چې هر څو ځله چې پر راوګرزم نو هغونه پلاوي به زه دې ته اړېږم چې لاس پکښې ووهم.

بيا نو د يوه اوږده ځنډ دوره راغله او تر هغه وروسته چې د مسکو په يوه روغتون کې زما کينه سترګه هم د عملياتو په برکت د کتنې او ليدنې دپاره لږ څه مساعده سوه نو مې هم هلته دونه سبک په ځان کې وليدی چې د خپلې ترجمې سره په ارتباط کې يوه مستقله غوندې مقاله وليکم. تر دې مهاله لا ما فکر نه کاوه چې ښايي ټوله ترجمه به يو ځل بيا وکتلای سم او دوهمه مسوده به ئې تهيه کړم. خو د وخت له تېرېدو سره يو ځل بيا

چمتو سوم چي له سره تر پایه مي هم وکتله او هم ئې د ځینو ځایو له سمېدو سره دوهمه پاکه مسوده منځ ته راغله. خو د مسودې د بیا لوستلو دپاره مي لا تر اوسه دا مجال نه دی پیدا کړی، چي د ځینو پاته سوو تورو او املائي تېروتنو نیمګړتیاوي سمي کړم. د ترجمې په ځینو توضیحي حاشیو کي ځیني ځایونه ما خپل نوم نومیالی او ځیني ځایونه مترجم لیکلی دی چي په دواړو صورتو کي زه یم او مسئولیت یې په ما اړه لري.

هغه مستقله غوندي مقاله چي (په پښتني ټولنه کي نسبي نومونه) نومېږي او د بېلیو د پلټني د ترجمې په باب او هم په دې ساحه کي د لا زیات کار دپاره وړاندیزونه لري، غواړم له همدې یادونو سره ئې اوس دلته یو ځای کړم. نوموړې مقاله که څه هم په دې وجه یوازي د پښتني قومونو نسبي نومو ته متوجه ده، چي د بېلیو د پلټني په سل کي نیوي بر خه نن د پښتونخوا په اقوامو پوري اړه پیدا کوي، خو د امکان په صورت کي کېدلای سي چي د نورو توکمونو په باب هم د هغې له میتوده څخه کار واخیستل سي. په هر حال تصادفي خبره هم نه ګڼل کېږي، چي د افغانستان په لرغونې یا وروستنی زمانه کي د بشپړ کلاسیک قبیلوي سیستم تاریخي څرګندویان یوازي هم هغه کهولونه، خېلونه، ټبې، قبیلې او قومونه دي چي په لویه پښتني، پختني، افغاني او یا پټهاني مجتمع کي سره راټول سوي دي.

لکه څنګه چي بېلیو د قومو نسبي هویتونه د تاریخي مدارکو په څېر تحلیلوي خو موږ دا خبره هم باید په پام کي ورسره وساتو چي ځیني دغه راز هویتونه د لږ یا ډېر وخت لپاره د اجتماعي - اقتصادي واحدونو په څېر هم خپلي دورې یو ځای یا بل ځای تېري کړي دي.

م. ا. نومیالی (مترجم)
مسکو - ۱۹۹۶/۲/۹م

# په پښتني ټولنه کې نسبي نومونه

د پښتني ټولنې په جوړښت کې نسبي نومونه او د هغو تر منځ پیوندونه د یو سیستم په توګه د زیاتې څېړنې وړ دي. دغه نومونه چې که هم په خپله او هم یو د بل په پرتله وکتل سي نو هم له لفظي او هم له تاریخي پلوه د واقعي منابعو په څېر ډېر په زړه پوري دلالتونه لري. د دوی په هغه لویه شفاهي یا کتبي مجموعه کې چې له هرې زمانې راهیسې د ژوندانه د اړتیاوو له مخې په کلتوري حساب خوندي ساتل سوې او په اجتماعي حساب حتمي پالل سوې ده، داسې راز په راز کلمات په مخه راځي چې د پلټنې او څېړنې په علمي کار کې ئې باید اړومړو بېلابېل ډولونه وپېژندل سي. څو نمونې ئې لاندې د مثال په ډول وړاندې کېږي:

۱ – ځیني قومي نومونه داسې ښکاري چې د یوې سیمې یا کوم ولات له نامه څخه راپیدا سوي وي، لکه یو ځای او بل ځای چې څوک هندوستانیان، کشمیریان، هراتیان، خوستوال، سواتیان، کندهاریان، کوهستانیان او داسې نور بلل کېږي. دغه شان نومونه که څه هم د ځینو ټولیو د پاره ښایي د استعمال په جریان کې په قومي یا نسبي نومونو اوښتي وي، خو څرنګه چې لیده کېږي زیاتره همدغه وګړي خپل نسبي هویتونه په دغسې نومو نه یادوي، بلکې یوازې د دوی ګاونډیانو او یا نورو اقوامو د نسبي یا کلتوري بېلوالي له پلوه په کومه زمانه کې پر دوی باندې ایښې وي.

۲ – یو شمېر نور قومي نومونه بیا هغه وي، چې د یو چا د کسب او کار

په نسبت منځته راغلي وي. لکه چچکر، دوبيان، ښبان، دلاکان، کلالان، بتيارى، جولا او داسي نور. دا راز حرفوي نومونه د (کاست) په فهرست کي راځي چي په اساسي توګه نسبي حساب نه سي ورباندي کېدلای.

۳ - هغه نومونه چي د ستانه دريځ له پلوه پر چا باندي ايښوول سوي وي لکه: صاحبزاده خېل، حضرتان، سيدان (پاچايان)، شيخان، مياګان او داسي نور، د ښتني خېلونو په پرتله د اجتماعي - اقتصادي پيوند له بابته ډېر قومي خصلت نه لري.

۴ - خو په ښتني انسابو کي په زرهاوو داسي نسلي نومونه لکه خروټي، اندړ، ماکو، تارن، تني، زموخت، ګوربوز، بابي، ساپي، کاکړ، بنګښ، کيشاني، ميشواني، لوڼ، دوړ، خوګياني، پوپلزى، اڅکزى، دپتاني، جمرياني، ګاړي او نور چي ځيني د قبيلو او ځيني د خېلو په سويه د لرغوني تاريخ اجتماعي - اقتصادي خصلتونه تر اوسه لا هم له ځانه سره لري، په دې ارزي چي کلمات ئې له ژبني پلوه او مبادي ئې له تاريخي پلوه د امکان تر حده روښانه سي.

دغه شان نسبي يا نسلي نومونه چي د ښتون پېژندني يوه غټه برخه جوړوي له بېلابېلو خواوو څخه د څېړني دپاره ډېره پراخه ورشو لري. سره له هغه چي له دوی څخه يو شمېر په ليري يا نژدې زمانو کي په يوه يا بل نيت له شفاهي او روايتي حالته څخه په کتبي صورت اوښتي دي خو بيا هم دا خبره په ډاډه توګه نه سي ويل کېدای چي چا به د هري سيمي او هري تړي ګرده قومي نومونه له يوه مخه راټول کړي وي.

په هر حال په دغه باب هغه درې موجودي کتبي مجموعې د يوه څېړونکي دپاره خورا زيات مواد لري چي د اوولسمي پېړۍ د دوهمي لسيزي د سر له کلونو راهيسي د (مخزن افغاني) په مغزن اثر راپيل کېږي او ورپسې په (۱۸٦۸م) کال کي د (حيات افغاني) په نامه ليکنه منځته راځي او بيا په ۱۸۹۱م کي د ډاکټر هانري والتر بېليو له خوا دغه لړۍ نوره

هم بشپړېدو ته رسېږي.

د (مخزن افغاني)، (حیات افغاني) او نورو دا شان نسب نامو لیکني د پخوا وختو د هغو عربي شجرو په سبک باندي لیکلي سوي دي چي په سر کي د یوه پلار له نامه څخه د اولادې خپرېده څېړي او داسي فکر کېږي چي تر پایه یوه تناسلي لیکه تعقیبوي. په دوی کي زیاتره له یوې خوا د قومونو تر منځ خپل منځي پیوندونه او له بلي خوا د ټولنیزي درجه بندۍ د ټینګېدو احساس له ورایه څخه ښکاري. خو بیا هم هغه یو شمېر نومونه چي دوی ثبت کړي دي د څېړني د کار دپاره له تاریخي ارزښتونو څخه خالي نه ګڼل کېږي. د دغه راز شجرو عمومي سبک داسي لیده کېږي، چي پلانی قبیله یا پلانی خېل دوه، درې او یا زیات پلاره لري. د قبیلو او خېلو نسبي نومونه داسي فرض سوي دي چي ګویا د هغو واقعي پلرونو خاص نومونه دي چي تر لاندي اولادې ځني رازېږېدلي دي. په دغه جمله کي رشتیا هم په تېره بیا د شجرو د پای په ځینو ځانګو کي د وګړو شخصي نومونه هم یو چیري او بل چیري په مخه راځي. لاکن د شجرو سرني نومونه د دې پر ځای چي د پلار په نامه یاد سي ښه دا ده چي (پلرینه) وبلل سي. د (پلریني) ډېره مناسبه او سوچه پښتو کلمه زموږ د جنوبي په لهجه کي عام رواج لري. (پلرینه) هغه ټولی افاده کوي ، چي د یوه قومي پلار په نامه کي یو د بل سره نسبي اشتراک لري. د ډېري زیاتي پاملرني خبره دا هم ده چي د کندهار په لهجه کي بیا (مورینه) یوه داسي سوچه کلمه ده چي د مور له نامه څخه راوتلې او د (منشأ) یا (مبدأ) له کلماتو سره په افاده کي برابري کوي. په دغه راز کتبي شجرو کي لویه نیمګړتیا دا ده چي د اجنبي ژبو او یا کلتور تر اغېزې لاندي زیاتره قومي نومونه د خپلي اصلي ژبي یعني پښتو له بنې څخه د فونیم یا مورفیم په سویه وتلي او یا مسخه سوي وي. مثلاً (ځدراڼ) په (جدراڼ)، (لغړي) په (لغاري)، (کاکړ) په (کاکر)، (سنځر)، په (سنجر)، (ساپی) په (صافی)، (څاڅی) په (جاجی)، (اتمان) په

(عثمان) او داسي نور په نورو تبدیل سوي وي. یوازي هغه څېړونکي چي د محلي معلوماتو مرسته ورسره ملګرې وي په دې بریالي کېدای سي چي دغه شان اوښتني له نوي سره څخه سمي کړي.

د نسبي شجرو په پر تله د بېليو لیکنه چي (د افغانستان د ایتنوګرافي په باب یوه پلټنه) نومېږي د شجرې پر ځای د انسابو د نومو یوه شتمنه ایتنوګرافي بلل کېدای سي. په دې لیکنه کي چي د نورو اقوامو په شمول ئې د پښتني ټولني زیات نسبي نوموونه راغونډ کړي دي، یو شمېر خاصي ښېګڼي سته، چي د څېړني چاري نوري هم وړاندي بیايي. سره له هغه چي بېليو د (مخزن افغاني) او (حیات افغاني) له آثارو سره آشنا دي، خو کوم کار چي د پښتونخوا په ساحه کي دننه ئې د خپلو لیدنو، کتنو او ګروېږنو پر بنا سر ته رسولي دي داسي ځانګړتیاوي لري چي په دې لاره کي ئې تر نورو کسانو ډېر دمخه کړی دی. د ده د پلټنو په وړاندي مهم ټکی دا دی چي دغو نومو ته له روایاتو سره سم د تناسلي هويت له پلوه نه، بلکي له سره څخه د تاریخي اهمیت په سترګه ګوري او په خپلو آثارو کي هر چیري یادونه کوي چي دغه نوموونه ډېر کره منابع دي او د لرغوني زمانې له جریاناتو څخه پوره څرګندوني کولای سي. مثلاً په خپل هغه اثر کي چي (د افغانستان ټوکمونه) نومېږي داسي وايي:

"نسبي او محلي نوموونه د ملي هویتونو داسي بېلګي دي، چي پلټونکي ته د نیم هیرو یا جعلي روایاتو په پر تله خورا سمه لارښوونه کولای سي".
"د افغاني نسب پېژندونکو او تاریخ لیکونکو چټي افسانې په کافي اندازه بې اساسه دي، خو حقایق په دې افسانو کي په عجیبه توګه تحریف سوي دي. اما د یوه ځیر پلټونکي دپاره دوی خپل ارزښت لري، چي یوې سمي لاري ته ئې لارښوونه وکړي" (وګورئ: Bellew H. W, The Races of Afghanistan)

بېليو تر میلاد دمخه او وروسته د لرغونو یوناني، رومي او هندي آثارو

پر بنا یو شمېر قومي نومونه موندلي دي، چې په عمومي توګه د پخوانۍ آريانا او په تېره بيا د پښتنو تر منځ له رواجي نومو سره لږ يا ډېر شباهت لري. همدارنګه ئې د هندي سيمي د زيات شمېر قومي نومونو ورته والی په پښتني نسبي نومونو کې په نښه کړي دي. دی د خپلي تلواري پلټني او بېړنۍ څېړني په وخت کي يوازي په دې برياليٰ سوی دی چې د نومونو تر منځ لفظي شباهتونه د وړانديز په توګه ژر ژر يادابښت کړي او د کره څېړني پاته برخه يې نورو جدي پلټونکو ته پرېږدي. د بېليو له وختي څخه په دې خبره پوره سد رسېدلی دی او هم ئې دې ټکي ته پام دی، چې د نومونو تر منځ ورته والی د دې سبب کېږي چې سړی په خپل قضاوت کي زياته اشتباه وکړي. دی په دې هم باوري دی، چې د ده په کار کي دغه شان تېروتني ارومرو موجودي دي. خو له هر څونه ډېرو تېروتنو او زياتو اشتباهاتو سره هم د ده په خيال او هم زما په فکر د بېليو په پلټنو کي داسي رښتيني حقايق خاماخا سته چې په ډاډه توګه د لرغوني ايتنيکي ترکيب او قومي تاريخ ټيک حسابونه ورباندي کېدای سي.

ده خپل نومونه اثر د شجرې په ترتيب نه دی ليکلی، بلکي د هري پلريني، خېل، زي، ټپې او يا قبيلې د څانګي تر نامه لاندي چې ئې کوم نسبي نومونه موندلي دي هغه ئې يو په بل پسې د انګرېزي الفباء په ترتيب د بېلابېلو فهرستونو په څېر اوډلي دي. يوه لويه نيمګړتيا يا ګډوډي چې د دې نومونو د ثبت په صورت کي مخې ته راځي، هغه دا ده چې ليکونکي د لنډيز په خاطر له نسبي نومو څخه د (خېل) او (زي) شاوندي غورځولي دي او داسي ګمان يې کړی دی چې دغه شاوندي بې له کومه توپيره د پښتنو د هر نسبي نوم له آخره سره يو ځای کېدای سي. د ده له اټکله سره سم ممکنه ده چې (الي خېل) او (موساخېل) کټ مټ په (اليزي) او (موسازي) باندي واوړي او دواړه ډول نومونه واحده قومي ټولۍ افاده کړي.

د خپلي (پلټني) په متن کي يو ځای ليکي: "په دې برخه کي چي دغه کلمات (خېل او زي) د افغاني قبيلو نومونو ته ورلوېږي، د دوی تر منځ کوم توپير زمانه دی په سترګه سوی. ښکاري چي دوی بې له توپيره په کار اچول کېږي او زياتره دواړه د يوې قبيلې نامه ته ورلوېږي لکه (الي خېل)، (اليزی)، (موساخېل)، (موسازی) او داسي نور. ما دغه شاوندي د اختصار په خاطر د افغاني خېلونو او ځانګو له نومونو څخه غورځولي دي."
(انګرېزي متن ۲٦ مخ، پښتو ترجمه ۱۰۵ مخ)

د بېليو دې ټکي ته نه دی پام سوی چي دغه راز شاوندي د پښتنو قومي نومو او قبيلوي عنوانو ته زموږ له خوښي سره سم بې له توپيره نه سي ورلوېدای، بلکي دا په تاريخي لحاظ ځيني ټينګ سوي ترکيبونه دي چي د پښتني ايتنوګرافۍ په ساحه کي ځيني سيمه ايزي حدبندۍ هم لري. مثلاً د پښتونخوا په يوه ګوټ کي د (زی) شاوندی او په بل کي د (خېل) شاوندی ډېر په مخه راځي. همدارنګه له ځينو نورو نومو سره بيا په هيڅ وخت کي نه يو ځای کېږي. مثلاً د (سنټيا)، (ګوجن)، (منګل)، (خټک)، (ماموند) او داسي نورو نومو سره کورنۍ د استعماليدو رواج نه لري. د بېليو له يوې يادوني څخه څرګندېږي چي د خپل ګمان همدغي اشتباه ته ئې په يو ځای کي لږ څه ورپام سوی هم دی. خو البته ډېر سر ئې نه دی په ګرزولی. مثلاً د خپلي ليکني په تفصيلي مقدمه کي وايي:

"د (بايزي) په نامه پلرينه چي ما د (بای) په بڼه درج کړې ده تل تر تله يوازي د (بايزي) په شکل ليدل سوې ده او داسي يو مثال هم نه سم ښوولای چي هلته د (بايخېل) په بڼه راغلې وي. البته د دې خبري په هيڅ دليل هم نه پوهېږم چي ولي ئې د خېل مثال همدارنګه منځته نه دی راغلی.
(انګرېزي متن ۲٦ مخ، پښتو ترجمه ۷۷ مخ)

بېليو د نسبي نومو په خپلو فهرستو کي د روايتي شجرو هغه لاندي باندي فولکلوري درجه بندي په پام کي نه ده ساتلې چي زياتره تناسلي

غوندي بنه لري او وګړو ته د نسلي توپيرونو احساس ور کوي.

ما چي د بېليو ياده سوې (پلټنه) يا ليکنه له انګرېزي ژبي څخه پښتو ته را اړولې ده، نو په دې کار کي له يو شمېر ستونزو سره مخامخ سوی يم. لومړی دا چي د انګرېزي الفبأ په ترتيب د ده فهرستونه د پښتو په ترجمه کي لړ څه بې نظمه ښکاري. ځکه هغه نومونه چي د انګرېزي ژبي په (a)، (e)، (i)، (o) او (u) سره پيل کېږي په پښتو کي ټوله په همزه سره راځي. په پښتو ترجمه کي نو په همزه باندي پيل سوي نومونه د هر فهرست په بېلابېلو برخو کي ليده کېږي. که چيري ما دغه فهرستونه له نوي سره د پښتو د الفباء په ترتيب اوړلي وای، نو په هغو ټولو تشريحاتو کي هم بايد تغيرات راغلي وای، چي تر هر فهرست لاندي د نومو د مباديو په برخه کي څرګندوني کوي. په هر حال له لوستونکو څخه هيله دا ده چي د پښتو په فهرستونو کي هم بايد د انګرېزي الفباء تر تيب په پام کي ونيسي. دوهم دا چي د زياترو قومي نومو په باره کي د بېليو نظر دا دی، چي د هغو منشأ تر يوناني او هندي ريښو پوري رسېږي. مثلاً د ده له ګمانه سره سم د (اساپ)، (جوهيا)، (ايولوی) او (ميسوی) لرغوني نسبي نومونه د مسلمانی په نوي دوران کي د (يوسف)، (يحيی)، (علي) او (موسی) په بڼه د (يوسفزي)، (يحيی خېل)، (عليزي) او (موسی خېل) په قومي نومو کي ليده کېږي. اوس نو که زه د پښتو له صوتي حالته سره سم دغه نومونه د (يوسپزي)، (يهياخېل)، (اليزي) او (موساخېل) په څېر وليکم ښايي چي لوستونکو ته ډېر نامانوسه ښکاره سي. خو که ئې د عربي رسم الخط په دود وکاږم نو بيا د دې راز عربي کلماتو له ليدني سره هغه روحيه کمزورې کېږي چي له لرغونو نومو سره پيوند ورکول سي. رشتيا هم که موږ (عيسی) په (ايسا) او (موسی) په (موسا) وليکو نو ښايي چي په افاده کي ډېره عجيبه راته وايسي. څرنګه چي دغه شان رسم الخط رواج نه دی موندلی، نو که څه هم سل په سل کي د تاريخي حقايقو له روښانه کېدو

سره مرسته کوي اما ښايي د غالب ذهنيت په اثر ئې ځيني کسان له منلو ځخه هم ډډه وکړي. په دې کې شک نسته چي زموږ زياتره قومي نومونه د ملايي تاويلاتو او ميرزايي تصرفاتو تر اغېزې لاندي له خپله اصلي حالته ځخه لرې يا ډېر بېګانه سوي دي. د مثال دپاره (مسود) په (مسعود)، (امرخېل) په (عمرخېل) او (ساګزی) په (اسحق زی) اوښتي دي. خو په هر حال که دغه راز ټولي ستونزي يا شکمني کلمې يوې خوا ته کښېږدو، نو بيا هم د بېليو په ثبت کړو قومي نومو کي داسي زيات شمېر لفظونه ليده کېږي چي يوناني - هندي يا انډو - اروپايي شکلونه ئې د رواني پښتو له سوچه ړغونو سره ډېر ورته ايسي. د دې دپاره چي د پښتني ټولني دغه نسبي نومونه د روانو ژورو تحولاتو تر اغېزې لاندي له نورو ورانېدو ځخه وژغورل سي نو په کار ده چي د بېليو د (پلټني) سره يې يو داسي عمومي فهرست ملګری سي چي شفاهي شکلونه ئې په International Phonetic Alphabet (IPA) باندي هم ثبت سي. د دې ثبت دپاره غوره بولم چي لږ تر لږه په لاندي ترتيب يو شمېر ستونونه ولري.

د مثال په توګه:

| English | په شفاهي پښتو | IPA | د شجرو په کتابي بڼه | يادوني |
|---|---|---|---|---|
| wūrúki | وړوکی | WərúkI | وروکی | |

دريم دا چي د ځينو قومي او محلي نومونو املاء کي چي کله د بېليو له انګرېزي شکله ځخه د پښتو شکل ته رااړول کېږي، هم دا خطر سته چي سړی په خپل انتخاب کي خطاوزي. مثلاً د بېليو په ليکنه کي د (samal) کلمه د پښتو له ليک دوده سره سم د (سامال)، (سامل)، (سمال)، (سمل) ځلور احتماله لري چي د يوه يا بل شکل په غوره کېدو کي ئې ښايي سړی اشتباه وکړي. سم شکل ئې يوازي هغه چا ته ورمعلومېدای سي چي د نومو په شفاهي برخه کي وطني خبرتيا ولري. ما په خپله ترجمه کي ځيني نومونه له محلي يا رواجي تلفظه سره سم ليکلي دي خو د ځينو په باره کي

مي له څو شکلونو څخه یو شکل غوره کړی دی. که چیري ما په کوم ځای کي اشتباه کړې وي، نو هغه باید لوستونکي اصلاح کړي. په ځینو داسي نومو کي لکه (khatri) زه شکمن پاته سوی یم چي آیا په (ختري) او یا ئې د (کهتري) په املاء باندي ولیکم. همدارنګه په جغرافیایي نومو کي چي زما معلومات نیمګړ تیاوي لري دا احتمال ارومرو سته چي یو ځای یا بل ځای مي ځیني خطاوي کړي وي.

بېلیو چي کله د خېلونو او ټپو د نومو تر منځ بشپړ شباهت پیدا کوي نو په ډاډه توګه وایي چي دا هغه پلانی خېل او یا پلانۍ قبیله ده. خو کله چي بیا پوره ډاډه نه وي نو بیا وایي چي ښایي او یا احتمال لري چي دغه اوسني نامه د هغه پخواني نامه ځای نیولی وي. د ځینو په باره کي بیا داسي وایي چي نه دی پېژندل سوی. له دې خبرې څخه ښکاري چي دی خپلو احتمالي حکموته د پېژندنې په سترګه ګوري. ددې دپاره چي د وچ تکرار مخه نیول سوې وي نو په پښتو ترجمه کي داسي بېلابېل عبارتونه چي پلانی په نښه کوي، له پلاني څخه نمایندګي کوي، پلانی تمثیلوي او د پلاني ځای ئې نیولی دی، ټوله د همدې واحدې افادې په څېر تر استعمال لاندي راغلي دي.

په پښتني ټولنه کي نسبي نومونه تر هر څه لومړی د نومونې دسیستم هغه تاریخي بهیر روښانه کوي، چي د مسلمانۍ تر زمانې دمخه او وروسته ئې د پښتنو تر منځ رواج درلوولی دی. کله چي بیا د همدې نومونو ریښې د بېلیو له څرګندونو سره سم د لیرو زمانو په التقایي جریاناتو کي موندل کېږي نو د کره منابعو په څېر د پښتون ملت په ترکیب او تکوین کي د قومي عناصرو پر لرغونې سابقه باندي پوره رڼا اچوي. سربېره پر دې تر نسبي نومو لاندي خېلونه، ټپې او قبیلې چي د پښتني ټولني په جوړښت کي ئې ځای نیولی دی زیاتره ئې په اصلي (ټیپیک) شکل کي د خپل وخت داسي بشپړ عیار ټولنیز - اقتصادي واحدونه هم څرګندوي چي د داخلي او

خارجي اړيکو په ټاکلو شبکو کي ئې د پيدايښت، پرورښت او پايښت اوږدې دورې تېرې کړي دي. دغه شان هر واحد د پښتونوالي له ملي اشتراکه سره کله ناکله د ژوند په مادي او معنوي خصوصياتو کي ځيني ځانګړ تياوې هم له ځانه سره ساتلي دي. د همدې راز ځانګړ تياوو مثالونه ئې همدا اوس لا يو چيرې يا بل چيرې د ځينو خېلونو د اندوګامۍ، ايکسوګامۍ، د ژبې د لهجې، د کالو د سکښت، د ګېڼو د طرز او د ژوند د ډول په بېلابېلو ساحو کي توجه جلبولای سي. په دې ترتيب نو د پښتو نسبي نومونه د پښتنو د ټولنيز تاريخ په څېړنه کي تر هغه ډېر زيات اهميت لري چي روايتي شجرو يوازې په تناسلي درجه بندۍ پورې محدود کړي دي.

نوميالی
د (مونيکي) روغتون، مسکو
۱۶/٦/۱۹۹۵م

# مقدماتي څرګندوني

(زما د هغې ليکني دپاره چي «**د افغانستان د ايتنوګرافۍ په باب يوه پلټنه**» نومېږي)

د ختيځ پېژندونکو په دې نهمه نړيواله کنګره کي چي کله ما ته د غړيتوب بلنه راکول سوه او هم په دغه ترڅ کي د کنګرې د کار د لا زيات پرمختګ دپاره يوه مقاله راڅخه وغوښتل سوه نو ما لومړی بلنه په خوښي سره ومنله. ځکه چي د ختيځ له هري چاري سره ما تل خپله مينه څرګنده کړې ده. لاکن د دوهمي پوښتني په باب سره له دې چي ما ئې د وياړني احساس کاوه، خو بيا هم په دوه زړه کي وم. ولي په دې ډاډه نه وم چي زه داسي يو څه سرښته کولای سم چي د هغو پوهانو د توجه ارزښت به ولري چي د ختيځ په باره کي ئې خپل ټوله ژوند دې ته وقف کړی ذی چي پوهنه لاس ته راوړي او ټاکلې ده چي د کنګرې په کار کي به برخه واخلي.

خو تر څه غور وروسته دې ټکي ته ورسېدم چي دغي اوسنۍ موقع د دې دپاره يوه مناسبه زمينه برابره کړې ده چي د هغو متفرقو معلوماتو له مجموعې څخه ځيني لاس ته راغلي نتايج دختيځ پېژندونکو پوهانو پاملرني ته وړاندي کړم، چي د افغانستان په اوسېدونکو پوري اړه لري او ما د خپل هغه اوږده ماموريت په دوره کي راغونډ کړي دي چي د (برتانوي) هند د دغه سرحدي ولايت په دننه او شاوخوا کي مي د ډېر وخت دپاره درلودی. د دغو خبرو وړاندي کېده په تېره بيا له دې جهته ډېر

اهمیت لري، چي ښايي د منځنۍ آسیا په دغه ګوټ کي د سیاسي پېښو بهیر تر هغه زیات د افغانستان خلکو ته د لوېديځو ملتونو پام راوګرزوي لکه څونه چي د برتانوي هند له انګرېزانو سره د دوی تیرو جګړو ورته راوګرزاوه.

نو ځکه د هغي غوښتني په جواب کي چي وړاندي ئې يادونه وسوه ما له ځانه سره دا فیصله وکړه چي د افغانستان د ایتنوګرافۍ په باب یوه مقاله تهیه کړم او په دې توګه د ختیځ پېژندونکو د نهمي نړيوالي کنګرې له کاره سره چي د ۱۸۹۱م کال د سپټمبر په میاشت په لندن کي غونډه کوي، خپله مرسته څرګنده کړم. خو کله چي مي په همدې موضوع پوري مربوط خپل یاداښتونه وکتل، نو راته معلومه سوه چي هغه خورا متفرق او یو د بل سره بېخي بې ارتباطه دي. ځکه دوی په بېلابېلو وختونو او په بېلابېلو ځایونو کي هغه مهال ما اخیستي وه چي د خپلو مختلفو رسمي وظایفو د څو کلني دورې په جریان کي به کله ناکله وزګاره سوم. اوس وپوهېدم چي له دوی څخه د یوې مستقلي او میتودیکي څېړني په کار کي چي د دغي سیمي د ایتنوګرافۍ سره اړه ولري یوازي د مرستندویه موادوپه څېر استفاده کېدای سي. څرنګه چي په دې باب زما لیکلي یاداښتونه او هم زما لیدني او کتني یوه لویه ساحه شاملوي، چي یوې خوا ته د بلخ – ترکستان له هولکي څخه تر بلوجستانه او بلي خوا ته د اباسین له ناوې څخه د پرشیا تر بیدیا پوري رسېږي او په همدې ډول د لرغوني آریانا ټوله ورشو کنښېباسي نو زما په فکر د دې خبري جرئت کولای سم چي د دغي سیمي د ایتنوګرافۍ په باب یوه پلټنه د هغې د اوسني نامه افغانستان تر عنوان لاندي راولم ځکه د افغانستان د کلمې په عام استعمال کي دغه سیمه ټوله افاده کېږي.

د کار له پیله سره ډېر ژر راته څرګنده سوه چي په دغه ساحه کي خو ګڼ شمېر بېلابېل قومونه اوسېږي او پرته له دې چي د هر یوه د تاریخ،

ژبي، دين او دودونو په باب ځانګړ تياوي په بشپړه توګه بيان سي او د بدني صورت کړه وړه ئې وښوول سي، يوازي د مختلفو قبيلو او خېلونو د تشو نومو يادونه ئې لا تر دې حد اوږي چي د يوې هغسي مقالې په حدودو کي دننه په متراکمه توګه رايوځاى سي چي د پوهېدني وړ وي او د کنګرې په وړاندي ولوستل سي. په دې وخت کي يوه بله ستونزه هم راپيدا سوه او هغه دا چي د نومونو قبيلو بېلابېلي او متعددي ډلي په کوم ترتيب بايد تر بحث لاندي ونيول سي. تر دغو شرايطو لاندي نو ما ته دا فکر راغی، چي د کار دپاره د وخت د کموالي په سبب به ډېر ښه پلان دا وي چي زه خپله دنده يوازي د هغه ګڼ شمېر قبيلو د نومونو په ساده يادونه پوري محدوده کړم چي اوس په افغانستان کي مونده کېږي او هم تر کومه ځايه چي کولای سم د هويت له مخي ئې د هغو قومونو او قبيلو څرګندونکي وښولم چي لرغونو ليکوالو ئې بيانونه کړي دي او ويلي ئې دي چي پخوا کټ مټ په همدې سيمه کي اوسېده، چي نن د افغانستان په دغه اوسني جغرافيايي نامه سره بلل کېږي. خو دا چي په کوم ترتيب د دوی په باره کي وږغېږم نو زما په فکر مي ډېره مناسبه وګڼله چي د خپل لارښود په څېر له هغه مستند اثر څخه کار واخلم چي د همدې موضوع په برخه کي موجود دی او په دې ډول نو خپله پلټنه د هغو پرشيائي، ستراپيانو[1] په اساس تعقيب کړم چي د تاريخ پلار (هيرودوت) ورباندي ږغېدلی دی. له همدغه مدرک څخه لاس ته راغلي معلومات غواړم د وروستی زمانې د هغو مشهورو يوناني او رومي ليکوالو له آثارو څخه په راوتلو نتايجو باندي بشپړېدو ته ورسوم چي د لوی سکندر په مشري د (مقدونيانو) تر بري وروسته ئې د آسيا پر دغه ګوټ باندي کښلي دي. د دې دپاره چي له ډېرو تازه معلوماتو او اوسنيو

---

[1] – Satrapy (په پخوا زمانه کي د هغه اداري واحد نوم و، چي يوه ستراپ به اداره کاوه).

منابعو څخه د زیاتي څېړني دپاره یو اساس منځته راسي، غوا‌ړم ټولي څرګندوني تر کومه ځایه چي امکان ولري په لنډه توګه ئې یو ځای راغونډي کړم.

ما په اصل کي دغه یاده سوې طریقه د خپل کار دپاره غوره کړې ده او سره له دې چي وخت مي ډېر نه درلودی او هر کله په دې هڅه کي وم چي تر ممکني اندازې له لنډیزه څخه کار واخلم او په خپله لیکنه باندي د لوستونکو د پوهېدو خبره ټینګه په پام کي وساتم خو بیا هم په نتیجه کي دغي پلټني د یوه واړه کتابګوټي شکل واخیستی. په دغه حالت کي چي زه د خپل اثر په نیمګړتیاوو هم پوره پوهېږم نو په زړه کي مي شک راوخوځېدی چي آیا دغه شان په بېړه لیکلې او په نیمګړې توګه څېړلې یوه پلټنه به د دې دپاره مناسبه وي چي د هغو پوهانو انتقاد ته وړاندي سي چي ښایي زما د لیکني د لوستلو تکلیف پر ځان باندي ومني. لاکن دا شک مي ډېر ژر له زړه څخه وایستی ځکه زه په دې عقیده یم چي په خپله همدغه پلټنه سره له هغه چي غټي نیمګړتیاوي لري، خو لوستونکي ته د قبیلوي نومونو په وسیله د افغانستان د اوسېدونکو په باب لږ تر لږه یو داسي جامع نظر وړاندي کوي چي زما له معلوماتو سره سم دغه کار په پخوا کي هیڅ نه دی سوی او یا خو په هر حال په انګرېزي ژبه کي سر ته نه دی رسېدلی. دغه پلټنه په عین زمان کي د توکم پوهني (ایتنولوجي) څېړونکو ته د یو شمېر خورا لرغونو او په اوس وخت کي نامعلومو قبیلو نومونه وړاندي کوي چي د هغو تاریخ او تېري پخوانۍ پېښي د څېړني دپاره یوه داسي پراخه ساحه برابروي، چي که مهمه ونه ګڼل سي نو په زړه پوري خو ضرور ګڼل کېږي. ځکه له تاریخي واقعاتو یا روایتي پېښو سره د همدې قبیلو د لرغوني پیوند نتیجه وه چي له یوې خوا په هند او له بلي

خوا په (آسور[۱]) کي هغه خبري منځته راغلي چي زموږ د لرغونو مستندو مدارکو له نېټې څخه د پېړيو پېړيو په فاصله د زمانې په ليري وختو کي پېښې سوي دي.

د دغي طريقې په اساس چي وړاندي بيان سوه ما خپله پلټنه مخ ته بېولې ده او تر دې اضافه چي د ګڼ شمېر هغو قومونو ساده نومونه واخلم چي د تاريخي ثبت له مخي په لرغونې زمانه کي پر دغه سيمه باندي اوسېده چي زموږ پلټنه اړه ورپوري لري، بله کومه هڅه مي نه ده کړې. له دې نومونو سره مي په ترتيب د دوی پاته اوسني څرګندويان (نمايندګان) په نامه ښوولي دي. د هغو خپلونو او غتو څانګو يو فهرست مي هم ورسره يو ځای کړی دی، چي هره دغه شان قبيله اوس ورباندي وېشل سوې ده. همدا شان کله چي مي دغه راز خپلونه او څانګي د خپلي مستقلي ځاني کتني او پلټني له مخي د هند، پرشيا يا آسور په شاوخوا کي د لرغونو قبيلو د پاته څرګندويانو په څېر پېژندلي دي نو مي سمدلاسه ورسره يادابښت کړي دي. ما په دې سر نه دی ګرزولی چي آيا دغه ډول پېژندنه تر ما دمخه نورو سر ته رسولې ده، يا خو ترديد سوې ده او يا بېخي دڅا ورپام سوی نه دی . د دغو قبيلوي نومو په بيانولو او پيوند ورکولو کي بې له شکه ما ډېري تېروتني کړي دي خو په هم دې دليل زما دپاره د خوښۍ فکر دا دی چي د دغه ټاکلي جهت په خوا کي زما جرئتي اقدامات به ښايي نور کسان چي تر ما زيات مهارت ولري دې لوري ته راولي چي خپل پام نوموړي موضوع ته راوګرزوي او رښتيني هويتونه موږ ته راوپېژني.

دا پلټنه لکه وړاندي چي ئې يادونه وسوه د هيرودوت په هغه بيان سره راپيل کېږي، چي د پرشيائي امپراتورۍ دننه ئې د هغو قومونو په باب ليکلي دي چي د ده په زمانه کي هلته مېشته وه. کومه سيمه چي اوس

---

۱ – Assyria

زموږ تر نظر لاندي ده، هغې د نوموړي امپراتورۍ ختیځه برخه جوړوله. پر ته له دې چي په تصادفي توګه د ځينو خورا لرغونو قومونو بقایانن ورځ د بېلابېلو ګوښه ځایونو په اوسنیو خېلونو او قبیلو کي وپېژندل سي، نور نو زموږ پلټنه په هیڅ ډول له هغو قومونو سره اړه نه لري چي تر هیرودوت ډېر پخوا ئې په یوه خورا لیري زمانه کي دغه سیمه اشغال کړې وه. آن که چیري د تصادف له مخي دغسي بیان هم مخ ته راسي نو هلته تر ممکني اندازې له لنډیزه څخه کار اخیستل سوی دی. ځکه د هغو زیاتو قبیلو تفصیلي بیان چي اوس په افغانستان کي مونده کېږي او ددوی نومونه د (رامایانا[1]) او (مهابارت[2]) په متونو یا د (راجاتارینګیني[3]) په ثبت سوي مدارکو کي ښکاره کېږي، که څه هم خورا جذابه لټونه ده، لاکن زه ورځني تېر سوی یم. ځکه د لګیا کېدو په صورت کي به ئې زه د خپلې دندې له هغو حدودو څخه ډېر لیري کړی وای چي ما ئې د دې پلټني په سر کي ژمنه کړې وه. دا موضوع د زیاتې علاقې وړ ده او دې ته انتظار لري چي د یوه داسي ختیځ پېژندونکي له خوا وڅېړله سي چي د هند له لرغوني تاریخ سره آشنا وي او په دې لړ کي د دغه هیواد هغه اړیکي ورته معلوم وي، چي یوې خوا ته ئې د مصر او آسور او بلې خوا ته ئې د (برما) په شمول له (تارتاري[4]) او (تبت) سره درلودل. د (برما) په وروستۍ برخه او (مانیپور) کي کټ مټ په داسي نومونو قبیلې په مخه راځي لکه څنګه چي

---

[1] - Ramayana

[2] - Mahabharat

مهابارت یا په بل تلفظ مهابهاراتا یوه ستره هندي حماسه ده چي د سانسکریت په ژبه دوه سوه کاله تر میلاد وړاندې لیکلې سوې ده. راما یانا هم د یوې بلې هندي حماسې نوم دی چي تر مهابهاراتا وروسته په سانسکریت لیکلې سوې ده. (مترجم)

[3] - Rajataringini

[4] - Tartary

د اباسین په غرنیو سرحدي لړیو کي د (خاچین)، (کوکي)، (خاکي) (په برما کي خاکین) او داسي نورو په نامه یادېږي. ځکه د (رامایانا) په (شلوکا[1]) او (مهابارت) کي دا ډول زیات مهم تاریخي حقایق موجود دي، چي وایي په لرغوني زمانه کي د دغو یادو سوو ځایونو له هر یوه څخه د هند د قارې د نیولو دپاره تېري کوونکي راغلي او دلته ئې مېني کړي دي. دا راز حقایق ټوله د ملایي غوندي عباراتو تر پوښ لاندي د برهمن له خوا څخه په منظمه توګه پټ سوي دي. خو دا د پټېدو عملیه ئې په داسي دقیقه طریقه، د بیان په یو خاص نزاکت او د تفصیل په ځانګړي کیفیت سر ته رسولې ده چي څرګندوني ئې د هغو سیاسي انقلابونو په باب چي د مستند تاریخ تر مدارکو وړاندې د پیړیو په دوران کې د هند پر غوړیدلي تیر سوي دي، ټوله په یوه رښتیني، د پوهېدنې وړ او احتمالي تاریخ باندي د هر هغه چا له خوا تبدیلېدای سي، چي د سانسکریت د لوستلو تکلیف پر ځان ومني او ټیک په ټیکه د کنایاتو تر نازک او شفاف نقاب لاندي همدغه پټ سوی تاریخ په خپلو سترګو ووینې.

د هغه ګڼ شمېر قومونو له جملې څخه چي د هیرودوت له خوا ئې نومونه یاد سوي دي او د هغو ټاکلو پرشیائي ستراپیانو د اوسېدونکو په څېر ئې ښوولي دي، چي ساحه ئې د هغې سیمي په حوزه کي شامله وه چي بیا وروسته د آریانا په نامه باندي وپېژندل سوه، تقریباً هر قوم ئې تر دې نن ورځي پوري کټ مټ په هم هغه پخواني نامه د یوې تش په نوم افغاني قبیلې له خوا تمثیلېږي او هم په سرسره په هغه پخواني ټاټوبي کي موقعیت لري، چي د هیرودوت له خوا د هم هغه لرغوني قوم په نامه ښوول سوي دي، چي اوسني وګړي ئې پاته سوې نښې او پاتېدلي اخلاف ګڼل کېږي. دغه خبره همدا شان د هغو بېلابېلو اقوامو په باره کي ویل کېدای

---

Shloka –(1)

سي، چي وروستنيو يوناني او رومي ليکوالو په خپل وخت يعني د لومړيو دوو يا درو ميلادي پېړيو په زمانه کي د همدغي سيمي د مختلفو برخو د اوسېدونکو په څېر ياد کړي دي. خو البته دا سيمه د دوی په وخت کي د ولايتونو او ناحيو په داسي جغرافيايي نومونو باندي پېژندل سوي وه چي هيرودوت ته نه وه معلوم. لاکن د دغو موجودو خېلونو او څانګو په منځ کي چي د پورتني بيان سره سم د لرغونو اقوامو په نومونو يادېږي يو ډول داسي نومونه په مخه راځي چي په څرګنده توګه په هغسي بېلابېلو توکمونو او قوميتونو پوري اړه لري چي د ايتنيکي خپلويو مبحث ئې د څېړني دپاره يوه په زړه پوري موضوع جوړوي.

د دغو خېلونو او څانګو له جملې څخه ځيني ئې په تېره بيا هغه چي د اباسين د غرنيو سرحدي لړيو په اوږدو کي پراته دي، د نامه له مخي يو دم پېژندل کېدای سي چي دوی د هغو قومونو له اولادې څخه پاته نمايندګان دي، چي په يوه ليري لرغونې زمانه کي ئې د شمالي هند په دغه برخه او مرکزي آسيا کي ژوند کاوه او بيانونه ئې د سانسکريت په داسي ليکلو آثارو کي راغلي دي لکه (رامايانا)، (مهابهاراتا)، (هاريوانسا[1])، (ويشنوپورانا[2]) او نور. د نومونو په استناد کېدلای سي چي له يوې خوا د هند د بومي توکمونو سره او له بلي خوا د پخوانيو (سکيتي[3]) مهاجمانو په تېره بيا د (ناګائي توکم[4]) له وګړو سره ارتباط ورکول سي. خو د هيواد په نورو برخو او خاص بيا په بلوچستان کي يو شمېر قبيلې مونده کېږي چي د نومونو له مخي ئې د لرغوني (آسور) او (بابل) له توکمونو سره خپلوي

---

۱ - Harivansa

۲ - Vishnu Purána

۳ - Skytic

۴ - Naga race

ACKU

ځرګندېږي.

پر ته له دوی څخه د دغو لرغونوستراپیانو په سیمو کې ځیني نوري قبیلې هم مونده کېږي، چې د لوی سکندر تر بري وروسته ئې یوناني لیکوالو یادوني کړي دي او د نومونو ډول ئې له هغو دمخنیو څخه توپیر لري . په روښانه توګه له دوی څخه یو شمېر ئې د خپلوۍ له پلوه په (تراکیاني[۱]) ځانګو او نوري ئې په (سکیتي) ځانګو پوري اړه پیدا کولای سي. د هیواد د افغاني نسب پېژندونکو له خوا د دې وروستیو قبیلو په جمله کي یو شمېر هغه قبیلې راوستلي سوي دي چي راجپوتي نومونه لري او د (ساکاسکیتي[۲]) له هغو توکمو سره اړه پیدا کولای سي، چي تر وړاندي یادي سوي (ناګاسکیتي) وروسته اما تر هغه (جاټاسکیتي) بیا دمخه هند ته راغله چي (باکتریانا) ئې له یونانیانو څخه ونیوله او تقریباً په هم هغه وخت کي هند ته رامات سوه چي د (جاټا) مربوط د قومیانو نوري ډلي ئې لکه (جوټیان[۳])، (ګوټیان[۴]) او (واندالان[۵]) چي زموږ د اباسین د ناوې (جیت[۶])، (جاټ[۷]) او (ماندان[۸]) سر ورسره خوري، مخ د لوېدیځ پر خوا اروپا ته ولاړې.

پر دغو قبیلو سربېره ځیني نوري هم سته چي نومونه ئې نه په لرغونو یوناني آثارو او نه هم د سانسکریت په لیکونو کي راغلي دي، بلکي یوازي د

(۱) Thrakian

(۲) Saka Skythian

(۳) Jutes –

(۴) Goths –

(۵) Vandals –

(۶) Jit –

(۷) Ját –

(۸) Mandan –

ځینو یادونه ئې د لومړي ځل دپاره نسبتاً د نژدې زمانو د اسلامي لیکونکو په آثارو کي په مخه راځي خو زیاتره ئې د هیواد د قبیلوي نومونې په اوسني فهرست کي راڅرګندېږي. په دغه ټل کي د سکندر د یوناني فاتحانو او هم د هغو وروستنیو ترکي او مغلي مهاجمانو نمایندګان راشاملېږي چي عام ډول د (تاتار) په نامه یادېږي. که څه هم په خپله اصلي (تاتار) خو له یوې خورا وختنۍ زمانې سره اړه لري، چي د ترکي توکم د بېلابېلو قبیلو سره یو ځای د (تیتار[1]) په نامه په (مهابهارات) کي راغلي دي.

دغه لنډه وړاندي سوې طرحه د افغانستان د موجود ولس د ترکیبي جوړښت په باب چي زموږ پلټنه ورته متوجه ده یوه مفکوره افاده کوي. د دغه جوړښت بېلابېل توکمیز عناصر له دې بابته چي کله او تر کومو شرایطو لاندي دوی هغو ځایونو ته راغله چي اوس ئې ځانته ځانته په هم هغه هیواد کي نیولي دي د خاصي څېړني او پلټني دپاره خورا زیات موضوعات وړاندي کوي. په یوه یا دوو مثالو کي ما جرئت کړی دی د ځینو هغو قبیلو د مورینې (مبدأ) په باب څرګندوني وکړم چي حقیقي منشأ ئې پخوا چا ته نه وه معلومه او حتی دې خلکو د هغې په باب کوم ګمان نه و کړی. خو دا چي دوی په خپله هم له هغو ټولو ولسونو څخه جلا چي دوی ئې په منځ کي مېشته وه هر کله خپل نسب په ټینګه له یوې بېلي سرچینې څخه اعلاماوه، نو دې خبري ضرور سړی دې ټکي ته رساوه چي ښایي دا به د دوی د خپلي مورینې په ارتباط د یوې قبیلوي عنعنې پاته ښنه وي. که څیري په پخوا کي خبره دغه راز وه، لکه په غالب احتمال چي هم دغسي ده، نو د غیر تناکه مسلمانۍ د برابري او مساوات تر اغېزو لاندي همدا زړه خاطره چې د جهالت په نامه سپکېده او د بربریت په نامه یادیده، ډېره پخوا لا له یاده وتلې ده . اوس نو که څه هم د یوې بېلي نژادي مورینې په

---

[1] Tittar –

باب ذهنیت ژوندی پاته دی خو د خلکو په منځ کې کومه افسانه، کومه بولګه او یا کوم روایت چیرې نسته، چې له نورو سره ئې د همدې بېلوالي ځای وښیي. څرنګه چې کره معلومات په منځ کې نسته نو دوی زړه نازړه که انکار نه ځني کوی خو په لږ یا ډېره بې تفاوتي هغه چتې افسانې اورې چې مذهبي ملایانو د دوی دپاره جوړې کړې دي او دا افسانې په هغه اندازه له تاریخي مطالبو څخه خالي دي لکه څونه چې په مذهبي څرګندونو ډکې دي.

کوم ټکې چې همدا اوس د افغانستان د دوو یا درو ټاکلو قبیلو په مورد کې بیان سوه ښایي د همدې هیواد د زاړه تاریخ د زیاترو نورو قبیلو په باره کې هم سمدم په کار واچول سي. اسلامي نسب پېژندونکو چې د بېلابېلو پښتني قبیلو د نومونو په تشریح کې ناکاره لغوي توجیهات او چتې افسانې را ایستلي دي نو د هغو روایاتو خاطره ئې ډېره ورانه کړې ده چې پخوا ئې د خلکو تر منځ جریان درلودی. خو له ښه مرغه خاص نومونه، په تېره بیا لږ تر لږه د غټو او ښه پېژندل سوو قبیلو دا په نادره توګه دونه مسخه سوي دي چې له پېژندلو وتلي وې. خو البته دا خبره هم زیاتره په منځ کې سته چې ځیني وړو خېلونو په دې نیت چې خپل لومړنی قومي نوم ئې پر یوه مخ ورک سي، نو ئې سوچه اسلامي لقبونه د ځان دپاره غوره کړي دي. اما د دوی تر منځ هم حتی کله ناکله زوړ نوم د یوه دوهم قومي نوم په څېر تر اوسه لا پاته دی او یا د ګاونډیو قبیلو له خوا د یوه لرغوني نامه په شان د دوی دپاره استعمالېږي، قبیلوي روایات که څه هم په زیاته اندازه د مسلمانۍ تر اغېزو لاندي بېخي ډېر وران سوي دي خو د مبادیو په باب بیا هم تر ډېره ځایه یو ضعیف څرک یا پیکه تصویر په ځان کې ساتي چې د کلاوې سر په لاس راکوي. دا نو یو نېکمرغه مجال دی چې کله ناکله څېړونکي په دې باندي بریالي کوي چې یوه اړوګړونګ بیان ته د مستند تاریخ له ثبته سره پیوند ورکړي.

د مثال دپاره په کابل کي یوه قبیله سته چي برکي نومېږي. په افغانستان کي هر چا دا خبره منلې ده چي د دغي قبیلې منشأ له هغو نورو ټولو ولسونو څخه توپیر لري چي دا ئې په منځ کي میشته ده. خو د کوم داسي روایت خبره هم هیچا نه ده یاده کړې چي ووایي دوی په لومړي سر کي له کومه راغلي دي. له دې سره په خپله دوی هم او هم ئې ګاونډیاني قبیلې په یوه خوله دا خبره کوي چي دوی د (لوګر) د ناوې په همدې اوسنیو ټاټوبو کي د غزني د سلطان محمود له خوا ځای پر ځای سوي دي. همدا شان په یوه سلا وایي چي دوی نه د افغان او نه هم د پټهان له ذاته څخه دي او نه هم د هغو په نسبي شجرو کي راغلي دي. سربېره پر دې دا هم وایي چي دوی نه ترک دي، نه تاجک دي، نه غلزي دي، نه کرد دي، نه هزاره دي او نه هم مغل دي. رشتیا هم په یقیني توګه د برکیانو د قبیلوي روایاتو په باره کي هیڅ راز واقعي معلومات نسته او نه هم د دوی د کورني دودونو او رواجونو د ځانګړ تیاوو په باب چا څه ویلي دي. دوی لکه څنګه چي معلومه ده خپل تر منځ په خبرو کي له یوې خاصي لهجې څخه کار اخلي خو په عادي ډول د هغي سیمي د خلکو په بومي ژبه رغېږي چیري چي دوی هلته اوسي. هغه برکیان چي د کابل په شاوخوا کي ژوند کوي له پښتو څخه کار اخلي، خو نور بیا چي په کندز او د هندوکش د شمال په تاجکي ولایتونو کي اوسي له پارسي څخه کار اخلي. د دوی د خپلي برکي لهجې په باره کي نور څوک چنداني معلومات نه لري. د دې لهجې د هغو ډېر لږ شمېر کلماتو له مخي چي تر اوسه لاس ته راغلي دي یوه څرګنده نظریه منځ ته نه سي راتلای، که څه هم احتمال لري چي دقیقه څېړنه به ښایي یو زیات شمېر یوناني عناصر په هغې کي ومومي. برکی یو ښکلی نارینه توکم دی او کړه وړه ئې عموماً تر هغه چا ښکلا لري چي دوی ئې په منځ کي اوسي. دوی کله ناکله بېخي د انګرېزانو په څېر نمایداره وګړي دي او لږ تر لږه ما په خپله د دوی له جملې څخه همدغه راز دوه کسان

لیدلي دي. د افغانانو تر منځ دوی په داسي پوهه او زړه ورتیا شهرت لري چي درجه ئې د خپلو هیوادوالو په منځ کي د دغو صفاتو د عادي معیار تر اندازې ډېره جګه ده. د بارګزو د واکمني کورنۍ سره د وفادارۍ په خاطر دوی داسي اعتبار ته رسېدلي دي چي په شانداره ډول ئې د وطني لیکوالو په معاصرو آثارو کي بیانونه ثبت سوي دي او پر دغه حقیقت باندي دا خبره هم شاهدي ورکوي چي د امیر دوست محمد خان له زمانې راهیسي په کابل کي د شاهي ماڼۍ د ساتني دپاره تقریباً یوازي همدوی د ساتندویانو (ګارډ) په څېر چره سوي دي.

برکیان خپلي موروثي مځکي، کلاوي او کلي لري. دوی اساساً په کرهڼه او د پسو په روزنه بوخت دي. که څه هم زیاتره ئې په منظم اردو کي خدمت کوي، خو ځیني ئې بیا د کارواني سوداګرۍ په کاروبار اخته دي. ویل کېږي چي دوی پخوا یوه ډېره غټه او پیاوړې قبیله وه چي د هندوکش په شمال کي له کندز او اندراب څخه رانیولې بیا د لوګر تر ناوې او د کابل د سیمي تر بتخاکه او هم د سلیمان د لړۍ تر (کانیګروم) پوري ئې سر تر پایه د ملک پراخه خاوره نیولې وه. خو اوس ئې په شمېر کي بېخي ډېر لږوالی راغلی دی او یو ځای بل ځای پاشلي پراته دي. د دوی اصلي ټاټوبی چي د لوګر د برکي په کلاوو کي دی هلته په کرهڼه لګیا دي او بل اصلي ټاټوبی ئې چي د خنجان او د کندز د بغلان په علاقو کي واقع دی، هلته د مالدارو په څېر ژوند کوي. دوی د هندوکش د (کاوشان) او د سلیمان د لړۍ د (کانیګروم) په سیمو کي یو لږ شمېر هستوګنځایونه لري. د دوی غونډ شمېر د شلو او دېرشو زرو کورنیو تر منځ اټکل سوی دی چي نیم ئې د هندوکش په جنوب او پاته ئې د هغه په شمال کي اوسېږي. د شمالي برخي اساسي مرکز ئې د کندز د بغلان د سیمي هغه کلی دی چي (برکی) نومېږي. ښکاري چي همدا ځای د نړۍ په دې ګوټ کي د دغي قبیلې د هستوګني لومړنی ټاټوبی وي. لکه وړاندي چي یاده سوه دا خبره ویل

کېږي چې دوی (د یوولسمي پېړۍ په سر کې) د سلطان محمود له خوا په لوګر کې ځای پر ځای سوه او کله چې ئې د هندوستان پر لوري د هغه په سوقیاتو کې خدمتونه وکړه نو بیا وروسته ئې په (کانیګروم) کې ځیني مځکي دوی ته د انعام په توګه وروبخښلې. د برکیانو منشأ افغانانو ته کورټ نه ده معلومه. ځیني ئې په تاجکو کې شمېري څو ځیني نور ئې بیا کرد ګڼي. برکیان په خپله د ځان دپاره دا غوره بولي چې عرب وګڼل سي خو البته د قریشو له قبیلې څخه. د دې ځایو د زیاترو بدوي قبیلو دپاره دغسي یو عنوان د پناه یوه مناسبه چاره ده او کله چې دوی د هغه دین کړی ته ورننوزي چې اشرافي روحیه ورکوي نو په خپلو خوارو او ړیکو شرمېږي او د خپلي پخوانی موریني په باب هر څه په خپله خوښه له یاده باسي. وړاندي څر ګندوني هغه څه دي چې موږ ئې د معلوماتو له هغو محلي منابعو څخه زده کوو چې په خپله د خلکو په منځ کې مونده کېدای سي.

خو د افغانستان د برکي قبیلې په باره کې زموږ له پراخي پلټني څخه داسي ښکاري چې دوی یوازي او یوازي د هغو یوناني اسیرانو اوسني نمایندګان دي چې د (هیرودوت) له بیانه سره سم تر میلاد دمخه په شپږمه پېړۍ کې د پرشیا د پاچا (داریوش هیستاسپیس[1]) له خوا د (لیبیان بارکي[2]) څخه د (باکتریا) خاوري ته راولېږدول سوه. (هیرودوت) همدارنګه زیاتوي چې د ده په زمانه کې لا هم یعني یوه پېړۍ وروسته، په هغه کلي کې وګړي اوسېده چې د دغو تبعیدي فراریانو له خوا څخه ودان سوي او د (بارکي) په نامه ئې بللی و. له هغي اقتباسي توتې څخه چې ما په دې ارتباط د (آرریان[3]) له بیانه څخه را اخیستې ده همدا

(1)– Darius Hystaspes

(2)– Libyan Barke

(3)– Arrian

شان څرګندېږي چې د (باکتریا) پر سیمه د سکندر د پوځي عملیاتو په زمانه کې یعني بیا هم یوه پېړۍ وروسته د دغو (بارکیانو) یا (برکیانانو) اولاده اوس لا هم هلته موجوده وه. دا خبره یوازې د هغو په موجودیت پای ته نه رسېږي بلکې سربېره پر دې د سکندر پلویانو ته د دوی اصلي منشأ هم ورمعلومه وه. (آرریان) که څه هم په سرسره (بارکي) په دغه خپله نامه نه یادوي لاکن څرنګه چې په وړاندې یاده سوې اقتباسي ټوټه کې ضمناً د (کیرینانو[1]) یا (کیریانیانو[2]) نوم اخلي نو دا بیان ئې یوازې همدغو (بارکیانو) ته راجع کېدای سي. که چیري خبره دغسې نه وای نو (کیریانیانو) د آسیا په دې لیري ګوټ کې څه کوله؟ که دوی د هغه چا اولاده ونه ګڼل سي چې (داریوش) له (بارکي) څخه چې د (کیرین[3]) یوه کالوني وه، دې ګوټ ته رافراره کړي وه نو بیا دا پوښتنه منځ ته راځي چې دوی څوک وه؟ د (آرریان) د بیان له مضمونه څخه څرګندېدای سي چې په (باکتریا) کې دغه برکیان د هغو کسانو د اولادې په څېر پېژندل کېده چې له (کیرین) څخه راتبعید سوي وه ، هلته د دوی د شته والي تاریخ هغه زمانه هر چا ته ډېر ښه معلوم و او کوم دا ډول خاص تفصیل ته اړتیا نه لیده کېده چې دوی د هغه ملک په نامه یاد سي چې په لومړي سر کې ورځني راغلي وه. سربېره پر دې دا خبره احتمال لري چې د مقدونیې اردو ته د هندوکش پر سر د کاوشان په نامه د دوی د مربوطي درې په تنګي کې چې هغه زمانه د همدې کیریانیانو په لاس کې و لکه اوس چې د بارکیانو په لاس کې دی، د تنګسې پر وخت د تدارکاتو او لارښوونکو په شکل عاجلي مرستې رارسېدلي خو تاریخ لیکونکی چې د خپل قهرمان د زړه ورتوب د

---

(۱)– Kyrenew

(۲)– Kyreneans

(۳)– Kyrene

کارنامو په غېتولو کي ډوب و نو دې ته ئې توجه نه درلوده چي همدغه اوضاع په زيات تفصيل بيان کړي. د (باکتريا) هغه گوټ چي د هيرودوت له خوا ياد سوی (بارکيان) ورته رالېږل سوي وه داسي ښکاري چي اوسني بغلان به وي. هلته د (برکي) په نامه موجود کلي گمان کېږي چي د هم هغه کلي ساحه ځرگندوي چي د دوی له خوا ودان سو او د برکي په نامه ئې وباله. زما اټکل که سم وي او يا ناسم خو د خپلي ليکني په متن کي مي چي (د افغانستان د ايتنوگرافی يوه پلټنه) ده ما دا خبره غوره گڼلې ده چي په دې حصو کي د لوگر د ناوې (برکی) د (بارکيانو) لومړنی ټاټوبی وبولم. ځکه دا تر هغه بل ډير مشهور دی. که څه هم د بغلان (برکی) له هغه موقعيته سره پوره سر خوري چې هيرودوت ښوولی دی، يعني دا چي د (باکتريا) يوه علاقه ده خو دا بل بيا په (باکتريانا) يا د اصلي (باکتريا) به لويه ورشو کي پروت دی.

تاريخي آثارو د يوناني تبعيديانو يوه بله ډله هم ثبت کړې ده چي وايي د (زرک سيز[1]) له خوا تر هغه وروسته چي له يونانه څخه راوتښتېدی د دغه باکتريايي هيواد په همدغه سيمه کي مېشته سوې ده. دا ډله د (هيلي سپونټ[2]) د حوزې د (مايليزيا[3]) اهالي وه چي په نامه (برنخيدای[4]) يادېدله. د (آرريان) له بيانه سره سم د دوی هغه اولاده چي په (سغديا) کي ئې اړولي وه ټوله د سکندر له خوا پوپناه سوه او هلته د دوی کلی له خاورو سره برابر او يو مخيزه له منځه ولاړی. ځکه د هغي گناه په ايداد ورسېده چي له ادعاء سره سم په (دبديموس) کي د دوی د نيکه

---

(۱)– Xerxes

(۲)– Hellespont

(۳)– Milesia

(۴)– Brankhidai

ګانو له خوا څخه سوې وه. خو دلته د دې احتمال لیده کېږي چې ښایي دغه سزا یوازې یوه ځانګړې کلي ته متوجه وه او د دوی ډېر نور قومیان چې بل چیري اوسېده د سکندر له غضبه څخه بچ پاته وه. په هر حال داسې ښکاري چې د دغه (برنخیدای) د اولادې نښې نښانې تر اوسه لا هم په افغانستان کې مونده کېږي . ځکه رښتیا هم په دې هېواد کې د څو بیلابیلو ځایونو له مخې چې د دوی په نامه یاد سوی دی دا قضاوت کیدای شي چې (برنخیدای) په پخوا زمانه کې یوه ګڼ شمېره قبیله او د افغانستان په خاوره کې غوړېدلې خپره وه.

هغه وخت چې (برنخیدای) د (باکتریا) حوزې ته راولېږدول سوه نو لومړنی ټاټوبی ئې ښکاري چې د هندوکش شمالي پلو د اوسني اندراب په سیمه کي و. هلته همدا اوس د خوست ختیځ پلو په هغو تپو کې چې د بدخشان له خاوري سره پوله لري یو محل سته چې (برنګ) یا (فرنګ) نومېږي. دلته یو داس ولس اوسي چې (برنګی) ئې بولي او د تاجکو په ټل کې شمېرل کېږي. دوی ښایي چې البته د (باکتریا) په لومړني ټاټوبي کې له لرغوني (برنخیدای) یا (برنخوی) څخه نمایندګي کوي. همدغو خلکو ته منسوب یو بل ځای هم سته چې ډېر لیري نه دی او د هندوکش په جنوبي ډډه کې د اندراب لوېدیځ پلو ته موقعیت لري. دغه ځای (برنګان) یا (فرنګان) نومېږي چې د غوربند په سیمه کې یو شمېر پرله پوري کلي کښېباسي. دغه نوم د (برنګ) د کلمې جمع ده او طبیعي ښکاري چې د دغه ځای یو بومي اوسېدونکی (برنګی) بلل کېدی. له دې ځایه څخه یو څو میله لیري د سرپو یو خورا لرغونی کان سته چې له پېړیو پېړیو راهیسي بې استفادې پاته دی او داسي معلومېږي چې تر هغه دمخه چې په (۴۰ - ۱۸۳۹م) کي د ډاکټر لارډ له خوا کشف سي شاوخوا ګاونډي وګړي ئې په شته والي لا هم خبر نه وه. د نوموړي ډاکټر د بیان له مخي چې په دې باب ئې کړی دی دا حکم کېدای سي چې ښایي پر دغه کان به یونانیانو کار

کړی وي. دغه یونانیان نو البته هغه دلته څرمه پراته (برنخوی) وه چې موږ ئې (برنګی) بولو. ...یل سوي دي چې د کان د را ایستلو دپاره لازمه وه چې په سیده استقامت د سلو فوټو په اندازه ژوره څاه وکښل سي څو معدني موادو ته ورسېږي. په کان کي دننه د سوپانو د جوړېدو او په مځکه کي د ځهانو د کښلو کار د مهارت په یوه داسي درجه سر ته رسېدلی و چي د کاني موادو له موقعیته سره ئې د دوی شناخت څرګنداوه او د مهندسي پوهنه ئې په داسي سویه وه چي د نن وخت له هغې سره ئې برابري کولای سوای. سربېره پر پورتنیو خبرو د اباسین پر پوله د باجوړ د سیمي د (ناوګی) په برخه کي یوه بله ناحیه هم سته چي (برنګ) نومېږي. ښایي نوموړی ځای د خپلو هغو پخوانیو اوسېدونکو په نامه دغه شان یاد سوی وي چي نښې ئې ممکنه ده د محلي پلټني په وسیله روښانه سي. د کابل په کوهدامن کي هم یو کلی سته چي (فرنګی) نومېږي او یو بل بیا د بلوچستان د کوټي جنوب ته د (مستونګ) په ناوه کي یو کلی دی چي (فرنګ آباد) یا (پیرینګ آباد) بلل کېږي. دواړه نومونه د هغه (برنګي) د کلمې دوه ډوله تلفظونه دي چي د یوناني د (برنخوی) له هغې کلمې سره یو شی ده چي ورځخه (برنخیدای) راوتلې ده. خو د (برنګي) د نیوکو پر دغو نښو سربېره له موږ سره د دې نامه یو خېل هم سته چي د لودي – افغان د (سیاني) د ځانګي یوه برخه جوړوي او لکه څنګه چي زموږ په (پلټنه) کي لیده کېږي یو ګڼ شمېر پښې د هغې په ترکیب کي شاملي دي. په وړاندي بیان کي یاد سوی (بارکی) یا (بارکای) او (برنګی) یا (برنخوی) دواړه د هغو یوناني ټاټوبو مثالونه دي چي په پخوا زمانه کي ئې د لوی سکندر د نیولو تر وخت ډېر نسلونه دمخه د لرغوني پرشیا په دې لیري سرحد کي موجودیت درلودی. که پلټنه وسي نو شک نسته چي دنورو ډېرو هغو یوناني ښارونو او کالونۍ ګانو کشف ته به لاربښوونه وکړي چي تر نن ورځي ئې لا نښې پاته دي. دا لاربښوونه به په غالب احتمال د نومونو له مخي وي

چې البته د پېړيو په تېرېدو، د انقلابونو په اوښتو او يو په بل پسې د پاچهي کورنيو په کښېناستو سره ئې يو لړ څه تغيرات هم خوړلي دي. د (اندخوی) د اوسني ښار ګوښې او د (شيخ الي) د موجودي قبيلې د نومونو له مخې چې دواړه د لرغوني (باکتريا) په اصلي ساحه کې دننه مونده کېږي زموږ پلټنه دا څرګندوي چې دا يو ئې د هغه (انتيوخيا) له ښار څخه نمايندګي کوي چې د (سيليکوس) زوی (انتيوخوس) د يوه سوريايي ښار پر نقشه باندې ودان کړ. خو دا بل ئې د (ايولوی) په نامه له هغه يوناني ولس څخه نمايندګي کوي چې ښکاري خورا ډېرو وګړو ئې د ملک په دغه برخه کې کالونياني وداني کړې وي. دوی البته د هغه چا په جمله کې چې د (باکتريا) د يوناني پاچهانو ملا ئې تړله يوه غټه او مخکښه قبيله وه. خو دا په هيڅ صورت هغه يوازني يوناني نومونه، نه ګټل کېږي چې زموږ (پلټني) پام ورته راګرزولی دی، بلکې نور هم سته چې د (پلټني) متن ته د مراجعې په صورت کې به هلته وليدل سي.

د سکندر له خوا د پرشيائي امپراتورۍ له نيولو سره بې له شکه د ملک په نفوسو کې خورا ستر او مهم تغيرات منځته راغله. خو دا خبره څرګنده وه چې يوناني عناصرو د لوی سکندر تر ژوکړې دمخه پخوا لا د پېړيو پېړيو په دوران کې د دغې واکمنۍ په پراخه ورشو باندې خپل غښتلی نفوذ لړ يا ډېر هرې خوا ته خپور کړی و. دا هم زيات احتمال لري چې د دغه ستر بريمن د پوځي برياليتوبونو د چټکۍ او کاميابۍ په برخه کې همدغو شرايطو په خپل نوبت مرسته کړې وي. د لرغونو يونانيانو د (آئونوی)، (ايولوی)، (دوروی) او (بويوی) د څلورو غټو قومي څانګو له جملې څخه هرې يوې تقريباً زر کاله تر هغه پخوا چې د مقدونيې هجوم دلته راسي، خپلې غښتلې او غوړېدونکې کالوني ګانې ئې په کوچنۍ آسيا کې جوړې کړې وې. همدغه وګړي وه چې د خپلو ګټو او خپلو چارو د لټولو په لاره کې د دې دپاره وسيله وه چې د پرشيا او کوچنۍ آسيا د واکمنو

خړپړ یا بل هر راز ډېر یا لږ نژدې روابط ئې د اروپا د همېشه ځپځپانده او ناآرامه یوناني دولتونو له مشرانو سره قایموله. سربېره پر دې داسې ښکاري چې دغو آسیایي یوناني کالونیانو تر خپلو ټینګېدو وروسته په یوه پخواني زمانه کې د مهاجرینو سرېدا ګه ړلي حتی تر پرشیایي واکمنۍ لاندې د لیري ختیځ هولکو ته وراستولي وي. آئونوی (یعني آئونیان) او دوروی (یعني دوریان) په تېره بیا له میسوی (یعني میسیانیان) او لیدوی (یعني لیدیانان) سره یو ځای ښکاري چې په یوه ډېره پخوانۍ زمانه کې مخ د ختیځ پر خوا د اباسین تر پولو پورې وړاندې تللي وي. دا بیان په هغه صورت کې سره لګېږي چې که موږ د دوی همدغه نومونه د سانسکریت په آثارو کې د (جاوانا) یا (جونا) او( دور) یا (دودهـ) او د مسلمانانو د (موسی) او (لودي) د نومونو په څېر وپېژنو. خو که خبره همدغه راز وي نو معلومېږي چې بیا دغو ځو یوناني قبیلو زموږ د افغانستان پر خاوره په هغه زمانه کې چې دلته یوناني واکمني چلېده خورا زیات او غښتلي ټاټوبي جوړ کړي وي. ځکه د دوی نومونه د (جونا) او (یونس) د (دور)، (دوره) او (دوده) د (علي) او (الي) د (بائي) او (بای) د (موسا) او (لودي) په شکلونو کې د موجودو افغاني قبیلو د خېلونو او پښو تر منځ خورا زیات لیده کېږي، په تېره بیا په هغو پښتني قبیلو کې چې د اباسین د پولې په اوږدو کې پراته دي. له دې جملې څخه ځینو نومو ئې لکه (جونا)، (دور) او (بای) د راجپوت په نسبي شجرو کې هم ځای نیولی دی. خو هلته په نسبي لحاظ د اصلي (کشتریا) په څېر نه ګڼل کېږي بلکې د بې قبیلې راجپوت په توګه د یو ځای کېدو او مشترکې ملي ګټې په حساب له وصلي لارې څخه ورسره ګډ سوي دي. د (یونس) او (علي) نومونه د یوناني (ائونوی) او (ایولوی) مسلماني شکلونه دي. د (اکهای) یوناني نوم ممکنه ده چې ښایي په ځینو مواردو کې په افغاني (اکا) سره تمثیلېږي. خو څرنګه چې دلته د ایتیمولوجي له بابته یوه ستونزه موجوده ده نو په غالب احتمال افغاني

(اکا) په سر سره د هغو (ناګایانو) د (اکا) په نامه قبیله تمثیلوي چې په لرغوني زمانه کې ئې د شمالي هند زیاته برخه نیولې وه او ډېر ځله ئې د سانسکریت په لیکلو آثارو کې بیانونه راغلي دي.

پر هغو مثالونو سربېره چې د موضوع په ثبوت کې ئې وړاندي یادونه وسوه ځیني نوري نامشهوره قبیلې یا خپلونه هم سته چې ښایي د امکان په صورت کې د یوناني ناقلینو له اولادې څخه نمایندګي کوي. د (پلتمي) په متن کې ما په لنډه توګه هغو هستوګنځایو ته اشاره کړې ده چې د (سترابو) له بیانه سره سم سکندر په خپله د افغانستان په هغو ولایاتو کې جوړ کړي دي چې د اباسین په حوزه کې پراته دي. په یوه بله برخه کې د (سینیکا) په حواله همدارنګه یاده سوې ده چې یوناني ژبه تر میلاد وروسته د لومړۍ پېړۍ تر منځنۍ نېټې پوري لا د اباسین په حوزه کې ویل کېدله. په دې صورت کې نو رښتیا هم د اباسین د ناوې په ځینو برخو کې ئې تر زیاتي وروستۍ زماني پوري د محاورې د ژبې په څېر نوره ادامه نه ده کړې. خو په هر حال د (سینیکا) له هغې څرګندوني څخه چې پورته اشاره ورته وسوه موږ دا نتیجه اخیستلای سو چې یوناني ژبه عام ډول د اباسین په اوږدو کې د شپږم پښت له خوا یعني تقریباً یو سل او اتیا کاله تر هغه وروسته لا استعمالېده چې زموږ په افغانستان کې یوناني واکمني د (جاټا) په وسیله له قدرته لوېدلې وه. په دې صورت کې نو هغه وګړي څوک وه چې د اباسین په حوزه کې دونه زیات وخت تر هغې نېټې وروسته چې یوناني واکمني په دغه سیمه کې ورانه سوې وه اوس لا هم په دغه یوناني ژبه ګړېدله؟ دوی پرته د هغو یوناني ناقلینو له اولادې څخه بل څوک نه سي کېدای چې د تېر بیان له یادوني سره سم په (باکتریا) کې د یوناني پاچهۍ تر ړنګېدو دوه سوه کاله پخوا هلته ټېک سوي وه. په دې جمله کې هم هغه زاوزات راځي چې مندي ئې یونانیاني وې ځکه دا خو مورنۍ ژبه وي چې واړه ئې د لومړي ځل لپاره زدکړه کوي. کله چې موږ

ACKU

هغه زیات شمېر مثالونه ګورو چي لرغونو یوناني او رومي لیکوالو ثبت کړي دي نو دغسي یوه نتیجه مو باید حیرانتیا راونه پاڅوي. ځکه دوی وايي چي د هغه وخت د هندي شازادګانو او غټانو په کهولونو کي یوناني ښځي استخدامېدلې او کله ناکله په یوناني ملازمانو کي شاملو ښځو له هندي واکمنانو او لویو کسانو سره ودونه کول. په دې کي شک نسته چي د سکندر سره ملګرو کسانو په آزادانه توګه د هغو ملکونو له ښځو څخه ماینې کولې چي فتح سوي وه. خو وروسته چي کله د یوناني پاچهانو تر مشرۍ لاندي د دوی واکمني ټینګه سوه نو بیا دا هم له شکه وتلې ده چي دوی ته له خپله اصلي هیواده څخه پرله پسې تقویتي اکمالات رارسېده او له هغو سره یو ځای ډېر یا لږ د سوداګرانو، میخانیکانو، چوپړیانو او مهاجرانو لوی کاروانونه هم راتله چي د هغو په جمله کي د یوناني ښځو شمېر لږ نه ګڼل کېدی.

سربېره پر دې خبرو دا هم باید په نظر کي ونیول سي چي د (جاتا) ولس که څه هم یونانیان له لوړه صلاحیته او ټولواکمن حاکمیته څخه واچول خو په دغه وجه نو یوناني هیڅ یو مخیزه له صحنې څخه نه سو غایب او نه ئې هم د بربریانو له بري سره یو دم درجه راټیټه سوه. بالعکس ده تر ډېري زمانې د خپلي عالي پوهني او جګ تمدن پیاوړو تاثیراتو ته ادامه ورکوله. همدارنګه احتمال لري چي د یو محترم رعیت په څېر ده ته د هغه ملک په حکومت او اداره کي یوه مناسبه ونډه ورکول سوې وه چي له عالي واکمنۍ څخه ئې خلع سوی و. دا چي د څو پرله پسې پېړیو په دوران کي د نوو واکدارانو پر سکو باندي د ده له ژبې څخه استفاده کېده د همدې حقیقت څرګندونه کوي. همدا شان د ده د معماریو او مجسمو جوړولو هنر چي د کار ډېر ټینګ پاته آثار ئې نن ورځ په زیات شمېر سر ترپایه د دې سیمي د یوناني نیو کي په ساحه پوري مربوط د ښخوانیو هستوګنځایونو په کنډوالو کي کشف کېږي، د دغي خبري شاهدي ورکوي. دغه رنګه د

تزئيني هنر يوناني قالبي شکلونه چي د خلکو په کورنيو سامانو او لوښو کي ليده کېږي او تر نن زمانې د دوی له خوا پالل کېږي د همدې خبري ثبوت دی. که ما اشتباه نه وي کړې نو په خپله د هيواد په اصلي ژبه کي د يوناني لغاتو او مشتقاتو موجوديت په دې باره کي د لټوني څرک په لاس راکولای سي. دغه راز نتائج يوازي له داسي خبرو څخه راوزي چي يونانيانو په دې خاوره کي ځانونه سم تطبيق کړي وه او کله چي له خپله هغه لوړه مقامه او واکمن صلاحيته څخه راولوېده چي په لاس کي ئې و او حکم ئې چلاوه نو تر هغه وروسته ئې بيا هم د ډېري مودې دپاره د ډېر يا لږ توحيد په حالت کي د خپل قوميت او مدنيت پالني ته ادامه ورکوله. خو د وخت له تېرېدو او د پاچهي کورنيو د بدلېدو له عمليې سره د آريانا يونانيانو ورو ورو د خپلو ملي خصلتونو د ورانېدو په نتيجه کي خپل تاثير له لاسه ورکاوه او بالاخره ښايي د اسلام د راڅرګندېدو سره د همدې علاقو د عامه کافرانو په غټه ټولنه کي له نظره ورک سوه. له هغو سره يو ځای بيا وروسته په ناپېژندلې توګه د مؤمنانو هغه وندر ته ورغله چي هلته ئې اوس اولادونه موندلای سو.

د يونانيانو لاس له باکتريا څخه هغه (جاټا) وايستی چي د آسيا (ګوتيان) دي او د دوی واکمني ئې په افغانستان کي پای ته ورسوله. د (جاټا) قبيلې په زيات شمېر په هغو اهاليو کي تمثيلېږي چي د هيواد په شمال ختيځ برخو او د اباسين د ټولي غاړي په اوږدو کي اوسي. خو دمخه تر دې چي دغو وروستنيو راغلو وګړو ته پام راوګرځوو، ښه به دا وي چي موږ دلته د سکندر تر بري پخوا او يا دغي ستري پېښي ته په ورځرمه زمانه کي د لرغوني آريانا د اهاليو ټبيلوي عناصر وښيو. د هغو مدارکو له مخي چي زموږ په (پلټنه) کي را اقتباس سوي دي دا څرګندېږي چي د دغي سيمي په لوېديځه برخه کي پرشيائي قبيلې پرتې وې. د همدې قبيلو منځ ته د هغي زمانې په يوه نسبتاً را وروسته نېټه کي چي د هيرودوت د ليکني يعني تر ميلاد دمخه د پنځمي پېړۍ له منځنۍ برخي سره سمون

حوري د کوچي (سکیتیانو) بېلابېلي ډلي راداخلي سوې چي پرشیاوال ئې (ساکا) او یونانیان ئې ساکای (ساکسونیان) بولي.

د پرشیائي قبیلو په باره کي هیرودوت بیانونه کړي دي. دی وایي چي د باج له ورکړي څخه معاف قبیلې چي البته د اصلي پرشیا اوسېدونکې وې د (پاسرګدای)، (مارایهوی) او (ساسپیوي) په نامه یادېدلې. د (پنتیالای)، (دیروسیای) او (ګرمانوی) قبیلې بیا ټوله په کښت او کرونده لګیا وې. د (دائوی)، (ماردوی)، (دروپیکوی) او (سګرتوی) قبیلې بیا له یوه مخه کوچیاني وې. دغه د پرشیاوالو هغه ډېري غټي قبیلې وې چي د هیرودوت له ... ا هغه شان لکه پورته چي یو له بله څخه بېلې یادې سوې پر درو بېلابېلو ډلو باندي وېشلي سوي دي. د دوی له جملې څخه لومړی ډله هغو قبیلو جوړوله چي پاچهي کورنی او واکمنو طبقاتو ته منسوبي وې. د دې قبیلو د درو نومونو د فهرست په سر کي راغلی د (پاسرګدای) نوم چي تر نورو ټولو ئې اشرافي درجه ډېره جګه وه د دې پر ځای چي د پلرېني یو قومي نوم وګڼل سي په اصل کي یو توصیفي لقب دی. دغه نوم ښکاري چي د پارسي ژبي د (پسر کده) یوناني شکل وي. (پسر کده) چي معنای ئې (د خاندان زوی) کېږي ښایي یوه محاوروي کلمه وه او د هغې قبیلې دپاره په کار اچول کېده چي شاهي کورنی اړه ورسره درلوده، رشتیا هم لکه (هیرودوت) چي وایي: "د دوی (یعني پاسرګدای) په منځ کي د (هخامنشیانو) هغه کورنی شامله ده چي د پرشیا پاچهان ځني راپیدا سویدي". له دې خبري څخه مطلب دا دی چي د (پاسرګدای) یا (پسر کده) له خېلونو څخه یو (هخامنشیان) نومېده چي ښایي دا به د یو بومي نامه یعني (اکامنوش) یا (د اکا د توکم وګړي) د کلمې یوناني شکل وي. (اکا) د (ناګا) له جملې څخه یوه قبیله ده چي (مادا) یا (میدیان) همدا رنګه اړه پوري لري. کومه قبیله چي دغه د (هخامنشیان) یا (اکامنوش) خېل په هغې کي شامل و ښایي د (کوروش)

ACKU

هغه ټولي وه (چي د [ناګا] د يوې بلي ستري قبيلې يعني [کورو] په نامه پسي جوړه سوې) او د (قيروش) (کوروش) نوم هم له هغې څخه راوتلی دی. (کوروش) لکه څنګه چي زموږ په (پلټنه) کي ښوول سوي دي په زياته اندازه اوس لا هم په دغه خپل نامه زموږ په افغانستان کي تمثيلېږي. له احتماله څخه ليري نه ده چي د (قيروش) په نامه پرشيايي پاچا د همدې هيواد (افغانستان) له بومي اهاليو څخه و. (ماراپهوی) ښايي د هغو ځانګو له خوا تمثيلېږي چي د (ماروف) په نامه په ځينو پښتني قبيلو کي په مخه راځي. دا نوم ښايي د (ماروف) په نامه له هغي علاقې سره هم اړه ولري چي د غزني جنوب ته د سليمان د لړۍ د لوېديځي لمني په اوږدو کي پرته ده. (ماسپيوی) ښايي د (اسوا) د هغي سترې قبيلې د يوه خېل څرګندويه وي چي د آسيا په دغه برخه پوري مربوط د لرغوني زمانې په زړو نکلونو کي ډېر شهرت لري. دغه نوم زيات احتمال لري چي د (ميه اسپا) يوناني شکل وي او په محاوره کي (ميه اساپ) ويل کېږي چي معنا ئې (ستراساپ) ده او په اوس وخت کي ئې ښايي هغه (اساپ)، (اساپزی) يا د افغانستان يوسفزی تمثيلوي چي (سترابو) او (آريان) (اسپيوي) بللی دی.

په دوهمه ډله کي د (پنتيالای)، (ديروسيای) او (ګرمانوی) درې شاملي قبيلې چي ټوله په کرهڼه لګيا وې په ښکاره ئې د پرشيائي توکم له مېشته کرونده ګر يا بزګر ولس څخه نمايندګي کوله. د وروستي نامه قبيله په نن زمانه کي د (کرمان) د هغه ولايت د وګړو له خوا تمثيلېږي چي د اوسنی پرشيا په جنوب ختيځ کي پروت دی. خو دا احتمال هم سته چي په پخوا کي د دغو (کرمانيو) يوې ځانګي د اباسين پر سيمه يوه نيوکه درلوده چي هلته ئې خپل نوم د (کرمان) هغي علاقې ته ورکړی دی چي د کورمي له روده څخه اوبېږي. (پنتيالای) همدا راز ښکاري چي پخوا ئې د اباسين پر پوله يوه مېنه درلوده ځکه د پېښور شمال ته د مهمندو په ټپو کي يوه ناحيه د (پنديالي) په نامه ده چي البته دا نوم به يې د پرشياوالو له

همدې قبیلې څخه اخیستی وي. (پندیالي) د یوې بېلې ارضي قبیلې په څېر اوس په افغانستان کې نه مونده کېږي، که څه هم احتمال سته چې نښې ئې د تاجکي ولس تر منځ وجود لري. (دیررسیای) اوس په افغانستان کې د (درازي) یا (درزای) قبیلې په وسیله تمثیلېږي چې د هرات ختیځ ته د غور په تپو کې اوسي او ګمان کېږي د لبنان له هغه (دروزیانو) څخه یو ښاخ وي چې په سوریه کې موقعیت لري.

دریمه ډله د (دائوي)، (ماردوي)، (دروپیکوي) او (سګرتوی) له څلورو قبیلو څخه جوړه ده چې ټوله کوچیان دي. دغه هره قبیله زموږ په افغانستان کې څه ناڅه د یو چا له خوا تمثیلېږي. لومړی دوې قبیلې د هزاره ګانو د داهي خېلونو له خوا چې د هغو په جمله کې یو (داهي مردا) نومېږي. خو په بشپړه توګه البته د پرشیا د (الیات[1]) تر منځ پوره تمثیلېږي. د (دروپیکوي) په باب ما په خپله پلټنه کې دا ګمان وړاندي کړی دی چې ښایي د راجپوت هغه سندرغاړی خېل ئې تمثیلوي چې (دهـ بي) یا (دهـ بیکي) نومېږي او د سترابو له خوا یاد سوی (دربیکوی) سره زیات شباهت لري. که څه هم دا خبره په منځ کې سته چې راجپوت ګمان نه کېږي په دونه وختي زمانه کې د لرغوني آریانا دغو لوېدیځو پولو ته راغلی وي. لاکن ښایي دوی د راجپوت د نورو اکثرو بې قبیلې خېلونو په څېر په راجپوتي شجرو کې په وصلي توګه منل سوي وي. (سګرتوی) په دغه خپل نامه په افغانستان کې د یوې بېلې قبیلې په شان نه مونده کېږي. دوی ښایي د سیستان د تاجکو تر منځ یا د سیستان جنوب ته د (الیات) تر منځ د هغو په ټل کې شامل سوي وي. یا خو امکان لري د پېښور پر سیمه د اباسین په حوزه کې د خټکو تر منځ د هغه خېل له خوا تمثیلېږي چې (ساغری) یا (سغری) نومېږي.

---

(1)– Ilyat

دغه ټوله وړاندي بیان سوي قبیلې اصلاً له پرشیایي ذاته څخه وې او په هم دې وجه نو د باج له ورکولو څخه معاف وې. ځکه نو د دوی نومونه د هغو اقوامو په جمله کي نه ښکاري چي یو په بل پسې ئې د څو ستراپیانو په ترکیب کي نومونه یاد سوي دي. د دغو وروستیو یعني باج ورکوونکو اقوامو له جملې څخه هیرودوت یو زیات شمېر نومونه موږ ته څرګندوي چي د اوسېدلو سیمي ئې په هغو بېلابېلو ستراپیانو یا د حکومتونو په ولایتي حوزو کي شاملي وې چي د لرغوني آریانا یعني زموږ د هغه افغانستان په جغرافیایي حدودو کي دننه راتلې چي د خپلي (پلټني) په پیل کي مو ښوولی دی. له دغو اقوامو څخه تقریباً هر یو نن د افغانستان د اهالیو تر منځ د هغو قبیلو په وسیله تمثیلېږي چي نومونه ئې ورسره ورته دي او موقعیت ئې د ستراپیانو له حدودو سره سمون خوري. د نومونو د هویت له مخي نو د دې اقواموهم وضعیت او هم وسعت دواړه ټاکل کېږي.

د مثال په ډول دوهمه ستراپي چي په ترکیب کي ئې (میسوی)، (لیدوی)، (لاسونوی) (چي په یوه بله برخه کي د کابلوی میونوی په نامه یاد سوی دی)، (کابلوی) او (هیګینوی) شاملېږي. زموږ په پلټنه کي داسي ښوول سوې ده چي زموږ د افغانستان هغه مرکزي برخه کنښېباسي چي په شمال او لوېدیځ کي د کابل او هلمند د سیندونو تر منځ پرته ده او په ختیځ کي د سلیمان او په جنوب کي د (کوړک امران) د غرو په لړیو سره احاطه سوې ده. که په نورو الفاظو کي ووایو نو د هیرودوت له خوا ښوول سوې دوهمه ستراپي د کابل، غزني او کندهار اوسني افغاني سیمي ټولي غونډي یومخیزه کښېباسي. ځکه هغه څو قومونه چي هیرودوت د دغي ستراپۍ په ترکیب کي یاد کړي دي نن ورځ په همدې ساحه کي چي عمومي حدود ئې پاس وښوول سوه د هغه سیمه ایزو قبیلو له خوا تمثیلېږي چي (موسا)، (لودي)، (میانی)، (کابلی) او (خوګانی) نومېږي. (لاسونی) اوس په دغه نامه په نوموړې ساحه کي درک نه لري خو په

بلوچستان کي دوی د (لاسي)، (لاساني)، (لاشاري) او (لغاري) په نومونو تمثيلېږي چي داسي راز په راز نومونه د (لاس) د لومړني قومي نوم ښکاره شکلونه دي چي د بلوچستان د (لاس بېلې) ولايت هم د هغه په نامه پسي منځ ته راغلی دی. (لودي) چي تاريخ ئې د يوه افغاني ولس په څېر ډېر ښه څرګند دی اوس په افغانستان کي د يوې بېلي سيمه ايزي قبيلې په توګه نه موندل کېږي او نسبتاً په را وروسته وختو کي په ډله ايزه توګه هندوستان ته کډه سوي دي. خو دا نور بيا په هغه ساحه کي چي خبري پر وسوې، ښه پېژندلي قومونه دي.

له بلي خوا بيا اوومه ستراپي لکه څنګه چي هيرودوت وايي د (ستاګيدای)، (ګنداريوی)، (داديکای) او (اپاريتای) څخه جوړه ده چي يو په بل پوري نښتي اوسي. له دې قومونو څخه هر يو ما ښوولی دی چي اوس د (ختک)، (شتک) يا (ستک) (ځکه دا نوم په همدې بېلابېلو شکلونو ليدل سوی دی)، (ګندهاري)، (دادي) او (افريدي) له خوا تمثيلېږي. د اباسين د پولي په اوږدو کي د دوی د ځونيوکو له مخي د دغي ستراپۍ موقعيت او وسعت په عمومي او تقريبي ډول څرګند سوي دي. په دې حساب نو دا ستراپي د اباسين په اوږدو کي د سليمان د لړۍ تر ختيځي ډډي پوري پرته ده او د (سفيدکوه) او (خيبر) د لړۍ شمالي غزېدنه ئې د باجوړ تر غرونو پوري رسېدلې ده. په جنوب کي د (بولان) له درې څخه رانيولې بيا د هغو جګو غرونو تر ډډو پوري غزېدلې ده چي د شمال په خوا کي له يوولسمي ستراپۍ څخه د هغې بېلوونکی وېش ټاکي.

يوولسمه ستراپي له (کاسپيوی)، (پاسيکوی)، (پانتيماتهوی) او (داريتای) څخه جوړه سوې ده. دا هغي ستراپۍ ته مخامخ پرته ده چي همدا اوس وڅېړل سوه. دغه ستراپي په لوېديځه برخه کي د ارغنداب له ناوې څخه رانيولې بيا په ختيځ کي د کشمير تر پولي پوري د لرغوني (پاروپاميسس) له منځه راتېره سوې ده. په جنوب کي لوېديځ پلو د

دوهمي سترايې له خوا احاطه سوې ده چي وړاندي ئې بيان راغی او په ختيځ کي مخ د اباسين پر خوا په اوومه سترايې سره محدوده سوې ده. خو په شمال کي له هغي دوولسمي سترايې سره نښتې وه چي وورسته به ئې يادونه وسي. "کاسپيوی" زما په ګمان ښايي چي د اوسني کشمير د سيمي يوه قبيله وي او په همدې جهت نو زموږ د پلټني له ساحې څخه دباندي ده. (پاسيکوی) ما د هغه (پاسي) يا (پاسيکي) په څېر پېژندلی دی چي (راجاتارينګيني) ياد کړی دی. کېدلای چي دوی د (لغمان) او (غوربند) اوسني (پشه يان) وي. ما په خپله پلټنه کي د کافرستان (باش) يا (باشګلی) هم د دوی په جمله کي راشامل کړی دی. که څه هم ښايي هغه له يوې بېلي سرچينې څخه را پيدا سوی وي. يعني د شمالي کوچيانو د يوه وروستني هجوم په نتيجه کي منځته راغلی وي چي په يوه بېله ژبه ږغېدله او سره له دې ښايي له هغه ذاته څخه وه چي (پاسي) هم واردواره ځني راپيدا سوې ده. (پانتيماتهوی) زه ګمان کوم چي د ارغنداب او پاسني هلمند په ناوو کي د (متي) له خوا تمثيلېږي. (داريتای) د سانسکريت (دارادا) دی چي د (داردستان) اوسنی (داردو) ګڼل کېږي.

دوولسمه سترايي (باکتروي) جوړوله چي ليري تر (آئيګلای) پوري رسېدله. اوسنی (بلخ) او (بدخشان) هغه تمثيلوي او دا ګړی د افغاني ترکستان په عام نامه باندي بلل کېږي. د دې سترايې ساحه په لوېديځ کي د (مرغاب) له روده څخه رانيولې بيا په ختيځ کي د (پامير تر سريکول) پوري غزېدلې ده. په شمال کي د (آمو) په سيند او په جنوب کي د (هندوکش) او (کوه بابا) په غرونو محدوده سوې ده. همدغه سيمه وه چي د سکندر تر سوقياتو څو پښته وړاندي له (کيرين) او (مايليزيا) څخه راغلي تبعيدي يونانيان چي (بارکای) او (برنخای) نومېده، دلته مېشته سوه او د دوی اولاده چي موږ د (برکي) او (برنګي) په څېر پېژندلې ده تر نني ورځي کټ مټ په هغو ځايو کي اوسي چي په لومړي سر کي د

(داریوش هستاسپیس) او (زرک سبز) له خوا د دوی لیري نیکه ګانو ته تاکل سوې وه. همدغه سیمه وه چي د لوی سکندر له خوا د پرشیا د نیولو په نتیجه کي د آسیا د دې برخي د یوناني واکمنی مرکز وګرزېده. کومي اړیکي که چیري دا یوې ډلي یونانیانو له هغي بلي سره درلوولي وي نو دا د تاریخ پوهانو او سیاست مدارانو دپاره د څېړني یوه ډېره په زړه پوري پوښتنه ګڼله کېږي. ځکه دلته یوازي د هغو تبعیدي یونانیانو اولاده په مخه نه راځي چي وړاندي ئې یادونه وسوه بلکي د هغو یونانیانو دا هم په مخه راځي چي د یوې دوه سوه کلنې دورې دپاره ئې د همدې ملک د فاتحانو او بومي سوي اهالیو په څېر پر دغه خاوره باندي حکومت کاوه.

دغه دوره تر میلاد وړاندي په ۳۳۰ کال کي هغه وخت راپیل سوه چي نوموړی ملک د سکندر په لاس کښېوتی او بیا ئې تر میلاد دمخه د ۱۲٦ کال تر هغي زمانې پوري ادامه درلوده چي دلته د سکندر له اخلافو څخه د (جاتا) په نامه بربري ولس د حکومت واګي واخیستې. یونانیانو دغه ملک له (باکتري) ولس څخه ونیوی او داسي ښکاري چي مخکي ئې هم د دوی له لاسه څخه وایستلی ځکه (باکتري) هغه یوازنی ولس و چي کله سکندر له آریا (هرات) څخه درنګیا (سیستان) ته راتېر سو نو تر هغه وروسته ئې د سکندر د وړاندي تګ په مقابل کي په ډېره سرسختي مقاومت کاوه. دا خبره چي هر راز وي خو اوس د (باکتري) په نامه داسي څوک نسته چي د یوې قبیلې په توګه دي په دغه ستراپي کي وپېژندل سي. د دوی اوسني نمایندګان ګمان کېږي هغه (بختیاري) وي چي اوس زیاتره په پرشیا کي ځائي دي او هم د افغانستان په بېلابېلو ګوټونو کي د ګرزنده سوداګرو او کریکښانو په څېر شاوخوا پاشلي مونده کېږي. (ځکه بختیاري له باختري سره سر خوري چي له باختر څخه راوتلې کلمه ده او د یوناني (باکتریا) لومړني بومي ګڼل کېږي). خو له دې سره سره دوی په کندهار، د ارغستان په مرغه، د اباسین د ډېره جات د کولاچي په (درابند)

او په یو څو نورو ځایو کي وړي مېني هم لري. په بلخ کي د دوی ځای ښکاري چي د (شیخ الي) او (علي الهي) یا (الي الي) هغو قبیلو نیولی وي چي زما په گمان له یوناني (ایولوی) څخه نمایندگي کوي. احتمال سته چي د نورو یوناني قبیلو نمایندگان ښایي همدا اوس د بدخشان د وړو ولایتونو په هغو وگړو کي کشف سي چي په اصطلاح د تاجک ولس په نامه یاد سوي دي. ځکه د دغه ملک زیاتره موجود غټان او اشرافي کورنۍ ادعاء کوي چي دوی د سکندر او د هغو د پلویانو له نسله څخه دي. په وروستیو زمانو کي د ازبکي او ترکمني قبیلو له هجومه سره چي زیاتره کوچیان وه د دغه ولایت د وگړو بهیر ته یونوی نژادي عنصر راکښېوتۍ. خو د شمېر ډرېښت ئې د دې دپاره کافي وچي پر هغه ملک باندي د افغاني ترکستان اوسنی نوم کښېښوول سي.

د دغه (باکتریا) د ولایت شمالي پلو، تر آمو پوري خوا، او د هغې لوېدیځ پلو د مرغاب تر شا د هیرودوت له خوا بیان سوې شپاړسمه ستراپي واقع وه چي د ترکیب له مخي (پارتهوی)، (خوراسموی)، (سغدوی) او (آریوی) جوړوله. د دغو اقوامو له جملې څخه یوازي د لومړي او وروستي نامه دوه قومه زموږ د پلټني په ساحه کي راځي. (پارتهوی) چي د اوسني (سرخس) او (مشهد) په سیمه کي اوسېده د هغه قوم په حیث زموږ د علاقې وړ دی چي له دوی سره د (ارسکي) په نامه هغه مشهوره قبیله اړه لري چي اوس د (مرو) په ترکمنو کي د (هرزگي) په نامه تمثیلېږي. (ارسکي) یوه داسي قبیله وه چي په لرغونې زمانه کي ئې د یونانیانو له (باکتریا) سره خورا نژدې پیوند درلودی او هغه شاهي کورنۍ ئې په نامه یاده سوه چي د (ارساسیدیس) په عنوان ئې هر څوک ښه پېژني. د (پارتهوی) نوم ښایي د (پارس) یا (بارس) د بومي کلمې یوناني شکل وي چي د (پړانگ) معنا ورکوي او د هغې اصطلاح سره سم چي په لرغونې زمانه کي ئې د (سکیتي) ډلو تر منځ رواج درلودی د پړانگ نوم د

دغو علاقو د (کومن) یا (ترک کومن) دپاره د ملي نامه په توګه استعمالېدی. په هر صورت د هیرودوت (پارتهوی) نن د (مرو) د ملک د هغو ترکمني قبیلو له خوا تمثیلېږي چې په دې وسنیو وختو کي د روسي امپراتوری اهالي ځني جوړ سوي دي. (آریوي) د اوسني هرات په ملک کي اوسېده او اوس د (هراتي) د نامه په وسیله تمثیلېږي چي اسلامي لیکوال ئې (هروي) یادوي. د (هرایا) په نامه وګړي چي په راجپوتي نسبي شجرو کي یاد سوي دي، هم ښایي دوی وي. دوی په دغه نامه د یوې ځانته سیمه ایزي قبیلې په توګه د هرات په ولایت کي نه پېژندل کېږي بلکي په ټوله افغانستان کي د ځانګړو کورنیو په څېر پاشلي دي. دوی زیاتره په لویو ښارونو او د ښارګوټو په مرکزونو کي اوسي. هلته دوی د خطاطانو، دوکاندارانو، کسبکارانو او داسې نورو په شان په خپلو ورځنو لګیا وي.

د هرات د ولایت جنوب ته یعني په لرغوني (آریا) کي د هیرودوت څورلسمه ستراپي موقعیت لري چي په ترکیب کي ئې (سګرتوی)، (سارانګوی)، (تهامنای)، (اوتوی)، (میکوی) "او هم هغه څوک راځي چي د سرې بحیرې په هغه ټاپوګانو کي اوسي چي پاچا په فرارولو محکوم ملزمان هلته وراستوي" دغه ستراپي نن د سیستان د اوسني ولایت او لوېدیځ مکران له خوا تمثیلېږي. د یادو سوو اقوامو له جملې څخه (سګرتوی) لکه وړاندي چي وویل سوه کوچیان وه او د پرشیا د هغو اساسي قبیلو په جم کي ښوول سوي دي چي د باج له ورکړي څخه معاف وه. دلته که څه هم بیا له دوی سره مخامخ کېږو خو دا ځل د هغو اقوامو په ټل کي راځي چي باج پرې کوي. (سارانګوی) کټ مټ هم هغه د (زرنګوی) او (درنګیای) په نامه وګړي وه چي په (درنګیا) یعني اوسني (سیستان) کي اوسېده او په دغه ملک کي د دوی د غټ ښار نښه اوس د (زرنګ) (زرنج) کنډوالې دي. دا نوم لکه څنګه چي زموږ په پلټنه کي بیان پر سوی دی په اوسنیو وختو کي د (دراني) په ملي لقب کي یو ځل بیا را ژوندی

ACKU

سوی دی. که څه هم په خپله قبیله ئې اوس د سیستان د (کیاني) له خوا تمثیلېږي چې د لرغوني زمانې یوه پرشیائي قبیله ده او ګمان کېږي له هغه (ککایا) سره یو شی وي چې د سانسکریت په آثارو کي یاد سوي دي. همداسي د ګمان له مخي ښایي د سلیمان د لړی هغه کاکړ پښتانه هم کښېباسي چې اسلامي لیکوالو د (کایان)، (کیکان) او (کیکانان) په نومونو یاد کړي دي. (تهامنای) د غور اوسنی (تایمني) دی. (اوتوی) اوس په افغانستان کي د اباسین پر پوله په هغو قبیلو سره تمثیلېږي چې په نامه کي ئې (اوتمان) لیده کېږي. زموږ پلټنه وایي چې د اوتمان په نامه قبیلې په پنځلسمه پېړۍ کي د کندهار له ملکه څخه دغه ګوټ ته راکډه سوي دي. (میکوی) زه ګمان کوم چې په افغانستان کي ئې (ماکو) تمثیلوي، که څه هم احتمال لري چې دوی له (اوتي) سره یو ځای د (موکي) په وسیله په پرشیا کي ډېر ښه تمثیلېږي.

د لرغوني آریانا پاته برخه د هیرودوت اوولسمي ستراپۍ نیولې وه چې په ترکیب کي ئې (پاریکانوی) او آسیایي (ایتوپیایان) (حبشیان) شامل وه. دا د دوهمي ستراپۍ جنوب ته چې واردواره وړاندي بیان سوه په داسي موقعیت کي پرته وه چې اوسنی بلوچستان ئې نمایندګي کوي. هغه کلمات چې هیرودوت د دې ستراپۍ د بومیانو د ښوولو دپاره استعمال کړي دي یو څه مبهم دي، که څه هم ښایي چې د مطلب د افادې دپاره به پوره کافي و. یوناني (پاریکانوی) داسي ښکاري چې د سانسکریت د یوه نامه د پرشیائي شکل ډېره ورته نژدې یوناني املاء وي، ځکه (پاریکان) د سانسکریت د (پروا – کا) چې معنا ئې غرونه یا غروال کېږي د جمع پرشیائي شکل دی. په دې ډول نو ښائي هغه (براهوي) تمثیلوي چې د ختیځ بلوچستان او یا د کلات د غرنیو سیمو اوسېدونکي دي. آسیایي (ایتوپیایان) په څرګنده توګه د (کوش)، (کش)، (کچ)، (کوج) یا (کج) هغو بېلابېلو قبیلو ته ویل کېږي چې ملک ئې د غټو تقسیماتو په برخه کي

تر اوسه لا د دوی د نامه په اقتفاء د (کچ ګنداوه) او (کاج مکران) په نامه یادېږي. د دغو قبیلو له جملې څخه مهمه ئې (ګادره) وه چې وروستیو یونانیانو د همدې وګړو په نامه پسي دغه ملک (ګادروزیا) وباله. دوی په سرسره هغه خلک معلومېږي لکه د سانسکریت په آثارو کي چي د "ګارودا" (عقابان) یاد سوي دي او د "ناګا" (مارانو) فطري دښمنان او پوپناه کوونکي دي. اوس دوی د هغه (ګادري) له خوا تمثیلېږي چي په (لاس بېله) کي اوسي. یوه بله قبیله (بولیدي) وه (چي پتولیمي یاده کړې ده) او د هغې واقعي نوم داسي ښکاري چي (بولا) دی. د دوی نوم ښايي د (آسور) (چي مهابارات ئې "آسورا" یادوي) له (بایل)، (بال) یا (بیل) څخه راوتلی وي. په وړاندي بیان کي موږ د هغو ټولو غټو قبیلو نومونه ولیده چي هیرودوت یادي کړي دي او د لوی سکندر تر بري یوه پېړۍ دمخه زموږ په افغانستان کي اوسېدلې. په (رامایانا)، (مهابارت) او د سانسکریت په نورو آثارو کي موږ ته د ډېرو داسي قبیلو نومونه په مخه راځي چي په هم هغه لرغونې زمانه کي پر دې سیمه پرتې وې او ځیني د دوی له جملې څخه د هغو قومونو سره په نامه کي سر خوري چي هیرودوت څرګند کړي دي خو ځیني نوري ئې بیا ښايي د همدې قومونو د خېلونو او قبیلو په ټولیو کي شاملي وي. څرنګه چي دا موضوع ډېره اوږده ده نو اوس د هغې له بیانه څخه تېرېږو. ما د خپلي پلټنې په متن کي هم تماس نه دی ورسره نیولی.
په دې باره کي دلته یوازي دونه ویلای سم چي د افغانستان د زیاتو خېلونو او قبیلو په څانګو کي چي بېلابېل نومونه په مخه راځي، زیاتره ئې د سانسکریت له مدارکو سره سر خوري او په همدې دلیل نو په هغه زمانه پوري اړه لري چي تر یوناني یرغل دمخه وه. په دې ترتیب نو د پرشیا په خوا کي د هیرودوت له څرګندونو څخه او د هند په خوا کي د سانسکریت د مدارکو له مخي موږ کولای سو د هغو توکمیزو عناصرو یو بشپړ تصویر لاس ته راوړو، چي د لوی سکندر تر بري وړاندي ئې هغه زمانه د آریانا د

خلکو په ترکیب کې برخه درلوده.

هغه تاریخ لیکونکی چې د سکندر د نظامي عملیاتو بیانونه لیکي او هغه جغرافیایي آثار چې د نړۍ د دې نوي پرانیستل سوي سیمي په باب د سترابو او (پټولیمي[1]) له خوا لیکل کېږي ټوله موږ ته د هغې سیمي په دننه کې د پرتو ولسونو او ولایتونو د نومونو په باب چې زموږ پلټنه ورته متوجه ده، د تسمیې یو بېل سیستم په لاس راکوي. له دې ولسونو څخه ځیني سمدستي د هغه چا په څېر پېژندل کېږي چې پخوانیو آثارو یاد کړي دي، لکه پاس چې بیان سوه، خو ځیني نور ئې بیا په ښکاره د هغو هجومي بربریانو د قبیلو په څېر ښوول سوي دي چې یوناني حکومت او تمدن ئې په دې برخو کي راونړاوه او بالآخره ئې وراني ته ورساوه. لاکن سربېره پر دوی یو دریم ډول نومونه هم سته چې د دوی د یوه سره لا هم سر نه خوري او که څه هم هغه د شمېر له بابته ډېر نه دي خو زیاتي توضیح ته اړتیا لري. د دې قبیلو فهرست او لکه چې وړاندي چې بیان سوی پر درو ډولونو باندي د دوی وېشل یوه دونه اوږده لړۍ ده چې ټوله دلته نه سي تشریح کېدای. زه اوس صرف د دې دپاره چې موضوع ته مي اشاره کړې وي نو دا ټکی څرګندوم چې کله د آریانا په دغه سیمه کي د هغو قومونو او قبیلو ټوله نومونه وڅېړل سي چې د پاسني بیانه سره سم د سکندر تر بري وړاندي او وروسته لرغونو پوهانو یاد کړي دي او پر دوی سربېره هم هغه قبیلې وکتل سي چې په اسلامي دوره کي د ترک، مغل او تاتار د وروستیو هجومونو په سلسله د دوی منځ ته راغلي دي، نو سره له دې بیا هم یو څو نور قبیلوي نومونه په مخه راځي چې د وړاندي یادو سوو ډلو له یوې سره ئې لا هم د خپلویو رګی نه سي موندل کېدای. دا قبیلې د نومو د شباهت له پلوه

---

[1] - پټولیمي زموږ په وطني لیکنو کي د عربي ژبي د لیکنو په تقلید د (بطلیموس) په بڼه لیکل کېږي (مترجم).

زما په گمان د ځینو (تراکیني) او( لیدیاني) قبیلو اولاده تمثیلوي چي له فرضیې سره سم له هغو یونانیانو سره یو ځای او یا په هغو پسي وروسته راغلي دي چي زموږ افغانستان ئې زموږ د معلوماتو سره سم دوه ویشت پېړۍ پخوا ونیوی، حکومت ئې پر وچلاوه او د هغه په گوټ گوټ کي ئې خپلي کالونۍ جوړي کړې. همدا شان موږ پوهېږو چي یونانیانو د خپلي واکمنۍ مرکز په هغه ولایت کي جوړ کړ، چي تر دوی څو پښته وړاندي پخوا لا هلته دوه معلومداره او نور ډېر یا لږ ټاټوبي نیول سوي وه چي د دوی د خپل قوم په وگړو پوري ئې اړه درلوده. د دغو لرغونو کالونیوالو اولاده اوس موږ د هغه (برکي) او (برنگي) په وجود کي وینو، چي په سرسره په هم هغو ځایو کي اوسي چي لرغونو لیکوالو له وړاندي راغلي بیانه سره سم د هغو یونانیانو لومړنی ټاټوبی بللی دی چي (بارکای) او (برنخای) نومېدله. په دې صورت کي چي ثبوت ئې ښه څرگند معلومېږي اوس نو دا خبره منځ ته راځي چي که د وړاندي یادو سوو یوناني تبعیدیانو اولاده، چي تر میلاد دمخه ئې یو په بل پسې د شپږمې او پنځمي پېړۍ په زمانو کي واردواره د (باکتریا) پر خاوره واړول. نن ورځ کټ مټ په هم هغو ټاټوبو کي پایي چیري چي لومړی ځل د دوی لیري نیکه گانو هلته مېنې کړي وې، نو بیا په ډاډه توگه د دې خبري معقوله هیله هم ساتلای سو چي ښایي د هغو نورو یونانیانو یو څه اولاده همدا شان پیدا کړو چي د پرله پسې دوو پېړیو په دوران کي ئې لږ تر لږه همدغه سیمه د وگړو په ډېر غټ اکثریت او د ژوند تر خورا مساعدو شرایطو لاندي چي ساری ئې نه درلودی د اوسېدني دپاره نیولې وه. دوی که څه هم ټوله خاوره تر خپلو کالونیو لاندي رانه وسته اما خپلو هغو هیوادوالو ئې هر کله له ژونده څخه زیات خوند اخیستی چي له تېر سوي بیانه سره سم تر دوی وړاندي دلته راغلي وه.

کومي افغاني قبیلې چي زما په گمان له یوناني اجدادو څخه راپیدا سوي دي، هغه بېلابېل خېلونه او قبیلې کښېباسي چي د (الي) یا (علي) په

ACKU

نامه دي او له یوناني (ایولوي) یا (ایولیانانو) څخه نمایندګي کوي. کوم خېلونه او څانګي چې هندوان ئې (جونا) یا (یونا)، (جاوانا) یا (یاوانا) بولي او مسلمانان ئې د (یونس) په نامه یادوي له یوناني (آی ئونوي) یا (ایونیایانو) څخه نمایندګي کوي. کوم خېلونه چې د (بای)، (بائي) او (بایزي) په نامه یادېږي هغه (بیوتیوي) یا (بوبیوتیانان) تمثیلوي. د (بایزي) له نامه څخه که څه هم ما د خپلي پلټني په متن کي د هغې توضیح سره سم چي هلته ذکر سوې ده، د (زي) یا (خېل) شاوندي غورځولي دي، خو دا خبره باید څرګنده کړم چي دغه نوم تر هغه ځایه چي زه پوهېږم تل تر تله یوازي د (بایزي) په شکل لیدل سوی دی او داسي یو مثال ئې هم نه سم ښوولای چي هلته دي د (بایخېل[1]) په بڼه راغلې وای. ما ته د دې دلیل نه رامعلومېږي چي ولي دغه راز د خېل یو مثال ئې همدارنګه منځ ته نه دی راغلی. پر دې نومونو سربېره چي عام ډول د زیاترو پښتني قبیلو د خېلونو او څانګو تر منځ مونده کېږي، بې له شکه نور نومونه هم سته چي زما ورپام سوی نه وي. زما په پلټنه کي مي دا خبره وړاندي کړې ده چي د دراني افغانانو د بارک یا بارکزي قبیله چي په کابل کي د واکمن بارکزي امیر قبیله ده د هغه (برکي) سره پیوند لري چي وړاندي ذکر سوه او د (کیرین) له یوناني (بارکای) یا (بارکیانانو) څخه نمایندګي کوي. که چیري زیاته څېړنه د دغه پیوند واقعیت اثبات ته ورسوي نو موږ (بارکزی) باید همدا رنګه د هغو لرغونو یوناني اجدادو په څېر وګڼو چي تر نورو ټولو یونانیانو ئې د لیرو زمانو څرک په دې هیواد کي مونده کېږي.

---

[1]– د دې دپاره چي د بېلیو له دغي څرګندوني څخه قطعي نتیجه وانه خیستل سي نو دا یادونه ضروري ګڼم چي ما په خپله د وزیرو د قبیلې په خېلونو کي د (بایه خېل) په نامه یوه پلرینه لیدلې ده (د نومیالي یادونه).

د نورو قبیلو او د افغان د نامه په باب چي له کومه ځایه څخه ئې منشأ اخیستې ده باید په خپله پلټنې ته مراجعه وسي. ځکه زما د مقدمې لنډیز وختي لا تر هغو حدودو اوښتي دي چي په لومړي سر کي ورته تاکل سوې وه. اوس چي زما څرګندوني پای ته رسوم نو په دې خبره پوهول غواړم چي زما (پلټنه) هغه څه ده لکه څنګه چي د همدې کلمې له افادې څخه څرګندېږي او په هیڅ توګه دا ادعاء په منځ کي نسته چي هغه د افغانستان د ایتنوګرافۍ په باب یوه بشپړه توضیح وګڼل سي. دا پلټنه هغه څه کښېباسي چي د لرغوني آریانا د پراخي ورشو پر طول او عرض باندي د وخت له تنګۍ سره د یوې بېړنۍ منډې په جریان کي په دې قادر سوی یم چي په یو ډول ارتباطي نظم سره ئې رایو ځای کړم او ډېر پخوا د تېرو پېړیو له اوسېدونکو څخه په تصادفي توګه راپاته نښي نښانې دلته هلته له پېژندني سره سم راونیسم او چیري چي مناسب ښکاري هلته ئې له هغه چا سره وټومبم چي همدا اوس لا په خپلو پخوانیو نیوکو اوسي. په ناپېژندلې مځکه کي دغسي یو حرکت رشتیا هم له خطره څخه خالي نه ګڼل کېږي. لاکن څرنګه چي زموږ د سفرونو په جریان کي له دې سیمي سره ډېر یا لږ شناخت پیدا سوی دي نو زه په جرئت د هغو نتایجو په باب چي دلته مي وړاندي کړي دي، دا هیله څرګندوم چي یو مخیزه به بې ګټې ونه خېژي. ځکه که نور هیڅ مطلب پر بنا نه سي خو نورو ته به دا وښیي چي هم د توکم پېژندونکي (ایتنولوجیسټ) او هم د لرغون پېژندنې دپاره د څېړنې یوه ډېره په زړه پوري ساحه چیري ده.

۲۰ اګست ۱۸۹۱ م — ایچ. ډبلیو. بېلیو

۸ اپریل ۱۹۹۳ م — پښتو مترجم: م. ا. نومیالی

# مقدمه

د دې پېښي په باره کي چي دغه (د افغانستان د ایتنوگرافی یوه پلټنه) څرنگه زما له خوا ولیکل سوه، لازمه ایسي چي د لوستونکي د خبرتیا دپاره یو څه وویل سي.

د روان کال په پیل کي چي کله پروفیسور جي. ډبلیو لیتنر ما ته بلنه راکړه چي د ختیځ پېژندونکو په هغه نهمه نړیواله کنگره کي گډون وکړم چي د ۱۸۹۱م کال د سپټمبر په میاشت په لندن کي جوړېږي نو په دې ترڅ کي ئې دا هم راڅخه وغوښته چي د کنگرې د کار سره د مرستي په توگه یوه مقاله یا مونوگراف هم ولیکم. د دې خبري په منلو کي مي هیڅ تردد نه درلودی چي د یوه غړي په څېر په کنگره کي گډون وکړم خو دا چي د هغې په کار کي یو مرستندوی هم سم نو دا بیا بالکل یوه بېله خبره وه. تر یو څه وخته زه په دې کي شکمن وم چي آیا داسي څه وړاندي کولای سم چي د هغو پوهانو د توجه دپاره به د ارزښت وړ وي چي د کنگرې په کار کي برخه اخلي. خو له ښه مرغه ما د افغانستان د اوسېدونکو په باره کي یو لړ متفرق یاداښتونه له ځانه سره درلوده او هم په دې باب یو ډول هغه معلومات په حافظه کي راسره وه چي د خلکو په منځ کي مي د دوی له خولې څخه راټول کړي وه. دا گرده مواد چي د افغانستان له اوسېدونکو سره ئې اړه درلوده زما ورته خیال و په یوه داسي کتاب کي ئې راغونډ کړم چي غوښته مي د خپلو هغو آزموینو او لیدنو د یوه ثبت په څېر ئې کومه ورځ ولیکم چي زما د اوږدو او په استثنائي ډول رنگارنگ ماموریتونو په دوران کي مي هغه

مهال سر ته رسولي دي چي د ډېري مهرباني علیاحضرتي ټولواکمني د هندي حکومت په خدمت کي په فعاله توګه لګیا وم. خو دا "کومه ورځ" په یوه یا بل دلیل هم دونه نامحسوسه ښکارېده لکه څونه چي په خپله د همدې کلمې افاده نامعلومه ده. پر دې موضوع باندي د چورت وهلو په جریان کي دا خبره زړه ته راغله چي د کنګرې دغي اوسنۍ سوقع د دې دپاره یوه ډېره ښه زمینه برابره کړې ده چي د خلکو پاملرني ته له هغو موادو څخه یوه برخه ور وړاندي سي چي د خورا بې فایدې معلوماتو په شان تر دې ګړي پوري یوازي له ما سره پاته دي. دوی ځکه دغسي بې فایدې پاته سوي دي چي نورو هغو کسانو برخه نه ده پکښې اخیستې چي په دې کار کي تر ما زیات مهارت لري څو د بېلابېلو مدارکو له مخي د حقیقت د روښانه کېدو په وسیله له همدغو موادو څخه د پوهني د پرمختګ دپاره استفاده وکړي. له دې جهته نو ما فیصله وکړه چي د کنګرې دپاره د یوه مونوګراف په څېر (د افغانستان د ایتنوګرافۍ یوه پلټنه) ترتیب کړم او ډاډه یم چي دا پلټنه په خپله د تهیه کولو تر بېړنیو شرایطو لاندي چي ضرور هر څونه نیمګړې هم وي خو په هر حال د زیاتي پلټني او نوري څېړني دپاره به د ختیځ پېژندونکو پام یوې جالبي موضوع ته راوګرزوي.

د دې پلټني په بهیر کي مي د نورو پېژندونو تر څنګ ځیني اوسنۍ قبیلې چي همدا ګړی په افغانستان کي اوسي د هغو یونانیانو د اولادې د څرګندونکو په څېر پېژندلي دي چي په لرغونې زمانه کي ئې پر دې ملک باندي حکومت کاوه. خو دا وخت مي نه دی موندلی چي پر د غه موضوع هغونه په زیات تفصیل وړغېږم لکه څونه چي په ارزي. البته زه باید دلته دا ووایم چي د دغو یوناني الاصله قبیلو په باب په دې پلټنه کي درج سوي کشفیات داسي نه دي چي د همدغه بې تفصیله بیان په دلیل نو بې له درنګه تردید سي. ځکه په دې باب که چیري زما د پېژندونو د صحت په

اثبات کي د دلیل په توګه کوم شي ته ضرورت سي نو دا خبره تر بل هر شي یو قاطع شاهد ګڼل کېدای سي چي د هغې ژبي لغات چي همدا نن ورځ د خپلي بومي لهجې په څېر خبري په کوي تر نیمي اندازې لږ یا ډېر، بلکي لا ډېر تر لږ، هغه یوناني کلمات[1] دي چي یا ئې لومړنی شکل نه دی بدل سوی او که بدل سوی وي نو بدلون ئې دونه جزئي دی چي اصل ئې په آساني سره پېژندل کېدای سي.

د نورو زیاتو قبیلو په باره کي چي دلته څېړل سوي دي نو ما تر دې اضافه چي ثبت ئې کړم او په عبوري ډول د دوی د پېژندني په باب څرګندوني وړاندي کړم د نور بیان دپاره مي وخت نه دی پیدا کړی. خو هغه قبیلې چي د راجپوت له نسله څخه دي په دې سبب چي په لرغوني زمانه کي ئې له هغو یونانیانو سره نژدې پیوند درلودی چي د اولادې په باب ئې وړاندي وړغېدم له تاریخي پلوه په خاصه پاملرنه ارزي. د نورو پاتّه اقوامو په باب نو ځان اړ بولم چي زما لیکنه د هغه څه په خاطر چي ارزښت لري له خپلو نیمګړتیاوو او کمیو سره جوخت اوس په سرسره د همدې کنګرې مخي ته ور وړاندي سي.

ایچ. ډبلیو. بېلیو
فرنهام رایل

---

[1]– دا یوه ډېره په زړه پوري موضوع ګڼم چي تر دې آنه چا کار نه دی ورباندي کړی. یو وخت چي کله ما ته معلومه سوه د یوناني (مارګریت) د پښتو (مرغلره) ده او یا د پښتو (ګڼی) د یوناني ژبي (ګینوس) ده نو دغي لرغوني ژبنی خپلوی ته ئې زما پام راوګرزاوه. همداسي ما اورېدلي دي چي د پښتو ځیني خاص ږغونه په یوناني ژبه کي هم استعمال لري (د نومیالي یادا ښت).

# د افغانستان د ایتنوګرافۍ په باب یوه پلټنه

زموږ په موضوع پوري خورا ډېري خبري اړه لري او دا ایجابوي په هغه وړه زمینه کي دننه په متراکمه توګه راغونډي سي چي زموږ په اختیار کي ده، ځکه نو زه خپلي مقدماتي ځرګندوني باید د هغي طریقې د غټو ټکو په بیانولو پوري محدودي کړم چي غواړم د دې څېړني په تعقیب کي کار ځني واخلم.

د دې پېړۍ له پیله راهیسي چي کله موږ خپله د لومړي ځل دپاره د افغانستان له خلکو سره آشنا سوو نو د هغو پوښتنو او ګروپېږونو له لاري چي د ختیځ هند محترمي کمپنۍ دغه لوري ته متوجه کړي، یو زیات شمېر خبري او لیکني د افغانانو او د دوی د موریني (مبدأ) په باب منځته راغلي دي. زه دغه ټوله بیانونه چي په دې باره کي سوي دي یوې خوا ته ئې ایږدم او له خپلو افکارو څخه ئې باسم. غواړم اوس یوه مستقله څېړونه په مخه واخلم او دا څېړنه د هغو لرغونو او وروستنیو پوهانو پر آثارو رابنا ده چي په لیکنو کي ئې دهمدې سیمي په باب چي زموږ پلټنه ورته متوجه ده یو شمېر ځرګندوني لاس ته راځي.

(سترابو) چي د مړیني نېټه ئې تر میلاد وروسته په ۲۴م کال کي ټاکل سوې ده، د (ایراتوستهینیس) د هغه بیان له مخي چي پر هند باندي د سکندر د هجوم په وخت کي د نوموړي هیواد حالات ځرګندوي، په خپل اثر (۱۰ .۱ .xv جغرافیه) کي داسي وایي:

"دغه زمانه د هند او هغي آریانا تر منځ چي د لوېدیځ خوا ته ئې

موقعیت درلودی او د پرشیاوالو په لاس کي وه، اباسین د وېش پوله وه. ځکه په وروسته کي بیا هندیانو د آریانا غټه برخه هغه وخت اشغال کړه چي مقدونیانو دوی ته وروسپارله".

د خپل بیان په ادامه کي چي کله بیا آریانا تشریح کوي نو وړاندي په (xv. ۲. ۹) کي وایي: "هندیانو (په قسمي توګه) ځیني هغه ملکونه اشغال کړي دي چي د اباسین په اوږدو کي پراته دي او پخوا ئې په پرشیا والو اړه درلوده. سکندر له دې ملکونو څخه د آریاناوالو لاس وکښې او خپلي مېني ئې هلته وداني کړې. خو (سیلیوکوس نیکاتور) بیا همدا ملکونه (سندراکوتوس[1]) ته د یوې خپښې د تړون په نتیجه کي وروسپارل او په بدل کي ئې پنځه سوه فیلان ځني واخیسته.

دلته موږ وینو چي دوې خبري په اثبات رسېدلي دي: لومړۍ دا چي د سکندر د هجوم په وخت کي یعني (۳۳۰) کلونه تر میلاد دمخه آریانا (په قسمي) ډول د هندیانو ځای و، خو وروسته ئې د دغه ملک یوه غټه برخه چي مقدونیانو وروسپارله هم پسي اشغال کړه. بله دا چي سکندر د آریاناوالو لاس د دوی له هغو خپلو ملکونو څخه وکښې چي د اباسین په اوږدو کي پراته وه او هلته ئې خپلي ځاني مېني وداني کړې. موږ دې بیان ته دا هم ورزیاتولای سو چي د سکندر په دې مېنو کي ښایي تر ده پخوا راغلي یوناني کالونیوال هم شامل وه. د سترابو دغه څرګندوني د (پلیني) د بیان له مخي چي تر ده نیمه پېړۍ وروسته دئ هم تائیدېږي. پلیني (چي د مړیني نېټه ئې تر میلاد وروسته په ۷۹ کال کي ټاکل سوې ده) چي کله د شمالي هند پولي په خپل اثر (Nat. Hist. vi. ۲۳) کي بیانوي نو وایي:

"زیاتره جغرافیه پوهان اباسین د هند د شمالي پولي په څېر نه ټاکي

---

[1] – Sandrakottus په یوناني لیکونو کي چندراګوپتا موریا په دغه شکل یاد سوی دئ (مترجم).

بلکي د (ګيدروزيا)، (اراکوتای)، (آريي) او (پروپاميزدای) د څلورو ستراپيانو له زياتولو سره د (کوپيس) سيند د هغه د خورا ليري پولي په توګه ټاکی".

دلته د پليني له بيانه څخه مونږ ته د آريانا هغه برخي رامعلومېږي چي د سکندر تر هجوم تقريباً څلور سوه کلونه وروسته په هنديانو ډکي وې.

جنرال سرالکساندر کونينګهام په خپل اثر کي چي (د لرغوني هند جغرافيه) نومېږي او فقط شل کاله دمخه خپور سوی دی د شمالي هند د پولو په باب ږغېږي او همدغه د سترابو او پليني خبري را اخلي. تر هغه وروسته چي سندراکوتوس د چندراګوپتاموريا په څېر پېژني چي د (آشوکا) په نامه لمسی ئې بودايي دين د خپلي امپراتورۍ تر خورا ليري ګوټونو پوري وغوړاوه نو په خپل دې بيان کي (الاسادا) چي د (يونا) يا يونان د ملک پای تخت دی د همدې ګوټونو له جملې څخه د يو ځای په توګه يادوي او د دې خبري د ثبوت دپاره چي تر ميلاد دمخه په دريمه او څلورمه پېړۍ کي د کابل ناوه تر هندي اشغال لاندي وه يو لړ شواهد وړاندي کوي. د دې ثبوت په بشپړېدو کي دا مثالونه هم راوړي چي د باختري يونانيانو او هندي سکيتيانو پر سکو باندي لا تر سلم ميلادي کاله پوري له هندي ژبي څخه کار اخيستل کېدی. دی وايي چي هندي ژبه که څه هم د وروسته دوو يا درو پېړيو دپاره غائبه سوه خو د شپږمي پېړۍ د (ابتليانو) يا (سپينوهونيانو) پر سکو باندي يو ځل بيا خپل ځان راڅرګندوي. دی زياتوي چي په ورپسې پېړۍ کي د (کاپيسا) پاچا يو (کشتريا) يا سوچه هندو و. د لسمي پېړۍ په ټوله دوران کي د کابل ناوه د (برهمنانو) د يوې کورنۍ په لاس کي وه چي د هغو قدرت د غزنوي محمود د واکمنۍ تر پايه لا يو مخيزه پای ته نه و رسېدلی. له دې څخه ښکاري چي تر دغي زمانې نو د ختيځ افغانستان د وګړو لويه برخه ضرور له هندي نسبه څخه وه خو په داسي حال کي چي دين يې سوچه بوديزم و، (سر، اې.

کونینګهام) وایي:

"د غزنویانو د واکمنۍ په دوران کې چې بیا وروسته مسلمانۍ ته واوښته نو دغې اوښتنې یوازې د دوی بومي ژلنده توب ته د ځان د حقانیت روحیه هم ور زیاته کړه نو د بت نمانځونکو بودایانو ځورونې دوی ته هم خوند ورکاوه او هم ئې دا کار خپله دنده ګڼله". دی وایي چې:

"بت نمانځونکې ډېر ژر وشړل سوه او له دوی سره هغه هندي عنصر چې دونه ډېرې پېړۍ ئې په ختیځه آریانا کې تېرې کړې وې هم بالاخره له نظره غائب سو".

د دغه غټ عالم او ستر ارکیالوجست پورتنۍ څرګندونې چې دلته رانقل سوې خورا ډېر ارزښت لرې ځکه دا خبره ټینګوې چې زموږ د دوران د یوولسمې پېړۍ د لومړۍ دریمې برخې تر وخته پورې لا په ختیځ افغانستان کې یو هندي ولس موجودیت درلودی. زه دلته تر مخه لا دا ویلای سم چې دغه بت نمانځونکې که څه هم له خپلې بت نمانځنې څه پسې واخیستل سوه او له دوی سره جوخت د اسلام په وروړګلوې کې هندی عنصر له نظره غائب سو خو بیا هم یو هندي ولس هم د خپلو قبیلوي نومونو او ملي دودونو او هم د خپلو ژبو په وجود کې چې خبرې په کوې تر اوسه لا د هغو سترا پیبانو پر سیمه موجودیت لرې چې پلینې د هندیانو په نامه ښوولی دی. زموږ د پلټنې په جریان کې به ووینو چې هندیان په ختیځ افغانستان کې هر چیرې بیا په مخه راځي او زیاتره د راجپوت(۱) د هغو غټو قبیلو په نامه دی چې د هند په تاریخ کې شهرت لرې.

لکه څنګه چې مو وړاندې ولیده د سکندر د برې یوه نتیجه دا وه چې د خپل ځان نوې مبنې ئې په هغو ملکونو کې ودانې کړې چې د اباسین په

---

(۱) راجپوت چې په هندي انسابو کې (د لمر د توکم) په نامه دی، په شمالي هند کې د پیاوړي نظامي او واکمنې ټولنې نسبي هویت افاده کوي.

اوږدو کي پراته وه. موږ ویلای سو چي د دې مېنو په ترکیب کي د یونانیانو بېلابېلي کالونیاني شاملي وې. د (سیلیوکس نیکاتور) (د مړیني نېټه تر میلاد وړاندي په ۲۸۱ کال کي) له خوا سندراکوتوس ته د دې ملکونو ورکړه د انتقال تر دوستانه شرایطو لاندي د دې سبب نه سوه چي دغه یوناني مېني له خپله ځایه ځخه بېځایه سي. که څه هم په دې پسې خو به طبعاً د هندي ولس شمېر په دغه سپارل سوو ملکونو کي ډېر زیات سوی وي. ربښتیا هم داسي ښکاري چي د یوې اوږدې زمانې په دوران کي دغه شمېر یوې ډېري غټې اندازې ته ورسېدی. هندي عنصر نو د ختیځ افغانستان په نفوسو کي د یوولسمي پېړۍ تر لومړۍ دریمي برخي پوري د شمېر له پلوه ډېر ښت درلودی خو تر دې نېټې را وروسته نو بیا د اسلام تر غلبې لاندي له نظره غائب سو. د دغو ټکو په پام کي نیولو سره نو اوس موږ کولای سو هغې پلټني ته راکښېوزو چي زموږ په مخ کي ده او دې ته چمتو سو چي د افغانستان په اوسنیو موجود اوسېدونکو کي د آریانا د لرغوني ولس څرګندویان وپېژنو.

دغه هیواد چي اوس افغانستان بلل کېږي د لرغونو یونانیانو له خوا د آریانا په نامه یاد سوی دی. سترابو (xv. ۲. ۸) د (ایراتوستهینس) په حواله د دغې سیمي حدود داسي بیانوي:

"آریانا ختیځ پلو تر اباسین پوري رسېدلې ده. د جنوب خوا ته ئې لوی دریاب دی. شمال پلو ئې (پروپامیسس) او د غرونو یو په بل پسې لړۍ پرتې دي چي لیري د (کسپین) تر خولو پوري رسېږي. د لوېدیځ په خوا کي کټ مټ په هغو پولو محدوده ده چي د (پارتیانو) خاوره ئې له (میدیا) او (کارمانیا) ئې له (پارتاکین) او (پرشیا) څخه رابېله کړې ده. ... د آریانا نوم همدا رنګه دونه غزېدلی دی چي د (پرشیا) یوه حصه، (میدیا) او د (باکتریا) شمالي برخه او (سغدیا) راکښېباسي. ځکه دغه اقوام تقریباً په یوه ژبه خبري کوي. (ایراتوستهینس) تر میلاد وړاندي د

۱۹٦ کال په شاوخوا کې مړ دی او په دې اساس نو موږ دا نتیجه را ایستلای سو چې تر دغې نېټې پورې د آریانا ژبه پارسي او یا د هغې د لهجو له جملې څخه یوه لهجه وه. پښتو یا تر دغه وخته منځته راغلې نه وه او که چیرې تر دې دمخه موجوده وه نو د سوات په غرنیو سیمو او د سلیمان په لړیو پورې محدوده وه. د آریانا کوم حدود چې نوموړې ښوولي دي غالباً هغه حدود وه چې د یوناني واکمنی په دوران کې د دغې سیمې د حدود په څېر پېژندل سوي وه. خو هیرودوت په ښکاره د دې ملک له هغو جغرافیایي تقسیماتو سره آشنایي نه درلوده چې وروستنیو یوناني لیکوالو یاد کړي دي.

موږ د خپلې پلټنې په منظور ویلای سو چې افغانستان په ختیځه خوا کې له (ګلګیټ) څخه نیولې بیا تر سمندره پورې اباسین احاطه کړی دی. جنوبي پوله ئې د عربو سمندرګې ټاکلې ده. په لوېدیځه خوا کې تر پرشیایي (کرمان) او (خراسان) پورې رسېدلی دی. شمالي پلو تر (خواجه صالح) او بیا له هغه ځایه د (خوارزم) د بیدیا په پساره تر پرشیایي (خراسان) پورې د آمو رود احاطه کړی دی.

د افغانستان نوم په هغه مفهوم لکه څنګه چې موږ د دغې ښوول سوي سیمې دپاره په کار اچولی دی، نه عام ډول پېژندل سوی دی او نه هم په خپله د ملک د خلکو له خوا څخه په کلي یا جزئي توګه د دغه راز افادې دپاره استعمال لري. دا هغه نوم دی چې دې ټولي سیمې ته په عمومي صورت د هغې د ګاونډیانو او خارجیانو له خوا څخه ورکول سوی دي. دا نوم د هغه ډېر شمېره ولس له قومي نامه څخه راوتلی دی چې په دغه هیواد کې ژوند کوي او داسې ښکارې چې صرف په اوسنیو زمانو کې واردواره د پرشیاوالو له خوا څخه منځ ته راغلی وي. څکه زموږ تر بحث لاندې افغانان که څه هم د یو ځانګړي ولس په توګه د اتمې پېړۍ له پیله راهیسې په تاریخ کې پېژندل سوي دي خو د دوی ملک تر هغه وخته د افغانستان په نامه نه یادېدی څو چې د تېرې پېړۍ په منځنیو کلونو کې دغه ولس د خپل

توکم د يو پاچا تر واکمنۍ لاندي د يو خپلواک ملت په څېر منځته راغی. تر دې پېښي لږ وړاندي فاتح نادرشاه چي دا سيمه ئې بيرته د پرشيايي واکمنۍ سره تړله نو دی هغه لومړی څوک و چي د هغو دوو سترو قبيلو يا ولسونو د نامه په اقتفاء چي دلته يې ډېرښت درلودی په ترتيب سره د سيمي شمالي برخه افغانستان او جنوبي برخه بلوچستان وبلله.

خراسان داسي نوم دی چي په خپله خلګ ئې د هغه ملک د ښوولو دپاره په کار اچوي چي خارجيان ئې د افغانستان په توګه پېژني او دا کلمه له هغو حدودو سره پوره سر خوري چي د آريانا په وسيعه افاده کي وړاندي په نښه سوه. د خراسان لوېديځه برخه چي په شمال کي د مشهد له علاقې څخه رانيولې بيا په جنوب کي تر (قائنات) پوري رسېږي د پرشيائي خراسان سيمه ټاکي.

(پتوليمي) آريانا پر اوو ولايتونو باندي داسي وېشي: مارګيانا (مرغاب يا مرو)، باکترِيانا (بلخ او بدخشان او په اوس کي (افغاني ترکستان)، آريا (هرات)، پروپاميسس (هزاره او کابل تر اباسين پوري د کافرستان او داردستان په شمول)، درنګيانا (سيستان او کندهار)، اراکوزيا (غزني او د سليمان لړۍ تر اباسين پوري) او ګدروزيا (کچ او مکران يا بلوچستان). دغه ولايتونه د ملک د اوسنيو تقسيماتو په وسيله چي له اړخه سره ئې پاس په قوسونو کي ليکل سوي دي ډېر ښه تمثيلېږي.

د دې ملک خپل بومي تقسيمات لکه څنګه چي اسلامي ليکوال وړباندي ږغېدلي دي دغه شان ښه څرګند نه دي. ځيني نيمه د شمالي برخه د کابلستان په نامه يادوي او جنوبي ئې بيا زابلستان بولي، شمال - ختيځه برخه د باختر په نامه او شمال - لوېديځه برخه ئې (غور) يادوي. جنوب - ختيځه برخه يې د (روه) او جنوب - لوېديځه ئې د (نيمروز) په نامه بولي. په دغه تقسيم کي کابلستان له (مارګيانا)، (آريا)،

(پروپامیسس) او (باکتریانا) څخه جوړېږي. زابلستان بیا له (درنګیانا)، (اراکوزیا) او (ګیدروزیا) څخه جوړېږي. په داسي حال کي چي باختر بیا له (باکتریانا) او د (پروپامیسس) د نیمي ختیځي برخي څخه جوړېږي. په غور کي بیا د (پروپامیسس) نیمه لوېدیځه برخه آریا او برګیانا راکښېباسي. په (روه) کي بیا ټوله اراکوزیا، د درنګیانا او ګیدروزیا د ختیځ نیمي نیمي برخي یا کندهار او کچ راشاملېږي. په (نیمروز) کي بیا د درنګیانا او ګیدروزیا د لوېدیځ نیمي نیمي برخي یا سیستان او مکران راکښېوزي.

پاس ښوول سوی افغانستان هغه سیمه ده چي موجودو اوسېدونکو ته ئې زموږ همدا روانه پلټنه متوجه ده. که موږ په یوه ټاکلي ترتیب خپله څېړنه تعقیب کړو، نو دا کار به بالاخره د موضوع په باره کي زموږ پوهېدنه آسانه کړي. څرنګه چي د بېلابېلو قبیلو او خېلونو د پېژندني په باب موږ ته د یوې مرستندویه وسیلې په څېر دا خبره مهمه ده چي باید د هغه دوه ډوله اهالیو تر منځ توپیر سره وکړو چي یو ډول ئې د لرغوني پرشیائي واکمنۍ په دوره کي پخواني اوسېدونکي وه او بل ئې بیا تر هغه وروسته دې ملک ته راغله چي د (داریوش کودومانوس) امپراتوري د لوی سکندر له خوا څخه ړنګه سوه، نو څکه زه وړاندیز کوم چي د پخوانۍ دورې د مطالعې دپاره زموږ د لارښود په څېر هیرودوت وټاکم چي د تاریخ ډېر لرغوني عالم دی. کله چي مرحله په مرحله وړاندي ځو او د دې سیمي د لرغونو اهالیو په باب د هیرودوت پر ثبت کړو معلوماتو باندي هغه څه ورزیاتوو چي د دې اهالیو د ملي نومونو او مځکنیو موقعیتونو سره اړه لري نو د وروسته راغلو اهالیو په باره کي له دغه قسمه نور معلومات هغه څه دي چي موږ ئې د یونان او روم د لرغوني زمانې د ډېرو مشهورو لیکوالو په آثارو کي مومو. دغه لرغونې زمانه چي د مدارکو مشهور لیکوال ئې ستراېو، پلیني، آرریان، پتولیمي، کورنیوس او نور دي د هغه ستر انقلاب تر وخت

وروسته ده چي د آسيا په برخه کي منځته راغی او په دې دوران کي يونان او هند د پرشيا او آريانا په منځنيو سيمو کي لاسونه يو او بل ته سره ور کړي دي. د دې دپاره چي د دوی له مدارکو څخه لاس ته راغلي معلومات نور هم ښه ترا بشپړېدو ته ورسوو نو د خپلي موضوع په باب هغه اضافي تشريحات ورسره يو ځای کوو چي د اوسنيو پوهانو له آثارو څخه ئې را ايستلای سو. په دغه جمله کي د (تاد) اثر چي (د راجستان پېښه ليک⁽¹⁾) نومېږي او په ۱۸۲۹م کال کي خپور سوی دی خورا زيات ګټور دی او ډېر څه ځني زده کېږي. بالاخره هغه معلومات چي له دغو بېلابېلو منابعو څخه لاس ته راغلي دي د خپلو شخصي مشاهداتو په رڼا کي چي هر څونه پيکه او بې ثباته هم وي تر استفادې لاندي ونيسم. زما دغه شخصي مشاهدات په خپله د همدې خلکو په منځ کي زما د ډېرو کلونو د اوسېدوني په دوران کي سر ته رسېدلي دي.

د دغي طرحي په وسيله زه فکر کوم موږ به ښه ترا دې ته چمتو سو چي د افغانستان په زياترو موجودو قبيلو کي د آريانا د لرغونو اقوامو اوسني نمايندګان وپېژنو او په همدې ډول به وکړای سو چي د پخوانيو خاوندانو او وروستنيو ناقلينو تر منځ ئې د يو سم اساسي توپير مقياس سرښته کړو او همدا شان ئې د ورپسې شاهي کورنيو د هجوم ګرانو بقايا د عبوري دارو مارو له ايله ګښتو څخه بيل کړای سو. زموږ پلټنه که دا نتيجه نه ورکوي چي د هند پر تاريخ يوه نوې رڼا واچوي او پر هغو اړيکو ورغبږي چي هند د يونان له واکمنۍ او هغه (جاتائي) (ګيتي⁽²⁾) هجوم سره درلوده چي دغه واکمني يې ړنګه کړه او يا د هغو مناسباتو په باره کي بيان وکړي چي دغو (سکيتي) فاتحانو د خپلو هغو قومي توکمونو سره درلوده چي په پخوانيو

---

(۱) Tod's "Annals of Rajasthan"

(۲) Getic

وختونو کي دې لوري ته رامات سوي او په شمالي هند کي ئې (برهمن) او (کشتریا) ځای پر ځای کړي وه او یا په آریانا کي د هغي ګډي واکمنۍ په ارتباط خبري وکړي چي بودایي (جاتا) ئې په شمال او برهمن کشتریائي په جنوب کي حکومت کاوه او یا بالاخره د هغو شخړو په باب بیان وکړي چي د آریانا دغو هندیانو له هغو اورنمانځونکو (پارتیانو) سره درلودی چي د (ارسکي) په نامه د شاهي کورنۍ تر اوږدې واکمنۍ لاندي وه او بیا ئې پر دې پېښه باندي وږغېږي چي د کوچنۍ آسیا د رومیانو په مقابل کي ئې د (پارتیانو) سره تر یوه بیرغ لاندي په جګړه کي برخه اخیسته، او په دې پسي ئې له مسیحیت سره په تماس کي راتله او په نهایت کي په اسلام د دوی ګډېده تر بحث لاندي ونیسي، خو له دې ټولو خبرو سره چي د افغانستان د اهالیو په اوسني ترکیب کي د شاملو ولسونو د ایتنولوجۍ په باب زموږ له پلټني څخه دغه راز نتائج نه راوزي، اما بیا هم ښایي موږ لږ تر لږه په دې وپوهوي چي د افغانستان د نامه رښتینې معنا څه ده او افغانان په حقیقي ډول څوک دي. له دغي تشریح سره نو دا دئ خپلي پلټني ته اقدام کوم.

تر هغه وخت تقریباً یوه پېړۍ پخوا چي د (داریوش کودومانوس) پرشیائي امپراتوري د لوی سکندر په مشري د مقدونیانو له خوا څخه ړنګه سي، هیرودوت د دغه هیواد یو ډېر بشپړ تاریخ د خپلي زمانې تر وخته لیکلی دی. خو د ده په زیاتو بیانو کي داسي څرګندوني لږ راغلي دي چي سمدلاسه د لرغوني پرشیا له هغي برخي سره اړه ولري چي زموږ همدا اوس ورسره سروکار دی. اما دغه لږ څرګندوني ئې هم موږ ته په دې خپله روانه پلټنه کي د خاصي علاقې او ډېر ارزښت وړ دي. په هغه زمانه کي چي تقریباً تر میلاد وړاندي د (۴۵۰) کال له نېټې سره برابرېږي (آریانا) یعنې خراسان یا زموږ په خوله افغانستان د (داریوش – هیستاپسیس) – د ارادګشتاسپ زوی – د امپراتورۍ ختیځه برخه جوړوله. دغه داریوش له

یوې پرشیائي کورنۍ یا قبیلې سره اړه درلوده چي ټاټوبی ئې د هیواد په شمال – ختیځه برخه کي واقع و، چي همدا اوس ورباندي رغېږو. دا شمال – ختیځه برخه ئې د باختر ولایت دی چي د (بلخ) ښار ئې پای تخت و او عربو همدغه ښار د خپل زیات لرغونتوب په خاطر د (ام البلاد) یعني (د ښارونو مور) په نامه یاد کړی دی. تقریباً تر میلاد (۵۲۱) کلونه وړاندي دی د همدې امپراتورۍ واکمنۍ ته ورسېدی چي ښایي د قیروس (کوروش) له خوا منځته راغلی او د هغه د زوی او خلف له خوا چي قامبیسیس (کامبوجیا، کامبوهجي) نومېدی نوره هم پراخه او ټینګه سوې وه. (قیروس) چي مور ئې ماندانې (ماندانه) نومېده (ښایي د ماندان له قبیلې څخه یوه شازادګۍ وه) وایي چي له (میدي) قبیلې څخه وه او پلار ئې قامبیسیس (کامبوهجي) نومېدی (چي ښایي د کامبوه د قبیلې یو مشر و) (قیروس) چي کله (میدیان) له زوره څخه واچول او د لیدیاني (لودي) (کریسوس) مملکت ئې ونیوی نو په دې وجه د هغې ټولي خاوري واکمن سو چي له اباسین څخه تر (هیلیسپونت) پوري غزېدلې وه.

په دغه زمانه کي غټي پرشیائي قبیلې چي هیرودوت د خپل اثر په (bk. ۱. ۲۵) کي یادي کړي دي دا وي: پاسرګدای (پسرکده یعني د کورنۍ زوی) چي د شاهي کورنۍ قبیله وه د (مارابهوی) او (ماسپیوی) قبیلې ښکاري چي د امپراتورۍ د ملکي او نظامي اداري له برخي سره ئې اړه درلوده. د (پنتیالای)، (دیروسیای) او (ګرمانوی) قبیلې بیا ټوله په کښت او کرونده لګیا وي. د (دائوي)، (ماردوی)، (دروپیکوی) او (سکرتوی) قبیلې بیا ګرده کوچیاني وې.

د دغو ټولو قبیلو مورنۍ ژبه ښایي چي پارسي وه. موږ وینو چي له دوی څخه زیاتره یې د افغانستان د اوسنیو وګړو په منځ کي د هغو قبیلو له خوا تمثیلېږي چي کټ مټ هم هغسي نومونه لري او په پارسي ژبه خبري کوي. (پنتیالی) داسي څرګندېږي چي پخوا ئې د ختیځ په لیري سر کي

یا د اباسین پر پوله یوه نیوکه درلوده، ځکه هلته د مهمندو په تپو کي د پېښور پر سرحد د خیبر د درې شمال ته د کابل او سوات د رودونو تر منځ یوه علاقه ده چي (پندیالی) ئې بولي او د دغه نامه په اقتفاء د (مهمند) یا (لوی مند) د قبیلې یو ښاخ هم د (پندیالی) په نامه یادېږي. اوس نو که په حقیقت کي د (مهمند) دغه ښاخ له پرشیائي پنتیالي څخه نه وي راپیدا سوی نو دغه علاقه د چا د نامه په اقتفاء دغه راز نومېدلې ده. خو نوموړی (پندیالی) که څه هم اوس د مهمندو سره پیوند سوی دی او په پښتو خبري کوي اما په خپلو دودونو او کړووړو کي له نورو پښتنو څخه توپیر لري. (دیروسیای) د هغه (دروزي) له خوا تمثیلېږي چي د افغانستان په هغو غرونو کي اوسي چي د هرات ختیځ ته واقع دی. خو په زیات شمېر ئې هغه د لبنان (دروزي) یا (دروسیس) تمثیلوي چي په سوریه کي پراته دي. (ګرمانوی) د پرشیا د (کرمان) د ولایت (کرماني) دی. د اباسین په حوزه کي د (کرمان په نامه یو بل ځای هم سته چي د هغه په باره کي به وروسته وږغېږو. دوی ټوله ځایي قبیلې دي.

(دائوي) د (داهستان) داهي یا د افغانستان هزاره دی. (ماردوی) اوس له داهي سره یو ځای شامل دی چي (داهي نرده) یادېږي، او لکه څنګه چي به ئې وروسته وګورو کټ مټ په هغه ځای کي پراته دي چي سترابو د دوی په نامه ښوولی دی. (دروپیکوی) هغه د سترابو (دیربیکوی) او د پلیني (دیربیکي) دی او یا هغه (دهربي) یا (دهربیکي راجپوت) دی چي شاعره یا سندرغاړې قبیله ده. دوی اوس د (دربکي) په څېر په افغانستان کي مونده کېږي چي نامعلومه غوندي خلک دي او لږ څه په سپکه سترګه ورته کتل کېږي. دوی د څو څو یو ځای سوو کورنیو د وړو ډلګیو په شان دلته هلته د جمشیدي او فېروزکوهي ایماق تر منځ په هغه ملک کي شاوخوا تیت او پرک مونده کېږي چي د هرات او میمنې په مابین کي واقع دي. د (سګرتوی) په باب زه په دې نه یم قادر سوی چي د دغه نامه یو

ځرک د افغانستان په کومه برخه کي ولتوم، پرته له دې چي په لوېديځ بلوچستان کي يوه غرنۍ علاقه په دغه نامه موجوديت لري. دغه يادي سوي قبيلې ټوله کوچياني دې. ژبه د دواړو ډلو پارسي ده.

د (ميدي) غټي قبيلې د هيرودوت له ځرګندوني سره سم د (بوساي)، (پاراتاکينوي)، (ستروکهاتاي)، (اريزانتوي)، (بوديوي) او (ماګوي) په نامه دي. له دغو قبيلو څخه يوه لا هم په دغو نومو په افغانستان کي نه سي پيدا کېداى. (پاراتاکينوي) ښايي چي د اوسني (کوهستاني) سره يو شى وي چي معنا ئې غروال کېږي. (ماګوي) يا پارسي (ماغ) اوس (ګبر) بولي او په دې نامه باندي د ځينو غټو قبيلو د وړ ځانګو په توګه د افغانستان په څو متعددو ځايونو کي مونده کېږي. په سوات او د پېښور شمال ته د اباسين په ګاونډيو تپو کي دوى يوه ځرګنده قبيله تشکيلوي چي (ګبرى) يا (ګاوړي) ئې بولي او د (ګبريال) په نامه يوه وړه ناحيه ئې اشغال کړې ده چي د (باراندى) تر ناوې پورته د اباسين پر لوېديځه غاړه پرته ده. پخوا دوى په دغو برخو کي يوه مهمه قبيله وه او د سوات د امپراتور بابر تر زمانې يعني د پنځلسمي پېړۍ تر منځنيو وختو پوري لا (ګبرى) يا (سواتي ګبرى) نومېدى. دوى د اور نمانځنه کوله او ښکاري چي په يوه پخواني وخت کي هغه مهال دى برخو ته راغلي وي چي د (پارتيانو) يا (ارسکي) حکومت چلېدى. دوى اوس په نامه يا په خوله مسلمانان دي. د (ګبر) يا (ګاور) نوم د لوېديځي سيمي د مسلمانانو تر منځ د ترټني دپاره د يوې توهيني کلمې په څېر استعمالېږي او د دوى له استعماله سره سم مسيحيان او نور کافران چي پر اسلام باندي عقيده نه لري د (ګياور) په نامه پېژندل کېږي.

د قيروس د امپراتورۍ نور قومونه هيرودوت داسي ياد کړي دي: (ليدوى) چي پخوا (مويونوى) يا (ميونوى) بلل کېده، د (کرويسوس) په مملکت کي دننه اوسېږي او د پرشيا رعيت دي. بل قوم (فريګوى)

نومېږي. (میسوی) بیا هغه دی چي د (لیدوی) کالونیوال وه، (مارینه ینوی) چي دا نوم ئې د هغې سیمي له نامه څخه اخیستی و چي دوی اشغال کړي وه. نور بیا د (خاله بوی)، (پپ هلاګونوی) په نومو دي. (تراکوی) بیا هغه دی چي آسیا ته له ور تېرېدو سره د (تینوی) او (بیتینوی) په نامه وبلل سوه. (کاروی)، (آئونوی)، (دوروی)، (آیئولوی) او (پاپمپ هیلوی) هم له دې جملې څخه دي. دغه نومونه زیاتره د افغانستان د قبیلو تر منځ په زیاته اندازه تمثیلېږي په تېره بیا په سرسره د اباسین د پولي د شمالي برخي په هغه محل کي چي د یوناني هستوګني مرکز و او موږ د سکو او معماري آثارو له مخي او همدارنګه د تاریخي اسنادو په شهادت په دې پوهېږو چي تر میلاد دمخه له ۳۳۰ څخه تر ۱۲٦ پوري د یونانیانو د باختري واکمنۍ په دوران کي او یا حتی تر هغه وخت لا هم ډېر را وروسته په دغه محل کي یوناني وګړي اوسېدله. په دې کي شک نسته چي د لوی سکندر اردو ته خورا زیات شمېر نفري د کوچنۍ آسیا له قبیلو څخه راجلب سوي وه. دوی نه یوازي د عسکرو په څېر وه بلکي د دوی په جمله کي د کمپ سره مله کسان، نوکران، ښیان خرڅوونکي او داسي نور هم شامل وه. سکندر ښایي له همدغي منبع څخه په استفاده خپل هستوګنځایونه چي د سترابو په حواله ئې بیان دمخه راغی، په هغو ملکونو کي جوړول چي د آریانا والو څخه ئې لاندي کوله. خو په دې پسې وروسته نو بیا سوداګران، معامله داران او کالونیوال په هر ډول چي کېده په ډلو ډلو هغو یوناني مملکتونو او امارتونو ته راتله چي د بډای او زرخېزه هند پر پولو باندي پراته وه. ځکه هند د داریوش د ټولو شلو سترایپانو په جمله کي هغه یوازنی هیواد و چي ده ته ئې د مالیې په حساب کي طلا ورکوله او د شتمنۍ له پلوه تر نورو ټولو ځایو خورا بډای ګڼل کېدی.

خبره چي هر راز وي خو د سکندر د اردو په ټولګیو او کمپونو کي او هم د آریانا پر سیمه په ده پسي د سمدستي اخلافو په قواوو کي ارومرو یو

زيات شمېر سوچه يوناني او مقدوني قبيلو سربېره هغه بېلابېلي (ليدياني) قبيلې هم راشاملي وې چي په وخت ئې د لښکرو د تقويې دپاره له ځانه سره اخيستې. د هغو نوو قبيلو په جمله کي چي سکندر او د ده نژدې اخلافو آريانا ته راوستلي ضرور د (اکهائوی) يا (اچاينان)، (بويوی) يا (بوی اوتيان)، (پايئونوی) يا (پايئونيان) او نور (پائوي) يا د (پانونيا) قبيلې لکه (نوريکوی)، (پايويلای)، (دوبيروی) او نور (پانگائوی) يا (پانگائيان) په نومونو قبيلې شاملي وې.

د دغو مقدوني او يوناني قبيلو نومونه ځکه زه يادوم چي موږ همدا نن ورځ د اباسين پر پوله د غزني ملک په يوه لويه تړانگه کي چي د لرغوني باکتريانا يوه برخه جوړوي له يوه سره تر بله سره په اصطلاح، د افغانانو يو زيات شمېر قبيلې او خېلونه وينو چي کټ مټ هم هغه راز نومونه ئې دي. که د نومونو پاسنی فهرست چي د هيرودوت له خوا سرښته سوی دي تر کتني لاندې راولو نو وينو چي (ليدوی) په افغانستان کي په (لُدي) يا (لودي) سره تمثيلېږي. (مويونوی) په (مياني)، (ميسوی) په (موسا)، (تينوی) او (بيتينوی) په (تني) او بېټني)، (کاروي)، (آئونوي)، (دوروي) او (آيئولوی) په (کړو)، (يونس)، (دور) او (الي) يا (علي) سره تمثيلېږي چي د يو زيات شمېر افغاني قبيلو خېلونه او ځانگي تشکيلوي. خو له (پاپمپ هيلوی) څخه بيا (پرملی) يا (فرملی) نمايندگي کوي.

د افغانستان له لودي قبيلې سره (مياني) او (موسا) لکه څنگه چي به ئې وړاندي بيان هم راسي، تل تر تله خپلي نژدې اړيکي ساتلي دي. دغي قبيلې د هند د منځنيو پېړيو د تاريخ په ارتباط د يوولسمي پېړۍ په پيل کي د غزنوي محمود له زمانې څخه راهيسي د افغاني قبيلو په جمله کي ځانته زياته توجه را اړولې ده. ځکه په دغه زمانه کي ئې له وختي څخه لا د خپلو نظامي مهارتونو په نسبت د شهرت نوم گټلی و. محمود په لوی شمېر د عسکرو په توگه استقبال کړي وه او ده ته ئې خورا ډېر تکړه نظامي

مشران او کارنده ولایتي حاکمان برابر کړي وه. وايي چې په ۱۰۲۴م کال کي د سومنات د نیولو کارنامه د (لودي) ټولګۍ د زړه ورتوب نتیجه وه او په دغه جګړه کي د دوی د خدمتونو د منني په خاطر محمود د دوی ځینو غټانو ته په هندوستان کي مهمي قوماندانۍ وروسپارلې. هغه مهرباني چې د غزنوي کورنۍ په واکمني کي دوی ځني برخورداره کېده د غوریانو تر ورپسې حاکمیت لاندي یعني دوې پېړۍ وروسته ئې لا هم د ځان دپاره وساتله. دا هم د خپلو قومیانو د ټولګۍ سره مل یو لودي خان و، چې په ۱۱۹۳م کال کي ئې د ډهلي مقابل د شهاب الدین د سوقیاتو مخکښي قواوي رهنمایي کولې او د همدې وخت د جنګي عملیاتو په نتیجه کي د (رای پیتهورا) یا (پیرتویراجا) په نامه د هندوستان راجپوتي واکدار ماته وخوړه او ووژل سو او د هند امپراتوري مسلمانانو ته ورانتقال سوه. افغانان وايي چې په دغه مناسبت د غزني د غوري کورنۍ د دوهم سلطان یعني شهاب الدین له خوا لودي خان ملک محمود د امیر درجې ته جګ سو او ډېر زیات جایدادونه هم په خپله ده ته او هم ئې ملګرو خانانو ته وروبخښل سوه. له دې وخته راهیسي نو د لودي ولس ښې او ښادۍ پرله پسې زیاتېدې او دوی په پنجاب کي پیاوړي کېدله. د شهاب الدین بري د افغانستان او هند تر منځ د آزادو مواصلاتو لار خلاصه کړه. له زیاتو بېلابېلو قبیلو څخه غټ شمېر افغانان په ډلو ډلو د نظامي اجیرانو په څېر دې هیواد ته رابهېدله. دوې پېړۍ وروسته بیا کله چې میر (تېمور) یا (تېمورلنګ) په هندوستان باندي راغی او په ۱۳۹۸م کال کي ئې ډهلي ونیوی نو د لودي ملک حیدر په مشرۍ د افغانانو یوه غښتلې قطعه ورسره وه چې د سلیمان له لړۍ څخه جلواني، سرواني او نیازي خانان هم د هغه مله وه. ملک حیدر چې دمخه د ملتان حاکم و، اوس د خپلو خدمتونو په بدل کي چې پر دې موقع ئې سر ته ورسول، د ډهلي حکومت ته وټاکل سو او د ده تر واکدارۍ لاندي لودیان له ملتان څخه نیولې تر سرهنده پوري

تقریباً د ټوله پنجاب باداران سوه. په ۱۴۵۰م کال کې بهلول لودي د ډهلي پر تخت کښېناست او د افغاني یا پښتني واکمنو شاهي کورنۍ ئې په هندوستان کې تأسیس کړه. د ده په واکمنۍ کې افغانان په زیات شمېر هندوستان ته رامات سوه. غونډو قبیلو خېل ملک پرېښووی او د کالونیوالو په څېر ئې د هند په بېلابېلو برخو کې واړول. په تېره بیا ډېری ئې د مرکزي هند په راجپوتي ایالتونو (راجوارا)، (برار) او (دکن حیدرآباد) یا جنوبي هندوستان کې مېشته سول. د هغو قبیلو په جمله کې چې په دغه صورت له افغانستانه څخه راوتلي د (لودي)، (پاني)، (ناغر)، (بېټني)، (ماکو) او داسي نوري قبیلې شاملې وې. په دې حالت کې نو هري مشهوري قبیلې د خپلو قومیانو غټې یا وړې ټولګۍ چې څرنګه کېدای سوه، دې لوري ته راالېږلې چې د خپلو هیوادوالو سره یو ځای سي او د هندوستان په پراخه ورشو کې نوي کورونه ولټوي او نوی ټاټوبی بنا کړي. دغه مهاجرین د کوچنوټو وړو ټولګیو په څېر د عمومي اهالیو په منځ کې بېخي پاشل کېږي. خو په ځینو برخو کې بیا لکه په (شیخاوات)، (برار)، (کراولي)، (حیدرآباد) او داسي نورو ځایونو کې خپلي زیات شمېر او څرګندي کالونیاني جوړوي. په دې ډېرو تازه وختونو یعني صرف د تېري پېړۍ په کلونو کې یو ځل بیا د افغانانو یو بل غټ مهاجرت د افغانستان د (روه) له سیمي څخه د هندوستان مځکي ته په سر ورسېدی. د دې مهاجرت په ناقلینو باندي یو بسته ولایت ډک سو چې (روهیله) یا د (روه) د بومیانو د خپل قومي نامه په اقتفاء ئې هغه ولایت (روهیلکهنډ) نومېږي. دلته زه د رواني موضوع په باب خورا ډېر تفصیل ته جوغېدلی یم ځکه ښکاري چې دغه مثال به هغه جریانات موږ ته ترسیم کړي چې ښایي د لرغوني پرشیائي امپراتورۍ خاوري ته د اهالیو د رالېږدېدونو په وضعه کې تر هغه وروسته پېښ سوی وي چې د یونانیانو له خوا څخه رانسکوره سوه. دا دوې قضیې (یعني پرشیایي امپراتورۍ ته د یونانیانو او هندوستان ته د افغانانو

رالېږدېده – مترجم) داسي ايسي چي په زياترو ټکو کي يو د بل سره خوله په خوله ځي خو موږ د دې دپاره وخت نه لرو چي همدا اوس نور زيات پر دې موضوع باندي وږغېږو. يوازي دې ټکي ته پام راګرزوو چي په پرشيا کي پېړۍ پېړۍ پخوا تر هغه چي مقدونيان ئې ونيسي، يونانيان د سوداګرانو، خطاطانو، طبيبانو او داسي نورو په شان هلته خپاره وه او د پاچهانو له خوا څخه د اجيرو پوځيانو په څېر خورا زيات استخدامېدله. په هند کي بيا پېړۍ پېړۍ پخوا تر دې چي لودي د پنځلسم قرن په منځنيو برخو کي واکمني لاس ته راوړي، افغانان د اجيرو سرتېرو، شخصي ساتندويانو، ناحيوي حاکمانو او داسي نورو په څېر استخدامېدله او د کارواني سوداګرانو په توګه ئې د هغه هيواد هري خوا ته سفرونه کوله.

لودي له افغانستان څخه يومخيزه ورک سوي دي خو (مياني) چي د دې قبيلې يوه څانګه ده او خپل لومړنی نوم ئې د ځان دپاره ساتلی دی تر اوسه لا په هيواد کي د هغو کارواني سوداګرانو د ډلو په ټولۍ کي چي د (پوونده وو) په يو بل نامه بلل سوي دي د يوې ډلي په څېر مونده کېږي. د (مياني) وړې پښې يا څانګي لکه څنګه چي په افغاني شجرو کي ښوول سوي دي په لاندي ډول دي:

مياني څانګي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| غوراني | ملاهي | سيلاج | جات | اسوت |
| لاتاه | مشاني | توغ | سامرا | سور |
| کېکی | سرغی | رهواني | لوهاني | شکور |
| زورا | اهير | زمری | ختران | اوغرشين |
| ياخاچين | ياکاچين | | | |

تقريباً دغه ټوله نومونه چي د هغو له جملې څخه حتی په خپله د خېل نوم ئې يعني (مياني) يا (ميانه) هم نه سي ځني وتلای د راجپوت د خېلونو او څانګو تر منځ پيدا کېږي. خو څرنګه چي راجپوت اوس خورا زياتي

وړې څانګې پیدا کړي دي نو ځکه د هغو نومونه د دې توکم په پخوانیو شجرو کې نه ښکاري. د همدې څانګو یادونه د (تاد) په هغه اثر کې راغلې ده چې د (راجستان پېښه لیک) نومېږي. دی وايي: داسي ښکاري چې دوی یو وخت او بل وخت نوري ډېري قبیلې چې ښايي په ریښه کې به ئې قومي رګی ورسره درلودی او په لرغونو زمانو کې یعني د سکندر له خوا د آریانا تر نیولو وروسته له دوی سره په تماس کې راتلی، په خپلو قبیلو کې منلي او راګډې کړي دي. ما د دې پلټنې په ارتباط د راجپوتي قبیلو او د هغو د وړو څانګو یو مرتب فهرست د مراجعې دپاره سرښته کړی دي چې د دې لیکنې په پای کې به راسي. دا فهرست به د دې کار دپاره یو لارښود سي چې آریانا ته د ختیځ له خوا راغلې قبیلې له هغو قبیلو څخه وپېژندل سي چې د لوېدیځ او شمال له لوري دې ملک ته رانوزي او هم دا دواړه ډوله بیا له هغو قبیلو څخه وپېژندل سي چې د مقدوني د بري تر زمانې وړاندي او هم د هغه تر وخته پوري په دې ملک کې اوسي.

د کوچنۍ آسیا یعني د کریسوس د وړاندي یاد سوي مملکت، د نورو قومونو په ټل کې د (تینوی) او (بیتینوی) په نومو دوه قومونه موجود دي. دوی په افغانستان کې د سلیمان د لړۍ د نورو پښتني قبیلو د هغو څانګو له خوا تمثیلېږي چې د (تني) یا (توني) په نامه دي او همدا رنګه ئې هغه (بېټني) تمثیلوي چې دې قبیلې تل تر تله له لودي سره خپل پیوند ساتلی دی. د افغاني روایت له بیانه سره سم لودي قبیله د (شیخ بیټ) یا (بېټ) د یوې لور له اولادې څخه راپیدا سوې ده، چې هغه نوی اسلام ته اوښتی و او (بېټني) د هغې قبیلې مشر و، چې د غور په غرونو کې ئې استوګنه کوله.

د دغه روایت لنډ بیان داسي دی: د (ولید) د خلافت په دوره کې د خلیفه (مروان) لمسی حجاج بن یوسف د یوه لښکر په مشرۍ د خراسان او غورستان د نیولو دپاره راولېږل سو. د دې هجوم والو له رانژدې کېدو سره په هغه ملک کې یو انقلاب جوړ سو او د هغه ملک د شاهزادګانو لاس

له واکداری څخه وختی او فراره سوه. د دې شاهزادګانو له جملې څخه یو شاهزاده چې شاه حسین نومېده د (شیخ بېټ) په تومن یا کمپ کې ئې پناه وموندله. شیخ د هغې بېټنی قبیلې مشر و چې په دغه ګاونډیوتوب کې اوسېدله. شاه حسین د خپل کوربه پر لور باندې مین سو چې (متو) نومېده او د دې پټ ئې غلا کړ. "راتلونکو واقعاتو چې تر مخ لا خپلې ناوړې اغېزې ښندلې وې نو له خښمه ډک د نجلۍ پلار و مور د رسوایی د پټولو او د کورنۍ د ښه نامه د ساتلو په منظور داسې پرېکړه وکړه چې دغه بدکاره جوړه یو د بله سره واده کړي. خو له دې سره بیا هم د افغاني نامه د درنښت په خاطر لازمه وه چې د خپل ټاکلي زوم د مقام او خانداني اصلیت په باره کې ډاډه سي. شاه حسین د خپل نسب په باره کې وروستني معلومات دوی ته وړاندې کړه: کله چې فریدون په (آسوریایي) ضحاک باندې بری وموندی او د (دماوند) د غره په کوهې کې ئې په ښبو وځړاوه نو د اسیر کورنۍ له خپله ټاټوبي څخه اسطخر ته وتښتېده چې د (فارس) پایتخت دی. دوی د غور د غرونو په مورچلونو کې پناه واخیسته او هلته ئې له خپلو تابعانو او پلویانو سره ځانونه ټیک کړه. پخوا تر دې د غور په غرونو کې څوک نه اوسېده، که څه هم د هغه د حوزې پر پولو باندې ګوټ ګوټ د بني اسرائیلو، افغانانو او نورو کورنیاني یو ځای او بل ځای پاشلې پرتې وې. د شاه حسین د کورنۍ نسبي لیکي له دغو ضحاکي پناهندګانو سره اړه درلوده. کله چې حجاج غور ونیوی نو د هغه شاهزاده کمال الدین محمود ئې چې د جلال الدین حسن زوی و په بغداد کې د خلیفه ولید دربار ته واستاوه. په همدې وخت کې د شاه حسین پلار چې شاه معزالدین نومېدی د مکې زیارت ته رهي سو او زلمی زوی شاه حسین ئې دې ته اړ سو چې خپله د بېټني شیخ بېټ تر ګاونډې کمپه پوري ځان ورسوي.

دغه قصه، ښایي زه دلته په خبره کې راولوېږم داسې ښکاري د هغه حسین بن سام بن سوري د تاریخ پر یوه ناځرګنده او مبهمه خاطره باندې

رابنا سوې ده، چې د غوریانو شاهي کورنۍ ئې تأسیس کړه او هم دې کورنۍ تر هغې وروسته پر غزني حکومت کاوه چې دمخه هلته د ترکي (سبکتګین) له خوا تأسیس سوی او غزنوي سلطان محمود د هغې خورا مشهوره او هند لوټوونکی شاهزاده و. دغه حسین، ویل کېږي، چې هند ته په سوداګري تللی و خو له دې سفره څخه د راستنېدو په لاره کې تر هغه وروسته چې د کښتۍ د ماتېدو او بندي کېدو په شمول ئې راز راز سختۍ او بدبختۍ ولیدلې، بالاخره د غلو د یوه باند په لاس کښېوتی او د هم دې غلو په ډله کې د هغه سلطان ابراهیم د پوځیانو له خوا ونیول سو چې له ۱۰۵۸م کال څخه ئې تر ۱۰۹۸م کال پوري په غزني کې حکومت کاوه، د غلو ګرده باند پای تخت ته راوستل سو او د مرګ حکم ورباندې صادر سو. خو کله چې حسین د خپلو سختیو بیانونه کول نو د سلطان حضور ته راوستل سو. سلطان چې د ده کورنۍ وپېژندله او د ژوند په نورو حالاتو ئې خبر سو نو ئې نه یوازې له بنده څخه خوشي کړ بلکې مهرباني ئې ورسره وکړه او په دربار کې ئې یو مقام ده ته وسپاره. له همدې ځایه نو ورو ورو په دولت کې خورا جګو مقامونو ته ورسېدی. د ابراهیم زوی او خلف (یعني دریم مسعود و) حسین د خپل حاکم په څېر د غور د ټوله ولایت دپاره وټاکه چې هغه د ده اصلي وطن و او هلته د ده نیکه ګانو پخوا حکومت کاوه. (له خاندیمر څخه د ډ. هربیلوټ اخیستنه).

دغه دواړي قصې چې سره را یوځای سي نو افغاني روایت ئې ښکاري د دې خبري نښه وي چې (بېټنی) د لومړي ځل دپاره په افغانستان کې له (لودي) سره په تماس کې راغلي ځکه لودي ښایي د لوېدیځ له لوري راغلی وي. ویل کېږي چې په افغانستان کې د (بېټني) وګړو پخوانی ټاټوبی په هغو غونډیو کې واقع و، چې د کابل د لوګر ناوه ئې د غزني د (زرمت) له ناحیې څخه رابېلوله خو د لودي وګړو ټاټوبی بیا په افغانستان کې د کندهار پر سیمه موقعیت درلودی. په هر صورت اوس بیرته د شاه

حسین او هم د هغو قبیلو په باب چي د شیخ بېټ له لور متو څخه راپیدا سوي دي، افغاني بیان ته ادامه ورکوو. د دې دپاره چي د شاه حسین د خانداني اصلیت په باره کي د ده د څرګندونو رشتیاوالی معلوم سي نو شیخ بېټ خپل مزدور چي (کاغ) نومېدی او د (دور) (دود یا ډوم) له کاست (فرقې) څخه و په غور کي ئې د شاه حسین ملګرو ته ورولېږه. دغه اېلچي له تائیدي شواهدو سره راستون سو اما د بیان له کولو څخه ئې تر هغو پوري ډډه کوله څو چي هغه شاهزاده دا منلې نه وي چي د ده له لور (ماهي) سره به هم ازدواج کوي. دا شرط البته یوه داسي خبره وه چي حسین په آساني سره ومنله. د دې مسائلو له حله سره نو شاه حسین سمدستي له (متو) سره واده وکړ او لږ وخت نه و تېر سوی چي ده ته ئې زوی وروزېږاوه. د متو پلار و مور د هغو حالاتو په نسبت چي د دې هلک د زوکړي سره ئې اړه درلوده پر ده باندي د غلزوی (یعني د غله د زوی) نوم کښېښووی. له دغه غلزوی څخه د غلزي قبیله راپیدا سوه. بي بي متو یو دوهم زوی وزېږاوه (خو دا نه ده معلومه چي د چا له خوا) او پر هغه باندي د ابراهیم نوم کښېښوول سو. ابراهیم ته د بې ساري پوهي او لوړو قابلیتونو په نسبت د لوی (ستر) لقب ورکول سو. د زماني په جریان کي دغه د (لوی) کلمه په (لودي) یا (لدي) باندي واوښته او د هغو قبیلو دپاره د قومي نامه په څېر ومنل سوه چي نسبي لړی ئې له ده سره اړه لري. د شاه حسین له هغي بلي ماینې څخه چي بي بي ماهي نومېده یو زوی وسو، چي (سرواني) نومېدی او د ده له نسبه هغه قبیله راپیدا سوه چي په همدغه نامه باندي یادېږي. د زماني په دوران کي د بي بي متو د بچیانو اولاده په شمېر خورا زیاته سوه او څرنګه چي شاه حسین افغان نه و نو ځکه دوی په مجموعي توګه د (متي) په نامه یادېدله. دا د وطني روایت بیان دی.

خو زه دلته دا خبره یادولای سم چي (متي) د یوې غټي او مهمي پرشیایي قبیلې نوم دی او دا قبیله په لرغوني وخت کي د اوسني (همدان)

ACKU

او (نیشاپور) تر منځ په شمالي پرشیا کي اوسېده چي سترابو (xi. ۸) د (ماتیانوی) په نامه یاده کړې ده. پلیني همدا رنګه له (سارنګای) او نورو سره یو ځای د (ماتیاني) نوم اخلي (Nat, Hist, vi. ۱۸) چي د اوسني هلمند په لوېدیځ او د غور د ملک په جنوب کي ئې موقعیت درلودی. په افغانستان کي د (متي) پخوانی مرکز ویل کېږي چي د ارغنداب په ناوه کي د (ماتیستان) علاقه وه. د (بي بي ماهي) اولادونه د (متي) له هغې سره په یوه کړی کي شاملېږي.

تر (متو) لور ئې علاوه چي پاس ئې یادونه وسوه، شیخ بېټ بېټني نور درې زامن هم درلوده چي د (واراشپون) یا (اشپون)، (اسماعیل) او (خاجین)، (کاچین) یا (غرشین) په نامه وه. هغه قبیلې چي له هره یوه څخه پیدا سوي دي د هغه په نامه دي خو ټولي غونډي په یو ځایي توګه (بېټني) بلل کېږي او تر دغه قومي نامه لاندي (متي) یا د بي بي متو نسبي اولاده همدارنګه راشاملېږي. پلیني (vi. ۱۸) (بېټنی) له (سراپرائي) (چي په دې نامه یوه قبیله به موږ ته ژر تر ژره په بلوچستان کي په مخه راسي) او (بکتري) سره یو ځای په یوه داسي موقعیت کي ښیي چي ظاهراً له هغه ځایه څخه ډېر لیري نه ښکاري چي د وړاندي تېر سوي بیان سره سم په افغانستان کي د (بېټني) پخوانی ټاټوبی بلل سوی دی. په دغو قبیلو کي د بېلابېلو توکمونو مخلوط چي کتل کېږي نو خورا جالب ایسي او د دوی د ترکیب په باره کي څېړنه د زړ کړي له پلوه بې ګټي نه ګڼله کېږي.

د افغاني شجرو په حساب (بېټني) قبیله په خپل ترکیب کي د (واراشپون)، (اسمائیل)، (خاجین) او (متي) څلور غټ خېلونه کښېباسي. راسئ دا وګورو چي دوی څرنګه له څو (خېلونو) او (زیو) څخه جوړېږي. د (خېل) او (زي) کلمات د افغانستان د هغو خېلونو او ځانګو خاصو نومونو ته او هم زیاترو قبیلو ته وراضافه کېږي چي ژبه ئې پښتو ده. دغه کلمات د هغو قبیلو له نومو سره نه لیده کېږي چي پارسي وایي او نه

هم د هغو قبیلو سره چې په بلوچستان او د اردستان کې اوسي. د (خېل) کلمه عموماً داسې ګومان کېږي چې یوه عربي کلمه ده او (د آسانو سپاره لښکر، ټولی، جمعیت او داسې نور) افاده کوي. خو ډېره سمه توجیه دا ده چې دا په اصل کې د سانسکریت یا هندي ژبې د (کولا[1]) کلمه ده چې د قبیلې، توکم او کورنۍ معنا ورکوي، خو په عربي شکل باندې مسخه سوې ده. د (زای) توری چې جمع ئې (زي) راځي ویل کېږي چې د (زادن) (زېږوني) له پارسي کلمې څخه راوتلي دي او په معنا کې (بچیان، اولادونه، زېږولي) او داسې نور افاده کوي. دا توری همدا شان د کومي (ډلي، جناح) او داسې نورو د افادې دپاره چې خېل تر منځ ګډو علاقه منديو سره یو ځای کېږي وي هم تر استعمالېدو لاندې راځي. خو ټیک خبره دا ده چې (زی) د سانسکریت د ژبې د (si) له لاحقې څخه نمایندګي کوي چې د اضافت دپاره په کار اچول کېږي. د خېل او زي دغه کلمات چې د افغاني قبیلو نومو ته ورلوېږي د استعمال په برخه کې ئې کوم توپیر زمانه دی په سترګه سوی. ښکاري چې دوی بې له کومه توپیره په کار اچول کېږي او زیاتره دواړه کلمې د یوې قبیلې نامه ته ورلوېږي، لکه الي خېل، الي – زي، موسا – خېل، موسازي او داسې نور. ما دغه شاوندي لاحقې د لنډیز په وجه د افغاني خېلونو او ځانګو له نومونو څخه غورځولي دي.

د (واراشپون) یا (اشپون) په جوړښت کې دا لاندې ځانګې شاملې دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ابوالفرح | اوکری | بای | بهمن* | بالمیر* |
| باند* | برشوری | چاکی* | چالاک* | چانی* |
| چلپی | دامر* | دربی | درګی | درګانی |

---

(۱) Kula

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| دوره* | دوتانی | دری پلاره | فتاح | غران* |
| غوري* | ګوربوزی | همدانی | حسن | هیران* |
| ابراهیم | اسماعیل | جاکی* | خاکی | خودو |
| کودی* | لالی* | لشکری | مغزی* | ملا* |
| نسو | نیازی | پائی* | رامدیو* | سمر* |
| سیو* | شاه ملک | شخی | شمشیر | سیباتی* |
| سیکری* | تاجو | ترکلانی | تری* | اوزبک |
| یحیی* | یوسف* | زربنی | زمری* | |

په پورتنیو نومو کې هغه چې د ستوري (*[1]) په نښه ټاکلي دي ټوله په څرګنده توګه په نامه کې راجپوت او هندي دي. بهمن او بالمیر چې د (بامن) او (بالمي) سره سمون خوري د سوداګر پېشه راجپوت له ځېلونو څخه دي. باند له (بهاند) سره برابرېږي چې په هندوانو کې د سندرغاړو یو خېل دی. چاکی او چالاکی دواړه یو راز ښکاري او د (اګنیوالا راجپوت) د (چالوک) یا (سولانکي) څخه نمایندګي کوي. دامر هغه د (راجا تارینګیني) (دامرا) دی او ښایي چې د (رهتور) له ټولی څخه یو خېل دی. دوره یا دور هغه راجپوت دی چې (دوده) نومېږي. غران او غوري یو شان ایسي او د راجپوت د (غور) له ښاخه څخه نمایندګي کوي. هیران هغه (ایرانا) ده چې د سوداګرپېشه راجپوت د (اګار) د قبیلې یوه څانګه تشکیلوي. ابراهیم او اسماعیل ښایي هغه اسلامي نومونه دي چې د (برهمن) او (سیمالا) د هندي نومونو پر ځای استعمال ته لوېدلي دي.

---

(۱) هغه نومونه چې لیکونکي د ستوري په علامه نښاني کړي دي، تر فهرست لاندې په خپله تشریح کې ئې له ځینو راجپوتي نومو سره لګولي دي، لاکن له دې جملې څخه په لاندې بیان کې یو څه ځني پاته سوي دي. زه نه پوهېږم چې آیا دغه برخه به په غلطۍ کې په نښه سوې وي او که به ئې لیکونکی په دې ډاډه وي چې دوی روښانه دي او تشریح ته اړتیا نه لري (مترجم).

(سيمالا) د راجپوت له جملې څخه يو زيات مشهور خېل دی. جاکی داسي ښکاري چي د (جاکهر) په نامه هندو (جات) وي. مغزی او پائی د (گهلوت) راجپوت له هغو خېلونو سره سر خوري چي د (مگراساه) او (پاهه) په نامه دي. سمر او سيباتی د راجپوت مربوط (سومره) او (سيپات) گڼل کېږي. سيکری د راجپوت له جملې څخه (سيکروال) يا (سيکار) دی. تری د شمالي هند د يوې برهمني قبيلې نوم دی. يحيی د (جوهيا) راجپوت اسلامي شکل دی، لکه څنگه چي يوسف د هغه (اساپ) ځای نيولی دی چي بومي شکل ئې د لرغونو يوناني ليکوالو له خوا د (اسپاسيوی) او (اسپيوی) په بڼه ذکر سوی دی. زمری د هندو د (ميساري) يو تبديل سوی شکل دی.

اسماعيل لکه وړاندي چي څرگنده سوه ښايي د راجپوت مربوط (سيمالا) وي او يا خو د هغه اسماعيل پيروان وي چي (د اروپائيانو په خوله د حشيشيانو[1]) په نامه فرقه ئې جوړه کړه. ويل کېږي چي اسماعيل له بېټني قبيلې ځان راوشکاوه او له سرواني قبيلې سره يو ځای سو. د سرواني قبيلې مرکزي ټاټوبی د سليمان په غره کي و چي ښايي دا به د بلوچستان په کلات کي د همدې اوسني سروان علاقه وه. له ده څخه مذهبي زاهد جوړ سو او د شيخ ابراهيم سرواني لقب ئې واخيستی. وايي د ده زيارت د تخت سليمان په هغه محل کي واقع دی چي (خواجه خدر) نومېږي. کله چي دی مړ سو نو تر شا ئې دوولس زامن او دوې لونې پاته سوې، خو افغاني

(۱) Assassins د اساسينز انگرېزي کلمه د عربي له حشيشين څخه راپيدا سوې ده، چي معنا ئې د جمع په شکل (چرسيان) کېږي. اوس په انگريزي کي دغه کلمه د لفظ له مخې په (وژونکو) يا (قاتلانو) سره ترجمه کېږي خو په تاريخي لحاظ د اروپائيانوله خوا څخه پر هغې پټې متعصبې اسلامي ډلې باندي اېښوول سوی دی چي وايي (چرسيان) وه او د صليبي جگړو په وخت کي ئې مسيحي مشران ترور کوله. ما د ترجمې په متن کي د (حشيشيان) په بڼه راوړی دی (مترجم)

شجرو نور نو د دوی په باره کي کوم بیان نه دی کړی.

خاجین، خاچین یا غرشین له دې لاندي څانګو څخه جوړېږي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ابو† | اجاری† | الی | باکل* | بالا* |
| باسی* | بازو | بېکی | بیبی* | بوبک* |
| قلندر† | چنګا† | دانا | دود* | فیروز |
| ګېسو | غاشه | حسنی | حسین | هود* |
| اساپ | جنجی† | جائول* | کاین* | ککا* |
| کنزی | کټه | خیدر* | مدی | ملی |
| ملک | ماسور* | مندن | موسا (موسی) | میان |
| نادیر | پائی* | پلا† | په ساکنی | پپه† |
| پیرا | رسول | راتن | سلمی* | سپن* |
| ښادی† | شاه ګل | شکر* | شان | سیانی* |
| تاج بېګ | تار* | ته تار* | توران | اودی* |
| اومر* | وړوکی | | | |

په پورتنیو نومونو کي چي د ستوري په نښه ټاکلي دي راجپوت او هندو خېلونه دي. باکل د (بهاګېل) سره سر خوري چي د (سولانکي) په ښاخ پوري مربوط سوداګر پېشه راجپوت دی. بالا چي زیاتره د (سلطانو) سره جوړه وي د هندو طائفه ده. لکه څنګه چي باسي په لومړي سر کي چوپړ وهونکی یا د زرعي بندګالو (سرف) خېل ګڼل کېدی چي په مځکه پوري تړلي مریان وه. بیبی او بوبک چي یو شانته ښکاري او د اګنیکوالا راجپوت مربوط د (پرامارا)، (پونوار) یا (پوآر) په قبیلو کي د (بهیبا) له څانګي څخه نمایندګي کوي. قلندر، چنګا او زیاتره هغه نور چي د صلیب (†) په نښه په پورتني لیست کي ټاکل سوي دي د (جات) خېلونه دي. جائول او خیدر د سوداګر راجپوت هغه څانګي تمثیلوي چي د (جائیل) او

ACKU

(کیهدار) په نامه دي. اومر د پراوارا راجپوت (اومره) دی او دا د اباسین په اوږدو کي د ټولو غټو افغاني قبیلو د خپرو ځانګو په جمله کي تر نورو ټولو زیاته خپره یوه ځانګه ګڼله کېږي. وړوکی یو جالب نوم دی. په پښتو کي کوچني ته وړوکی وایي او دا نوم لکه څنګه چي به وروسته خبري پر وسي د اباسین په اوږدو کي د دوو یا درو افغاني قبیلو د ځانګو تر منځ لیده کېږي دا چي دغه نوم دلته د هغه واراشپون یا اشپون او خاجین په ارتباط مخ ته راځي چي زموږ د پلټني په یوه وروستنی مرحله به دا وښودل سي چي د (داردستان) له (بوریشکي) او (خاجونا) سره سمون خوري نو له دې څخه دا نظریه راپیدا کېږي چي همدغه نوم په اصل کي (بوریشکي) دی البته د بېګانه وګړو په خوله کي صرف په یوه بل مسخه سوي شکل بدل سوی دی.

متي چي د وړاندي بیانه سره سم له بي بي متو څخه راپیدا سوې د شاه حسین اولاده ده د غلزي او لودي دوه غټې ښاخونه لري. غلزی یا غلجی او یا غلزوی درې لوی خېلونه لري چي (توران) یا (تولر) او (برهان) یا (پولر) نومېږي.

توران دوه خېلونه لري چي هوتک او توخي دي او غونډ دواړه یو ځای (بارو) نومېږي. بارو د شمالي هند یوه برهمنه قبیله ده.

هوتک یا هوتکي څلور ښاخه دي چي ملکیار، یوسف یا اساف، دولت او عرب ئې بولي.

ملکیار = "یعني د پاچا ملګری". دغه نوم د (مولاک) او (جوره) ځای نیسي چي په هغه کي دواړه هندي کرونده ګر خېلونه یو له بله سره یو ځای جوړه سوي دي. ملکیار د (حسین) او (ایبک) په نومونه دوه ښاخه لري.

د حسین ځانګي دا دي: ایشاک یا ساهک یا ساک، قطب، جلال الدین، اومر، مند، کورم او شاه عالم (ښالم – مترجم). له دغه وروستي

خېله سره میرویس او شاه محمود اړه درلوده چي د ډېري پېړۍ په لومړۍ برخه کي ئې پرشیا ونیوله، صفوي کورنۍ ئې ورانه کړه او د دوی تخت ئې ځني واخیستئ.

د ایبک یا هیبک څانګي دا دي: کټی، کادین، کادنی، خادی، اومر، بدین.

د یوسف یا اساپ څانګي دا دي: ملی، خیري، برات، ترنک، رانی، اومر. له دغي جملې څخه (ملي) د (مال) سره سمون لري چي سوداګر پېشه راجپوت دی. (خیري) د هغه (خیر) ځای نیسي چي د اګنیکولا راجپوت مربوط د (پرامارا) یا (پونوار) یا (پوآر) د قبیلې یوه څانګه ده. (راني) د اګنیکولا راجپوت د (چالوک) یا (سولانک) په قبیله کي (رانیکا) تمثیلوي. د برات بیان به بیا وروسته راسي. اومر وړاندي درته بیان سو. د ترنک څانګه د هغه رود په نامه ده چي ترنک نومېږي. په ځپله د ترنک د رود نوم ښایي د همدې سیمي د هغو پخوانیو اوسېدونکو یعني (ترین) یا (تري) د نامه په اقتفاء منځ ته راغلی وي چي د شمالي هند د برهمنیانو یوه څانګه ده.

د دولت = (حکومت) د خېل څانګي دا دي: الف، اساپ، ماروف، سادات، تولر، تون، اوتمان او نور. ماروف د هغي سیمي د نامه په اقتفاء منځ ته راغلی دی چي همدغسي یادېږي. تون یا تنی ښایي هغه تراکیاني (تینوی) تمثیلوي چي د سکندر په زمانه کي له خپله آسیایي ټاټوبي څخه چي په (بیتینیا) کي و دغو علاقو ته راکډه سوه. د اوتمان په باره کي به بیان وروسته راسي.

د عرب څانګي دا دي: اکا، الي، بابا، بامی، بای، ششروزی. اکا د یوې ناګائي قبیلې نوم دی. الي او بای دواړه یوناني نومونه دي چي د (ایولیان) او (بویتیان) په نامه یوناني کالونیوال تمثیلوي. بابا البته د هغه بهیبا ځای نیولی دی چي د راجپوت د (پوآر) په قبیله پوري اړه لري. بامی د شمالي

هند یو برهمني قبیله ده. ششروزی د (چچ روسیاه) یا د (چچیراه او روسیاه) له ترکیبي شکله سره سمون خوري چې دواړه د اګنیکولا راجپوت د چوهان د قبیلې خېلونه دي. وروستی ښاخ که څه هم د عرب په نامه دی خو د هغه په ترکیب کې داسې څوک هیڅ نسته چې عرب وبلل سي. ښایي دغه نوم به د هغه رود په شاوخوا کې د دوی ټاټوبي ته راجع وي چې یونانیانو (ارابیوس) بللی دی او اوس وخت په ختیځ بلوچستان کې د (پورالي) په نامه دی. دغه نومونه به زیاتره بیا هم موږ ته په مخه راسي او ډېر بیا دیوسفزو تر منځ چې د دې قبیلې یوه غټه کالوني په پنځمه پېړۍ کې د هلمند غاړو ته ولېږدېده. په دې باره کې به وروسته هغه وخت وړغېږو چې د یوسفزو بیان راورسېږي.

توخی څلور ښاخونه لري چې د مهمند، ایوب، حسن او نور په نامه یادېږي:

د مهمند څانګې دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| اکا | اشو | الیشیر | بابکر | باسي |
| بوران | هاني | ایراکي | خوایداد | ماکو |
| ماما | موسا | نازر | پیرو | پوپل |
| سید | شاکی | شمال | سوری | یونس |

د پورته نومو له جملې څخه (آشو) له (اچي) سره سمون خوري. په (راجاتارینګیني) کې راغلي دي چې اچي یوه لرغونې غښتلې هندۍ قبیله وه چې د خپل بغاوت او بربریت په وجه ئې ښه نوم نه و ایستلی. په افغانستان کې ډېره څرګنده ایسي چې د اچکزي قبیله ئې تمثیلوي. بوران له (بور) څخه نمایندګي کوي چې یو سوداګر پېشه راجپوت دی. هاني له (هانا) سره سر خوري چې د شمالي هند برهمني قبیله ده. خوایداد له (خداداد) او هغه بیا له (دیودوتس) سره برابرېږي چې ښایي یوناني اوسېدونکي تمثیلوي. ماکو د (مکواهانا) سره سر خوري او

مکواهانا یوه ډېره لرغونې هندۍ قبیله وه چې نه ئې د راجپوت او نه ئې د جاټ له نسبه سره اړه درلوده بلکې له جاټ سره یو ځای د راجپوت تر منځ د وصلي قبیلو په څېر ګڼل کېدله. ښایي دا د ساکا د سکیتیانو له جملې څخه یو خېل وبلل سي. ماما یا (مه ما) د شمالي هند یوه برهمنۍ قبیله ده. موسا همدا شان یوه زړه قبیله ده او په لرغونې زمانه کې ئې د اوسني وخت د لاندي دیره جاټ او پاسني سیند شاوخوا د اباسین په ناوه کې اوسېدنه کوله. آرریان وایي د دوی مشر د یونانیانو په ژبه (موسیکانوس) او د هندیانو په ژبه (موسی – کا) (یعني د موسا مشر) برهمنیانو دې ته وهڅاوه چې د سکندر په مقابل کې بغاوت وکړي خو د هغه ښوربښ ماته وخوړه او له ډېرو برهمنیانو سره یو ځای د خلکو د پانیات دپاره د مرګ په سخته سزا ورسېدی. موسا همدا اوس هر چیري د هند د پولي او د سلیمان د لړۍ په اوږدو کې د خېلونو او څانګو په څېر د زیاترو غټو افغاني قبیلو تر منځ دلته هلته مونده کېږي. پوپل ښایي لیدیانی (پایوپلای) تمثیلوي. یا خو دا کلیمه له (پیپارا) څخه نمایندګي کوي چې د راجپوت مربوط د ګاهلوت یا سیسودیا د قبیلې یو خېل ګڼل کېږي. شمال چې د (شاه مل) لنډکی شکل دی د هندو د (شري متي) د کلمې چې د سوداګر پېشه راجپوت یوه ډېره مشهوره قبیله ده اسلامي تعویضي کلمه معلومېږي. سوري د (کهتري) د خېل نوم دی. یونس د یوناني ژبي د (آئوس)، (آئونوس) او (آئونیان) ځای نیولی دی.

د ایوب څانګي دا دي:

| | | | |
|---|---|---|---|
| بهرام | بهلول | بابو | داوت |
| فیروز | هاوا | جلال | کتی |
| میران | موغل | نانی | سپن |

د دغو نومونو له جملې څخه بهلول ښایي د (بیهل) ځای نیولی وي چې په اګنیکولا راجپوت پوري مربوط هم د (پوآر) او هم د چالوک د قبیلو یو

خېل دی. بابو له بهیبا څخه نمایندګي کوي چي وړاندي ئې بیان تېر سو. کټی د یوې لرغوني قبیلې نوم دی چي په افغانستان کي ئې د غزني د کټواز پر علاقه باندي نوم ایښوول سوی دی. ښکاري دوی په سر سره د پنجاب د سیمي د (کاټهي) په نامه هغه کام وی چي نیکه ګانو ئې د سکندر سره مخالفت کاوه او تر هغه وروسته ئې بیا اولاده جنوبي لوري ته خپره سوه او خپل نوم ئې یوه پراخ ملک ته ورکړ چي په اوس کي (کاټیاواد) یا (کاټیاوار) یادېږي. میران په اصل کي د هندي بیدیا هغه (میر) یا (مېر) دی چي د هندي ذات بومي وګړي دي. نانی او سپن دواړه د راجپوت قبیلې دي چي (ناتواګ) او (سېنګر) تمثیلوي. نانی ښایي د (ناوناګا) ځای نیولی وي چي د جاټ یو خېل دی. فیروز، جلال او موغل د اسلامي دورې اوسني نومونه دي.

د حسن څانګي دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| آدم | بابر | بارک | ایسا | کالو |
| کاشاني | کرمان | محمد | پیرک | سیکاک |

له دغو نومونو څخه به آدم خېل یو ځل بیا په مخه راسي. بابر د (ګوجر) یو خېل دی. بارک به بیا هم مخ ته راسي. ایسا ښایي د مسیحیت له عقیدتمندانو څخه نمایندګي کوي چي د (جیسس) یا ایسا (عیسی) امتیان دي. کالو ښایي د راجپوت د ګاهلوت د قبیلې (کالم) وي. سیکاک یا (سایکاک) ښایي د (سیګل کهتري) قبیله تمثیلوي. پاته نور نومونه اسلامي دي.

د سوري د څانګي په باب چي د مهمند تر ښاخ لاندي د توخي خېل مربوط د غلزو د توران په پښه پوري اړه لري او له پورتنی یادوني سره سم د کهتري خېلونو له یوه خېله سره ئې نوم یو شی دی، زه غواړم دلته دا خبره زیاته کړم چي سوري د غور د هغي شاهي کورنی نسبي نوم و، چي د غزني تر شاهي کورنی وروسته چي د ترکي سبکتګین له خوا هلته د یوولسمي او

دوولسمي پېړيو په دوران کي ټينګه سوې وه، د غزني د پاچهۍ پر تخت کښېناسته. د سوري همدغه نوم د غور د (زوري) قبيلې په قومي نامه کي تر دې اوسه موجود دی. د پليني (Nat. Hist. vi ۱۸) په بيان کي راغلي دي چي (انتيوچوس) د (سيليوکوس) زوی په هغه ساحه کي د (الکساندريې) وران سوی ښار له نوي سره څخه د سوريې د يوه ښار پر نقشه بيا ودان کړ چي د (مارګوس) په سيند او بېدی او دا نوی ښار ئې (انتيوچوئيا) وباله. دغه بيان زما په ذهن کي دا فرضيه راوپاخوله چي د غور سوري په هم هغه محل کي چي په مارګوس (اوسنی مرغاب) اوبېږي ښايي د هغو سورياپانو اولاده وي چي (انتيوچوس) په خپل نوي ښار کي مېشته کړه. خو پوښتنه دا ده چي دغه سورياپان څوک وه؟ آيا دوی په دغه (سوري) نامه قبيله وه چي انتيوچوس له سوريې (سوريا) څخه راوستلې او دلته ئې د خپلي علاقې پر بنا د يوې کالونۍ په څېر مېشته کړې وه؟ او يا خو د سوري په نوم يوه هندۍ قبيله وه چي پخوا مېشته سوې وه لاکن د (سيليوکوس) له خوا (سندراکوس) ته د ملک د انتقال يا پرېښوولو په نتيجه کي چي له سترابو څخه د اقتباس په حواله ئې بيان دمخه تېر سو، پر دغه ځای باندي تازه اړولې وه. ډېر ګومان داسي کېږي چي ښايي وروستۍ فرضيه به ټيک وي. سوري په لرغونې زمانه کي يو خورا مشهوره ولس و او د (اپالودوتس) او (ميناندر) په وختو کي چي دوی دواړه له خورا غښتلو يوناني باختري پاچهانو وه، دغه ولس ښکاري چي (سوراشترا) او (سند) ئې ټوله ونيوی او هلته ئې خپلي کالونۍ جوړې کړې. همدا خبره ده چي لومړی هيواد د دوی په نامه (يعني سوراشترا) باندي ونومېدی. خو اوس موږ د دې دپاره وخت نه لرو چي دغه مسأله نوره هم پسي وڅېړو.

برهان، بوران يا پولر د اساپ او موسا په نامه دوه لوی ښاخونه لري. اساپ يا يوسف درې پښې لري چي د (سليمان)، (الي) او (اکا) په نومو

دي.

سلیمان چي البته اوښتی اسلامي نوم دی او د راجپوت مربوط د سولان، یا سولانکي، یا چالوک له ښاخو څخه نمایندګي کوي، څانګي ئې دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| عبدالرحیم | احمد | بابکر | بابري | بوچا |
| قلندر | چاني | دادر | دارګ | داسو |
| دولت | فقیر | ګلی | غني | ایسا |
| اساپ | اسماعیل | جبار | کبی | کارو |
| کهوچک | لندي | ماروف | مامو | مند |
| موغل | موسا | ناني | نوري | پوآرو |
| سادو | صالح | سرور | شیرپا | سوهو |
| سمامال | تغر | اوتمان | اوت | یحیی |

د دغو نومونو له جملې څخه بوچا ښايي د راجپوت له (باچک) څخه نمایندګي کوي. داسو، ګلی او فقیر له موروثي مریي، بنده او هغو طبقاتو څخه نمایندګي کوي چي محقر کارونه کوي. په دوی کي د سر دوه نومونه (داس او ګولا) هندوئي منشأ لري خو وروستی اسلامي ګڼل کېږي. کبی د راجپوت د پرامارا د قبیلې له (کابه) سره سر خوري. مند یوه لرغونې قبیله ده چي د اتریش د اوسني وخت له (وند) سره مطابقت لري او داسي ښکاري چي په یوه پخوانۍ زمانه کي ئې خورا زیات د هستوګني ځایونه په افغانستان کي جوړ کړي دي. د مند په نامه خېلونه او څانګي په زیاترو افغاني قبیلو کي لیده کېږي. نوري البته د راجپوت (نورکا) یا د تراکیانو (نوریکوی) ده. پوآرو د راجپوت د اګنیکولا پرامارا مربوط د پوآر، پومار یا پونوار سره یو راز ښکاري. سادو له (سیسودیا) څخه نمایندګي کوي چي د ګاهلوت راجپوت وروستی نوم دی. سرور راجپوت دی. سوهو هغه

سوداګر پېشه راجپوت دی چي (سوهر) نومېږي. سمامال د (سمرپهال) سره سمون لري چي د رمو او ګلو روزونکی یو هندی خېل دی. اوت او اوتمان سره یو شي دي او یو ځل به بیا په مخه راسي. یحیی هغه (جوهیا) دی چي په راجپوت اړه لري.

د الي څانګي دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ادم | الیشیر | آزاد | بنګی | باری |
| دریا | دوري | ګدا | غورکی | جانی |
| کمال | خیري | خیبري | کرد | مامو |
| مند | مشانی | نوروز | نیکنام | پیرو |
| سرمست | سلطان | اومر | | |

له دغو نومونو څخه یو شمېر دمخه یاد سوه. جانی د هغه (چاني) په څېر دی چي د سلیمان په څانګو کي ئې وړاندي نوم راغی او دوی هغه هندي (چانن) تمثیلوي چي ورهڼه ئې د رمو او ګلو روزنه ده. کمال یوه ترکی قبیله ده او یو ځل به بیا په مخه راسي. بنګی د جټ یوه غټه قبیله ده چي بیان به ئې همدارنګه وروسته راسي. ګدا د (ګدی) برابر دی چي د ګلو روزونکو یو هندی خېل دی. آدم او خیبري افرېدي خېلونه دي او له مشاني سره به یو ځای چي د سترابو (ماسیانوی) تمثیلوي په وروسته کي وڅېړل سي. نېکنام د هغه (نېکبختتام) سره یو شی دی چي بیان به ئې وروسته راسي او معنا ئې ذ (درناوي وړ) یا (بختور) کېږي. په دغه نامه وګړي د یوناني لیکوالو له هغه (اینورګیتس) (یعني خیر رسوونکي) څخه نماینده ګي کوي چي په لرغوني زمانه کي (اګریاسپای) نومېده او لکه (آرریان) چي وایي دغه نوم قیروس د قامبیسس زوی ورباندي کنښېښووی ځکه تر میلاد وړاندي د (۵۳۰) کال په شاوخوا کي ئې له هغه سره د سکیتیانو پر ضد په جګړه ئیزو عملیاتو کي مرسته وکړه. سکندر فقط دوې پېړۍ وروسته ولیده چي دغه (ایورګیتس) په هغه ملک کي اوسېده چي د اوسني

ACKU

کندهار او غزني تر منځ ئې د ترنک د رود د غاړو په شاوخوا او هم د هغو غونډیو کي موقعیت درلودی چي د ارغنداب له ناوې څخه ئې رابېلاوه. د ترنک پر سیمه د (سراسپ) موجودي کنډوالې داسي فکر کېږي چي د هغه لرغوني (اګریاسپای) د غټ مرکزي ښار د ساحې ښبه وي چي (تاد) ئې (د راجستان په پېښه لیک) کي د (سروریا) په څېر پېژني چي د راجپوت له قبیلو څخه ده. نن ورځ په سر سره په همدغه محل کي نیکبي خېل مونده کېږي چي نوم ئې د (نیکبخت خېل) یو لنډیز دی. لاکن په خپله اصلي قبیله اوس زیاته پاشلې ده او ددې نامه څانګي د اباسین پر پوله د یو شمېر افغاني قبیلو په خېلونو کي لیده کېږي. د سوات په ناوه کي نېکبي خېل د پام وړ یوه مېنه لري او هلته له یوسفزو سره یو ځای هغه مهال راغلي دي چي په پنځلسمه پېړۍ کي د یوسفزو قبیله له کندهاره څخه راوکوچېده او د اباسین په حوزه کي خپل لرغوني ملک ته بیرته راستنه سوه. د دغه راکوچېدو نکل به د دې پلټني په یوه وروستۍ برخه کي وړاندي سي. د (الي) قومي نوم چي د (اساپ) تر ښاخ لاندي د غلزو د برهان له پښې سره اړه لري په اصل کي یوناني نوم دی چي د لرغوني (ایولیاني) ناقلینو څخه نمایندګي کوي. همدغه توجیه ښایي کټ مټ د ورپسې څانګي یعني (اکا) په مورد کي چي د اساپ برهان غلزي یوه پښه ده او ممکن له (اکایاني) څخه نمایندګي کوي، په کار واچول سي. که څه هم سمه خبره خو ښایي دا وي چي (اکا) د ناګا د قبیلې یو خېل دی.

د اکا څانګي دا دي:

| | | | |
|---|---|---|---|
| عبدالرحیم | باري | جلال الدین | خواجو |
| مستی | میرو | ویس | او نور |

ددغو نومونو له جملې څخه د باري او میرو په باب وړاندي وړغېدو.

ویس د راجپوت د (بیس) هغه قبیله ده چي خپل نوم ئې د ګنګا - جمنا په دوآب کي هغې ناحیې ته ورکړي دي چي د (بېس وارا) په نامه یادېږي.

(بیس) د هندوستان د (سوراجبانسي) یا (سور یا وانسي) یعني (د لمر د توکم) له ذاته څخه ګڼل کېږي. ویس د افغاني قبیلو په خپل تصنیف کي (سربنی) یا (سراباني) بللی سوی دی. د افغانستان ویس هغه قبیله ده چي له دې څخه شاه محمود (میرویس) راوپاځېدی او لکه په تېر بیان کي وویل سوه د تېري پېړۍ په لومړۍ برخه کي د پرشیا فاتح سو.

زه دلته باید دا خبره یاده کړم چي افغاني شجرې خپلي ټولي موجودي قبیلې د سربن، بټن او غرغښت تر درو غټو نومونو لاندي تصنیفوي. افغانان وایي د هغه (کایس)(۱)، (کیش) یا (کېش) درې زامن په دغو درو ګونو نومو یادېده چي د محمد پیغمبر معاصر و او د موجودو افغاني قومونو د سر لومړی نیکه بلل کېږي. افغاني نکل په لنډه توګه داسي دی: کله چي محمد د رسول الله یعني (د خدای د استازي) په توګه خپل رسالت اعلان کړ نو (کایس) چي د افغانانو ډېر غټ سرخېل و او دغه وخت د غور په غرو کي اوسېدی له خالد بن ولید څخه ئې یو لیک واخیستی چي په هغه کي د نبي آخر زمان له راڅرګندېدو څخه ده ته خبر تیا ورکړه سوې وه او هم ئې بلنه ورکړې وه چي د هغه دکتورین ومني. خالد بن ولید په اصل کي یو اسرائیلي و چي نیکه ګانو ئې تر هغه وروسته چي بیت المقدس د (بخت نصر) له خوا وران سو، د مکې او مدینې شاوخوا ئې په عربستان کي اړولي وه. څرنګه چي افغانان بني اسرائیل (یعني د اسرائیل زامن) وه نو ئې له خپلو اسرائیلي قومیانو سره چي په عربستان کي اوسېده، مکاتبه او مراوده ساتله. (کایس) نو په همدې وجه د خپلو قبیله والو د یوې شپږ اویا کسیزي ډلي په مشري چي د افغاني بني اسرائیلو له غټو خانانو څخه ئې نمایندګي کوله له خپله کوره څخه چي په غور کي و، مخ د مکې پر خوا

---

(۱) دغه نوم د عربي ژبي په تقلید زموږ په لیکنو کي د (قیس) په بڼه لیده کېږي، خو د قیس په نامه په عربي ادبیاتو کي لس، دوولس کسان مونده کېږي. (مترجم)

رهي سو او دوی هلته له رسېدو سره د خالد بن وليد د توضيحاتو پر بنا اسلام ومانه او د پيغمر د داعي په لاره کي په مړانه وجنګېدل. کله چي دوی بيرته خپلو کورونو ته راستنېده نو د رخصتېدو پر وخت پيغمبر د دوی د سربښندونکو خدمتونو په جائزه کي دوعا ورکړه او د خپلي مهرباني د يوې نخښي په څېر ئې د دوی عبراني نومونه په عربي نومونو باندي واړول. (کايس) چي د ډلي مشر و پر هغه ئې د عبدالرشيد نوم کښېښووی چي معنا ئې کېږي (د لاربښوونکي بنده). په همدې وخت کي ئې ده ته د پهتان لقب ورکړ، چي وايي د دې لفظ معنا د سورېې په ژبه کي د کښتۍ (اداره کوونکې آله) ده ځکه دی نو سر له اوسه په هغه لار کي د خپلو خلکو لاربښود سو چي بايد دوی پر هغې باندي ولاړ سي، برسېره پر دې پيغمبر له دغو افغانانو سره ژمنه وکړه چي د ملک يعني (پاچا) لقب چي دوی ته د خپل ستر نيکه سارول ملک تالوت (ساول د اسرائيل پاچا، د ستري لوړ تيا لرونکي شازاده) له خوا څخه په ميراث رارسېدلی دی هيڅکله به د دوی له قوم څخه بېل نه سي بلکي تل تر تله به د زمانې تر پايه د دوی د غټانو او شازاده ګانو لقب وی. په دې باره کي چي د دوی نسبي ليکه له سارول سره اړه لري افغانان خپله قصه داسي بيانوي: سارول چي د (کايس) يا (کيش) زوی او د ابن امين (بنجامين) له قبيلې څخه و دوه زامن ئې درلوده چي براکيه (براچيه) او ايراميه (جيريميه) نومېدله. دوی دواړه له بېلابېلو مندو چي د لاوي (ليوي) له قبيلې څخه وې د وخت پر يوه مهال زېږېدلې وه. دوی د سارول تر مړيني وروسته وزېږېده ځکه هغه له خپلو نورو لسو زامنو سره يو ځای په هغه جګړه کي وژل سوی و چي د فلستين يا پلستين (فلسطينانو) په مقابل کي ئې کوله. له ده څخه پر مېنه پاته زامن ديويد (داؤد) تر حمايې لاندي چي د پاچهۍ پر تخت په سارول پسي کښېناستی، دواړه غټان سول او ديويد په خپل حکومت کي جګو مقامونو ته وخېژول، براکيه د ده سروزير او ايراميه ئې د ټولو قواوو اعلی قوماندان

سو.

براکيه د (آصف) په نامه يو زوی درلودی خو ايراميه د (افغنه) په نامه. د سليمان (سولومن) په حکومت کي چي د (ديويد) خلف و اصف او افغنه ته د خپلو پلرونو چوکی په ميراث ورسېدې. د سليمان د مړيني په وخت کي د اصف او افغنه کورنياني د بني اسرائيلو له ډېرو سترو کورنيو څخه ګڼل کېدې. د آصف تر مړيني وروسته چي اتلس زامن ئې درلوده او هم د افغنه تر مړيني وروسته چي څلوېښت زامن ئې درلوده د دوی د کورنيو وګړي په شمېر کي بېخي ډېر زيات سوه. په هغه زمانه کي چي بخت نصر (نيووچدنيزر) بيت المقدس (يعني سپېڅلی عبادتځای) (جيروسليم) ونيوی او ورانی. ته ئې ورساوه نو بني اسرائيل په دې سبب ځورول کېده او وژل کېده چي د خپلو نيکه ګانو پر دين باندي ټينګ ولاړ وه. د افغنه قبيله چي د مسلطو فاتحانو د بت نمانځني په مقابل کي ئې په ډېره سرسختي مقاومت کاوه نو ځکه له شام (سوريې يا فلسطين) څخه تبعيد سوه او د يو څه زمانې تر تېرېدو وروسته ئې په (کوهستان غور) (يعني د غور په غرنيو سيمو کي) او (کوه فيروزه) (يعني د فيروژې په غره) کي د ځان لپاره د پناه ځای موندی. په دغو علاقو کي د ګاونډيانو له خوا څخه د افغان، اوغان، اغوان، يا الوان او بني اسرائيل په نومو يادېدله.

دغه بني اسرائيل د غور او فيروژې په غرونو کي (چي د لرغوني پروپاميسس او د اوسني هزاره داهستان سره سمون خوري) د شمېر له پلوه خورا ډېر سول او د دې ملک له اولنيو اوسېدونکو سره چي بې دينه کفار وه تر يوې اوږدې جګړې وروسته بالاخره په دې بريالي سوه چي هغه د ځان تابع کړي.

څو پېړۍ وروسته د دوی په شمېر کي دونه زياتوالی راغی چي نور نو د غور په ملک کي نه ځائېدله. ځکه نو دې افغانانو د وسلو په زور باندي خپلي پولي تر (کوهستان کابل)، کندهار او غني پوري وغزولې، په دغه

ټوله زمانه کي چي د سليمان له وخته راهيسي څه دپاسه پنځلس سوه کلونه کښېباسي، دغه ولس يعني د غور بني اسرائيل تورات خوان يا د (زاړه عهد د پنځو ټوکو[1]) تلاوت کوونکي وه. دوی په خپلو ټولو چارو او نمانځنو کي د موسوي قانون له احکامو څخه پيروي کوله. دغه حال تر هغه وخته ادامه درلوده څو چي د خدای د استازي په توګه د محمدد رسالت په نهم کال کي افغانان د هغه خالد بن وليد له خوا د نبي آخر زمان په ظهور باندي خبر سوه چي د مدينې يو اسرائيلي خپل ئې و، که څه هم ځينو کسانو په دې نسبت قريش بللی دی چي دغي مشهوري عربي قبيلې ته ورغلی دی.

په دې پسې نو بيا مکې ته د (کايس) او د ده د ملګرو د هغه سفر بيان په قصه کي راځي چي دمخه وړاندي سو او په آخره کي نکل په دې خبره پای ته رسېږي چي غور ته تر راستنېدو وروسته (کايس) د اسلام منل سوی دکتورين چي د دوی د موسوي دين يو ريفورم ګڼل کېدی خپلو خلکو ته خپراوه او دی د ژوند تر پايه د خلکو له عزت او اطاعت څخه برخورداره و. (کايس) درې اتيا کاله ژوندی و او د هجرت يا اسلامي تاريخ په اتيايم کال کي چي سر ئې د ۶۹۹ م کال د مارچ له اتمي نېټې څخه راپيل سوی دی په حق ورسېدی. له ده څخه تر شا درې زامن پاته سوه چي په ترتيب سربن، بټن او غرغښت نومېږي. د دوی د اولادونو او نسلونو په کړی کي هغه ټولي قبيلې راکښېوزي چي مجموعه ئې موجود افغاني ملت جوړوي، سربني قوم يا ولس (۱۰۵) خېلونه يا قبيلې کښېباسي چي دغه راز ټولی د راجپوت په نسبي شجرو کي د (کولا) په نامه يادېږي. بټني (۱۰۸) خېلونه او غرغښتي (۱۷۷) خېلونه لري. قوم په عملي توګه قبيله افاده کوي او (خېل) يا (زی) بيا کلان (Clan) او د هغه وړې پښې يا

---

Pentateuch (۱)

ځانګي ښيېه خو (کور) يا (سرای) چي د راجپوت په شجرو کي ئې (ګوترا) بولي له (کورنۍ) څخه نمايندګي کوي.

دغه ټوله پورتنۍ افغاني بيان چي له خپله مذهبي پوښه څخه راووزي نو ښايي د يوه ټيک هندي تاريخ د يوې برخي په شان راڅرګند سي. خو زه د دې دپاره وخت نه لرم چي همدا اوس دغه پوښونه ځني وکاږم او هغه حقايق راميدان ته راوباسم چي تر دوی لاندي پټ دي، خو که دې ته ضرورت سي نو ښايي چي د خپلي پلټني په خاتمه کي به دغه کار ته اقدام وکړم. د پورتنيو نومونو په باب چي د (کايس) له مشترک نيکه څخه د راپيدا سوو افغانانو د درو سترو ښاخو قومي نومونه دي زه بايد همدلته په دغه ترڅ کي دا خبره ياده کړم چي (سربنۍ) د هندي ژبي يا د هندي (سوراجبانسي) يا (سوريا بانسي) پښتو شکل دی چي (د لمر بچيان) يا د راجپوت مربوط د (لمر توکم) افاده کوي. همدا راز (غرغښتی) د راجپوت مربوط د (کاکوتستها) چي د (سوريا) يو هندی مرادف دی، مسخه سوی شکل ګڼل کيږي. (بټنی) بيا د (بهاټياني) پښتو شکل دی چي د (بهټي اولاده) افاده کوي او د راجپوت (د سپوږمۍ په توکم) پوري مربوط هغه ستره ټولۍ تمثيلوي چي د (يادو)، (جادون) يا (ګادون) په نامه يادېږي. دغه ټولۍ (د راجستان د تاريخ په لومړي ټوک او ۸۵ مخ کي) د (تاد) له بيانه سره سم تر هغي جګړې وروسته له هندوستان څخه مهاجره سوه چي ډهلي ته ورڅرمه په (کورو کشتيرا) کي د مهابهارت په نامه تر ميلاد وړاندي د (۲۸۹٦) کال په شاوخوا کي پېښه سوه او د (جهيلم د مالګي د لړۍ) له لاري چي د (جادوکادانګ) يا د (جود)، (جادون) او يا (ګادون) د ټپو په نامه يادېږي تر اباسين پوري خوا هغه زابلستان ته واوښته (چي زموږ د وړاندي ښوول سوي افغانستان جنوبي برخه تشکيلوي) او هلته پر (ګجني) (اوسني غزني) باندي پېښه سوه. هغه چي د (يادو) ټپې ئې بولي نوم ئې له (جادوکادانګ) څخه اخيستی دی ځکه د يادو قبيلې چي د

(کرشنا) اولاده ده تر دې چي د زابلستان لوري ته وړاندي پر مخ ولاړي سي او په دغو ملکونو کي حتی تر سمرقنده پوري ځای پر ځای سي د دغو تپو په سیمه کي د یو څه وخت دپاره تم سوي دي. خو په زابلستان کي داسي ښکاري چي د (یادو) د نامه ځای (بهتي) نیولی وي. ځکه د (تاد) له څر ګندونو سره سم د دغه ولس لږ تر لږه یوه برخه د همدې (بهتي) تر نامه لاندي له دغو ځایو څخه بیرته مجبوره سوه له اباسین څخه واوړي. دغه بیرته تګ ئې ښایي د مقدوني تیري په نتیجه کي و او یا د هغه انقلاب په سبب چي د اسلام ظهور منځ ته راوست، که څه هم زه باید دا ووایم چي دغه دوې پېښې د زماني په حساب یو له بل څخه یو زر کاله فاصله لري. (بهتي) له اباسین څخه د پنجاب تر لاندي کېدو پوري ورسېده او هلته ئې د (سالبهانپور) بنا کښېښووله. خو له هغه ځایه څخه چي وشړل سوه نو ئې لویې هندي بېدیا ته مخ ونیوی او هلته ئې په ۱۱۵۷ م یو لږ کالونیاني جوړي کړې چي ډېره غټه ئې د (جیسالمیر) په نامه ده. دغه حالات چي هر راز وي خو دا خبره یقیني ښکاري چي نن ورځ په افغانستان کي د اوسېدونکو ولسونو یوه ډېره غټه برخه له داسي قبیلو څخه جوړېږي چي د هغه (یادو) له جملې یا د هند د راجپوت مربوط د سپوږمۍ له توکم څخه ګڼل کېدای سي چي لرغوني بودایان تمثیلوي. په داسي حال کي چي د راجپوت د لمر توکم بیا برهمنیان تمثیلوي.

موسا چي د غلزو د بورهان د ښاخ دوهم خېل دی زما د پېژندني له مخي د هغه (موسیکانوس) په نامه خلک تمثیلوي چي آرریان ئې یادونه کړې ده او د تېر بیان په یوه برخه کي خبري پر وسوې. که څه هم ښایي چي په قسمي ډول به د (موسیس) یا (موسی) د دین له پیروانو څخه هم نمایندګي کوي. (موسا) درې ښاخه لري چي د (سهاک) یا (ساک)، (اندړ) او (تره کي) په نامه دي.

سهاک چي د (سوهاک) یا (سوهاګني) راجپوت سره سر خوري،

څانګي ئې دا دي:

حسن یعقوب خیدر بختو یوسف انو

له پورتنیو نومونو څخه حسن او یعقوب هغه اسلامي نومونه دي چې د هندي ریښې د څرک ټولي دا راز ښيي ئې له منځه وړي دي چې دغو څانګو ښايي درلوولي وي. خیدر ښايي د پرامارا د قبیلې مربوط (خېجار) یا هغه (کیهدار) وي چې په سوداګر پېشه راجپوت اړه لري. بختو په شمالي هند کي د ګلو او رمو د روزونکو هغه یو خېل دی چې (بهګتي) نومېږي. یوسف، اساپ دی چې دمخه ئې یادونه وسوه. انو د (انائي) یا (انوائي) څرک دی چي خیتري خېل دی او همدا شان ښايي د (کایاستهـ) مربوط یو خېل وبلل سي.

اندړ – چې یا (اندار) هندو او یا د سوداګر پېشه راجپوت له (اندورا) سره سمون خوري په خپلو ښاخو کي د (آئود)، (اود) یا (ود)، (سلیمان) او (خیزوری) په نومو پنځه پښې لري. (اود) یا (ود) چې د جت له (هود) یا (هودي) سره ورته دی، لاندي څانګي لري:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| الي بېګ | الیشیر | بخشي | بانړا | بازي |
| براهیم | چور | غازي | حبیب | هارون |
| جلال | کبا | کابولي | کریم | خانی |
| خیرو | کوتی | کوندی | میهمان | نور |
| پتهان | پولادي | شمشي | سه پائي | تنګیوال |
| توتا | | | | |

له پورتنیو نومونو څخه (چور) د (چوریا) سره برابرېږي چې یو مال روزونکی هندی خېل دی. کبا لکه (خیرو) یا (خیر) غوندي پرامارا راجپوت دی. کوتی ښايي د راجپوت د ګاهلوت د قبیلې له (کوتیچا) څخه نمایندګي کوي. کوندی یا خوندی د جت مربوط د (خاندیا) بېلګه ده. نور د راجپوت مربوط (نورکا) تمثیلوي. پولادي له هغه (بولیدي)

څخه نمايندګي کوي چي (پتوليمي) ئې نوم ياد کړی دی او بيا به هم په مخه راسي. نور نومونه ټوله اوسني اسلامي نومونه دي. توتا ښايي د راجپوت له (دودا) څخه نمايندګي کوي.

سليمان چي ښايي د راجپوت سولان يا سولانکي وي، ځانګي ئې دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| الي بېګ | بخشي | چنګا | دولت | دېسي |
| غوندی | امام | اسلام | جبار | کريم |
| کهوړکی | موشکی | نېکبی | پاچکی | روزی |
| سيد | توری | | | |

له دغو نومو څخه ديسي د جت مربوط يو خېل دی. کهوړکي خېل نوم له خپله هغه ټاټوبي څخه اخيستی دی چي د کهوړک په غره کي واقع دی. کهوړک د سليمان د لړۍ يو ښاخ دی. دغه غر به خپله ښايي د لرغونو اوسېدونکو په نامه چي (کهو) نومېدله مسمی سوی وي. (کهو) د (کچواهه) خېل دی چي د پاسني (کاشکار) او کافرستان د قبيلو تر منځ د (کهو) په څېر مونده کېږي. د دوی په باب به بيا وروسته يادونه هم وسي. موشکي هم دا رنګه خپل نوم له هغه محل څخه اخيستی دی چي غزني ته نژدې په دغه نامه دی. د نېکبي په باره کي خو وړاندي وړغېدو.

پاچکی د راجپوت د (باچک) نښه ګڼله کېږي. روزی د اګنيکولا راجپوت مربوط له (روسيا چوهان) څخه نمايندګي کوي. توری د (تواری)، (توري) يا (توآريادو) راجپوت نښه ده. جبار د راجپوت (جيپرا) تمثيلوي. د امام، اسلام، سيد مسلماني نومونه ښايي له عربي نسله څخه نمايندګي کوي. يا خو د امام او اسلام د دوو نومو په باب داسي توجيه کېدای سي چي دا د هغه چا نومونه دي چي مسلمانان سوي او بيا ئې نو د امامت او ملايۍ کسب د ځان دپاره غوره کړی دی. که څه هم د اسلام په باره کي دا ګومان هم کېدای سي چي ښايي هغه (آسلاميه) تمثيلوي چي د

جت مربوط یو خېل دی. موشکی چي وړاندي ئې یادونه وسوه په اصل کي د یو ښارګوټي نوم دی چي له غزني څخه دوه پړاوه لیري پروت دی او د افغان د تېري جګړې په دوران کي د یو څه وخت دپاره ئې زیات اهمیت پیدا کړ. ځکه دا دهغه مشهور (موشکي عالِم) یعنې ( د موشکي د ملا) وطن دی چي د (موشک عالَم)یعنې (د نړۍ د مشکو) تر عامیانه لقب لاندي ئې په کابل کي دانګرېزي عملیاتو پر ضد د یوه سپېڅلي مجاهد او تکړه هیوادپال په څېر داسي رول ولوباوه چي ډېره توجه ئې جلب کړه.

خیزری یا خیدوری چي د سوداګر پېشه راجپوت د (کهیجار) پرامارا یا (کیهدار) سره لګېږي، لاندي څانګي لري:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| الي | امران | ایمل | بلیچي | بارک |
| قلندر | غالی | ګیردی | همت | حیدر |
| آیدو | جنتي | کامران | کاراسو | لادي |
| لالی | لواڼی | مدا | مامو | مندی |
| متا | مستی | موسا | نسو | نسرت |
| پکهی | پوټی | پیر | رامیا | راڼی |
| رستم | شاني | شېب | شېری | شیا |
| سیرکی | سوری | سنګو | تون | ولي |
| یارو | زاکر | | | |

په لوړو نومونو کي امران د پرامارا راجپوت (اومره) ګڼل کېږي. ایمل ښایي چي د (شري مل) نښه وي چي سوداګر پېشه راجپوت دی. بلیچی له هغه (بلایچه) سره سر خوري چي د راجپوت په (چوهان) پوري اړه لري. بارک به یو ځل بیا په مخه راسي. قلندر ښایي د هغه (کلامر) اسلامي نقاب وي چي د راجپوت په (چالوک) یا (سولانکي) پوري اړه لري. ګیردی په همدغه نامه د ګلو روزونکی یو هندی خېل دی. لادی له

ACKU

(لادي ساكا) څخه نمايندګي كوي چي سوداګر پېشه راجپوت دی. لالی د شمالي هند (لېلې) برهمن تمثيلوي. لوانی يوه راجپوتي قبيله ده. نسو او نسرت د سوات او كونړ د (نسرتي) په شان دي چي وروسته به ئې يادونه وسي. پكهی د (پشي) يا (پشه ئي) بېلګه ده چي بيان به ئې وروسته راسي. پوټی ښايي جت وي چي په افغانستان كي د (پوټي) د سيمې په نامه بلل سوی دی او د همدې ريښې يو نوم د پنجاب د (پوټوار) د علاقې په نامه كي ليدل كېږي. رامیا د راهتور مربوط (رامديو) دی.

رانی د سولانكي له (رانيكا) څخه نمايندګي كوي. شانی لكه (جانی) او (چانی) غوندي چي دمخه ذكر سوه د هندي ګله روزونكو هغه قبيله تمثيلوي چي (چانن) نومېږي. (شېب) او په غالبا احتمال همدارنګه (شيا) د (شيوا – چاري) ځرګندوينه كوي چي د هندو خيراتخوره قبيله ده. سيركی او سوري د سوداګر پېشه راجپوت (سيركايرا) او (سورار) تمثيلوي. د سنګو بيان به وروسته راسي. ټون لكه وړاندي چي ياده سوه له تراكياني (تيولوی) څخه نمايندګي كوي. يارو كټ مټ د (جوره) په څېر په راهتور پوري اړه لري. زاكر د هندي بېدیا (جاكهر) دی.

تره كی چي د موسا بورهان غلزي وروستی ښاخ دی او د شمالي هند د برهمني قبيلې له (تري) څخه يا د (يادوراجپوت) د (تواري) يا (توري) څخه نمايندګي كوي، دا لاندي څانګي لري:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| اناري | بادين | بستام | بېګو | براهيم |
| قتال | دوران | فيروز | ګېران | ګيلان |
| ګور | ګوربز | حاتم | جاكهو | جمال |
| كالو | كنجی | كهجل | خيرو | لاجمير |
| لالو | ميری | ميساری | موسا | نا |
| ناجو | نور | سابر | سادو | ساک |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| سالي | سپني | شکال | شپب | شيرين |
| تاسويل | ترامي | | | |

د دغو نومونو له جملې څخه به (اناري) وروسته د ستراېو د (اناریاکوی) په توګه وښوول سي. بادين البته د يادو راجپوت له (بيدمان) څخه نمايندګي کوي. بستام هم (بستاب) تمثيلوي چي د (کايستهه) هندو خېل دی. بېګو د (بريګو) ځای نيولی دی چي يو برهمنی خېل دی. براهيم د (برهمن) ځای نيولی دی. فيروز ښايي له هغو خلګو څخه نمايندګي کوي چي په لومړي سر کي له (فيروزکوه) څخه راغلي وي. ګور يوه راجپوتي قبيله ده. کهجل د پرامارا راجپوت (کهيجار) تمثيلوي. ميری او ميساری د هندي بېديا د (مېر) او (مايسری) نمايندګي کوي. (نا) او (ناجو) چي دواړه يو شی ښکاري د جت مربوط (ناوناګا) څرګندوي. سابر د (سبروال) ختري څخه نمايندګي کوي. سادو د (سيه ساده) ځای نيولی دی چي د راجپوت (سيسوديا) تمثيلوي. سالي د جت (سالاکلين) دی. شکال د (شوکال) برهمن نښه ده. تاسويل يا (تاسوېل) له (تاسايره) څخه نمايندګي کوي چي د راجپوت په (چوهان) پوري اړه لري. ترامي ښايي د (تومارا) راجپوت بېلګه وي. ساک د (سهاک) غونډې دی او ګومان کېږي د هغه آسوري (ضحاک) له قبيلې څخه نمايندګي کوي چي اولادونو ئې په غور کي واړول او موږ ئې د شاه حسين په بيان کي وړاندي يادونه وکړه. خو احتمال بيا د دې خبري ډېر دی چي ښايي دا له ساکا سکيتيانو څخه نمايندګي کوي. قتال ګومان کېږي د (کاتور) ځای نيولی وي چي يوه ډېره مشهوره سکيتي قبيله ده او وروسته به موږ هم ورباندي وږغېږو.

هغه ميساري چي په پورتني بيان کي د (جيسولمير) او شمالي پلو ته ئې د بيديا د هندي (مايسري) په څېر وپېژندل سوه د افغانانو د ګومان له مخي له مصريانو څخه نمايندګي کوي او د (قبطي) يا (قبطس) له هغه ذاته څخه ئې ګڼي چي د هزاره ؤ په منځ کي مېشته مونده کېږي او په وروسته

ACKU

کي به ئې موږ بیا هم یادونه وکړو. د اناري په باب چي د (تره کي) د ځانګو د پاسني لیست په سر کي راغلی دی زه باید دلته دا خبره یاده کړم چي دغه نوم په افغاني شجرو کي چنداني نه لیده کېږي. زما په خیال دغه نوم د سترابو له هغه لرغوني (اناریاکای) څخه نمایندګي کوي چي دی د هغو موقعیت په خپله (جغرافیه – ۸ xi) کي د (ایراتوستهینس) په حواله تر هیرکانیا (اوسني ګورګان) پسي د کسپین د سمندرګي پر غاړو باندي ښیي. ځکه (اناریاکای) یوه ترکیبي کلمه ده چي (اناري) او هم هغه څوک چي په دوی پوري اړه لري ټوله افاده کوي. د افغانستان (اناري) ښایي د هیروکانیا له (اناریاکای) څخه یو ښاخ یا یوه کالوني وي او احتمال لري چي خپل نوم ئې د (ادرسکند) د ناوې هغي برخي ته ورکړی وي چي د اناردرې په نامه د هرات په جنوب کي پرته ده. هلته د (ادرسکند) د رود د ناوې په دغه حصه کي چي د اوبو جریان له یوې تنګي ډبریني مجرا څخه تېرېږي، تقریباً درې میله د سبزوار د ښارګوټي جنوب پلو ته تر دې وختته لا د یوه لرغوني کلابنده ښار کنډوالې لیده کېږي چي د نورزو افغاني کوچیان چي په نژدې شاوخوا کي ئې اوسېږي اوس ئې د (جایا) په نامه سره بولي. دغه کنډوالې ښایي د هغه لرغوني (ارتاکوان) د محل نښه وي چي د سکندر له خوا ونیول سو. (ارتاکوان) او (ادرسکند) په څرګنده ډول یو نوم ایسي. په دغه محل کي د سکندر د عملیاتو په باب د آرریان د بیان لنډیز په لاندي ډول دی:

آرریان وایي چي د داریوش په لټه پسي د سکندر بېړنی مارش راووهله او کله چي د دښمن تښتېدلو قواوو ته (داسي ښکاري چي اوسني مشهد ته ورڅرمه په کوم ځای کې) راورسېدی نو په دې وخت کي د پرشیا د پاچا مړی د همدې فاتح لاس ته ورغی. خو (بیسوس) او د هغه ډله په دې بریالي سوه چي د (بکتریا) خوا ته ځني وتښتي. تر دې بیان وروسته نو آرریان زیاتوي چي سکندر د هغو یوناني اجیرو لښکرو په لټه

پسي د (هیرکانیا) خوا ته مخه ونیوله چي د داریوش خدمت ئې کاوه او دوی چي د یو نیم زر کسانو په شمېر د (ماردي) غرونو ته عقب نشیني کړې وه نو دا تصمیم ئې درلودی چي (ماردي) تر خپل تابعیت لاندي راولي. زموږ د پلټني په یوه وروستۍ برخه کي به یو ځل بیا د همدې سوقیاتو په باره کي وږغېږو، خو د اوس دپاره (ماردي) پر دغه ځای پرېږدو او د سکندر هغه حرکات پسي را اخلو چي د (هیرکانیا) تر پرېښوولو وروسته ئې خپل مارش د (پارتیانو) په مقابل کي پیل کړ.

آرریان وایي بیا نو سکندر د آریا (د هرات د اوسني ولایت) حدودو ته ورننووت او (سوسیا) (توس؟) ته ورغی چي د (آریي) یو ښار و او په هغه ځای کي تقویتي قواوې ورته راورسېدې. له دې ځایه څخه ئې د (باکتریا) پر لوري خپل مارش ورسم کړ خو په لار کي خبر ورته راغی چي د (آریي) حاکم بغاوت کړی دی او هغه ټوله ساتندویان ئې وژلي دي چي سکندر د داریوش د لټوني په وخت کي له ده سره پرې ایښي وه. په دې اطلاع کي دا هم ویل سوي وه چي نوموړي حاکم د ملک خلک په (ارتاکوانا) کي راغونډ کړي دي چي هلته د (آریي) د شاهزادګانو شاهي ماڼۍ ده. سکندر نو د (باکتریا) پر لور خپل سفر وځنډاوه. په داسي حال کي چي نور اردو ئې له (کراتیروس) سره په قرارګاه کي پرېښووی.

خو په خپله ئې ناڅاپه له یوې غښتلي ټولۍ سره د (آریي) او د هغو د حاکم (ساتیوارزانیس) په مقابل کي حرکت راوکړ او په دوو ورځو کي د یو سل او شل کیلومتره لاري تر وهلو وروسته (ارتاکوان) ته راورسېدی. سکندر نو دلته د (کراتیروس) او هم د خپلو پاته لښکرو سره بیرته یو ځای سو. د ښار تر نیولو وروسته ئې د (آریي) ولس دپاره پرشیایي حاکم (ارساکیس) وټاکه. که موږ دلته د پرشیایي پر ځای (پارتیاني) ووایو نو دغه (ارساکیس) ښایي چي یو (ترک کومن) خان به وي. ځکه نن ورځ موږ د (مرو) د ترکمنانو تر منځ د دوی له غټو ښاخونو څخه یو ښاخ د

(ارسکي) یا (هرزګي) په نامه باندي وینو. دغه ښاخ د هغه لرغوني او غښتلي (ارساکیدایانو) اوسني څرګندویان دي چي واکمنی ته د هغو د رسېدو او پر آسیا باندي د حکم د چلېدو ابتداء ئې ښایي د سکندر له خوا له همدغي ټاکني سره راپیل سوې وي. سکندر له (ارتاکوان) څخه د (زرنګائي) یا (درنګائي) مقابلې ته پر مخ ولاړی او د دوی د امپراتورۍ ښار ته راغی. احتمال لري چي دلته ئې د خپل اوږده توقف په موده کي د (هیراکلویا) په نامه د هغه ښار بنا وکړه چي د پلیني له څرګندوني سره سم (Nat. Hist. ch. ۱۸) بیا وروسته وراني ته ورسېدی او کله چي له نوي سره د (انتیوچوس) له خوا بیا ودان سو نو ئې (اکهایا) وباله. دغه ځای اوس زما په خیال د هغه اوسني (کیلاکاه) یا (قلعه اکا) یعني (اکا د کلا) په وسیله تمثیلېږي چي د (انار درې) د سیمي په جنوبي سر کي موقعیت لري.

موږ بیر ته اوس د (ستي) قبیلو ته راځو او د ابراهیم په نامه د دوی پر هغه غټې ښاخ باندي رغېږو چي د (لوی) په لقب یاد سوی دی. د دې ښاخ د تسمیې په سیستم کي موږ د (لاوا) د یوې پټي سوي برهمني قبیلې زوزات موندلای سو چي هغه د (راما) یعني د راجپوت د لمر د توکم د باني زوی بلل کېږي. (کایس) یا (کېش) چي د موجود افغاني ملت د سر نیکه ګڼل کېږي له هغه (کاش) څخه نمایندګي کوي چي د (راما) یو بل زوی دی. (کاش) له خپل ورور (لاوا) سره د هغو راجپوتي قبیلو د مشترک نیکه په ویاړلي امتیاز کي برخه لري چي له برهمني دین څخه نمایندګي کوي. خو د شیخ بېټ بېټني په مورد کي بیا موږ د (بهت) یا (بهتي) څرګندوني موندلای سو چي په زابلستان کي د (یادو) د توکم بودائي بابا دی. خبره چي هر راز وي خو د (متي) او (لوی) نومونه په افغانستان کي له ډېره وخته راهیسي د (لودي) یا (لدي) په ډول اوونښتي دي او ټولي هغه قبیلې او خېلونه چي د ابراهیم د اولادې په ردیف کي راځي له یوه مخه د (لودي) په عمومي نامه باندي پېژندل کېږي.

لودي د سياني، نيازي او دوتاني په نومو درې ښاخه لري. ما وړاندي څرګنده کړه چي افغاني (لودي) يا (لدي) د کوچنۍ آسيا يا (ليديا) د (لودي) سره يو شی دی. خو تر هغي خبري بيا دا توجيه د ثبوت له مخي ډېره ټيک ايسي چي افغاني (لودي) د شمالي هند د (لوهدي) برهمن سره پوره مشابهت لري، په تېره چي بيا دا ټکی په نظر کي ونيول سي چي افغاني (لودي) بې له کومه توپيره د (لودي) او (لوهدي) په دواړو شکلونو سره ليکل کېږي.

سياني دوې پښې لري چي يو ئې (پرنګی) او بل ئې (اسماعيل) نومېږي. د سياني نوم په افغانستان کي د ملک د دوو بېلابېلو ځايونو دپاره همدارنګه په کار اچول کېږي. يو هغه غرنۍ لړۍ د (سيانه کوه) په نامه بلل کېږي چي د اوسني بلوچستان پر لوېديځه پوله د سرحد له سلسلې څخه ختيځ پلو راتېرېږي او سيستان له مکران څخه بېلوي. بل د ملک هغه جګه هواره برخه په پښتو ژبه (سيونه ډاګ) نومېږي چي د خواجه امران او د سليمان د لړيو تر منځ د يو ځای کېدو په نقطه کي موقعيت لري.

پرنګی، برنګی، پيرينګی، يا فيرينګی (چي يوناني منشأ لري) څانګي ئې دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| احمد | اندر | انجو | ازاڼ | باينو |
| دولت | دېدی | فيروز | غوري | اساپ |
| جاپر | مانی | مارچه | ناسو | رانی |
| سامو | شاکو | تاجو | ترغونډی | اومر |
| ياسين | زېتون | | | |

يو شمېر له دغو پاسنيو نومونو څخه دمخه وليده سوه. دېدی د جت له (دېهتا) څخه نمايندګي کوي. جاپر د راجپوت د پرامارا د قبيلې (جيپرا) دی. مانی د سوداګر پېشه راجپوت (مانت) دی. يا خو د هغه

(مانیس) له پیروانو څخه دی چي د (مانیچائي) فرقې باني ګڼل کېږي. مارچه ښايي (ماجروت) تمثیلوي چي د ښاروپو روزونکی هندی خېل دی. سامو د (ساما) راجپوت څرګندونه کوي. زېتون د (جادون) ځای نیولی دی.

اسماعیل چي ښايي د (سیماله) راجپوت اسلامي بدیل وي او یا خو د (ملاحده) یا (حششیانو) فرقوي - قومي نوم وي د سور، لوهاني او مهپال درې ښاخه لري.

د سور څانګي دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| الا | بهرام | داؤد | دولت | هاکي |
| کوتی | محمود | نور | شادو | شېر |
| تاندی | تره کی | یونس | عثمان | |

له دغي جملې داؤد له (دادو) یا (دادي) څخه نمايندګي کوي او دا یوه قبیله ده چي بیا به وروسته وربانديي وږغېږو. شادو د (ښادي)، (خادي) او (خودو) یا (خدو) سره یو شی ایسي. دغه څانګه چي عموماً د همدې بېلابېلو نومونو په یوه یا بل شکل په مخه راځي د (جاتا) یوه قبیله ده او خلک ئې په روسیه کي د (ایستونیا) هغو ګړو ته بېخي ورته دي چي (شچودي) نومېږي. خو دلته ښايي د شمالي هند یو برهمن خېل تمثیلوي چي نوم ئې (چاتو) دی. د عثمان یا اوتمان له څانګي څخه د هندوستان پاچا شېرخان (فریدخان) او په هم هغه کورنۍ پوري مربوط د ده اخلاف راپاڅېدلي دي.

لوهاني چي د (لوهانا) په نامه د هندي بېدیا یوې هندو قبیلې ته ئې نوم ورته دی، څانګي ئې دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| آدم | ادین | اجو | اکا | الم |
| ازار | بای | بایس | بهرام | بالي |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| بندو | بشر | بازی | بیک | بیهدین |
| بهیبا | قلندر | قتال | چاندو | دادی |
| دالو | دالک | داره | دولت | دور |
| غلام | هانی | حسن | هود | ایسا |
| اسماعیل | اسوت | جابی | جاکری | جالک |
| جالو | جانی | کاهوت | کالا | کمال |
| ختک | خیدر | خودو | خویداد | خواجو |
| کوکو | کوری | لاجمیر | لالو | لونی |
| مایل | ماچي | مهندر | مالي | ماما |
| ممرېز | مندو | منزی | مروت | مینا |
| میشتی | میتها | میرال | موغل | مولا |
| موسا | میان | مانا | نیکزن | نورو |
| بهار | پاني | پاسنی | پتاخ | راجو |
| ساګره | سالار | سامل | سنتي | سندر |
| سانړ | سپن | شارک | شادی | سیکندر |
| سلیمان | سورت | تاجو | تختي | تنی |
| ټپی | تاتور | تون | اومر | اوتمان |
| وړوکی | زاکو | زانه | زنګی | زرکی |

لوهاني لکه څنګه چي پورته ښکاري یوه ډېره غټه قبیله ده او زیاتره د هند او منځنۍ آسیا تر منځ د پوونده تر نامه لاندي په کارواني سوداګري باندي لګیا ده. د هغو پوونده خېلونو په جمله کي چي د سوداګرۍ ټولنه جوړوي لوهاني ئې ډېره عمده برخه ده، د پووندو وو نور خېلونه نیازی، ناسر او خروټي دي. دغه پووندو خېلونه یوازي او یوازي د کارواني سوداګرۍ په کاروبار باندي اخته دي. د دوبي په موسم کي دوی خپلي کورنۍ په هغو

خېمو کي پرېږدي چي (غېږدی) یا (کېږدی) او یا (کهږدی) ورته وايي. دغه خېمې د غزني د سيمو په (پانه)، (کره باغ)، (ناور) او داسي نورو علاقو کي وهي او خپل زاړه خلک د کورو د ساتني دپاره هلته پر کور پرېږدي. خو ځوانان ئې په ډلو له خپلو تجارتي مالونو سره چي زياتره پر اوښانو بار وي د سمرقند، بخارا، تاشکند، کاشغر، یارکند او داسي نورو خواوو ته خپرېږي. په ژمي کي بیا دوی خپلي کورنی په هغو خېمو کي پرېږدي چي د اباسين د ناوې د ديره جات د برخي د غونډيو په لمنو یا (دامن) کي ئې درولي وي خو نارينه ځوانان ئې هند ته خپرېږي او خپل کاروانونه لويو ښارونو او تجارتي بازارونو ته تر کلکتې، بمبئي، حيدرآباد او داسي نورو ځايو پوري رسوي.

د لوهاني د څانګو په هغه اوږده لیست کي چي پورته وړاندي سو، تقریباً ټوله غېږي ئې له راجپوت او هندو له هغو قبیلو او خېلونو څخه جوړېږي چي په اصل کي سوداګر اوپه تجارت اخته طبقات دي.

د سرنوم لوهاني د اګنیکولا راجپوت د چوهان د ښاخ (لوانی) دی. بالي د (کچواهه) یو خېل دی. بهیبا د اګنیکولا راجپوت په (پرامارا) پوري اړه لري. قلندر د چوهان مربوط (چندا) ګڼل کېږي. (دور) یوه راجپوتي قبیله ده. هاني، هنا برهمن دي. جالو، جليا راجپوت دي. لوني د (راجواړي) د لوني د رود د غاړو له اوسېدونکو څخه یوه هندی قبیله ده. مایل، موهیل راجپوت دي. ماما، ممرېز او مندو د شمالي هند برهمني خېلونه دي. مينا د مېوار یوه بومي هندی څانګه ده. مروت هندی (میروت) دی. پهار ښایي له (پاریهارا) یا له (پوآر) (پرامارا) څخه نمایندګي کوي چي دواړه په اګنیکولا راجپوت اړه لري. پتاخ د (پاتاخ) د نامه څاروي روزونکی هندی خېل دی. ساګره پرامارا راجپوت دی. سالار او سامل د راجپوت (سالار) او سیماله ګڼل کېږي. سنتې او سندر د برهمن مربوط (ساندهیا) او (سندل) دي. سانړ ښایي سات برهمن او یا (ساهني)

کهتري وي. سپن د راجپوت (سبګړه) دی. سورت هغه (سورار) چي په سوداګر پېشه راجپوت اړه لري. تون او تنی سره يو شی دي چي وړاندي ئې يادونه سوې ده.

تر لودي را لاندي د (نيازي) پښه لکه څنګه چي (د راجستان په پېښه ليک) کي د (تاد) له خوا ويل سوي دي نوم ئې د هندي ژبي له (نياد) څخه راوتلی دی چي د (نوي راغلي) معنا ورکوي. دغه نوم ښکاري دافغانستان د هغو هندي الاصله اوسېدونکو دپاره په کار اچول سوی وي چي د شهاب الدين غوري په زمانه کي اسلام ته را اوښتي وي. ويل کېږي چي نيازي د سلطان بهلول لودي او شېرشاه سوري د واکمنۍ په دوران کي په زيات شمېر هندوستان ته راولېږدېده او د هغو تر حکومت لاندي د شاهي دربار شاوخوا له خورا ګټمنو مقاماتو څخه برخورداره او بېلابېلي مهمي حکومتي دندې ورسپارل سوې وې. اوس ئې يو څو خېله په افغانستان کي پاته دي چي هلته د پوونده وو په نامه د کارواني سوداګرو د څلورو غټو خېلونو له جملې څخه يو خېل جوړوي. د دوی د دوبي مرکزونه د سليمان د لړۍ په لوېديځ کي پر جګو هوارو باندي موقعيت لري خو ژمی بيا د هغه ختيځ پلو د اباسين د ناوې په (دامن) کي تېروي. د نيازي څانګي دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| آدم | اکا | الي | اپو | استانه |
| باهو | بتی | بهارت | بوری | بوبان |
| چندر | چنګا | چوهار | دادر | دادی |
| دليل | دالو | دند | درويش | درزی |
| دوری | ګودی | ګوندی | هالي | هوتک |
| هومايون | ايسا | اساپ | جوګی | جالو |
| کمال | کاشي | کاربورا | خواجو | کوکا |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| کولاچ | لاچي | لاندو | لوهاني | منډا |
| مندورا | منجار | منسور | ماشکی | مشاني |
| ملتانی | موسا | نانو | نېکو | پهار |
| پوټی | سالار | سامپل | سامو | سنجر |
| سنجلا | سرهنګ | سرمست | شېخا | سپن |
| سملان | سوندي | تري | توتای | عثمان |
| اوريا | وټه | ياسين | | |

له دغو نومونو څخه مو زیاتره وړاندي ولیده او خبري هم وربانديوسوې. استانه له (آشتانه) څخه نمایندګي کوي، چي د (کایستهٔ) مربوط هندو خېل دی. باهو د سوداګر پېشه راجپوت (بها او هار) تمثیلوي. بټی د (بهټي) ځای نیولی دی چي (یادو) راجپوت دی او یا د ګوجر مربوط (بهټي) ګڼل کېږي. بهارت د بهارتا سره سمون خوري چي د سندربولو خېل دی. کاربورا او (کهارباري) سره یو شی دي او له (کاربایرا) څخه نمایندګي کوي چي سوداګر پېشه راجپوت دي. کولاچ ښایي (کلاچه) تمثیلوي چي (سولانکي) یا (چالوک) راجپوت دی. سامپل پرامارا راجپوت دی. سامو یا شامو سره یو شی دي چي د یادو راجپوت په (جاریجا) پوري اړه لري. سنجلا ښایي له (سلچورا) څخه نمایندګي کوي چي د سوداګرپېشه راجپوت په چوهان پوري اړه لري او (اوریا) د راجپوت (هرایا) تمثیلوي.

مشاني له مشواني سره یو شی دی چي بیان به ئې وروسته راسي. دوی د څلورو سوو کورنیو په شمېر یوه کالوني لري چي د کابل په (کوهدامن) کي ئې اړولي دي او هلته له بخارا سره په کارواني سوداګري باندي لګیا دي. خو د مشوانیو اساسي ځای چي په هغه کي د یوې ځانته مستقلي قبیلې په څېر د نیازي له مشانیو څخه بېل اوسي د اباسین پر

ځتیځه غاړه د (چچ هزاره) په علاقه کي د (ګنډغر) د تپو پر سیمه واقع دی چي هلته د دوی اصلي ټاټوبی (سریکوټ) دی. دوی هغه لرغوني (ماسیاني) تمثیلوي چي د سترابو له قوله (۲ .xv جغرافیه) هغه ملک ئې اشغال کړی و چي د کوپیس او اباسین د سندونو تر منځ ئې موقعیت درلودی یعني دا د یوسفزو په اوسنی هواره سیمه کي چي د اباسین سره د کابل د رود تر یو ځای کېدو پوري په دا منځ کي پرته ده هغه ځای و چي د اباسین پر لوېدیځه غاړه د مشوانیو اوسنی واقعی ټاټوبي ته سمدم مخامخ واقع دی. د ګنډغر د دغو مشوانیو څانګي دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| آدم | برور | غریب | کاپور | کاربوري |
| کهارباري | لودي | محمود | متکاني | ملتاني |
| موسا | روغاني | سامبل | ترک | یوسف |

له پورته نومونو څخه برور (بارور) راجپوت دی. کاپور سوداګر پېشه راجپوت (کاپول) یا د کهتري مربوط (کاپُر) دی. کاربوري او کهارباري لکه وړاندي چي ئې یادونه وسوه دواړه یو شی دی. روغاني هغه راجپوت دی چي (راګهوبانسي) نومېږي. کاپور چي دمخه ئې یادونه وسوه خپل نوم ئې د یوسفزو هغه کلي ته ورکړی دی چي (کاپورداګرهي) بلل کېږي، یعني (د کاپور مورچلیزه کلا). دا په سر سره هغه لنګر کوټ دی چي افغاني تاریخونه ئې یادونه کوي او وایي چي کله د منډړو او یوسفزو له خوا دلازاک لاندي کېده او تر اباسین ها خوا ته شړل کېده نو په همدې وخت کي د دلازاکو د قبیلې سنګر ځای و. په دې باره کي به وروسته بیان هم راسي.

د نیازي په وړاندي سوي لیست کي نوري څانګي یا زیاتره دمخه یادي سوي دي او یو شمېر به ئې بیا هم په مخه راسي او په خپلو مناسبو ځایونو کي به ئې یادوِنه وسي.

مهپال یو مخیزه د بهیبا راجپوت له وړوکو څانګو جوړ سوی دی او د

(بیبي زي) په نامه یادېږي. بهیبا د پرامارا راجپوت یو خېل دی او مهپال د کهتري د قبیلې له (مهپې) څخه نمایندګي کوي.

دوتاني چي د لودي ښاخ دی، څانګي ئې دا دي:

| بیهدین | حسن | ابراهیم | مدر | محمود |
|---|---|---|---|---|
| نسو | راڼی | سادو | ساربي | توچي |
| اومر | اونور | | | |

له دغي جملې څخه بیهدین ښايي د (بیدمان)، (یادو) یا د (بیدا) برهمن ځای نیولی وي. راڼي یا (راني) د چالوک یا سولانکي راجپوت له (رانیکا) څخه نمایندګي کوي. سادو د ګاهلوت راجپوت (سیسودیا) تمثیلوي. ساربي د سوداګر پېشه راجپوت (سوربیا) دی. اومر د پرامارا راجپوت له (اومره) سره سر خوري.

تېر بیان د هغو قبیلو او خېلونو لسټ بشپړېدو ته رسوي چي په افغاني شجرو کي د (بي بي متو) د اولادې په څېر تصنیف سوي دي. بي بي متو لکه څنګه چي ئې په دمخه کي قصه وړاندي سوې ده د شیخ بېټ بټني لور او په هغه شاه حسین واده وه چي د غور شاه زاده و. شاه حسین له خپلي بلي ماینې بي بي ماهي څخه یو زوی درلودی چي هغه بیا سرواني نومېدی. د ده دغه بله ماینه د شیخ بېټ د خدمتګار (کاغ دوم) نامي لور وه. دا خدمتګار د کاست په حساب د (دورهـ) له ذاته څخه و. له ماهي څخه دده اولاده هم د خپلي مور په نامه یادېږي. لاکن په تصنیف کي دوی له بټني سره یو ځای راځي او ټوله عموماً د همدغه بټني په یوه نامه باندي پېژندل کېږي. د سرواني اصلي ملک د سلیمان د لړۍ د جنوبي برخي د پای په هغه ساحه کي و چي اوس د بلوچستان د کلات د سرواني حوزې په توګه پېژندل کېږي او په ترکیب کي ئې سیالکوټ یا کوټه او شاخوا ګاونډۍ علاقې شاملي دي. سرواني ښايي له (سروریا) چالوک یا له (سروریا) برهمن څخه نمایندګي کوي. د سرواني څانګي دا دي:

ACKU

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| اچو | اکو | اگهوکي | احمد | الي |
| اشک | اسو | ايبک | بالي | بوبک |
| دابي | دودو | گادر | هديا | هارون |
| اسماعيل | ايسون | جعفر | ککاتور | کاربوري |
| ملکيار | ملانا | مالاتا | مامو | مردک |
| متا | موسا | ناهر | نور | پوني |
| رستم | ساکنوت | سامو | سامرا | سنجر |
| سپنی | شخا | سودا | سوری | سرپيال |
| يوسف | | | | |

د پورتنيو ځانگو له جملې څخه اچو، اگهوکي او اشک ښکار ي چې سره يو شی وي او ښايي له هغه هندي (اچي) څخه څرگندونه کوي چې د کشمير په تاريخ کي يوه مشهوره قبيله ده (د "ترويږ" راجا تارينگيني وگورئ) او اوس ئې په افغانستان کي اچکزي تمثيلوي. اکو او اکا د جت له (اکا) څخه نمايندگي کوي. اگهوکي ښايي د يوناني (اکهايوی) ځای نيولی وي. آسو د راجپوت اسويا تمثيلوي. بالي هغه برهمن دی چې (بالا) نوميږي. (دابي) او (دودو) دواړه راجپوتي قبيلې دي. گدائي چي له گادي کهتري څخه نمايندگي کوي، همدا راز د هنديانو څاروي روزونکې قبيله ده. ملکيار د (مولاک) او (جوره) ځای نيولی دی چې دواړه د څارويو د روزونکو هندی قبيلې دي. ملانا د چوهان راجپوت (مالني) گڼل کيږي. پوني، پرامارا راجپوت دی. سودا د سکندر د زمانې هغه لرغونی (سودی) تمثيلوي چې د ملتان شاخوا د اباسين په ناوه کي اوسېدله. سامرا د راجپوت مربوط د پرامارا د قبيلې (سومره) څرگندوي. جعفر د (جيپرا) پرامارا ځای نيولی دی. ککاتور ښايي د (تکاتو) په شان وي چي د سليمان د لړي هغه غر دي چي شال او پښين تر لاندي دي او د همدې خېل نوم له

ACKU

دغه ځایه څخه منشأ اخیستې ده. بوبک یا بهیبا د پرامارا مربوط بهیبا ده. سامو یا شامو د سپوږمۍ د توکم او بودایي دین مربوط د (یادو) یا (ګادون ) راجپوت د جاریجا د څانګې لقبي نوم دی. د سامو یا شامو غټان د (جام) لقب لري او تر همدې نامه لاندې په بلوچستان کې د لاس بېلې وړوکی امارت اداره کوي. (د راجستان په پېښه لیک) کې د (تاد) د بیان له مخې سامو د هغه (سامبوس) له قبیلې څخه نمایندګي کوي چې سکندر ئې په مقابل کې د خپل قهر او غضب ټوله تاو تر دوی وکیښ. د سامو لرغونی ټاټوبی په اوسني (سېبې) یا (سیوی) کې و چې هندي لیکوال ئې (سیویستان) بولي.

په دې بیان سره د بټني قبیلې لیست بشپړېدو ته رسېږي. د دوی د خپلونو او څانګو تر منځ چې خورا زیات راجپوتي او هندي نومونه لیده کېږي او هم د راجپوت مربوط د سپوږمۍ د توکم او بودائي دین د (یادو) یا (ګادون) ډېري څرګندوونکې بېلګې مونده کېږي نو دا نتیجه تضمینولای سي چې یو خو افغاني بابا شیخ بېټ د هویت له پلوه د (یادو) مربوط هغه (بهټي) بابا دی چې دمخه ئې د (تاد) په حواله یادونه وسوه او بل دا چې د بټني قومي نوم د (بهاټیاني) سره یو شی دی. پلیني په خپل اثر (Nat. Hist. ۱۸) کې یو شمېر هغه قومونه ښیي چې د (مارګیانا) د جګو غرنیو سیمو په شاوخوا او د قفقاز د لړۍ په اوږدو کې اوسي. (دغه ځایونه د اوسني بالامرغاب او د هندوکش د کوه بابا د غاښې له غرستان سره برابرېږي). په دې بیان کې د هغو قومونو نومونه یادوي چې د (مندوس) (اوسني هلمند) د سیند شاوخوا پراته دي او په دې پسې د هغو نومونه اخلي چې تر دوی ها خوا ته اوسي. د دوهم ردیف قومونو په جمله کې د (بټیني) نوم څرګندېږي. د بټیني موقعیت که څه هم په دقیقه توګه نه دی ښوول سوی خو څرګنګه چې دوی له (ماتیاني) او (سیرماتای) (د سترابو ساوروماتای) سره یو ځای یادېږي نو روښانه ده چې دوی د غور یا د اوس

وخت د هزاره د ملک په علاقو کي هستوګه کوله. دا په سر سره هغه سیمه ده چي افغاني روایت (بټنی) او (متي) او همدارنګه (سور) چي شاه حسین اړه پوري لري د دغه ځای اوسېدونکي بولي. د پليني (سیرماتای) يا (سورماتای) په ښکاره د (سوري) او (متي) له يوه ګډه قومه څخه نمايندګي کوي چي ملک ئې ښايي د اوسني (هزاره) لوېديځه برخه جوړوله. پليني (چي د مړيني نېټه ئې په ۷۹ م کال کي ټاکل سوې ده) د میلادي دورې په لومړنيو کلونو کي د همدې قبيلو پر حالاتو ږغېږي. خو هغه ښورښونه او انقلابونه چي د اسلام له راڅرګندېدو او خپرېدو سره ملګري وه په دغو برخو په تېره ئې بيا د ملک په هوارو سيمو کي چي هلته ورتګ په آساني کېدای سو، د وګړو د بې ځايه کېدونو اوله يوه محله بل ته د لېږدېدونو له پلوه خورا زيات تغيرات منځته راوسته. لاکن په غرنيو علاقو کي چي هلته ورتګ په آساني نه سي کېدای داسي معلومېږي چي خپل لرغوني اهالي ئې زياتره حتی تر نن ورځي پوري لا پر خپل پخواني حال پاته سوي دي.

د پليني بيان چي د ميلادي دورې په لومړنيو کلونو کي د افغانستان د دغي برخي اوسېدونکي قومونه راښيي دونه ډېر په زړه پوري او زموږ سره د خپلي رواني پلټني په برخه کي دونه زياته مرسته کوي چي زه ئې بې له درنګه دلته رانقلوم او هدف مي دا دی چي يو شمېر هغه هويتونه روښانه کړم چي ښايي د دې پلټني په يوه وروستني پړاو کي ئې بيا د يادوني مجال پيدا کړم.

پليني موږ ته وايي (Nat. Hist. ۱۸) د (کسپيي) ختيځ پلو ته چي دا د کسپين د سمندرګي پر جنوب – ختيځه غاړه باندي يو قوم دی هلته د (اپاورتين) سيمه ده (چي اوسنی ابيورد او د تېري پېړۍ د آسيايي فاتح نادرشاه ترکمن بومي ملک دی) او په دې سيمه کي هغه حاصل خېزه هواره ده چي داريوم (په اوسني وخت کي دره ګز) ئې بولي. په دې پسې

هغه اقوام راځي چي د (تاپيري)، (اناريکي)، (ستاوري) او (هير کاني) په نومو بلل کېږي. له دې جملې څخه مو د (اناريکي) په باب دمخه يادونه کړې ده. د (ستاوري) په باره کي به وروسته هغه مهال يادونه وسي چي موږ د سليمان د لړۍ د (ستوري)، (اوستوري)، (اوشتوري) او (اوشتراني) بيان ته راورسېږو. هير کاني د اوس وخت (ګورګاني) دي چي زموږ د پلټني له ساحې څخه دباندي دي. خو (تاپيري) ما د اوسنۍ زمانې د (تېموري) په څېر پېژندلي دي چي د لوېديځ افغانستان د چارايماق د څلورو قبيلو له جملې څخه يوه قبيله ده. چارايماق يا (څلور مېني) د تېموري، داهي، تايمني او سوري له څلورو قومي ټوليو څخه جوړېږي. دغه څلور قبيلې د کابل او هرات تر منځ د غور د ملک (لرغوني پروپاميسس) لوېديځه برخه اشغالوي. د ايماق يا اويماغ نوم يوه ترکي کلمه ده چي په معنا کي (کور)، (کورنۍ)، (قبيله)، (مېنه) او داسي نور افاده کوي. دا نوم ښکاري په دې منظور د دغو قبيلو دپاره په کار اچول سوی وي څو له افغان څخه د دوی فرق وسي خو دا البته د ديرلسمي پېړۍ په لومړۍ نيمايي کي چي د مغلو د بري زمانه وه او يا خو تر هغه پخوا د لسمي پېړۍ په وروستۍ برخه کي چي د ترکي واکمنۍ دوره وه.

چارايماق (چار په پارسي کي څلورو ته وايي) له افغانانو څخه بېخي جلا يو بېل ولس دی. دوی د څېرې، بدني جوړښت، ژبي، حکومتي شکل، رواجونو او روحيه کي له هغو سره توپير لري. په ايماق کي د تاتاري ويني ډېر يا لږ غالب رګی څرګندېږي او په بدني او اخلاقي خصوصياتو کي د شمالي آسيا نژاد ته ورته دي. د دوی ژبه د فردوسي د زمانې زړه پارسي ده چي لږ يا ډېر ترکي کلمات هم په ګډه دي. د دوی د خانانو حکومت استبدادي بڼه لري او د افغانانو د حکومت په څېر جمهوري شکل نه لري. په دين اوس مسلمانان دي. هم د سنيانو او هم د شيعه ګانو دواړي فرقې لري خو شيعه ګان ئې تر نورو ډېر دي. پخوا تر هغه چي اسلام ته راواوړي

دوی زیاتره د نیستوري کلیسا مسیحیان وه او په خپل منځ کي ئې د یهودیانو، اسرائیلیانو او ډیرو اور نمانځونکو زیاتي کالونیاني درلودې. ایماق لږ یا ډېر له افغاني حکومت څخه پوره استقلال لري او له خپلو ګاونډیو قومونو سره ډېر تګ او راتګ چنداني نه لري او نه هم په تجارتي یا سیاسي روابطو کي ورسره پیوند دي. دوی په خپلو غرنیو سنګربنده ګوښو کي اوسي چي په آساني څوک نه سي ور تلای او له دباندي نړۍ څخه بېخي پرې په زیات انزوايي حالت کي واقع دي. وایي چي د دوی په ملک کي دننه ډېر کلک مورچلي ځایونه او نه ماتېدونکي سنګربنده کلاوي خورا زیاتي دي چي د نیغو او ډبرینو شاګیو په جګو څوکو کي دلته هلته واقع دي. د دې قبیلو د داخلي اصولو او تقسیماتو په باره کي ښه یقیني معلومات چنداني نسته. سمه به وي چي زموږ د پلټني په دې برخه کي د دوی بیان رادمخه کړو او نو ځکه غواړم چي هر یو ئې په خپل نوبت تر بحث لاندي ونیسم. خو په عمومي توګه صرف دا باید وویل سي چي دوی ټوله لږ یا ډېر کوچي او داړې وهونکي دي. دوی ډېر یا لږ د پاچهۍ له سلطې څخه پوره استقلال لري او په عمومي ډول تر هغو ټولو توکمونو چي په افغانستان کي اوسي خورا ډېر خواران او زیات بدویان دي. له دې خبرو سره دوی په خپل وخت کي سره راټول سوه او هغه ډېره پیاوړې واکمني ئې جوړه کړه چي له فرات څخه تر ګنګا پوري غزېدلې وه. دا د غور سوري وه چي په غزني کي ئې د هغو تر کوځای ونیوی چي د آمو له پوري خوا څخه راغلي وه او دا د غوري کورنۍ واکمن سلطان شهاب الدین و چي په ډهلي کي ئې د (توآر) راجپوت شاهي کورنۍ راچپه کړه او د هغې وروستی پاچا (پتهورا رای) یا (پریتوي راجا) ئې وواژه او هندوستان ئې ونیوی او د اسلام اساس ئې په هند کي کښېښووی.

تېموري دوه غټ ښاخونه لري چي د جمشیدي او فیروزکوهي په نومونو یادېږي. تېموري د بالامرغاب له علاقې څخه نیولې بیا لیري تر

کوشک، بادغیس، کوروغ او نورو ځایو پوري اوسي. دوی تقریباً دوولس زره کورنۍ ګڼل سوي دي چي له یوه مخه کوچیان دي. دوی ادعا کوي چي د پېشدادي په نامه د لرغوني شاهي کورنۍ د هغه پرشیایي پاچا له ذاته څخه دي چي جمشید نومېدی او ویل کېږي چي د ایماق د نورو ټولیو په تناسب ئې خپل سوچه پرشیایي کړه وړه په زیاته اندازه ساتلي دي، په تېره بیا د دوی د (ایلات) تر منځ چي هغه لکه نور پرشیایي (ایلات) د یوه ټینګ ټوکره په داسي خېمو کي اوسي چي د وزګړو له تورو وژغنو څخه جوړ سوي وي. دوی هم د پرشیاوالو په شان د اسلام له شیعه فرقې سره اړه لري. د دوی د خېلونو او وړو څانګو په باره کي زه کوم لیست نه لرم.

فیروزکوهي د فیروزکوه په ملک یا کوه فیروزه یعني (د پیروژې په غره) کي اوسي چي دا غر د هرات او مرغاب د سندونو بهیرونه په پاسنۍ برخه کي یو له بله سره جلا کوي. دوی په شمېر تقریباً شل زره کورنۍ ګڼل سوي او پر دوو غټو ټولیو وېشلي دي چي (درازي) او (محمودي) بلل کېږي. د دوی له جملې څخه (درازي) یا (دروزي) ډېر مهم او غښتلي دي چي شمېر ئې دوولس زره کورنیو ته رسېږي او دوی د ملک ډېره سنګري برخه (یعني د چغچران علاقه) نیولې ده او هم هغه د (درازي) کلا په دوی پوري اړه لري چي په ډېر ټینګ موقعیت کي واقع ده. فېروزکوهي د غره د شمالي لړۍ په خوا کي له (کلای نو) څخه نیولې بیا د هغه په جنوب کي تر (دولت یار) پوري غزېدلي پراته دي. د مذهب له پلوه دوی ټوله شیعه ګان دي. د فیروزکوهي یوه مېنه د پرشیا د نیشاپور په علاقه کي سته چي ښایي دا به د هغه لومړنیو (تاپیري) اولاده وي چي پلیني ئې نوم یاد کړی دی. د غور فیروزکوهي ادعاء لري چي له دوی سره ئې نسب مشترک دی. فیروز داسي یو نوم دی چي زیاتره د سلیمان د لړۍ د یو زیات شمېر افغاني قبیلو د څانګو تر منځ مونده کېږي. دا به ښایي د تېموري فېروزکوهي سره اړه لري خو زه د دوی د خېلونو او څانګو لیست نه لرم چي دغه ټکی روښانه

کړي. (تېموري) یا (تایموري) ښایي د سوداګر پېشه راجپوت له (تیپورا)، (تاپپورا) یا (تیپرا) څخه نمایندګي کوي.

داهي یا (دایي) یعني په خپله ټیک معنا هزاره، ځکه د هزاره کلمه په عامه توګه د ایماق د ټولو ښاخونو دپاره په کار اچول کېږي په هغه ملک کي اوسي چي ختیځ پلو ئې د کابل د پغمان لړی، غوربند او د غور علاقې راځي خو لوېدیځ پلو ئې کلای یهودي (د یهودو کلا)، چغچران او د (ګسلرمان) لړی موقعیت لري. د شمال په خوا کي د هندوکش ها بل پلو تر (روی) او سیغان پورې، خو جنوبي خواته د (ګلکوه) تر لړی او لېرې په غربي حد کي تر (تیری) او (دیراوت) پوري رسېږي. که په نورو الفاظو ووایو نو دا سیمه د غور نیمه ختیځه برخه ګڼله کېږي. دغه منطقه سر تر پایه په جګه سطحه کي واقع ده او د ځینو غرو څوکي ئې د سمندر تر سطحي شل زره فوټه جګي دي. د دې ملک زیاتره ځایونه هندي نومونه لري لکه (غوربند) او (غوري) چي معنا ئې غرنی سیمي کېږي. د پغمان نوم د جت د یوې قبیلې له نامه سره اړه پیدا کوي چي (پوغ) نومېږي. د چغچران نوم له چاک (ناحیه) او چاران (یعني د سندربولو شعر ویونکي خېل) څخه راوتلی دی. (ګسارمان) له (ګاسورا) سره اړه لري چي د سوداګر پېشه راجپوت قبیله ده. هزاره په افغانستان کي یو بېل قوم دی چي د یو شمېر مختلفو قبیلو یا نژادو له ګډېدو څخه جوړ سوی دی. د دوی غټ ښاخونه دا دي: داهي زنګي، داهي کوندي، داهي چوپان، داهي مارده، داهي فولادي، جاغوري، شېخ علي، باربري، ګاوي، بېسودي، کوبتي، نکودري او نور.

داهي زنګي د شپاړس زره کورنیو په شاوخوا کي ګڼل سوي دي. دوی د (سرجنګل سال) یا (لال)، (ساګسیز)، (واراس)، (زوري)، (سر کول) او داسي نورو کي تر چغچران پوري اوسي.

دوی دېري څانګي لري، په هغه جمله کي چي ټوله ئې شیعه ګان دي

ACKU

ځینې ځانګي دا دي:

| | | | |
|---|---|---|---|
| بچه غلام | بوبالي | دای کوندی | ساک – پائي |
| ساک – جوئي | تکاش | اوراروس | یانغور |

ساک یا ساک – پائي او ساک – جوئي احتمال لري د ساکا خپلونه تمثیلوي. په تبت کي (ساکا) چي لرغوني پرشیاوال ئې (سکای) او یونانیان ئې (سکوتوی) بولي (د نر او ښځي په ترتیب) د (سوک – پو) او (سوک – مو) په نامه یادوي. د (ساکسیز) علاقه ښایي چي د همدغه ساک یا ساک په نامه نومېدلې وي.

داهي کوندي د چغچران جنوب ته په هغه ملک کي اوسي چي لیري تر (تیري) او (دیراوت) (یا ده راوت چي [داهي راوت] تمثیلوي) پوري رسېدلي دي. تېری او دیراوت د کندهار له ښاره په شمالي خوا کي تقریباً سل میله لیري واټن لري. د دې ولس مهمي علاقې هغه دي چي د سنګ تخت، شیخ میران، ګیزین، هشتارلائي، ګالیګادي او نورو سره بلل کېږي. دائي کوندي شیعه مسلمانان دي خو د زیات تعجب خبره دا ده چي دوی خپل نسب د عربو د قریش له قبیلې څخه بولي. په افغانستان کي نوري قبیلې هم سته چي د ځان دپاره تر دغه لا په ناقص صورت د همدې ویاړلي محمدي نسب ادعاء کوي لکه د اباسین د ناوې کوریشي. خو تر ټولو ډېره چټې بیا هغه ده چي د کافرستان کافر یا د هغو ځیني قبیلې همدا راز بلل سوي دي. په هر حال واقعیت دا دی چي عربي (کوریش) یا (قریش) د راجپوتي (کیروچ) یا (ګورېش) یا (ګوریش) اسلامي بدیل یا پوټوونکی پوښ دی او په خپله ښایي د (کوروش) له هغې پرشیایي قبیلې څخه راوتلی وي چي(قیروس) ورپوري اړه درلوده. خو دا خبره چي داهي کوندي ولي د دغسي نسب ادعاء کوي ډېره نه ده روښانه ځکه دوی ښکاري د هغه لرغوني (زانتوي) اوسني نمایندګان دي چي سترابو ئې بیان کړی دی. سترابو په (xi. ۷ جغرافیه) کي وایي:

"هغه قومونه چي د کسپين د سمندرګي پر ختيځه خوا باندي اوسي لرغوني ليکوال ئې د (سکای) او (مساګيتای) په نامه يادوي. هغه کوچيان چي د دغه سمندرګي پر ختيځه غاړه باندي ژوند کوي اوسني ليکوال ئې (سترابو د ۲۴ ميلادي کال په شاوخوا کي مړ دی) (داهای) بولي او د (پارنوی) په لقب يادېږي". د (پارنوی) د نامه په باب زه نه يم بريالی سوی چي په افغانستان کي ئې د يوې بېلي يا مستقلي قبيلې په څېر يو څرک پيدا کړم. خو داهي، يا دای يا ديه د هزاره په ملک کي د دوی د زياترو قبيلو د پاره د يو بېلوونکي ملي لقب په څېر عام دول استعمال لري. خو دا خبره زه بايد ياده کړم چي (بارنی) يا (پارنی) هغه قبيله وه چي د خاريزم يا خواريزم – شاه پاچهانو اړه ورسره درلوده او د دوی پاچهي کورنۍ په ۱۲۲۲م کال کي د جنګېزخان له خوا ړنګه سوه. د ړنګېدو په زمانه کي د کورنۍ مشر سلطان محمد خوارزم شاه و، چي د هغه زوی مشهوره جلال الدين (منګ بارنی) نومېدی او د غزني حکومت ئې تر هغه مهاله په لاس کي و څو چي بالآخره د بريمنو مغلو له خوا څخه پسي واخيستل سو.

تر پورتني اقتباس وروسته په وروستي فصل کي ستراپو وايي: "زياتره سيتيان چي د هيرکانيائي له سمندرګي څخه راپيل کېږي د (داهای سکوتای) په نامه يادېږي او هغه چي ډېری ختيځي خوا ته پراته دي د (مساګيتای) او (ساکای) په نومو دي. نور پاته نو د سکيتيانو په عمومي نامه دي. خو هره ځانګړې قبيله ئې خپل خاص نوم هم لري. ډېري مشهوري قبيلې ئې هغه دي چي يونانيان ئې د (باکتريانا) له واکمنۍ څخه واچول. دوی (آريوي)، (پاسيانوی)، (توخاروي) او (ساکاراولوی) دي چي د (جاخارتيس) پوري خوا له هغه ملک څخه راغلي دي چي (ساکای) او (سغديانوی) ته مخامخ پروت دی او دا ملک په خپله هم د (ساکای) له خوا اشغال سوی و. د (داهای) ځيني قبيلې د (اپارنوی)، ځيني د (زانتيوی) او نوري ئې د (پيسوروی) په نامه دي. اپارنوی تر ټولو هير کانيا

او د کسپین سمندرګي ته ورځرمه دي خو نور بیا لیري تر هغه ملک پوري غزېدلي دي چې (آریا) ته مخامخ پروت دی".

د هغو قبیلو په باره کې چې یونانیان ئې د باکتریانا له واکمنۍ څخه واچول، وروسته به موږ وږغېږو. خو کومې قبیلې چې د (داهای) زموږ د داهي په نامه دي، په هغو کې (اپارنوی) له (پارنی) سره یو شی ده چې وړاندې ئې یادونه وسوه او زانتیوی د اوسنی کهوندي له خوا تمثیلېږي خو پیسوروي زه موجود بېسودي یا بیسودي بولم چې همدا اوس به خبري وربانديي وسي.

سترابو د خپل بیان په ادامه کې وایي: "له داهای سکوتای، هیرکانیا او پارتیا څخه بیا لیري تر آریا پوري په دې منځ کې یو خورا لوی بتې بیابان پروت دی چې دوی د اوږدو سفرونو په وسیله له هغه څخه راتېر او هیرکانیا ته راتوی سوه چې د نیسایانو ملک دی او د پارتیا هوارو سیمو ته راغله. د نورو کوچیانو د ژوند ډول همدغه راز دی چې دوی پرله پسې پر خپلو ګاونډیانو حملې کوي او بیا نو له هغو سره سولې ته رسېږي".

ما د سترابو پر نورو ځرګندونو سربېره د خبرو دغه برخه هم په دې سبب را اقتباس کړه چې د میلادي پېړۍ په سر کې د داهای سکیتیانو د ژوند ډول چې ده بیان کړی دی همدا اوس بېخي ټکي په ټکي د ژوند له هغه طرزه دسره برابر دي چې د دوی د اولادې له خوا پر هم هغه سیمه باندې تر دې نن ورځې پوري د عادت په اساس پالل کېږي. رشتیا هم فقط هغه بله ورځ چې د روسیې برېمنو وسلو د سپین تزار واکمني تر دغو یاغي ډلو پوري راوغزوله نو موږ په ډاډه ټوګه وختي لا دا اټکل کولای سو چې دغه واکمني به دغو ښوراندې بربریانو ته د یو متمدن او منظم حکومت هغه نعمتونه راوړي چې سوله، پرېماني او سوکالي به ورسره ملګري وي.

د افغانستان د موجوده اوسېدونکو تر منځ د هغو قبیلو د اولادې پېژندنه چې د پورتنۍ یادوني سره سم ئې د باکتریانا واکمني د یونانیانو له

لاسه څخه وایسته یوه آسانه خبره نه ده بلکې دغونه ګرانه ده لکه د هغه چا د اولادو پېژندنه چې لاس ئې له دې واکمنې څخه وختی. له هر څه سره حقیقت دا دی چې دغه سکیتي هجوم تر دې چې څوک ئې یو سوچه نظامي بری وبولي په اصل کې د یوبشپړ ولس ستر مهاجرت و چې سر ته ورسېدی. د دغه مهاجرت بهیر که د څو پښتونو (نسلونو) یوه دوره نه وي نیولې خو بیا هم د یوې سوکه او مداومې پروسې په توګه ئې پرله پسې ډېر کلونه جریان درلودی. (آریي) موږ د اوسني وخت د (هراتي) په څېر پېژندلای سو چې د پخوانیو هندي لیکوالو (هراوي) تمثیلوي او ښایي چې د (هرایا) راجپوت سره یو شی وي. (پاسیاني) ښایي د لغمان او نجراب د موجود (پشه ئي) له خوا تمثیلېږي. دوی که څه هم اوس د افغانستان په تاجکو کې شامل سوي دي، خو له اصلي تاجک څخه ځانته یو بېل ولس دی او د ځان په خپل یوه خاصه لهجه خبري کوي چې ویل کېږئ ګرامر ئې هندي دی خو د پارسي، هندي او ترکي کلماتو یو داسي مخلوط دی چې ځیني پښتو او یو لږ څه عربي الفاظ هم په ګډ دي. توخاري که څه هم په لرغونې زمانه کې د آسیا د دې سیمي یوه مشهوره قبیله ده خو اوس په دغه نامه په افغانستان کې نه مونده کېږي. دوی هلته د توغ، توغیاني ترک، یا د باجوړ او کوز کونړ د ناوې د ترکلاني په وسیله تمثیلېږي. (ساکاراولي) ښایي د پاس کونړ د ناوې او چترال یا (کاشکار) هغه څوک ئي تمثیلوي چې (شاه کاتوري) بلل کېږي. په پخوا وختو کې هم توغیاني او هم کاتوري دواړه د اباسین د ناوې په ټوله سیمه کې له غرونو څخه نیولې تر سمندره پوري هر چیري خپاره وه. د دوی اولاده که څه هم تر ډېره ځایه د مسلمانانو په عمومي نفوسو کې له نظره غائبه سوې ده خو بیا هم په شمال کې له (هزاره) یا چچ او راولپنډۍ له علاقو څخه رانیولې بیا په جنوب کې د سند او ګجراټ تر ولایاتو پوري د دې پراخي سیمي په بېلابېلو برخو کې دلته هلته د دوی تیتو خپلونو د څرک له مخي اوس لا هم لټول کېدای سي.

د هویتونو پېژندنې چې زه ئې دا ګړی په لټه کې یم او د افغانستان موجود اوسېدونکو ته له هغو قومونو سره پیوند ورکوي چې د مستند تاریخ په شهادت موږ په دې ډاډه یو چې په لرغونې زمانه کې ئې دغه ځایونه اشغال کړي وه، چې اوس د افغانانو په لاس کې دي، له فیلالوجیکي نقطه نظره یوه مهمه نتیجه هم لري او ښایي چې د زیات شمېر هغو لهجو پر جوړښت باندي یو څه رڼا واچوي چې وینو زموږ د افغانستان د لویې ورشو په بېلابېلو برخو کې ویلي کېږي. دا موضوع سره له هغه چې ډېره په زړه پوري ده او د دغو ولسونو له ایتنولوجی سره مستقیم ارتباط لري خو زموږ د رواني څېړنې له دایرې څخه بېخي وتلې ده، رشتیا هم که ما حتی په لنډه توګه د هغو بېلابېلو قبیلو د ژبي د ځانګړ تیاوو، دودونو، رواجونو او روایاتو یوه څېړنه پسي را اخیستې وای د افغانستان په ساحه کې زما تر کار لاندي دي نو موادو به ئې څو ټوکه لوی کتابونه ډک کړي وای. په داسي حال کي چې زما ستونزه اوس دا ده چې د افغاني قبیلو په باره کې هغه خبري چې زه ئې ویل غواړم باید د امکان تر حده ئې په دونه یوه وړه ساحه کې راټولې او مرتبې کړم چې معلومات ئې هغې درجې ته ونه رسېږي چې څوک په ونه پوهېږي. که څه هم ښایي دغه بیانونه به هغه چا ته ګډوډ او بې خونده ښکاره سي چې له دې موضوع سره آشنایي ونه لري او یا به هغه چا ته بې له شکه زاړه وایسي چې افغانستان او د هغه ولسونه ئې د څېړنې یوه خاصه موضوع ګرزولې وي. خو حتی د دوی په نسبت هم زه د دې هیلې جرئت کوم چې دلته وړاندي سوې کلې کتنه له ځینو ټکو څخه پر یوه مخ نه ده خالي او د عمومي طرحي په دائره کې ئې دلته هلته په زړه پوري تازه مطالب او نوي معلومات هم راغلي دي. زه دې ته وخت نه لرم چې د نورو کسانو هغو پلټنو او پېژندنو ته مراجعه وکړم چې د څېړنې په دغه ساحه کې ئې سر ته رسولي دي، چې زموږ دغه پلټنه ورته متوجه ده او نه هم د هغو مثالونو د یادوني دپاره مجال لرم چې د همدې رواني موضوع په باب زموږ

له کتنو او نتائجو سره ښايي موافقت او يا مخالفت ولري، خو زه بايد دونه ووايم چي په دې ليکنه کي زما د څرګندونو او پېژندنو ټوله مجموعه زما د هغو شخصي پوښتنو او کتنو نتيجه ده چي د همدې خلکو تر منځ مي په هغه دوران کي سر ته رسولي دي چي زيات کلونه مي د دوی د ملک په سرحداتو کي هستوګه کوله او کله ناکله ئې ملک ته دننه په سفرو باندي تلم. ما د خپلو خبرو په تائيد او تصحيح کي د لرغونو ليکوالو هغو آثارو ته مراجعه کړې ده چي له دې نوموړي سيمي سره اړه لري او هم مي د وروستی زمانې او معاصرو سياحانو پر ليکنو باندي حوالې کړي دي.

داهي چوپان په قره باغ، ناورو ګلکوه، روزګان، سرآب او د ارغنداب د ناوې په پاسنی برخه کي اوسي. د دوی غټي څانګي دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| الدائي | بېبود | بوبک | چاردسته | درزای |
| باچک | بتی | باينتان | بايتامور | اوراسي |
| اسفنديار | پاينده | شېره | ترغانې | |

له دغي جملې څخه (الدائي) ښايي له (الجايتو) څخه نمايندګي کوي چي يوه مغلي قبيله ده. بوبک د پهيباراجپوت څای نيولی دی. درزای د پرشيا هغه (درزي) قبيله تمثيلوي چي دمخه ئې يادونه وسوه. اسفنديار يو پرشيايي نوم دی. بايتامور مغل دی. بېبود معنا (بې کوره) يا (بېوزله) کېږي. چاردسته معنا (څلور پوځي ټولی)، (څلور نظامي قطعې). باچک ښايي د (باچل) راجپوت څای نيولی وي، او (بتي) د يادو مربوط (بهتي) تمثيلوي. که دغه خبره ټيک وي نو دوی له بوبک سره يو څای هندي منشأ لري او په پخوا وختو کي چي کله ئې د ملک دغه برخه اشغالوله له بټني بودايانو سره متحد وه. داهي چوپان اوس نژدې اته زره کورنی ګڼل کېږي خو په پخوا کي يوه ګڼ شمېره او پياوړې قبيله وه. د مغلي واکمنی په زمانه کي يعني د ديرلسمي او څورلسمي پېړيو په دوران کي د افغانستان پر دغه برخه (چي کندهار، غور او نور ئې شاملوله) د څو پرله پسې مغلي

شازادګانو ولایتي حکومت و. (نیکوداراوګلان) یعني (بادار نیکولاس) چي د مغلي امپراتور هلاکوخان ځوان زوی و، پخوا تر هغه چي د جنګېزخان له شاهي کورنۍ څخه د نهم امپراتور په څېر په ۱۲۸۲م کال کي د پرشیا پر تخت باندي کښېني، د کندهار او غور ملک ئې د خپل ولایتي حکومت په څېر تر لاس لاندي و. د مغلي واکمنانو له جملې څخه دی هغه لومړی واکمن و چي اسلام یې ومانه. (لکه څنګه چي دا خبره د ډي. هیربیلوت له خوا په هغه بیان کي راغلې ده چي د خوندامیر په حواله ئې راوړې ده). کله چي پر ده باندي د احمد نوم کښېښوول سو نو ئې مسلمانانو ته زیاته پاملرنه کوله. ویل کېږي چي د ده مسلمانېدو په کورنۍ او حکومت کي ده ته ډېري ستونزي راوپاخولې، ځکه مغلي تاتارو په دغه وخت کي له مسیحیانو سره زیاته پلوي څرګندوله او له مسلمانانو څخه ئې خورا ډېره کرکه کوله، نو احمد هیڅ نه سوای کولای چي په دوی باندي خپل نظریات ومني. د ده وراره ارغون (چي د ده د مشر ورور (اواکا) نومي زوی او په دین مسیحي و) چي د پاچهۍ له تخت څخه ګوښه کړه سوی و د خپل اکا په مقابل کي یاغي سو او دوه کاله وروسته د هغه د مړیني سبب وګرزېدی. په دې پېښه مسلمانان خورا ډېر خواشیني سوه. ارغون د احمد - نیکودار پر ځای کښېنوست او د خپلي واکمنۍ په دریم کال کي ئې دوه صدراعظمان یو په بل پسې اعدام کړه. خپل ځان ئې د هغه سعدالدولهٔ یهود کالخوائۍ ته وروسپاره چي د مسلک په حساب طبیب و او په بشپړه توګه ئې د سلطان ارغون باور تر داسي اندازې ځان ته جلب کړی و چي د امپراتورۍ ټولي چاري که دولتي وې او که شخصي، د غټانو تر امتیازاتو پوري د ده له اعتماد او مهربانۍ سره تړلي وې. دې سړي نو ټوله یهودیان او اسرائیلیان خورا جګي درجې ته ورسول، بې له دې څخه چي په هغو مسیحیانو لاس ووهي چي همدارنګه د سلطان ارغون په دربار کي ډېر زیات پیاووړي وه. یوازي مسلمانان وه چي په دغه وخت کي ئې کوم

اعتبار یا نفوذ نه درلودی او دوی تل تر تله د خپلو حریفانو په مقابل کي زونګ زونګ کاوه. ځکه ارغون د دې حریفانو په لمسون مسلمانان له خپلو ټولو قضائي او مالي مقامونو څخه ایستلي وه او هم ئې حتی اجازه نه درلوده چي د ده قرارګاه ته لاره وکړي او دربار ته ورسي. مسلمانان وایي چي ارغون له مسیحیانو سره ژمنه کړې وه چي د (مکې) عبادتځای په مسیحي کلیسا باندي واړوي لاکن تقدیر د ده د طرحي مخه ونیوله ځکه ارغون په دغه وخت کي ناجوړه سو او په دې پسې ډېر ژر په ۱۲۹۱م کال کي مړ سو. یهودي صدراعظم چي د اوضاعو دغه بحراني حالت ته کتله نو په بېړه ئې مسلمانان بیر ته خپل پخواني دریځ ته ورسول اما دی هم په دغه وخت کي د خپلو دښمنانو له خوا څخه ووژل سو. ډي هیربیلوت وایي چي د ابوالفداء له څرګندوني سره سم یهودي سعدالدولة (یعني د دولت نېکمرغي) په خپله د ځان غاړي پرې کړې ځکه پر ده باندي دا ګومان راتلی چي سلطان ئې په زهرو وژلی دی. په هر حال دا خبره یقیني ده چي د یهودو دښمنان چي په حکومت کي ئې د دوی په زیات نفوذ باندي کست کېدی او ددوی له لاسه څخه ئې ډېر تاوانونه لیدلي وه، اوس یې د سلطان ارغون او دهغه د وزیر له مړینې سره ده مجال ومندی چې د یهودیانو په یو مخیزه غته وژنه له دوی څخه غچ واخلي. تر سلطان ارغون پسې پر تخت باندي (ګنجایتو) کښېنستی چي د (اواکا) زوی و او د څلورو کلونو تر واکمنۍ وروسته د (بایدو) له خوا ووژل سو. بایدو چي د تارګای زوی او د هلاکو لمسی و په ۱۲۹۴م کال کي د همدان پر تخت کښېنستی. دلته باید زه دا خبره یاده کړم چي همدان په لویه مېدیا کي لرغوني (ایسباتانه[۱]) ده او خپل اوسنی نوم ئې د لرغوني ښار له یوناني نامه څخه اخیستی دی چي د (د سترابو په جغرافیه کي ۱۱ .xi د هغه له بیانه سره سم) د پرشیایي پاچهانو هغسي

---

[1] Esbatana

ژمنی استوګنځای و – xaima□iov. Khaimadion – لکه د هغو مقدوني شاهزادګانو چي پرشيايي امپراتوري ئې راچپه کړه او سوريه ئې واخيسته. د سترابو په زمانه کي لا هم د (پارتيا) پاچهانو له دغه ځايه څخه په هم دې مقصد استفاده کوله. غازان يا قازان چي د سلطان ارغون زوی و او د خپل پلار د مړيني له وخته راهيسي ئې د خراسان حکومت په لاس کي و، (بايدو) ئې له واکمنۍ څخه واچاوه او وئې واژه. غازان نو اوس د امير نوروز په مرسته د پاچهۍ تخت ته ورسېدی. دغه امير نوروز د ارغون اغا زوی و. (ارغون آغا هغه څوک و چي د جنګيزخان د اولادې تر واکمنۍ لاندي ئې (۹) دېرش کاله د کندهار او غور حکومت په لاس کي و) امير نوروز د خپل پلار تر مړيني وروسته ځان له سلطان ارغون سره پيوند کړی و او د ده په دربار کي تر هغه وخته پاته و څو چي د ده ملګري او خپل امير بيګو اعدام سو. کله چي دی له همدغه شان سرنوشته څخه وډارېدی نو افغانستان ته وتښتېدی او هلته ئې تر مسلمانېدو وروسته د اسلامي دين د دښمنانو په مقابل کي جګړې پيل کړې. له همدې جهته ئې نو د غازي لقب واخيستی. (د دې اقداماتو په جريان کي واردواره له شاهزاده قازان سره مخامخ سو چي د ولايت حاکم و خو امير نوروز غازي له ده سره ژمنه وکړه چي که دی اسلام ومني نو به ئې پر هغه تخت باندي کښېنوي چي بايدو اشغال کړی دی. قازان د فيروزکوه د ښار په عام محضر کي دغه دين ومانه او زيات نور کسان چي په ده پسې وه هغه هم اسلام ته راواوښته او د ده له ډلي سره يو ځای سوه. قازان نو اوس د نوروز په لارښوونه د بايدو په مقابل کي جګړه ونښلوله او بايدو ته ئې صرف د هغه د اتو مياشتو تر واکمنۍ وروسته ماته ورکړه او په آذربايجان کي ئې وواژه.

قازان چي اسلام ته راواوښتی نو د محمود په نامه باندي وبلل سو او له همدې نامه سره په ۱۲۹۴م کال کي د پرشيا تخت ته وخوت. امير نوروز ئې د هغه د ښو خدمتونو په بدل کي د خراسان په حکومت باندي وټاکه،

خو کله چي د نارضائي تر ګومان لاندي راغی نو یو لښکر ئې د هغه مقابلې ته ورولېږه. نوروز نو په دې وجه د پناه موندلو دپاره په تېښته خپل زوم او ساتندوی فخرالدین ملک کورد ته ځان ورساوه، خو دغه بې پاسه سړي چي د قازان له غچ اخیستني څخه ډارېدی او هم ئې له هغه څخه چي د ده واکمن و د زیاتي مهرباني هیله درلوده نو بې نوروز د سلطان جنرال ته وروسپاره او هغه بې له درنګه څخه وواژه. قازان نو له دې سره سم په ۱۲۹۸م کال کي خپل ورور الجایتو د خراسان حکومت ته وټاکه. الجایتو په واردواره کي له ملک کورد سره په دې سبب ډېري لانجې درلودې چي امارتونه ئې یو او بل ته څرمه پراته وه، څو چي د یو اسلامي مفتي په منځګړیتوب د دوی تر منځ سوله ټینګه سوه. الجایتو په ۱۳۰۳م کال کي د خپل ورور قازان پر ځای کښېنستی. کله چي ده هم اسلام ومانه نو د غیاث الدین محمود په نامه یاد سو چي معنا ئې (د دین ساتندوی) کېږي. له دې سره ئې د (خدابنده) پارسي لقب هم واخیستی چي معنا ئې ده (د څښتن چوپړی). دی یو جدي مسلمان و او په خپله دوولس کلنی دوره کي ئې پر مسلمانانو او په تېره بیا د علي د فرقې پر پیروانو یعني شیعه ګانو باندي خورا زیاته پېرزوینه درلوده. ده د سلطانیه ښار ودان کړ او هغه ئې د خپلي امپراتوری مرکز وګرزاوه. په الجایتو پسې د هغه زوی ابوسعید راغی چي دوولس کلن زلمی و. دا هلک د امیر چوپان تر روزني لاندي و چي هغه د (نوویان) درجه درلوده او هم ئې د ده د ښوونکي او هم ئې د ده د لښکرو د ستر قوماندان په توګه دنده اجراء کوله.

امیر چوپان تر هغه مهاله چي د سلطان له خوا وژل کېدی د امپراتوری چاري ئې د مطلقه قدرت په توګه اداره کولی. سلطان پر دې ورسره بدورده سو چي چوپان خپله لور هغه ته نه ورکوله. (که څه هم ده په خپله په ۱۳۲۱م کال د سلطان له خوره سره واده کړی و). چوپان وختي لا خپله لور د امیر حسن ایلخاني په نامه کړې وه چي د شیخ حسین زوی و.

امیر چوپان په خپل اردو کي یو کپتان درلودی چي (ساین) یا (سېن) نومېدی او دا په څرګنده توګه یو هندوئي نوم ښکاري. چوپان دغه کپتان د سلطان په دولت کي د وزیر یا صدراعظم مقام ته ټاکلی و. په هغه شخړه کي چي د سلطان او د ده د پخواني استاد امیر چوپان تر منځ پېښه سوه، نوموړی (سېن) د امیر له منافعو سره خیانت وکړ او د دې خیانت په نتیجه کي د ده زوی (دامشک) ووژل سو، چي د سلطان په دربار کي ئې هغه وخت د یرغمل په څېر پرې ایښی و، چي کله دی په خپله بیر ته خراسان ته راتلی او (سېن) ئې د خپل زوی په بدل کي له ځانه سره د یرغمل په ډول رارهي کړی و. امیر چوپان چي کله د خپل زوی د وژلو خبر واورېدی او د سلطان په دې اقدام خبر سو چي د ده د ختمولو او د ده د ټولي کورنۍ د پوپناه کولو امر ئې صادر کړی دی نو ئې سمدستي خیانت کاره (سېن) اعدام کړ. (څرنګه چي امیر چوپان په خراسان کي ډېر زیات قدرت او شهرت درلودی نو د هغه په افسرانو کي داسي څوک نه وه چي د سلطان امر ته غاړه کښېږدي). تر دې وروسته نو امیر چوپان د اویا زرو سپرو په شمېر له یوه اردو سره مخ د قزوین پر لور حرکت راوکړ چي هلته سلطان د ده سره د مقابلې دپاره خپله قوه رادمخه کړې وه. کله چي دوی شاهي قرارګاه ته ورنژدې سوه نو تقریباً نیمه قوه له امیر چوپان څخه ولاړه او د سلطان خوا ته ورغله. امیر چوپان چي کله خپل ځان په داسي حال کي ولیدی چي هغو غټو افسرانو یوازي پر میدان پرېښووی چي خپلي ټولي ښې او ښادۍ ئې خاص د ده په توجه موندلي وې نو په بېړه د (ناوبنجان) (نیهبندان) د دښت له لاري د خراسان خوا ته پر شا ولاړی. خو څرنګه چي د پلویانو غټ شمېر له ده څخه تللی و نو ئې ولیده چي په خراسان کي خپل دریځ نه سي ساتلای. ده فیصله وکړه چي مخ تر کستان ته ونیسي او هلته د سلطان ابو سعید له دښمنانو سره یو ځای سي. خو کله چي د مرغاب سند ته ورسېدی نو ئې خپل تصمیم وګرزاوه او بیر ته تر شا رارهي سو څو ځان

د هغه غياث الدين ملک کورد غبرګي ته ورواچوي چي د زلميتوب له وخته څخه ده روزلی او د آسيا په لښکرو کي ئې لومړيو مقاماتو ته خېژولی و. خو ملک کورد هم د نورو په شان له ده سره چنداني وفا ونه کړه. ځکه په دغه وخت کي ئې د سلطان له خوا څخه يو بېړني پيغام اخيستی و او په هغه کي ده ته غوړي وعدې ورکول سوي وې چي که د چوپان پرېکړی سر ورته راورسوي نو به ډېر انعامونه ورکړي. له دغه راغلي مېلمه سره د دې بې پاسه کوربه لومړی ليدنه هغه وه چي د ده د جلاد له خوا څخه اجراء سوه.

د امير چوپان سر سلطان ته ورولېږل سو خو د ملک کورد دې ناوړه کړو ته کومه جايزه ور نه کول سوه. ځکه سلطان په دې وخت کي د امير حسن د رضايت له لاري (چي خپله نامزاده ئې په دغه منظور طلاقه کړه) په دې بريالی سوی و چي د امير چوپان د لور بغدادخاتون سره واده وکړي او اوس نو (کورد) د دې پر ځای چي د سلطان دپاره ئې يو خدمت کړی دی په دې ګناه نيول سوی و چي د ملکې پلار ئې وژلی دی. د شاهي دربار هغه مقام چي کورد ئې د ځان دپاره آرزو درلوده، په عوض کي راضي سوي حسن ته ورکول سو. ملک کورد د دغي ناامېدۍ په انتقام کي د امير چوپان زوی (جلائير) وواژه. جلائير دلته د کورد پاملرني ته ورسپارل سوی و چي د خپل ماما يعني سلطان دربار ته ئې ورسوی ځکه د سلطان د خور (سيتي بېګ) زوی و چي امير چوپان ته ناسته وه. هغه محل چي امير چوپان او د ده زوی جلائير هلته د ملک کورد له خوا ووژل سوه د (کاکي) يا (خاکي چوپان) په نامه يادېږي او دا د هغه سړک په اوږدو کي چي له کندهاره تر کلابيسته پوري تللی دی د تم کېدو يو پړاو دی چي له کندهاره څخه لوېديځ پلو تقريباً پنځوس ميله فاصله لري. همدغه چوپان هغه څوک دی چي د داهي چوپان په نامه هزاره دا ادعاء لري چي د دوی ستر نيکه ګڼل کېږي.

داهي مارده په (دشت يهود) يعني (د يهوديانو بېديا)، سوخته،

بېسود، د هنه غوري او داسي نورو ځايو کي اوسي. دوی په شمېر تقريباً شپږ زره کورنۍ ګڼل سوي دي. دوی هغه (ماردي) تمثيلوي چي پليني ئې يادونه کړې ده او نن ورځ ټيک په هم هغه ځای کي اوس چي نوموړي ليکوال د ميلاد د لومړۍ پېړۍ په زمانه کي د هم دغه ولس په نامه ياد کړی دی. پليني وايي (Nat. Hist. vi. ۱۸) چي: "د مرګيانا (بالامرغاب) د سيمي له غرنيو جګو ځايو رانيولې د ققفاز (هندوکش) د لړۍ په اوږدو کي د (ماردي) په نامه بدوي توکم اوسي چي يو آزاد ولس دی، (دغه خصوصيات ئې زموږ د وخت له داهي مارده سره په هم هغه اندازه پوره سمون خوري لکه څونه چي ئې د ده په وخت کي سمون خوړی) او ليري تر (بکتري) پوري غزېدلی پروت دی". بکتري د بلخ د وګړو پر ځای استعمال سوی دی او د پليني ټوله پورتنی بيان چي د داهي مارده د موقعيت او خصلت په باره کي په صحيح توګه تشريحات ورکوي بالکل ئې له هغه اوسني حاله سره سر خوري چي دوی موږ دا نن ورځ په افغانستان کي وينو. دوی تر دا اوسه هم په رشتياني معنای بدوي او آزاد ولس دي، ځکه سره له دې چي دوی د افغانستان په زړه کي پراته دي خو چا ته ماليه نه ورکوي او له افغانانو سره د مواصلاتو له بابه ډېري لږ ي اړيکي لري.

د آرريان له بيانه سره سم (ماردي) د سکندر په زمانه کي تر هغو اوسنيو حدودو چي د افغانستان په لوېديځ کي د دوی پوله ټاکي نور هم لوېديځ پلو ډېر وړاندي غزېدلي پراته وه. آرريان (چي د مړينې نېټه ئې له ۱۸۲م کال سره برابره ده) موږ ته اطلاع راکوي چي سکندر د داريوش په لټونه پسي د (رهاګيز) ښار ته راغی (د دغه ښار کنډوالې د پرشيا د اوسني پای تخت تهران ختيځي خوا ته د سل ميلۍ په شاوخوا کي واقع دي). او له هغه ځايه څخه د پارتيانو مقابلې ته د کسپين له ابناګانو څخه تېر سو. هغه چي دلته د کسپين د ابناګانو په نامه يادي سوي د (فيرير) له خوا (د

خپل اثر [کارواني سفرونه] په پنځم ټوک کي) د (تنګي سرداري) یا د (سرداري تنګي) په څېر پېژندل سوي دي چي د (کوه توز) یا (د مالګې د تپې) په نامه د (البرز) د غره د هغه غاښي په منځ کي واقع دي چي د (ورامین) او (خار) بېدیاوي سره بېلوي. خو د آرریان بیان ته چي ادامه ورکړو نو دی وایي چي تقریباً په هغه وخت کي چي سکندر د کسپین د اېناګانو له منځه څخه تېر سوی و (یعني غالباً هغه مهال چي لیري تر اوسني شاهرود او بوستان پوري وړاندي راغلی و) نو د داریوش له اردو څخه (باغستانیس) چي بابیلي و ده ته راغی او خبر ئې ورکړ چي داریوش د بکتریا د حاکم (بیسوس) او د (اراخوتوی) او (درنګای) د واکمن (برازاس) یا (بارزاینتیس) له خوا څخه نیول سوی او په توقیف کي دی. د دې موضوع په باره کي زه باید دلته یادونه وکړم چي (باغستانیس) که بابیلی او یا نه وو اما ښایي په دې لحاظ ئې دغه لقب اخیستی و چي په (بابیلون) کي ئې کوم مقام یا دنده درلوده لاکن دا خبره که یقیني نه وي نو احتمال ئې ډېر ښکاري چي دی سکندر ته په دغه موقع کي له هغې سیمي څخه راغلی و چي تر دې نن ورځي (باغستان) نومېږي او (تون) ته ورڅرمه د خراسان په تپو کي موقعیت لري. (تون) چي د (توباس) یوه وړه برخه ده تقریباً د هرات په لوېدیځ کي راځي. د آرریان له بیانه څخه چي وایي سکندر د دغي رسېدلي اطلاع په نتیجه کي سوقیات په مخه واچول، همدارنګه څرګندېږي چي د داریوش اردو چي له هغه څخه (باغستانیس) راغلی و د پورته یاد سوی باغستان په سیمه کي دننه یا هغې ته ورڅرمه پروت و. آرریان وایي سکندر خپل نور اردو تر شا پرېښووی چي ورپسې راسي خو دی د یوې ټولګی سره را رهي سو او د دوو شپو او یوې ورځي د یوه بېړني مارش په سلسله هغې قرارګاه ته راورسېدی چي (باغستانیس) ځني راغلی و (احتمال لري چي دغه خبر راوړونکی د لاري اولیکي د ښوولو دپاره هم ورسره مل و)، خو دښمن ئې نه وموندی. سکندر

هلته په دې ډاډه سو چې داریوش په یوه ګاډي کې د بندي په څېر د (بیسوس) له خوا څخه ور ل سوی وي او وائې ورېده چې بیسوس له خپله باکتري آس او نورو ټولو بربریانو سره له دې ځایه تللی دی. خو (ارتاوازوس) او د ده زامن او یوناني اجیر پوځیان چې له (بیسوس) څخه بېل سوي وه نو لوی سړک ئې پرې ایښی و او د غرونو لوري ته ئې مخه نیولې وه. سکندر چې په دې جریان خبر سو نو په ټوله ممکنه بېړه ئې خپل تګ ته ادامه ورکړه او د لاري د وهلو دپاره ئې دغه شپه ګرده پر سر واخیسته څو چې دا بله ورځ د غرمې مهال کوم کلي ته راورسېدی چې هلته یوه ورځ دمخه هغه چا خپلي خېمې وهلي وې چې داریوش ئې د بندي په څېر را رهي کړی و. سکندر چې دلته کومه اطلاع واخیسته نو د هغې په اساس ئې نوره ټولې پرېښووله چې لوی سړک ورپسې راواخلي خو دی په خپله د پنځه سوه پیاده لښکرو سره چې پر آسانو سپاره وه ماښام ته نژدې مهال راوخوځېدی او په نهائي شدت په هغه سپېره سارا کي مخ ته ولاړی چې له اوبو څخه خالي وه او په دغه شپه کي د څلور سوه فرسخو لاري تر وهلو وروسته سبا وختي ګهیځ هغو بربریانو ته راورسېدی چې سمدستي یوې او بلي خوا ته په تېښته باندي تیت او پرک سوه. د هغو له جملې څخه یو شمېر کسان چې د خپلو وسلو په زور ئې مقاومت کاوه یو له بل څخه پرې سوه او بیا نو (بیسوس) او د ده ملګري چې خپل بندي ئې کاري ټپي کړ، د شپږ سوه سپرو د یوې ډلي سره له دې ځایه په بېړه ووتل او د پرشیایي پاچا مړی نو په دغه ډول د سکندر لاس ته ورغی. احتمال لري چې دا محل به هغه ځای وي چې (جستین) ورباندي ږغېدلی دی ځکه دی وایي چې داریوش د پارتیانو په یوه کلي کي په لاس کښېوتی چې (تهاره) نومېدی.

سکندر خپلي قواوې چې تر شا ئې پرې ایښي وې ټولي راغونډي کړې او د هیر کانیا (ګورګان یا جورجان) خوا ته ئې د هغو خارجي اجیرو

لښکرو په لټه پسي وګمارلې چي د داريوش نوکري ئې کوله. دوی د (ماردي) غرونو ته عقب نشيني کړې وه او غوښته ئې چي (ماردي) تر خپل تابعيت لاندي راولي. سکندر چي هيرکانيا ته ورننووت نو د خپل اردو يوه برخه ئې د (تيپوري) مقابلې ته واستوله او په خپله د (زادراکارتا) د ښار لوري ته ور رهي سو. په لار کي هغه يوناني اجير پوځيان چي د داريوش خدمت ئې کاوه او د ټولو شمېر يو زر او پنځه سوه کسانو ته رسېدی، سکندر ته تسليم سوه. همدارنګه (ماردي) د ده تر تابعيت لاندي راغله چي ښه جنګيالي خلک وه اما داسي خوار چي په فتح کېدو باندي نه ارزېده. دا مشخصات ئې د موجود (داهي مارده) هزاره په مورد کي ښېخي ټکي په ټکي سر خوري چي د تېر بيان له څرګندونو سره سم د دوی نيکه ګان په هيرکانيا کي اوسېدله.

سترابو د (اماردي) نوم له نورو هغو قبيلو سره يو ځای يادوي چي تر هيرکانيا پسي د کسپين د سمندرګي د غاړو په اوږدو کي اوسي. دی (په خپله xi. ۷ جغرافيه کي) د (ايراستوتينس) په حواله وايي چي (تپوري) (يعني د چارايماق له جملې څخه تيموري چي وړاندي ياد سوه) په هغه ملک کي پراته دي چي د هيرکانوی او اريوي (يعني ګورګاني او هراتي) تر منځ موقعيت لري. بله دا چي تر هيرکانيا د سمندرګي د غاړو په شاوخوا کي (اماردوي)، (انارياکای) (چي دمخه ياد سوی دی) کادوسيوی (اوسنی کورد)، البانيوی (اوسنی افغان) کاسپيوی، ويتيوی او البته نوري قبيلې دي چي (لوېديځ پلو) ليري تر هغو سکيتيانو پوري غزېدلي دي (چي د کسپين پر لوېديځ باندي واقع دي) همدا شان د هيرکاني پر دا بل اړخ (ختيځ پلو) ديربيکوی (د راجپوت د هربي - کي، چي د مرو په ترکمنو کي يوه پښه ده) استوګنه لري. بالاخره کادوسيوی (کورد) هم د ميديانو او هم د ماتيانوی سره پوري په پوري تر هغه (پراخواتروس) لاندي پراته دي (چي د البرز لړۍ ده او هلته اوس کورد په هغو تپو کي

اوسي چي د مشهد شمال ته واقع دي).

سترابو (xi. ۹) وايي (پارتیا) يو کوچنی غرنی ملک دی چي ګڼ ځنګلونه لري او کوم حاصلات نه ورکوي. په همدې دلیل نو هم تر پرشیايي واکمنی لاندي او هم تر هغه وروسته د یوې اوږدې دورې په زمانه کي چي کله مقدونیان د ملک باداران وه دا د پارتیا سیمه د مالیې د ورکولو په مقصد په هیرکانیا پوري تړل سوې وه. سترابو چي د لیکني نېټه ئې تقریباً د میلادي پېړۍ د پیل له وخته سره برابره ده په خپل بیان کي وايي چي اوس حاضر د دې سیمي ساحه غټه سوې ده. ځکه (کومیسین) او (خورین) (قم او خار) په اوس کي د پارتیا برخي ګڼلي کېږي او البته همدارنګه لیري د کسپین تر دهنو پوري هغه (رهاګای) او (تاپیروی) هم راکښېباسي چي پخوا ئې په مېدیا پوري اړه درلوده. دی زیاتوی چي (تاپیروی) ویل کېږي چي د (دیربیکوی) او (هیرکانوی) تر منځ اوسي. (دا فقط هغه محل دی چي اوس د ترکمنو او ګورګانیانو تر منځ تېموریانو اشغال کړی دی). سترابو د خپل بیان په ادامه کي وايي په دغو ملکونو کي چي موږ ورباندي ږغېږو ځکه ښورښونه پېښېده چي د (سوریا) او (میدیا) پاچهان چي پارتیا او نور ځایونه ئې په لاس کي وه، په نورو چارو لګیا وه او کوم څوک چي د پارتیا حکومت ورسپارل سوی و واردواره ئې د (باکتریانا) پاڅون ته لاس واچاوه. په دې پسې (ایوتایدیموس) او د هغه ډلي په هغه ټوله ملک کي چي دغه ولایت ته ورځرمه و بغاوت راوپاڅاوه. تر دې وروسته ارساکیس (ارساک) چي يو سکیتي و د (پارنوی) له کوچیانو سره يو ځای چي د داهي له جملې څخه يوه قبیله وه او د اکهوس (د آمو د رود هغه برخه ده چي د خېوې په هواره کي تېرېږي) پر غاړو ئې ژوند کاوه، پر (پارتیا) باندي ئې یرغل وکړ او د هغه ځای باداري ئې په خپل لاس کي واخیسته. (پارنوی وړاندي د بارني په نامه د هغي قبیلې په څېر یاده سوې ده چي د خوارزم شاهي کورنۍ اړه پوري درلوده) په

واردواره کي ارساکیس او دده اخلاف د هغه چا سره د جګړو په سبب کمزوري سوه چي دوی ئې مځکې ځني لاندي کړي وې. خو تر دې وروسته نو بیا د پرله پسې جګړو په وسیله دونه پیاوړي سوه چي په آخر کي ئې هغه ټوله ملک په لاس کښېوتی چي د فرات د سیند په حوزه کي دننه ئې موقعیت درلودی. دوی د (باکتریانا) له یوې برخي ځخه (ایوکراتیدس) او بیا سکیتیان د وسلو په زور پسي واخیسته. دوی اوس (د میلادي پېړۍ په سر کي) یوه امپراتوري لري چي د ملک یوه دونه لویه ساحه او دونه زیات قومونه کښېباسي چي په غټوالي کي تقریباً د رومیانو سره سیالي کوي.

سترابو د (XV.۲ جغرافیې) په یوه دمځني بیان کي چي کله آریانا تشریح کوي نو (خاآرین) په یوه داسي موقعیت کي ښیي چي یو چیري د ملک په کومه برخه کي د هند پر پوله واقع دی او زیاتوي چي "دغه محل تر هغو ټولو ځایونو چي د پارتیانو تابع دي هند ته ډېر ورځرمه دی". او دا چي (کراتیروس د هغو سوقیاتو په سلسله چي له هنده ځخه تر کارمانیا پوري راغی د ملک دغه برخه ئې پی کړه او تر ځېل تابعیت لاندي ئې راوسته). دغه (خاآرین) چي دلته یاد سوی دی د بلوچستان اوسنی (خاران) دی. ارساکیس چي د (ارساکیدیس) د هغي شاهي کورنۍ د مؤسس په ځېر دمخه یاد سو چي رومي قدرت ته ئې په آسیا کي خاتمه ورکړه او له ۲۳٦ قبل المیلاد ځخه ئې تر ۲۴۵ میلادي کاله پوري ۴۸۱ کاله پرله پسي یو دېرش پاچهانو په سلسله واکداری ته ادامه ورکړه، ډېر احتمال لري چي په هغه قبیله پوري ئې اړه درلوده چي اوس ئې هغه (ارسکي) یا (هرزګي) تمثیلوي چي د (مرو) د ترکمنو یو ښاخ دی. هرزګي یو ولس دی چي (کلاپروت) د هغه (کومان) یا (کُمان) په ځېر پېژندلی دی چي د کسپین د سمندرګي په شمال کي د بېدیا له ترکانو ځخه دی. د هغي سیمي په حدودو کي مېشته ترکمن چي زموږ پلټنه

ورپوري محدوده ده په خپل ترکیب کي د ساریک، سالور، تکاه، او ارسکي یا هرزګي (چي اروپائیان ئې کله کله ارساري هم لیکي) ځلور غټ ښاخونه لري. سالار د یوې ترکی قبیلې نوم دی او همدارنګه د راجپوت یوه قبیله په دغه نامه یادېږي چي د راجستان د شاهي تو کمونو له جملې څخه ده او په اصل کي د ساکاسکیتیانو له ډلي څخه یوه قبیله وه. د ترکي قبیلو ډېر نومونه د راجپوت د هغو خېلونو تر منځ مونده کېږي چي (تاد) د (راجستان په پېښه لیک) کي راوړي دي. دغه خبره موږ دې نتیجې ته رسوي چي راجپوتي شجرې نسبتاً په رانژدې زمانه کي ضرور تر هغه وروسته تدوین سوي وي چي ترکي مهاجمان او فاتحان د دې ملک د عمومي اهالیو سره ګډ سوي او په هغو کي ورک سوي دي. په دې ترتیب نو دوی د راجپوت پر څېر پېژندل سوي دي څکه چي د هغو ژبه، دودونه او داسي نور خصوصیات ئې اخیستي دي.

جاغوری چي ښایي (جاکهري) وي په جارمتو سوخته، جلګه، سنګماشه، د ارغنداب په ناوه، د ګلکوه په لړی او داسي نورو کي اوسي. د دوی شمېر پنځلس زره کورنی ګڼل سوی دی. دوی ټوله شیعه مسلمانان دي او له ډېرو ځانګو څخه جوړېږي، لکه:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| الاه | اتاه | المائیتو | بالانسر | بغره |
| باغوچاري | بلائیتو | بوبک | ګنجائیتو | ګرای |
| غاشی | ګوجرستان | | ایزدری | قلندر |
| مالیستان | ماما | موغائیتو | پشایي | شیرداغ |
| شوناسي | زاولي | ناسري | | |

د دغو نومونو له جملې څخه المائیتو ښایي د چالوک راجپوت د المایچه څای نیولی وي. بالانسر له بالابرهمن او ناسرجت څخه نمایندګي کوي. بغره د جت مربوط باګري تمثیلوي. بوبک د راجپوت مربوط بهیبا ځای نیولی دی. بلائیتو، المائیتو، ګنجائیتو او موغائیتو ټوله داسي

ښکاري چي مغلي نومونه وي. ګرای ترک دی او د هغه کرای سره یو شی دی چي د مشهد جنوب ته د زاوه په تپو کي اوسي. پشائي کټ مټ د لغمان د پشه ئي په شان دی. زاولي د زابلي ځای نیولی دی چي د زابل یا غزني اصلي اوسېدونکي ته ویل کېږي. شوناسي ښایي سونیاسي تمثیلوي چي هندي خیرات خوره مذهبي طبقه ده. ناسري د جت له ناسر څخه نمایندګي کوي. ایزدري ښایي د پارسي د یزدائي ځای نیولی وی. ګوجرستان او مالیستان همدا راز د کلیو او علاقو نومونه دي.

شیخ الي زما په ګومان د یونان ایولوی تمثیلوي. دوی په هغه ملک کي اوسي چي د بامیان شاوخوا، غوربند او د هلمند سیند سرچینې کښېباسي. دوی په شمېر تقریباً لس زره کورنۍ ګڼل سوي دي. له دوی څخه یو قسمت شیعه ګان او بل ئې سنیان دي. د دوی په څانګو کي دا لاندي نومونه شامل دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| درغان | کالو | حبش | تاتار | سکپا |

سکپا یا سوکپا د سکیتیانو له ساکا څخه نمایندګي کوي. تاتار هغه مغل تاتار دی. حبش د حبشي ځای نیولی دی چي د ابي سینا (حبشې = ایتوپیا) بومي تمثیلوي. ښایي دوی د هغو ابي سینائي (ایتوپیائي) مریانو له اولادې څخه وي چي په بلوچستان کي بومي سوي او بیا له هغه ځایه د غزني نژدې خوا ته راوستل سوي دي.

(زایدات) هغه نوم دی چي د وړاندي یاد سوی جمشیدي او فیروزکوهي ایماق دپاره په کار اچول کېږي، خو د دوی په جم کي یو شمېر هغه بېلابېل هزاره هم ګڼل کېږي چي زیاتره ئې د مرغاب د سیند شمال ختیځ پلو ته اوسي لکه:

| | | | |
|---|---|---|---|
| علی الهي | بلخي | داهي میراک | درغان |
| خواجه میري | سرپیولي | اونور | |

علي الهي د دې پر ځای چي یوه قبیله وبلل سي په اصل کي یوه

مذهبي فرقه ده چي پیروان ئې د علي پر الوهیت اعتقاد لري. بلخي او سریپولي د همدغو علاقو مربوط هزاره دي. داهي میر ک او خواجه میري غالباً د یوه خپل پښې دي چي البته په داهي مارده پوري اړه لري.

بابوري یا باربري د سرجنګل او لال په علاقو او همدارنګه د هري رود په پاسنۍ ناوه کي اوسي. د دوی شمېر تقریباً شل زره کورنۍ ګڼل سوی دی. دوی هغه (بیبریککوی) تمثیلوي چي سترابو ئې نوم یاد کړی دی (۳ .vii جغرافیه) او د جاتا یا ګیتای سکیت مربوط یوه تراکیانی قبیله ده.

ګاوی چي د شیخ الي هزاره ختیځ پلو ته په غوربند او هندوکش کي استوګه لري په مذهب باندي سني مسلمانان دي او د کورنیو شمېر ئې تقریباً د دوو زرو په شاوخوا کي ګڼل سوی دی. دوی ښایي د (هون) مربوط هغه (ګوئیي) تمثیلوي چي (دی ګوایګني) ئې د (هونیانو په تاریخ)[1] کي یادونه کړې ده او احتمال لري چي دې برخو ته په هم هغه زمانه کي چي د دغه ذات مربوط (ګیوګین) د خپل حرکت په جریان کي د اباسین ناوې ته ور تېر سوه او له هغه ځایه څخه د (ګوجر) په نامه په ټوله شمالي هند کي خپاره سوه.

فولادي، پولادي یا بولیدي له هغه بولیدي څخه نمایندګي کوي چي (پتولیمي) ئې نوم یاد کړی دی. دوی د ناور شمال ته د بیسود په علاقه کي او د بامیان جنوب ته د فولادي په ناوه کي اوسېږي. دوی په شمېر تقریباً شپږ زره کورنۍ دي او په شیعه فرقه پوري اړه لرئ. د دغي قبیلې یوه لویه مېنه په لوېدیځ بلوچستان کي موجوده ده او هغه وخت به ئې بیا یادونه وکړو چي زموږ بیان د ملک دغي برخي ته راورسېږي.

بیسودي چي له تېري یادوني سره سم سترابو (پیسوروي) بللي دي، له کابله څخه تر بامیانه د پغمان د لړۍ لوېدیځ ته د بیسود په علاقه کي

[1] DE GUIGNE ("Histoire des Huns")

اوسي. د دوی شمېر تقريباً څلوېښت زره کورنۍ ګڼل سوی دی چې د مذهب له پلوه ټوله شيعه ګان دي. دوی زياتې ورې څانګې لري چې غټې ئې دا دي:

| | | | |
|---|---|---|---|
| بابلي | بورګاجائي | دولت پا | دهکان |
| درغان | درويش | جهالک | جنګزائي |
| سرګائي | سوکپا | اونور | |

د جلال آباد په ناوه کي د بيسود په نامه يوه بله علاقه هم سته چې د کونړ او کابل د سيندونو د يو ځای کېدو تر منځ واقع ده، خو اوس هلته هزاره نه ليدل کېږي.

دهزاره ولس پر هغو خېلونو او څانګو سربېره چې وړاندي ياد سوه ځيني نور هم سته لکه د بيسودو (کوبتي) چي د کابل په لوېديځ کي اوسي. د ځينو کسانو له خوا دوی د بيسود يو ښاخ ګڼل کېږي او وايي چي شمېر ئې څلورو زرو کورنيو ته رسېږي. داسي ګومان کېږي چي دوی قبطي وي او منشاء ئې له مصر سره اړه ولري. خو دا چي دوی څرنګه دې اوسنيو ځايونو ته راغله يوه داسي خبره ده چي کورټ نه ده روښانه. د دوی اصلي مرکز په (کوه باران) کي دی او په (اشت دره) مګاسک، (سنګ شانده) او نورو ځايونو کي مېني لري. هغه حبش چي د شيخ الي په جم کي ئې پاس يادونه وسوه او د باميان او بلخ د نيمايي لاري تر منځ په (روئي) کي اوسي، ښايي له دغه (کوبتي) سره يو ډول تاريخي پيوند ولري. له بلي خوا بيا افغانان چي دغه (کوبتي) د مصري (Egyption) په عام نامه باندي بولي نو ممکنه نه ښکاري چي دوی به د نومونو د شباهت په نتيجه کي يوه هندی قبيله له يو مصري ولس سره د التباس په وجه ګڼه کړې وي او په دې ډول به نو د هندي بېديا (ميساري) ښايي واردواره مصري (Egyption) او بيا کوبتي (قبطي) بلل سوې وي. څرنګه چي دغه هزاره قبيلې له افغاني نسبه سره اړه نه لري نو يوه ئې لا هم په افغاني شجرو کي نه ليده کېږي. خو له دې سره

سره دوی د خپل نسب او داسي نورو په باره کي ځانته خاص روايتونه لري.
فولادي ځان د هغه افراسیاب له ذاته څخه بولي چي د توران د ولسونو لومړی ترکی نیکه و. بېسودي ادعاء لري چي دوی د (ساتوک کامر) او (ساتوک سوکرا) په نامه د دوو ورونو له نسله څخه را پیدا سوي دي. په دغو نومو کي ساتوک د درناوي دپاره یو ترکی لقب دی چي زموږ د (ښاغلي) او د پارسي ژبې د (خواجه) د کلمې معادل دی چي معنا ئې (آقا)، (سوداګر) او داسي نور کېږي.

کامر د یوې سکیتي قبیلې نوم دی چي په افغانستان کي ډېره ناپېژندلې نه ده او ښکاري چي په وختي کي د (سوراشترا) له راجپوت سره یو ځای سوې او لکه تاد چي وایي هلته بیا وروسته په (جیتوا) باندي واوښته. سوکرا د ساکا یا سکیتي سره یو شی دی چي (کامري) د هغه یو ښاخ ګڼل کېږي. شیخ الي هزاره خپل نسب له هغه توغیاني ترک یا (توخاري) سره تړي چي باکتریا ئې له یونانیانو څخه ونیوله. باربري یا بابري بیا ادعاء کوي چي نسب ئې د عربو له قریشو څخه دی. خو لکه څنګه چي ما په تېر بیان کي څرګنده کړې ده هغه کوربش چي په افغانستان کي یو شمېر بېلابېلي قبیلې خپل نسب ورسره تړي احتمال لري د راجپوت مربوط (کیروچ) وي چي (تاد) ورباندي ږغېدلی دی او په عمومي ډول د کوروش، ګورایش، ګوریچ او داسي نورو ډولو سره په افغانستان کي یادېږي چي هلته دغه نوم له یوې خورا لرغوني نېټې سره اړه لري. د هزاره ولس پر هغو خېلونو او څانګو علاوه چي وړاندي بیان سوه ځیني نور هم سته لکه (مونګول) او (صحرائي) چي د مرغاب د سیند د سرچینو شاوخوا او د غور د ملک په نورو برخو کي اوسي. دوی ادعاء لري چي د هغو نظامي کالونیوالو له اولادې څخه دي چي په دې سیمه کي د چنګېزخان او د هغه د لمسي منګو له خوا ځای پر ځای سوه. ویل کېږي چي دوی له نورو هزاره وو څخه توپیر لري او که څه هم په عمومي ډول د پارسي په هم هغه لرغونې

لهجه خبري کوي چي پرته له بلي هري ژبي د چارايماق او هزاره تر منځ رواج لري خو بيا ئې هم خپله اصلي مونګولي لهجه تر يوه حده ساتلې ده. د دغه مونګول او صحرائي (يعني سارائي وګړو) تر منځ نو (کدري) يا (نکودري) پيدا کېږي. امپراتور بابر د ۱۵۰۴ م کال د مني په موسم کي چي کله مخ پر کابل ور رهي و نو په لاره کي او هم تر هغه وروسته څو ځلي نور له دوی سره مخامخ سوی دی د هغه له خوا دوی د چارايماق د کوچيانو په جمله کي ياد سوي دي او داسي ښکاري چي د ده په وخت کي يوه خورا مشهوره قبيله ګڼل کېدله. نن ورځ ئې په افغانستان کي نوم چنداني نه اورېده کېږي او دا چي دوی (نکودري) يا (نوکدري) يادېده ښايي دا لقب به ئې د خپل پخواني سرخېل (نيکودار) له نامه څخه اخيستی و چي هغه د مغلي امپراتور هلاکوخان زوی و او دمخه تر دې چي د پاچهۍ پر تخت باندي کښېني د هزاره و دغه ملک يا غور ئې د خپل ولايتي حکومت يا امارت په توګه تر لاس لاندي و. بيا نو لکه څنګه چي په تېر بيان کي وويل سوه د اسلام دپاره ئې مسيحيت پرېښووی او خپل مسيحي نوم نيکولاس په مونګولي ژبه کي نيکودار ئې په احمد باندي واوښتی.

تايمني چي د ايماق د هغو څلورو قبيلو له جملې څخه دريمه قبيله ده چي دمخه ئې بيان تېر سوی دی، په نن ورځ کي له هغه (تمنای) څخه نمايندګي کوي چي هيرودوت ئې نوم ياد کړی دی. دوی همدا اوس کټ مټ هغه محل اشغالوي چي د دوی لرغوني نيکه ګانورباندي اوسېدله. د دوی غټ ښارګوټی (تايبره) يا (تايوره) نومېږي چي د خاش پر سيند باندي واقع او له هغه (زارني) يا (غور) څخه ليري نه دی پروت چي د غور د مملکت لرغونی پای تخت او د هغه سوري قوم مرکز و چي زموږ د افغانستان ټوله لوېديځه برخه ئې پخوا په لاس کي وه. تايمني چي د هرات او فراه تر منځ د غور د غرونو په جنوب لوېديځه برخه کي اوسي شمېر ئې تقريباً شل زره کورنۍ ګڼل سوی دی. دوی دوه غټ ښاخونه لري چي

(کبچاک) یا (کیپچاک) او (درزای) نومېږي. دا چې څرنګه او کله کبچاک اوزبک دغو برخو ته راغلي دي، ټیک معلومات ئې زما لاس ته نه دي راغلي. درازي، درزای یا دوروزی لکه دمخه چې ئې څرګندونه سوې ده له هغه لرغوني پرشیائي (دیروسیای) څخه نمایندګي کوي چې هیرودوت ئې نوم یاد کړی دی. په پخوا زمانو کي تایمني او درازي وګړو د غور د تپو لوېدیځي لمني او د هرات د ناوې ورڅرمه ځایونه نیولي وه. خو د سوري واکمنۍ له ځوړېدو سره دوی ختیځ پلو ته ولاړه او د هغه ملک ډېره برخه ئې اشغال کړه چې دمخه سوري ولس پر اړولي وه او له هغو سره ئې د ګاونډیانو په څېر هر کله ډېر یا لږ پیوستون درلودی. اوس دوی په زیاته اندازه د خاش او فراه د سیندونو په ناوو کي او هم د هغه (سیاه کوه) یا (توره غره) د لړۍ پر جنوبي لمنو باندي مونده کېږي چې د هندوکش مربوط د کوه بابا یو غاښی دی.

سوري – دې ولس په پخوا کي یو غټ او پیاوړی قوم جوړ کړی و چې د هزاره د اوسني ملک نیمه لوېدیځه خوا ئې نیولې وه او په دې ملک کي ئې د ځان یو خپلواکه وطني مملکت درلودی چې پای تختونه ئې په فیروزکوه او غور کي واقع وه. په نن ورځ کي دوی یوه خورا وړه ساحه نیولې ده او موجودیت ئې په هغو تپو پوري چې د ادرسکند د سیند له سرچینو څخه اوبېږي یا د (سبزوار) او (اساپزار) په ورڅرمه بېدیا پوري محدود سوی دی. په ۱۱۸٦م کال کي د دې قبیلې غټ سرخېل چې د غور وړوکی امارت ئې په لاس کي و البته د سلجوقي خانانو په مرسته چې تازه ئې د کندهار واکمني لاس ته راوړې وه او هم د خپلو هغو وطندارانو په کومک چې د غزني د سلطان په نظامي خدمت کي ولاړ وه، په دې بریالی سو چې په غزني کي د سبکتګین له خوا جوړه سوې د ترک شاهي کورنۍ راچپه کړي او پر ځای ئې د غور سوري کورنۍ پاچهي ته ورسوي. دا چې دغه سوري څوک وه د پلټني دپاره یوه په زړه پوري موضوع ګڼله کېږي. خو څرنګه

چې د زیاتي پلټنې دپاره ئې وخت نه لرو نو یوازې د یو څو لنډو څرګندونو په وړاندې کولو سره ئې بسېدنه کوو.

پلیني په خپل اثر (Hist. Nat. vi. ۱۸) کې وایي د الکساندریې په نامه ښار چې د سکندر له خوا د مارګیانا په علاقه کې جوړ سوی او بیا د بربریانو له خوا وران سوی و، د (سیلیوکوس) د زوی (انتیوخوس) له خوا پر هم هغه دمخني ځای باندې د یوه سوریایي ښار په شان بیا له سره نوی ودان سو چې د (انتیوخیا) په نامه ئې وباله. دغه ښار د مارګوس په سیند اوبېدی چې په منځ کې ئې بهیدی او تر هغه وروسته بیا یو شمېر ویالې ځنې راجلا سوي وې چې د (زوتېل) پر سیمه ئې اوبه لګېدلې. دا محل هغه ځای و چې (اورودیس) (ارساکیس xiv) زیاتره رومیان چې ژوندي پاته سوي وه د کراسیوس تر ماتې وروسته (تقریباً په ۵۴ قبل المیلاد کې) دلته راوستل. د پلیني دغه څرګندونه ښکاري هغه نظریه تائید کړي چې د (یوه سوریائي ښار په شان) له افادې څخه استنباط کېږي او هغه دا چې په دغه نوي ښار کې ئې د سورېې له اهالیو څخه د خپلو رعیتو یوه کالوني ځای پر ځای کړه او بل دا چې د افغانستان سوري قبیله له همدوی څخه منشاء اخلي. د پورتنۍ تشریح له مخې د انتیوخیا ساحه موږ باید طبعاً د مرغاب د جریان په کوزه برخه کې ولټوو. خو په دې باب زه کوم معلومات نه لرم چې آیا د نوموړي ښار د موجودیت کومې نخښې په دغه خوا کې کشف سوي دي او که یا.

لاکن د یو بل موجود ښار له نامه څخه د انتیوخیا د ربښتیانۍ ساحې یو څرک معلومېږي. اما دا ښار لږ څه لیرې د ختیځ خوا ته د یوه سیند په حوزه کې موقعیت لري چې هغه که څه هم د مرغاب د رود په څېر د غرونو له واحدې لړۍ څخه راوزي خو سرچینې ئې له هغه سره توپیر لري او په یوه بېله ځانته مجرا کې بهېږي چې له مرغاب څخه لیرې او یو څه فاصله لري. د اوسني (اندخوی) یا (اندیخویا) په وجود کې موږ نه یوازې د یوناني

نامه یوه نژدې تسمیه وینو بلکي د دغي وړاندي بیان سوي انتیوخیا سره ئې نور مهم ټکي هم پوره سمون خوري. دغه ښار هم له هغه سیند څخه اوبه خوري چي له منځه څخه ئې تېرېږي او ښایي چي په لرغونې زمانه کي به مارگوس نومېدی. خبره که په حقیقت کي دغسي وه او یا نه وه خو دغه سیند له ښاره څخه تر راوتلو وروسته د (زایدان) یا (زیداني) د سیمي د اوبو لګولو په منظور پر یو شمېر ویالو باندي وېشل کېږي. زایدان یا زیداني داسي یو نوم دی چي د پلیني د (زوتېل) له نامه څخه ډېر لیري نه ښکاري. اندخوی یا اندهکوی پرته له هغو ټکو چي د پلیني له خوا د ښوول سوي انتیوخیا سره سمون خوري ښایي د استدلال له مخي د الکساندریې د هغي ساحې نخښه وګڼل سي چي په غالب احتمال د هغو شپږو ښارونو له جملې څخه یو ښار و چي سکندر په بکتریا کي د هغه ولایت د دفاع دپاره ودان کړه. د هغه سیند نوم (سنګلک) دی چي اندخوی ورباندي جوړ سوی دی. خو د پلیني له خوا ښایي په دې حساب مارګوس بلل سوی وي چي د مارګیانا د ختیځي پولي په نهایت کي واقع دی.

خبره چي هر راز وي خو د (سوریائي ښار) سوري نن ورځ د هزاره چارایماق د سوري ځانګي له خوا څخه تمثیلېږي. دا پوښتنه چي دغه سوریایان یا سوري څوک وه البته نوره زیاته پلټنه غواړي.

انتیوخوس د سیلیکوس نیکاتور زوی په خپل دغه نامه د سورېې لومړی پاچا و. د ده مور (اپامه) چي د بکتریائي خان سپیتامینس (د آرریان په حواله) لور وه په ۳۲۵ قبل المیلاد کي د سکندر له خوا هغه وخت په (سوسا) کي سیلیوکوس ته ورکول سوې وه چي سکندر خپل جنرالان له وطني ښځو او پرشیایي شاهزاده ګیو سره د ازدواج په سلسله جوړه کوله. د سکندر د مړیني له وخته راهیسي د ختیځي پرشیا او د هند د فتحه سوي ولایاتو حکومت پوره لس کاله د سیلیوکوس په لاس کي و، څو چي تر میلاد دمخه په ۳۰۱ کال کي ئې د (ایسوس) د جګړې په وسیله

د سوریا د پاچهی تخت او د آسیا واکمني ونیوله او په دې ترتیب ئې نو د (سیلیوکیدیانو) شاهي کورنۍ تاسیس کړه. بیا ئې نو خپل زوی (انتیوخوس) ته د پاسنۍ آسیا (یعنې د خپلې دمخنۍ ستراپۍ چې له اوسني افغانستان او ترکستان څخه جوړه وه) حکومت د پاچهۍ له عنوانه سره وروسپاره او تر څو چې په ۲۸۰ قبل المیلاد کې د سوریې پر تخت تر خپل پلار وروسته کښېنستی، همدا حکومت ئې په لاس کې و. (انتیوخوس سوتر) تر میلاد دمخه په ۲۶۱ کال کې د یوې نونس کلنې دورې تر پاچهۍ وروسته مړ سو.

په دې ډول نو یوناني – باختري انتیوخوس دمخه تر هغه چې د سوریې پر تخت د پلار ځای ونیسي تقریباً شل کاله ئې پر افغانستان باندې پاچهي وکړه او د الکساندریې کنډواله سوی ښار ئې له نوي سره پر خپل پخواني ځای باندې د یوه سوریایي ښار په شان بیا ودان کړ او د انتیوخیا (اوسني اندخوی) په نامه ئې وباله. دا ښار البته په سر سره په هغه ملک کې واقع و چې د انتیخوس مور د همدې ملک له بومي اهالیو څخه وه او نوموړی ملک د (پروپامیسس) په هغه ولایت پورې و چې د انتیوخوس پلار څو کاله پخوا هندي پاچا سندارکوتوس یا چندراګوپتا ته د پنځو سوو فیلانو په بدل کې ورسپارلی و او د همدې فیلانو په مرسته سلیوکوس د (اپسوس) جګړه او د آسیا واکمني وګټله. د پلیني له بیانه څخه به ښکاره ښکاره څرګندېږي چې انتیوخوس د سیلیوکوس زوی تر هغه وړاندې چې د سوریې پاچا سي (انتیوخیا) ئې ودانه کړه. دا څرګندونه چې "د یوه سوریایي ښار په شان" داسې معلومېږي چې په ښکاره پر دې ټکي دلالت کوي چې هلته ئې سوریایان واچول څو دا ښار پر همدې محل باندې د دمخنې ښار یعنې الکساندریې له هغه سرنوشته څخه وساتي چې د بربریانو له خوا څخه ړنګ سوی و او همدارنګه دلته د اعتمادي سوریایانو یو ګارډ د پروپامیسس د ولایت پر سرحد باندې ولرې چې تازه د هند پاچا ته

ورسپارل سوی و.

له بلې خوا بيا دا هم امکان لري چې هندي پاچا د پروپاميسس د ورسپارل سوي ولايت له اخيستو سره ښايي د (سوريا) يا (سوريا بانسي) راجپوت يوه کالوني دلته اچولې وي څو د پرشيا او سوريائي پاچا ل، سيمو سره د خپل ولايت پولي وساتي. بله دا چې د هغې ښېښې په نتيجه کي چې د سيليوکوس او سندراکوتوس تر منځ ئې خپلوي راپيدا کړه او د هغو دوستانه مناسباتو په نتيجه کي چې د سوريائي او هندي حکومتونو تر منځ موجود وه ښايي د دغه نوي ښار کالخوائي هم دې نوو راغلو راجپوتي سوريا والو ته په واک کي ورکول سوې وي.

په پورتني اقتباس کي دغه د (سوريائي ښار په شان) څرګندونه په ښکاره پر دې باندي دلالت کوي چې دغه وراشه د هغه ملک په نسبت يوه قوي او خارجي غوندي خبره وه. اوس نو هغه پوښتنه چې بايد حل سي دا ده چې آيا دلته له سورېې څخه راغلي سوري او که له هنده څخه راغلي سوري واچول سوه. دا خبره يقيني ده چې د پروپاميسس د سوري ورپسې تاريخ له هنده سره تړلی دی، نه له سورېې سره او بل دا چې دوی له اوږدې مودې راهيسي د هندي قبيلو په جم کي پېژندل سوي دي چې هغه په خپله هم البته په لومړي سر کي ښايي له يوې ليري لوېديځې سرچينې څخه منځ ته راغلي وي.

خو دا خبره بايد ياده سي چې په نن وخت کي د سوري کومي بولګې د پروپاميسس په شمالي خوا کي نه مونده کېږي لاکن د جنوب پلو ته ئې د (چکناسور) يعني (د سور د خاوري يا سيمي) په کلا او علاقه کي او د (نادالي) (نادوري) په کلا او ښارګوټي کي چې دواړه د هلمند د سيند او د سيستان د حوزې تر منځ په بېديا کي واقع دي د پخواني راجپوت څرګندي نخښي ليده کېږي. هم (سورا) او هم (نادوريا) دواړه د ګاهلوت يا سيسوديا راجپوت د ډېرو مشهورو خپلونو نومونه دي. يوه بله خبره چې د

سوري سره د هندي علائقو په باب په يادونه ارزي دا ده چي د افغانستان دغه قبيله د اباسين پر پوله سر تر پايه په سند او هم د لرغوني سوراشترا تر ټاپووزمي پوري چي خپل نوم ئې دې ټاپووزمي ته هم ورکړی دی، هر چيري پراخه خپره ده. د سور پخوانی مرکز په افغانستان کي هغه ملک و چي عربو غور بللی دی. دا نوم البته د راجپوت د (گاور) يا (گور) سره اړه لري چي يوه قبيله ئې په دغه نامه ده او همدا راز د بنگال ممکت په دغه شان نامه باندي يادېږي چي وايي د (سپين، سپېڅلي) معنی ورکوي.

موږ اوس هغه غټي پرشيايي قبيلې وښوولې چي هيرودوت يادي کړي او د دې پلټني په پيل کي مو را اقتباس کړي وې. همدا راز څونه چي په لنډه توگه ممکنه وه د هغه گڼ شمېر قبيلو يادونه مو وکړه چي د افغانستان د اهاليو تر منځ مونده کېږي او نومونه ئې موږ ته يو چيري او بل چيري په مخه راغله. اوس زه د لرغوني پرشيائي امپراتوری د ځينو قومونو يادوني ته اقدام کوم چي نومونه ئې د هيرودوت له خوا د هغو شلو ستراپيانو په بيان کي ثبت سوي دي چي (داريوش هيستاپسيس) د خپلي امپراتوری حوزه د ماليې په خاطر پر همدې ستراپيانو باندي وېشلې وه. دا نومونه له دې پلوه د پام وړ دي چي له يو شمېر هغو قبيلو سره د يوه ارتباط نښي ښکاره کوي چي تر دې اوسه لا په افغانستان کي موجوديت لري.

هيرودوت په خپل تشريحي بيان کي وايي چي د ماليې د ټولولو په خاطر د امپراتوری په دغه تقسيم کي "يوازي پرشيايي خاوره په داسي توگه نه ده ذکر سوې چي تر ماليې لاندي ده، ځکه د پرشياوالو خپلي نيولي مځکي له ماليانو څخه معاف وې" دی زياتوي چي: "د دې شلو ستراپيانو په تشکيل کي داريوش پر هغو باندي حاکمان ودرول او ماليه ئې وټاکله چي له هره قومه څخه ده ته ورکول سي. په دې تشکيل کي ئې هم يو او بل ته څرمه پراته خلک له څو قومونو سره يو ځای کړه او هم ئې ځيني گاونډي خلک يو له بل څخه بېل او د ځينو نورو سره ئې وتړله چي

هغه ډېر ليري پراته وه".

هيرودوت د دغو تقسيماتو کوم مثال نه دی راوړی. لاکن کله چي د اوومي ستراپۍ په باره کي ږغېږي نو په څرګنده توګه وايي چي هغه څلور قومونه چي دغه ستراپي ئې جوړوله "ټول غونډ سره يو ځای وه" او دا هغه يوازنی مثال دی چي دی هلته له دې بابه کومه څرګندونه کوي. له دې څخه موږ دا نتيجه اخيستلای سو چي په نورو ستراپيانو کي نو په نامه ياد سوي قومونه ټول غونډ پر يوه ځای نه وه پراته. په هر حال د اوومي ستراپۍ په مورد کي د څلورو يادو سوو قومونو چي څو ځلي ئې د هغې په ترکيب کي نوم اخيستل سوی دی، اوسني نمايندګان کټ مټ په هم هغو نومونو چي هيرودوت ياد کړي دي د افغانستان په پرله پوري سيمو کي مونده کېږي. دغه خبره په خپله د همدې ستراپۍ د اصلي موقعيت او وسعت په باره کي هم دلالت کوي. همدا راز په يو شمېر نورو ستراپيانو کي چي کوم قومونه په ترتيب سره د هغو په جوړښت کي ياد سوي دي داسي معلومېږي چي يو او بل ته ورڅرمه پراته وه. له دې جملې څخه هغه څوک چي زموږ د پلټني په ساحه کي راځي، په خپله مناسبه موقع کي به ئې يادونه وکړو خو د نورو په باره کي دلته تر دې خبري اضافه نور بيان ته ضرورت نه لرو چي نن ورځ په افغانستان کي داسي ډېري قبيلې مونده کېږي چي نومونه ئې هغه راز دي لکه څنګه چي د کوچنۍ آسيا لرغوني قومونه ورباندي نومېدله.

د دغې موضوع په باب ښايي څو رازه حدسيات امکان ولري: که دا خبره په نظر کي ونيول سي چي هغه قبيلې او قومونه چي د لومړي سر مرکزونه ئې (لږ تر لږه د داريوش هيستاپسيس په زمانه کي) د لرغوني پرشيايي امپراتورۍ د لوېديځو ولاياتو په نهايي برخو کي واقع وه، نن ورځ، لکه څنګه چي ئې زه د ثبوت هيله لرم، د نوموړي امپراتورۍ د ليري ختيځو ولاياتو په سيمو کي موجوديت لري نو دا حدس زموږ فکر ته راولي

چي ښايي د مالياتو د تاديې په منظور له بېلابېلو اقوامو څخه يو ځای سوې پخوانۍ ټولنه تر څو زمانو وروسته د امپراتورۍ د مالي ترتيباتو پر بنا د يوه يا بل راز نوو تقسيماتو په سلسله غونډ يو ځای په يو بل ولايت کي خپل محل ته راوستل سوي وي. يا خو ښايي قومونه او قبيلې چي د کورنيو انقلابونو يا دباندنيو فتوحاتو په سبب له خپلو مرکزونو څخه ايستل سوي دي نو د ماليې د تادياتو پر بنا د جوړي سوي پخوانۍ ټولني په روحيه په خپلو نوو مېنو کي د متقابلي حمايې په منظور د دوستانو او متحدينو په څېر ټول سره يو ځای سوي دي. يا خو احتمال لري چي ښايي د پاچا په امر له خپلي بار و بنې سره خاص د نظامي مقاصدو يا پانياتي مجازاتو په وجه د امپراتورۍ له يوه سره څخه بل سر ته لېږدول سوي وي.

د دغه وروستي ډول لېږدوني په باب هيرودوت يو مثال راوړی دی چي په دې پلټنه کي زموږ دپاره د زياتي علاقې او اهميت وړ ګڼل کېږي. دی موږ ته وايي (Bk. Iv. ۲۰۰, etc) چي تقريباً هم هغه زمانه چي داريوش هيستاپسيس د سکيتيانو په مقابل کي خپل سوقيات پر (بوسفورس) باندي ورسم کړه نو په مصر کي د ده حاکم يوه سمندري او پوځي قوه په (ليبيا) کي د (بارکي) او (کيريني) د يوناني کالونيو مقابلې ته ولېږله. کله چي پرشياوالو بارکي ونيوله نو تر هغه وروسته دوی بارکيانان مريان کړه او له دې عملياتو څخه د خپلو راستندو په وخت کي ئې له ځانه سره مصر ته راوستل. دغه مهال داريوش همدارنګه له سکيتي عملياتو څخه په (سوسا) کي خپل پای تخت ته راګرزېدلی و. هيرودوت خپلو هغو څرګندونو ته چي له ليبيا څخه مصر ته د پرشياوالو راستنېده بيانوي دا خبره ورزياتوي چي "مريان سوي بارکيانان دوی له مصر څخه پاچا ته راوستل او داريوش پاچا په بکتريا کي دوی ته يو کلی ورکړ چي هلته واوسي. پر دغه کلي باندي دوی د (بارکي) نوم کښېښووی چي زما په وختو کي لا هم د بکتريائي خاوري يو داسي محل و چي هلته خلک

اوسېدله". زه اوس کولای سم چي د هیرودوت دغه کلمات تکرار کړم او ووایم چي دا دی تقریباً د دوه زره درې سوه او پنځوس کلونو تر تېرېدو وروسته د بارکي هغه کلی چي ده یاد کړی دی زموږ تر دې وخته لا د اوسېدنې ځای دی او هغه وګړي پکښي اوسي چي که چیري د نسبي لیکي په اعتبار هم ونه ګڼل سي خو لږ تر لږه د نامه له پلوه د هغو بارکیانانو اولاده بلله کېږي چي هیرودوت وربانديي رغېدلی دی. د بکتریا په خاوره کي د بارکیانانو کالوني چي د (تاریخ پلار) په دغه ترتیب موږ وربانديي خبر کړي یو، نن ورځ د هغې بارکي قبیلې له خوا تمثیلېږي چي د کندز د بغلان د ناحیې د برکي او د کابل د لوګر د سیمي د (برکي برک) او (برکي راجان) په کلیو کي اوسېږي. دغه وروستنی ځای هم د هغه (باختر زمین) په حوزه کي دننه یوه برخه ده چي ختیځ پوهان ئې (د باختر خاوره) او یونانیان (باکتریانا) بولي.

څو کاله پخوا "د آسیا د شاهي ټولني[1]" په بلنه ماته دا زمینه برابره سوه چي دغه په زړه پوري کشف مي له ځینو نورو یاداښتو سره یو ځای چي د افغانستان په قبیلو ئې اړه درلوده او زیاتره ئې په دې روانه لیکنه کي بیا درته بیانوم او چیري چي اصلاح ته اړتیا ولري هلته ئې سموم، د یوې مقالې په صورت په یوه جلسه کي ولوستی. ما خو هیله درلوده چي دا مقاله به د دې بحث یوه لومړۍ برخه وي او نوري مقالې به که زما صحت اجازه راکړي د همدې موضوع په تعقیب تر دې پسي تهیه کړم. ځکه زما صحت په دغه وخت کي په هیڅ وجه د رضایت وړ نه ګڼل کېدی. لاکن د بحث او څېړلو دپاره زما وړاندیز چنداني ونه منل سو او د هغې محترمي ټولني د مدیر چي د شرقي مطالعاتو د تشویق دپاره جوړه سوې وه داسي کلک مخالفت ئې راوپاراوه چي نور نو ما په خپله خوښه د دې موضوع په باب خپل

---

[1] Royal Asiatic Society

یاداښتونه له خپلي کارپوهی. سره یو ځای چي د دغه ملک او د هغه د ولسونو سره مي د یوه اوږده شناخت په موده کي لاس ته راوړي وه یوې بلي ډېري مناسبي موقع ته پرېښووله څو هغه مهال بیا ښایي خپل معلومات د نورو داسي کسانو مخي ته وړاندي کړم چي د څېړلو سره ئې زیاته مینه ولري. اوسنی موقع ما ته داسي ښکاري چي دغه راز یوه زمینه ئې برابره کړې ده. حاضره لیکنه چي زه ئې د ختیځ پېژندونکو د دغي نهمي نړیوالي کنګرې د پوهانو حضور ته وړاندي کوم، په دې هیله نه یم چي زما وړاندي سوي خبري بې له ټینګي کره کرتني او انتقادي څېړني څخه ومنل سي بلکي زما مقصد دا دی چي ښایي داسي دقیق غور به پر وسي لکه څونه چي ئې همدا موضوع ایجاب کوي او په دې وسیله به پر هغو ډېرو تاریکو ټکو باندي رڼا واچول سي چي د دغي افغانستاني سیمي د خلکو له تاریخ سره د تېري زمانې د هغو انقلابونو او هجومونو په ارتباط اړه لري چي د سکندر تر بري را وروسته پرله پسې پر دې سیمه باندي راغلي دي. هغه معلومات چي زموږ د پلټني په باب مي دلته په بېړه را یوځای کړي دي نو تر کومه ځایه چي د افغانستان د موجودو خلکو د پېژندني سره اړه لري او هم د هغو نومونو او حالاتو په استناد چي د تاریخ پوهانو او جغرافیه پېژندونکو په آثارو کي تر موږ پوري را رسېدلي دي، د دغي خاوري د لرغونو اقوامو او د هغو داخلافو سره د دوی په یو شي توب پوري اړه لري.

زه د دې خبري پوره احساس کوم چي دا معلومات هم پاشانده او هم د تفصیل له بابته نیمګړي دي. خو د هغو له ټولو نیمګړتیاوو سره زه ډاډه یم چي نور هغه کسان به چي تر ما په دې چارو کي زیات مهارت ولري، دې ته وهڅوي چي دغه پلټنه په ډېره ښه طریقه او زیات تفصیل سره او سربېره پر ټولو خبرو د شرقي تاریخ د یوې زیاتي پوهني په رڼا کي چي زه ئې کله د لرلو هیله نه سم کولای، نور په وړاندي تعقیب کړي. د څېړني ورشو په افغانستان کي ډېره پراخه ده او تر کومه ځایه چي خبره له

میتودیکي او تحقیقي څېړني سره اړه لري نو تقریباً هیڅ کار نه دئ ورباندي سوی. خو مواد ئې چي د هغو په ډېرو جالبو معلوماتو باندي زیات جلدونه ډکېدای سي او هم د تاریخ پوه او هم د سیاستمدار دپاره په یوه سویه اهمیت لري تر انده پاسه دي. اوس بیرته د خپلي رواني پلټني موضوع ته راګرزم.

هیرودوت د قومونو او قبیلو د هغه انتقال ځیني نور مثالونه هم راوړي چي له سکیتي عملیاتو څخه تر راستنېدو وروسته د داریوش له خوا سر ته رسېدلي دي. دی وایي (Bk.V.) چي "داریوش هغه (میګابازوس) ته چي د خپل جنرال په توګه ئې په (تراکیا) کي پرېښی و داسي امر وکړ چي "پایونوی" له خپلو ټاټوبو څخه راوباسي او دوی په خپله له اولادو او ماینو سره ده ته راولي". میګابازوس له دې امر سره سم پر (پایونیا) باندي هجوم وروړی او د دوی ښارګوټي ئې ونیوله. (پایونوی) سمدستي پرشیا والو ته ځانونه تسلیم کړه. په دې ډول نو (سیروپایونوی) او (پایوپلای) او د (پایونوی) قبیلې چي لیري د (پراسیاس) تر جهیله پوري پرتې وې له خپلو ټاټوبو څخه راوایستل سوې او آسیا ته ولېږدول سوې. خو هغه چي د (پنګایوس) د غرګي په شاوخوا او (دوبیروي) ته نژدې پرتې وې لکه (اګریانای)، (دومانتوی) او نوري هغه چي په خپله د (پراسیاس) په جهیل کي مېشته وې میګابازوس ته کورټ تابع نه سوې ... خو هغه چي د پایونوی له جملې څخه په تابعیت کي راغلي دي آسیا ته ولېږل سوې... میګابازوس چي له ځانه سره ئې (پایونوی) رارهي کړي وه هیلیسپونت ته راورسېدی او له دې ځایه څخه تر تېرېدو وروسته (ساردیس) ته راغی چي پایونوی ئې هم له ځانه سره راوستل ... هغه پایونوی چي د میګابازوس له خوا د (سترایمون) له سیند څخه د اسیرانو په څېر راوستل سوي وه په (فرایګیا) کي ئې یوه ناحیه ونیوله او خپل یو کلی ئې جوړ کړ".

هغه قبیلې چي (فرایګیا) ته ئې په دغه راز انتقال کي نوم یاد سوی

دی د پایونوی، پایوپلای او دوبیري قبیلې دي. د (سترایمون) پر سیند باندې پایونوی چې هغه سیند له هیلیسپونت څخه نه دی لیري د (پان نې) یا (پان نوی) یوه څانګه وه او خپل نوم ئې هغه ملک ته ورکړی دی چې (پان نونیا) نومېږي. (پایوپلای) او (دوبیري) ښکاري چې د یوې قبیلې خېلونه وي. په هر حال موږ دا نن ورځ په افغانستان کې داسې قبیلې وینو چې همدغه راز نومونه لري لکه: (پانني)، (پوپلي یا پوپلزي) او (داوري). دوی ټوله د کندهار په ملک کې اوسي او د کافي تعجب خبره خو دا ده چې هلته دوی د غره یوه قله او یوه علاقه او د هغې مربوط یو کلی د (پنجوائي) په نامه لري چې ښایي دغه نوم د هیرودوت د (پنګایوس) ځای نیولی وی. (پانني) پخوا زمانه په افغانستان کې یوه ګڼ شمېره او مهمه قبیله وه. څو د ډهلي د لودي پاچهانو په دوران کې دوی د افغانستان له څو نورو مهمو قبیلو سره یو ځای په ډله ئیزه توګه هندوستان ته کډه سوه. هلته ئې د ملک په بېلابېلو برخو لکه په دکن حیدرآباد، برار، کرائولي، شیخاوات، او د مرکزي هند په نورو ځایو، راجواره او داسې نورو کې وړې کالونیانې جوړې کړې خو د قبیلې یو لږ شمېر وګړي ئې په افغانستان کې پرېښوول. پوپلي یا پوپلزی چې د اوسني درانیو له عمده قبیلو څخه یوه قبیله ده او شمېر ئې دوولس زره کورنی ګڼل سوی دی زیاتره ئې کرونده ګر او یوه برخه ئې هم مالدار دي.

د نوي تأسیس سوي دراني پاچهۍ دپاره د دوی د (سدو) له خېله څخه پاچا او د (بامي) له خېله څخه صدراعظم منځ ته راغی. د دوی غټې مرکزونه د کندهار شمال ته د تیري او دیراوت په علاقو کې دي او یا د کندهار ختیځ پلو ته د ترنک د ناوې په اوږدو کې لیري تر (شهرصفا) پوري واقع دي. (داوري) په ښکاره ډول خپل نوم د (زمین داور) یا (د داور د ملک) علاقې ته ورکړی دی چې د هلمند پر لوېدیځه غاړه په دهراوت پوري دی، خو دوی اوس په همدې نامه د یوې ځانته قبیلې په څېر په دغه

علاقه کي نه مونده کېږي، که څه هم د دې علاقې اهالي د وطن د وګړو تر منځ زياتره د داوري په نامه يادېږي. د سليمان د لړۍ د اباسين په سر کي يوه بله علاقه هم سته چي د (داور) په نامه ده او احتمال لري چي له پور ته ياد سوي زمين داور څخه راغلي وګړي دلته ځای پر ځای سوي وي. خو څرنګه چي په وروسته بيان کي به موږ يو ځل بيا دې قبيلو ته راوګرزو نو اوس ضرورت نسته چي نور هم پر دوی باندي تر دې زيات وږغېږو.

د (پايونوی) د انتقال په باب چي شرحه ئې دمخه تېره سوه دلته بايد دا خبره ياده سي چي تر هغه وروسته نو بيا کله چي (آيونيا) بغاوت ته لاس واچاوه، دغه (پايونوی) د (ماليزيانو) په تحريک کوښښونه وکړه چي بير ته خپل ملک ته ستانه سي او ځيني ئې په همدغه ترتيب بريالي سوه چي وتښتي. خو البته يوه کوچنۍ ډله ئې ځکه لکه څنګه چي هيرودوت وايي: "پايونوی چي خپل اولادونه او مايني ئې ورسره وې د ساحل خوا ته وتښتېده، لاکن ځيني ئې له ډاره څخه په هغه ځای کي پاته سوه چيري چي ورته راغلي وه. تښتېدلي کسان ئې د پرشيائي سپرو لښکرو د يوې غتې ټولۍ له خوا تعقيب سوه اما دوی وکړای سوه چي (خيوس) ته وتښتي. (خيانانو) دوی (لېسبوس) ته ورسوله او لېسبيانو دوريسکوس ته بوتله چي له هغه ځايه څخه په پښو باندي (پايونيا) ته ورسېده". څرنګه چي دغه تښتېدونکي د بېړۍ په وسيله وتښتېده نو احتمال لري چي شمېر ئې غټ نه او موږ د استدلال له مخي دا نتيجه اخيستلای سو چي د پايوني تبعيديانو لوی شمېر نو په پرشيايي خاوره کي پاته سو. ګومان کېږي چي د دې تېښتي د هڅي په سبب نو البته پاته سوي پايونيان له خپله ملکه څخه نور هم ليري ولېږدول سوه، ممکنه ده چي په سر سره همدغه ځای يعني زمين داور ته رافراره سوه چي هلته لکه په تېر بيان کي چي راغله د دوی ننني نمايندګان موږ ته په مخه راځي.

هيرودوت د داريوش له خوا د خلکو د يو بل انتقال يادونه هم کوي

چي هغه باید په دې خاطر دلته را اقتباس کړم چي زموږ د رواني پلټني سره اړه لري. دی وایي (Bk. Vi) "پرشیاوالو چي ایونیان په سمندر کي فتح کړه نو مالیتوس ئې هم د وچي او هم د سمندر له خوا تر کلابندی لاندي راوست او د (اریستاګوراس) تر بغاوت وروسته ئې (چي مقصد د آیونیا وړاندي یاد سوی بغاوت دی) هغه د شپږو کلونو په موده کي په بشپړه توګه ونیوی او ښار ئې تر مرئیتوب لاندي راوست ... کوم مالیزیان چي ژوندي په لاس کښېوته نو بیا وروسته سوسا ته بوتله سوه او داریوش پاچا بې له دې څخه چي دوی ته کوم زیان ورسوي د امپي د ښار په هغه ځای کي ئې مېشته کړه چي سور دریاب ئې بولي او هلته ورځرمه د دجلې سیند بهېږي او سمندر ته ورتوئېږي".

دا مالیزیان د کوچنی آسیا د (میلیي) له قوم څخه وه او د اباسین د ناوې د لرغوني (مال لي) سره یو ځای ښایي په افغانستان کي د هغو قبیلو له خوا څخه تمثیلېږي چي د (ملي) په نامه دي. له دغي جملې څخه یو هم هغه د یوسفزو، سوات او باجوړ د علاقو (ملي) دي چي د اباسین په حوزه کي وړې څانګي لري او هم هلته د (امب) په نامه یو ښارګوټی سته چي اوس د (تناولي) د قبیلې د مشر په لاس کي دی. دغه ایونیان په همدې خپل نامه کېدلای سي چي په افغانستان کي د یونس ( "Ioonos" Ioovos) په بڼه ولټول سي. دغه اسلامي نوم د زیاترو افغاني قبیلو د څانګو تر منځ لیده کېږي، په تېره بیا په هغو خلګو کي چي د پېښور د علاقې شاوخوا د اباسین په ناوه کي اوسي. باید وویل سي چي د پېښور علاقه په خپل وخت کي د یوناني واکمنی له ډېرو غټو مرکزونو څخه ګڼل کېدله. خو د سانسکریت په آثارو کي د (ایونیان) نوم د (یونا)، یا (یاوانا) او (جونا) یا (جاوانا) په بڼه ښکاره کېږي. د دې دپاره چي وخت وسپمول سي او د بې ځایه تکراري حوالو مخه ونیول سي نو زه اوس غواړم د داریوش د امپراتورۍ متعددي ستراپیاني په هغه ترتیب پسي راواخلم چي د

هیرودوت له خوا په (Bk. iii) کي بیان سوي دي او هم غواړم د دې ستراپییانو په جوړښت کي د ده له خوا د ښودل سوو هغو قومونو یادونه وکړم چي ښکاري په افغانستان کي د اوسنیو موجودو قبیلو سره تعلق لري.

# لومړی ستراپي

لومړی ستراپي له (ایونوی)، (مګنیسوی)، (ایولوی)، (کاروي)، (لیدوي)، (میلیوی) او( پامفیلوی) څخه جوړه وه. له دغې جملې څخه (ایونوی) لکه پورته چي ئې یادونه وسوه اوس ئې په افغانستان کي د بېلابېلو قبیلو د (یونس) په نامه څانګي تمثیلوي چي د ملک پر ختیځو پولو باندي پرتې دي. همدغه راز (ایولوی) د (الي) یا (علي) د څانګو له خوا څخه تمثیلېږي. (لدري) یا (لیدي) له هغه لودي یا لدي قبیلې څخه نمایندګي کوي چي دمخه ئې یادونه سوې ده. (ملیي) د (ملي) یا (مالو) د څانګو په واسطه تمثیلېږي. له (کاري) څخه د (کارو) څانګي نمایندګي کوي او پامفیلي د پرمولي یا فورمولي قبیلې له خوا څخه تمثیلېږي. پرته له (لدي) څخه چي څېړنه ئې پخوا تېره سوې ده نور نو به دغه هره ټولی یو ځل بیا پر خپل مناسب ځای باندي د افغاني خېلونو د څانګو په جمله کي ولیدل سي. ځکه یوازي د پرمولي یا فورمولي په استثناء چي یو ځانته بېل ولس دی او کورټ د پښتنو په ټل کي نه ګڼل کېږي او د خبرو ژبه ئې پښتو نه ده بلکي د پارسي په یوه لهجه باندي ږغېږي نور نو له دغو یادو سوو قومونو څخه یو لا هم په افغانستان کي نن ورځ د ځانته یا بېلو قبیلو په څېر نه موندل کېږي. لومړی ستراپي په کوچنی آسیا کي واقع وه او په هغې کي دغو قومونو خپلي مځکنی نیوکي درلودې. په افغانستان کي د دوی نمایندګان ښایي هغه ناقلین وه چي د سترابو د تېر سوي اقتباس له بیانه سره سم سکندر د ده پر خپلو مېنو باندي په هغو ولایاتو کي مېشته کړه چي له آریاناوالو څخه ئې نیولي وه.

ACKU

# دوهمه ستراپي

دوهمه ستراپي له (میسوی)، (لیدوی)، (لاسونوی) (په یوه بله برخه کي کابلوی میونوی یاد سوی دی) (کابلوی) او (هیگینوی) څخه جوړه ده. په دغه جمله کي (میسي) ښايي اوس د زیاترو افغاني قبیلو د (موسا) د ځانگو په ذریعه تمثیلېږي. په پخوا زمانه کي ښکاري چي دوی یوه ځانته قبیله تشکیل کړې وه او په زمینداور پوري د غور د ملک په هغه موسا دره یا (موسا ناوه) کي اوسېده چي د هلمند د سیند د لوېدیځ پلو ته په هغه ځای کي موقعیت لري چیري چي د موسا په نامه رود هلمند ته ورتوئېږي او له گرشک څخه ډېره فاصله نه لري. له بلي خوا بیا په افغانستان کي د موسا په نامه خېلونه ښايي د دغه نامه له یو هندي قبیلې څخه راوتلي وي چي په لرغونې زمانه کي د اباسین پر هغه علاقه پرته وه چي له اوسني (چیناب) سره د یو ځای کېدو تر محل لاندي واقع ده. ځکه د (آرریان) له قوله د دغي سیمي د محلي غټانو او شاهزادگانو له جملې څخه چي سکندر ورسره وجنگېدی یو هم (موسیکانوس) نومېدی. دغه نوم داسي معلومېږي چي ښايي د (موسی کاراجا) یا (د موسا د قبیلې د شاهزاده) دپاره د یوناني ژبي معادل وي. خو ما د (موسا) غوندي کوم نوم د راجپوت او هندو قبیلو تر منځ په هغو لستونو کي نه دی لیدلی چي د (تاد) او (شیرینگ) له خوا تهیه سوي دي. لاسوني ښايي د بلوچستان د (لاسي)، یا (لاساني) په وسیله تمثیلېږي. دوی اوس په دغه نامه د افغاني قبیلو تر منځ نه مونده کېږي خو د دوی د هغه بل نامه (کابلي میوني) په صورت کي

ACKU

ښايي د هغه (مياني) له خوا تمثيلېږي چې د پوونده په نامه د کارواني سوداګرانو د کاروباري ټولني يو مهم قسمت ګڼل کېږي. همدا شان ښايي د سوداګرانو او مذهبي خيرات خورو د هغو بېلابېلو ډلو له خوا تمثيلېږي چې د (ميان) په لقب يادېږي. له کابولي څخه ښايي اوسنی (کابلی) او د لوئي وزيري قبيلې کابل خېل نمايندګي کوي. (هيګيني) شک نسته چې هغه (خوګاني) ئې تمثيلوي چې د سفيد کوه د شمالي لمنې په اوږدو کې پنډ دي. د دې سترابۍ د جوړښت له مخې ګومان کوم زما دا تعينات ټيک وي چې په ختيځ کې ئې د خيبر له درې څخه نيولې بيا په لوېدئځ کې د فراه تر ورځرمه ځايو پوري ئې د لرغوني پروپاميسس يوه غټه برخه په خپله حوزه کې شامله کړې وه. خوګاني پخوا زمانه يوه ګڼ شمېره او مهمه قبيله وه چې د خيبر د درې له شاوخوا څخه نيولې بيا په بټخاک کې د کابل تر هواري پوري د سفيد کوه د شمالي لمني په اوږدو کې غزېدلې پرته وه، خو اوس دوی يوه ډېره محدودده ساحه اشغالوي چې په ختيځ کې د شينوارو او په لوېديځ کې د غلزيو تر منځ د ګندمک په ناوه پوري محدودېږي. البته مناسبه به وي چې دلته د خوګاني په باب نور هم وږغېږم.

خوګاني – چې هيرودوت هيګيني بللی دی. همدارنګه د خوګياڼي، ګيکي ياني، خاوګاڼي، او خاګواڼي په نومونو يادېږي. په افغاني شجرو کې دوی د پښتانه د قوم په غرغښتي ښاخ کې تصنيف سوي او د هغه د کراري يا کرالاڼي څانګې د قبيلو په جمله کې ګڼل سوي دي. کرالاڼي يوه پښتو کلمه ده او معنا ئې (د کرايانو د وروړګلوی، عزيزولی، يا برادرۍ سره) برابرېږي. کرای يا ګرای د يوې مشهوري ترکی قبيلې نوم دی چې اوس د مشهد جنوب ته د خراسان په تپو کې د (زاوه) تربت جام او داسي نورو شاوخوا اوسي. خوګاني د سفيد کوه پر شمالي لمنو باندي په خپلو لرغونو مرکزو کې شپږ زره کورنۍ ګڼل سوي دي او تقريباً د همدغه شمېر په

اندازه د پېښور په دوآب کې یوه کالوني لري چې هلته د سریخ، مروزي، متاني، مندوزي او داسي نورو په کلیو کي اوسي. سربېره پر دې په کندهار او خپل ټاټوبي ته څرمه د کوز کونړ په ناوه او د باجوړ په پوري علاقو کي ځیني وړې مېنې هم لري. خوګاني له هغو ټولو قومونو څخه چې شاوخوا ئې پراته دي دوی ځانته یو بېل ولس ګڼل کېږي چې نه افغان، نه پټهان، نه غلزي، او نه هم تاجک دي. پټهانان (پښتانه – مترجم) ئې د چمکني د قبیلې له ذاته څخه بولي چې هغه رشتیا هم د خوګاني د یوې څانګې په څېر شمېرل کېږئ. د سفید کوه د خوګانیو تر منځ د شپږو زرو کورنیو په شمېر د لالي، لایلي، یا لېلې وزیري په نامه یو قوم سته چې له دوی سره په خاوره شریک دي او ویل کېږي چې د سلیمان د لړۍ د لویې وزیري قبیلې یوه پښه ګڼله کېږي.

خوګاني درې غټې ښاخونه لري چې د وزیري، خیربون او شېرزاد په نومو دي.

د وزیري یا لایلي څانګې دا دي: اګام، بارک، بیبو، نانی، رانی او نور چې غونډ یو ځای د (سرکي) په نامه یادېږي. نور بیا احمد، کانګا، کهوجک، پیرو، تره کي او نور چې غونډ یو ځای د (موتیک) په نامه دي. له دغو نومونو څخه (سرکي) ښایي د داګنیولا راجپوت مربوط د چالوک یا سولانکي د قبیلې د (سورکي) ځای نیولی وي او موتیک ښایي د برهمن مربوط د مایتهیلي نښه وي؟ بیبو د پرامارا له بهیبا اوراني د چالوک له رانیکا سره سر خوري. بارک به بیا وروسته په مخه راسي.

خیربون دوه ښاخه لري: یو ئې نجیب (مخور) نومېږي چې دالي، اپي، دولت، مندو، مستو او نورو له څانګو څخه جوړ سوي دي. خو بل ئې کرای یا ګرای نومېږي چې د غونډي، همزه، جاجي، خیدر، موکر، توري او نورو له څانګو څخه جوړ سوي دي. د دغو نومونو له جملې څخه خیربون د (خیربانسي) یا (خیرله توکم) څخه نمایندګي کوي چې د راجپوت د

پرامارا د قبيلې يو مشهوره خېل دی. الي د يوناني اليولوی ځای نيولی دی. کرای د يوې ترکی قبيلې نوم دی چې دمخه ئې يادونه وسوه. جاجي به بيا هم مخې ته راسي.

خيدر د پرامار له خيجار يا له کيهدر څخه نمايندګي کوي چې سوداګر پېشه راجپوت دي. موکر راجپوت دي او توري د راجپوت مربوط د تواري يا توآري څرګندونه کوي.

د شېرزاد څانګې دا دي: لغمانی، خودی، ماما، مارکی، ښادي او نور. د دغو نومونو له جملې څخه شېرزاد پارسي دی چې معنا ئې (د زمري زوکړی) کېږي او د (شير) معادله پښتو کلمه (مزری) دی. دغه مزری ښايي د ميساري د يو پخواني نامه دپاره اسلامي بديل وي چې د هندي بېديا او د اباسين د ناوې د يوې غټې هندو قبيلې نوم دی. يا خو ممکنه ده د برهمن مربوط د (ميسر) اسلامي نقاب وي، ځکه (ماما) هم چې د څانګو په جمله کې ئې شامل دی د شمالي هند يوه برهمنی قبيله ده. خودی يا خادی او ښادی د يوې کلمې بېلابېل تلفظونه دي او د چاتو برهمن ځای ئې نيولی دی.

ACKU

# دریمهستراپي

دریمه ستراپي له هیلیسیونتوی، فریګوی، تراکوی، پافلاګونوی، ماریاندینوی او سیردي څخه جوړه وه. ښکاره خبره ده چي دغسي ستراپي د امپراتورۍ په لوېدیځ نهایت کي موقعیت درلودی. پر ته له سیري یا سوري څخه چي دمخه ئې یادونه راغلې ده نور نو له دغو نومونو څخه یو لا هم د افغانستان د قبیلو تر منځ نه مونده کېږي.

# څلرمه ستراپي

څلرمه ستراپي له کیلیکوی څخه جوړه سوې وه او په ښکاره توګه ئې د کیلیکیا ولایت چي اوسنۍ (ادانه) کېږي البته د کارامان له څرمه ولایته سره د هغه د پای تخت (کونیا) په شمول چي په لرغونې زمانه کي ایکونیوم بلل کېدی ټوله په خپل ترکیب کي شامل کړې وه. کیلیکي ښايي چي په افغانستان کي البته د غلجي یا خیلیجي په وسیله تمثیلېږي. د افغانستان غلجي چي همدارنګه غلزوئي، خلجه، او خلاچي بلل کېږي وايي چي د (جاخارتیس) د پوري خوا یوه ترکۍ قبیله ده او د ترکو د خیلیچي یا (توره وهونکو) له قبیلې سره اړه لري. دوی په افغانستان کي لږ تر لږه د محمود غزنوي له زمانې راهیسي چي د لسمي پېړۍ د پای کلونو ته له نژدې وخته سره سمون خوري، د غلجي یا خیلیچي په نامه پېژندي سوي دي خو اوسېدنه ئې په دغه ملک کي ښايي له یوې ډېري پخوانۍ

ښتې سره اړه ولري. دغه نوم د خيزيلچي يا خيليچي او يا خيزيلجي په شکل د روم يا کوچنۍ آسيا د سلجوک د شاهي کورنۍ د قومي نوم په څېر ښکاري چي د هغې پايتخت د دوولسمي پېړۍ په زمانه کي ايکونيوم و. موږ د افغانستان د غلجي قبيلې ترکيب وليدی چي څه راز و او په څونه زياته اندازه له هندي عناصرو څخه جوړ سوی دی.

د (لاتم) د پېژندني له مخي (سلجوقي) په ښکاره توګه هغه يوناني (سيليوکي) دی چي د آسيا په يوناني امپراتوري کي د سکندر له اخلافو څخه ګڼل کېږي. په هغو اقتباسونو کي يو شمېر عجيب بيانونه سته چي (دی، هيوبيلوت) د شرقي ليکوالو له آثارو څخه د سلجوک د هغې شاهي کورنۍ د مؤسس د لومړنۍ مبدی په باره کي را اخيستي دي چي يوولسمي او دوولسمي پېړيو په دوران کي ئې درو بېلابېلو ښاخونو پر يوه وخت په آسيا کي حکومت کاوه او له دوی څخه هغه ډېر غټ ښاخ ئې د څورلسمي پېړۍ تر منځنيو کلونو پوري پر خپله واکمني پاته سو. د پرشيا ښاخ ئې له ۱۰۳۷ م څخه تر ۱۱۹۶ م کال پوري يو سل او نه پنځوس کلونه پاچهي وکړه. د کرمان ښاخ ئې له ۱۰۴۱ م څخه تر ۱۱۸۷ م کال پوري يو سل او شپږ څلوېښت کلونه او د روم يا کوچنۍ آسيا ښاخ ئې له ۱۰۸۷م څخه تر ۱۳۵۰ م کال پوري دوه سوه دري شپېته کلونه حکومت ته ادامه ورکړه. (دی هيربيلوت) د (لب تاريخ) په حواله وايي چي سلجوک د توران يا ترکستان له پاچا، افراسياب څخه په څلوردېرشم پښت را پيدا سوي دي. وايي هغه څلور زامن درلوده چي "ميکايل" (ميکائيل)، "اسرايل" (اسرائيل)، "موسا" (موسی) او "يونس" (جوناس) نومېدل. (دا ټوله سوچه عبراني نومونه دي) دوی د ملکرو، مځکو، رمو او ګلو له درکه څخه زياته شتمني لاس ته راوړه. د هجرت په ۳۷۵ کال کي يعني د ۹۸۵م کال د مي په ۲۳مه دوی له ترکستانه "ترانسوخيانا" ته د ډېرو آبادو څرځايونو په لټه پسي راولېږدېده. واردواره د بخارا او سمرقند پر پولو

باندي دوی تم سوه او له هغه ځايه څخه ئې د سلطان محمود غزنوي اجازه وغوښته چې تر آمو ور واوړي او د خراسان ولايت ته ورسي چې کالخوائي د هغه په لاس کي وه. وايي چې محمود دوی ته اجازه ورکړه چې د (نيسا) او (ابيورد) په شاوخوا کي خپل ځانونه ټېک کړي. د دوی له جملې څخه ميکايل دوه زامن درلوده چې تغرل بېګ او جعفربېګ نومېدله.

دوی د همدې کالونی مشران سوه او د ترک د نوو بهيرونو له راماتېدو سره په بېره دوی دونه ډېر زيات سوه چې د يو خطر سبب وګرزېده. څرنګه چې محمود په دې وخت کي مړ سوی و نو د هغه زوی او خلف مسعود يو لښکر ورسم کړ چې مخه ئې ونيسي خو په دې اقدام کي ئې ماته وخوړه. تغرل نو تر دې وروسته قدرت په لاس کي واخيستی او د هجرت په ۴۲۹ کي (يعني د ۱۰۳۷م کال د اکتوبر له درويشتمي نېټې څخه) ئې په نيشاپور کي د سلطان په څېر د پاچهی تاج پر سر کښېښووی او هغه ځای ئې خپل پايتخت وګرزاوه.

د (خونديمير) له خوا بيا په دې باره کي يو بل راز بيان سوی دی څکه دی وايي چې سلجوک د (دکاک) زوی و او (دکاک) د يوه ترکي سلطان (بيګو) نومي غټ افسر و چې پاس د کسپين تر سمندرګي د (خزار) په ملک يا د (کپچاک) په سيمه کي اوسېدی. دکاک چې د (تازی آلوق) يا (ټينګي لېندی) لقب ئې درلودی تر مړيني وروسته يو زوی ځني پاته سو چې سلجوک نومېدی. سلطان بېګو هغه د زوی په څېر واخيستی او د باشاچي يا کپتان په لقب او عنوان ئې وروزی. سلجوک چې د خپل ساتندوی د حرم د اسرارو محرميت ماتاوه او له دې کبله ئې د هغه غضب راوپاراوه نو له خپلي ټولي کورنی، ملګرو او خپلوانو سره سمرقند ته وتښتېدی او د هغه په شاوخوا کي چې ئې ځان ټينګ کړ نو هم هلته دی او هم د ده متعلقين اسلام ته راواوښته. د ده پلويان چې ورځ په ورځ ډېرېده نو زياتره ئې د سمرقند د ښار له حاکم سره شخړي راپورته کېدې او کله

چي ئې په دې شجرو کي برې وګټه نو پر مخ بخارا ته ولاړې او هلته ډېر ښه استقبال سو. د ده د هغو څلورو زامنو له جملې څخه چي په تېر بیان کي یاد سوه (خوندیمیر) ئې یونس د بېګو په نامه بولي او پاته زامن ئې د میکایل، محمد او داؤد په نومونو یادوي.

(د. هیربیلوت) وړاندي ویل سوي بیانونه د (میرخوند) هغه څرګندوني هم ورزیاتوي چي وايي د محمود غزنوي زوی مسعود یو مخیزه د سلجوک هغه ادعاء تردید کړه چي ځان ئې د ترک له نسب څخه باله. ځکه یو څو د سلجوک د کورنۍ نوم یا ذات د ترک په نسبي شجرو کي هیڅ چیري نه دئ راغلی او بل دا چي مسعود ته د یوه ترک په توګه د دغه قوم ټولي کورنۍ او مخور کهولونه ډېر ښه ورمعلوم وه. د مسعود له خوا دغه تردیدي خبره د سلجوکیانو یوه سفیر ته هغه وخت وسوه چي غوښته ئې دوی ته د استوګني دپاره یو ځای وټاکي او لوړه ئې کوله چي اطاعت ته ئې غاړه ایږدي او په خپل وار وفاداري ورسره ساتي. د دې جریان په نتیجه کي سلجوکیانو له مسعود سره جګړې وکړې او د دې جګړې له ګټلو سره ئې ټوله خراسان له هغه څخه په بېړه واخیستئ او د ترانسوخیانا په خپلو متصرفاتو پوري ئې وتاړه.

دغه یو د بل سره توپیر لرونکي بیانونه چي رایوځای سي نو د دې خبري احتمال څني راوزي چي د سلجوک او د ده د زامنو په ذریعه تمثیل سوی ولس په اصل، کي یوه مبهمه ټولۍ وه چي په ترکیب کي ئې چوپاني یا کوچي یونانیان، اسرائیلیان (ځکه دا پخه ثبوت ته رسېدلې یوه خبره ده چي یهودیان او همدا راز مسیحیان دواړه د مغلو د هجوم په زمانه کي چي د سلجوک د ظهور تر وخت پوره دوې پېړۍ وروسته راغی په دغو برخو کي په شمېر زیات او د نفوذ له پلوه پیاوړي وه) او لالهانده ترکان چي احتمال لري د مذهب له بابته مسیحیان وه ټوله د متقابلي حمایې او مرستي په منظور په یوه قبیلوي اتحادیه کي د هغه طرز په شان یو د بل سره یو ځای سوي وه چي د افغانستان د موجودو قبیلو تر منځ رواج لري. د ساماني

کورنۍ د زوال په دوران کې چې د ملک حالت ویجاړه و نو دوی د سلجوک له کورنۍ څخه د یوه یوناني په مشري له دغې موقع څخه استفاده وکړه او ډېر زيات ځايونه او ثروتونه ئې لاس ته راوړه. څرنګه چې د ګاونډیو ترکي کوچیانو او نورو هر راز لالهانده ګرزېدونکو په راتګ او ګډېدو سره د دوی په شمېر او قوت کې زیاتوب راتلی نو ژر تر ژره قدرت ته ورسېده او خپله واکمني ئې جوړه کړه. د سلجوک په مشرتوب چې کوم بریالیتوبونه لاسته راغله په اصل کې دده د ترکي پلویانو او مخلصانو په مرسته سرته ورسيده چې په طبيعي ډول ئې د ده تر خپلي وړې قبيلې شمېر زيات و نو ځکه هم ده او هم د ده نژدې اخلافو د سیاسي ملحوظاتو پر بنا د دوی قومیت د ځان دپاره ومانه او په دې راضي سوه چې د دوی خپل قومي نوم یوازې هغې پاچهي کورنۍ ته ورکړي چې دوی تأسيس کړې وه. سلجوکیانو وختي د کندهار ولایت په خپل لاس کې واخيستی. د دې کورنۍ له پرشيائي ښاخ څخه شپږم ټولواک، سلطان سنجر خپل نوم د سنجر له هغه ښاره څخه واخيست چې کندهار ته ورڅرمه پروت دی او کنډوالې ئې اوس د تخت سنجري يعني (د سنجر د تخت) په نامه پېژندلې کېږي. سلطان سنجر له خپلو نظامي بدمرغيو سره د هغه د زړه ورتوب، مړانې او انصاف په خاطر ستایل کېږي او هم ئې د خپل پرتمين دربار په وجه داسې شهرت موندلی و چې د (د. هيربيلوت) له قوله دی زياتره د (دوهم سکندر) په نامه يادېدی. احتمال لري دا لقب ئې په دې حساب اخيستی و چې رګې ئې له يوناني نسبه څخه منل سوی و ځکه د ده نظامي کارنامې په دې سويه نه وې چې د وياړني دغسې يو لقب ده ته ورکول سي. دی د پاچهۍ تر يوې پنځوس کلنې دورې وروسته په ۱۱۵۷م کال کې مړ سو او د خپلې واکمنۍ يوه ژوندۍ خاطره ئې د بولان شاوخوا د افغاني قبيلو په (سنجري) څانګو او د کلات امارت ته څرمه په (سنجراني) بلوڅو کې د بېلګې په څېر پرېښووله.

# پنځمهستراپي

پنځمه ستراپي له ټولي فوينيکيا، سوريا څخه جوړه وه چي د پلستين او قبرس په نومونو يادېږي. په دې برخه کي کوم داسي څه نسته چي په روانه پلټنه کي زموږ د علاقې وړ وګرزي، پرته له دې حدسه چي نوموړې ستراپۍ ښايي د هغي انتيوخيا (اندخوی) دپاره وګړي تهيه کړي وي چي د ټېري يادوني سره سم د (سوريې د ښار په شان) د سيليوکوس د زوی انتيوخوس له خوا څخه ودانه سوه.

# شپږمه ستراپي

شپږمه ستراپي له مصر او د هغه په پوله پوري لېبيا، اوکيريني، بارکي او د مويريس جهيل جوړه کړې وه، دلته داسي يو څه مومو چي زموږ د علاقې وړ وي. ما په دمخه کي د هيرودوت له بيانه څخه هغه برخه را اقتباس کړه چي له ليري لېبيا څخه د باکتريا د کندز کلي ته د هغو بارکيانانو لېږدېدنه څېړي چي همدې تبعيديانو د لېبيائي بارکي په ياد د بارکي نوم پر کښېښووی. د لېبيائي بارکې بنا تر ميلاد وړاندي په ۵۵۴ ق م کي د کيريني د ورځرمه يوناني مېني د يوې کالونۍ له خوا هغه مهال سر ته رسېدلې وه چي نېټه ئې فقط نيمه پېړۍ تر هغه وړاندي وه چي دوی به خپله مريان وګرزي او د جنګي بنديانو په څېر تبعيد سي. هيرودوت تر هغه بيان وروسته چي د لېبيائي بارکې بنا څرنګه د يوناني کالونيوالو له خوا

ثخه کښېښوول سوه (Bk. Iv. ۱۵۵) په خپلو ثرګندونو کي وايي چي لومړي پاچا ته ئې د (باتتوس) نوم ورکول سو چي په لېبيائي ژبه د (پاچا) معنا ورکوي.

زه دا خبره ځکه يادوم چي د کابل د لوګر په ناوه کي چي نن ورځ په افغانستان کي د دوی اصلي مېنه ده د برکي قبيله يو په بل پوري دوه کلي لري چي يو ئې (برکي راجان) او بل ئې (برکي برک) نومېږي. دغه توپير ښايي د يوه ثرګند او پېژندلي تفاوت نښه وي چي په لومړي سر کي ئې د تبعيدي بارکيانانو (د هيرودوت د بارکای) تر منځ په دغو برخو کي پر خپله لومړۍ مېنه باندي يو د بل سره درلودی. يعني په دې ترتيب نو يو هغه بارکای وه چي د پاچا په کورنۍ يا کهول پوري ئې اړه درلوده او بل هغه وه چي د بارکې په ښار کي د اوسېدني په خاطر بارکای نومېده. دا خبره په خپله د دې دوه رازه نومونو له اصلي معنی ثخه راوزي ځکه د (برکي راجان) معنا ده (شاهانه بارکای) او د (برکي برک) معنا ده د (بارکي بارکای). دا چي د افغانستان دغه برکي يا خو د دوی اجداد چي هيرودوت د بارکای په نامه ياد کړي دي، د سکندر او د هغه د پلويانو له خوا ثخه د يونانيانو په ثېر پېژندل سوي وه د دې باوجود چي په دغه باب نه کومه روښانه ثرګندونه سته او نه هم حتی د دوی نوم ياد سوی دی خو بيا هم د آرريان د بيان له يوې برخي ثخه په ښکاره معلومېږي (Bk. iii. ۲۸) ځکه هغه د خپلي قصې په لړ کي وايي چي سکندر خپل مارش له (ايورګيتيس) ثخه د باکتريا په مقابل کي ورسم کړ او په لار کي د درنګای، ګادروسوی او اراخوتوی له خوا (چي د دې قومونو د هر يوه په باره کي به موږ وروسته وږغېږو) په درناوي استقبال سو. بيا نو هغو هنديانو ته ورغی چي اراخوتوی ته ثرمه وه. (دا هنديان هغه ثوک وه چي د غزني يعني د وړاندي ښوول سوي بټني قبيلې د پخواني مرکز، په شاوخوا کي اوسېدله) د دې مـثـل ټول قومونه ئې په زياته خواري او ډېر تکليف د خپل ځان تابع کړه ځکه يو خو

ACKU

دلته ډېري واوري پرتې وې او بل ئې اړتياوي نه پوره کېدې. بيا ئې نو د قفقاز د غره پر لور حرکت وکړ او هلته ئې يو ښار جوړ کړ چې د الکساندريې په نامه ئې وباله. آرريان نو تر دې وروسته زياتوي چې سکندر په دغه ښار کي د ملک پر حکومت يو پرشيائي حاکم د خپل لښکر د يوې ټولګی سره پرېښووی چې د هغه حمايه وکړي او بيا نو د غرونو له لاري يوې داسي سپېرې مځکي ته ورسېدی چې پرته له سلفيوم (پښتو ترخه = wormwood) او ترپنتاين له وني (پښتو خنجک = mastich) څخه بل شی نه و پر شين خو ملک ئې په ډېرو خلکو پنی او د پسو غټي رمې او د پاکو څارويو ګلې ورباندي آبادي وې ځکه دوی په (ترخه) باندي مړولې. آرريان وايي چې ترخه مخصوصاً د پسو دونه ډېره خوښه وه چې حتی ځيني کيرېنيانو خپل پسونه ليري ګوښه په يوه وندر کي دننه ساتله چې د ترخي د ريښو په ژوولو سره د هغې بوټي خراب نه کړي ځکه دغه بوټي هلته ډېر ارزښت درلودی. په ۳۳۰ ق م کي اوسني کابل ته ورڅرمه په باکتريا کي د کيرېنيانو دغه يادونه او د بارکای يا بارکيانو نوم اخيستنه د هغو يوناني تبعيديانو د کالوني په ارتباط ډېره په زړه پوري څرګندونه ده چې په لېبيا کي د کيرېني له مملکت څخه چي بارکي ئې يوه برخه ده په سر سره همدې ملک ته لکه بيان چې ئې دمخه تېر سو د داريوش هيستاپسيس په حکم راولېږل سوه. دغه څرګندونه زما د هغې خبري دپاره يو مهم ثبوت برابروي چې د کابل د برکي قبيله له هغه بارکای تبعيديانو سره يو شی ده چې هيرودوت ئې بيان کوي. ځکه دغه کيرېنيان چې آرريان ياد کړي دي پرته د هيرودوت له بارکيانو يعني په کندز کي د بغلان له برکي څخه نور څوک نه سي کېدای.

داسي ښکاري چې د يوناني واکمنی تر زمانې وروسته برکي د شمېر او نفوذ له درکه خورا ډېر زيات سوه او په شمال کي ئې د هندوکش لوري ته او په جنوب کي ئې د سليمان د لړی خوا ته او په ختيځ کي ئې ليري تر

اباسین پوري خپلي نیو کي ډېري پراخي کړې. د محمود غزنوي د واکمنۍ په دوران کي برکي یوه مهمه قبیله وه او له هغه سلطان سره ئې د ده په نظامي سوقیاتو کي خورا زیاته مرسته کوله. په هغه وخت کي چي ئې د تکړه عسکرو په څېر شهرت وګاټه تر اوسه ئې لا هم هغه نوم د ځان دپاره ساتلی او افغاني پاچهان په هر حال د بارکزو خاندان تل تر تله یوازي له برکیو څخه شخصي ساتندویان د ځان دپاره غوره کوي. برکي د شپاړسمي پېړۍ د سر په کلونو کي د امپراتور بابر له خوا څخه د کابل د غټو قبیلو په ټل کي یاد سوي دي. دوی اوس په افغانستان کي تقریباً لس زره کورنۍ ګڼل سوي دي او سربېره د دوی پر اصلي مرکزونو چي په کندز او لوګر کي واقع دي په بتخاک او د وزیرو د ملک په کانیګروم او د هندوکش پر سیمه د بامیان او غوربند د علاقو په شاوخوا کي هم مېني لري. په افغانستان کي که څه هم د دوی د رشتیاني موریني په باب کومه څرګندونه نسته خو برکي ځانته یو بېل ولس ګڼل کېږي. دوی په یوه سویه نه د افغان، نه د پټهان، نه د غلجي، نه د هزاره، نه د تاجک او نه د ترک له خوا څخه په خپل ځان ګڼېږي. برکي خپل په منځ کي په یوه خاصه لهجه رغېږي او د یو څو کلماتو په قضاوت چي زه ورسره مخامخ سوی یم تر بلي هري ژبي هندۍ ته ډېره ورته ښکاري.

برکي خپل ځان داسي ښکاره کوي چي ګویا دوی د عربي مهاجمانو له نسله څخه دي خو دا خبره ئې اسلام ته د اووښتني یو تفاخر بلل کېږي. دوی یو ښکلی، قد بلنده او تکړه ولس دی چي د افغانانو تر عمومیت ئې بني سپیني دي او د یوه درانه قوم په سترګه ورته کتل کېږي. دوی په افغاني شجرو کي په دې خپل نامه چېري نه دي راغلي او عموماً د تاجکو په ټل کي ورسره شمېرل کېږي. خو له هر څه سره دا خبره یو مخېزه له احتماله نه ده وتلې چي په افغانستان کي د درانو اوسنۍ حاکمه قبیله په اصل سر کي له برکي څخه راپیدا سوې ده. ځکه زه بله کومه داسي منبع نه

سم موندلای چي له هغې ځخه دي بارکزي راپیدا سوي وي. دغه خبره همدا شان د ختکو د قبیلې د هغه لوی خېل په باره کي تطبیق کېږي چي د (بارک) په نامه دي. په دغه دراني بارک او د ختکو بارک د برکي یعني د هیرودوت د بارکي د ښاخونو په څېر وګڼل سي نو له هغه ښه حالته ځخه د برکي چي البته هغه زمانه په ټیک تلفظ بارکي یادېده د ډېر غټ زوال خبره سمدستي روښانه کېږي، چي وايي د سوکالۍ او نفوذ له درکه ئې د سلطان محمود غزنوي د واکمنۍ په دوران کي درلودی. امکان لري د برکي او بارک تر منځ انشعاب او یو له بل ځخه پر دیتوب ښایي له دې جهته راپیدا سوی وي چي د اسلام د راتلو په وختنۍ دوره کي یوه خوا چمتو وه چي سمدستي ئې ومني او د بلي خوا لا پوره زړه نه غوښتی چي ژر تر ژره غاړه ورته کښېږدي.

# اوومه ستراپي

اوومه ستراپي ستاګيداى، ګنداريوى، اديکاى او اپاريتاى کښې ايستله چي پوري په پوري يو ځاى پراته وه. دغه په ځرګنده توګه د هغو غالبو اقوامو نومونه دي چي د غم (باج) د ورکړي دپاره مسئوليت لري نوموړي قومونه نن ورځ د افغانستان د ختيځي پولي په اوږدو کي کټ مټ په همدې نومونو باندي ټوله پېژندل کېداى سي. ستاګيداى يا د (ستګ قومي ټولي) اوس د اباسين د پولي د خټک، ښتک، ستک، او شيتک يا سيتک د قبيلو له خوا څخه تمثيلېږي. ګنداريوى بيا د هغه ګنداري له خوا چي اوس ئې په دغه نامه يو وړوکى شمېر د خيبر د درې د شمالي پلو په غونډيو کي اوسي. داديکاى يا د (دادي) د ذات وګړي بيا د داديکا (چي متروک شکل ئې دى) يا دادي له خوا تمثيلېږي چي د بولان شاوخوا د يو شمېر افغاني قبيلو د ځانګو تر منځ مونده کېږي او هم ئې د راولپور د (دادو - پوترا) يا (داؤد پوترا) تمثيلوي. له اپاريتا څخه بيا د خيبر د درې مشهور اپاريداى او افريدي نمايندګي کوي. د داريوش هيستاپسيس په زمانه کي ټوله دغه قومونه هنديان شمېرل کېده او بالکل ئې د ملک هم دغه برخي نيولي وې لکه دا اوس چي ئې اولادونه هم هلته مونده کېږي. د دې ستراپي د جوړښت له مخي څخه ښکاري چي د اباسين د پولي هغه ټوله حوزه ئې کښې ايستله چي په شمال کي د بونير له غرونو څخه رانيولې بيا په جنوب کي د بولان د درې تر غرو پوري رسېده او د اباسين له سيند څخه نيولې بيا د سليمان او خيبر د هغو لړيو تر سرچينو پوري چي په

بوبدیح کي ئې د هغه د ناوې حدود تعین کړي وه.

راسئ اوس د دغو قومونو ترکیب په هغه ترتیب تر څېړني لاندي ونیسو لکه څنګه چي همدا ګړی موجودیت لري او راسئ چي یو په بل پسي یې له شماله څخه جنوب ته د خپل موقعیت په ترتیب پسي راواخلو. هم د دوی او هم د هغو قبیلو د ښووني دپاره چي اوس له دوی سره پیوستون لري دغه ترتیب ډېر مناسب معلومېږي.

ګنداري – چي د سانسکریت لیکوال ئې ګندهاري او لرغوني یونانیان ئې ګنداریوی لیکي اوس په یوه وړه علاقه کي پراته دي چي نواګي بومېږي او د هغه مرکز د ګندهار په نامه یو ښارګوټی دی چي وایي څلور زره کورونه لري. دا ملک د کابل د سیند شمال ته د هغه د کونړ د معاونې نالې او د باجوړ د غونډیو تر منځ پروت دی. ګنداري اوس د ساپي قبیلې د خېلونو په جمله کې شمېرل کېږي، او شمېر ئې تقریباً درې زره کورنۍ ګڼل سوی دی. د عبدالغفور په نامه د سوات مشهور اخوند چي د یو مذهبي زاهد په څېر په محل کي د خورا زیات تقدس او نفوذ خاوند دی، څو کاله پخوا که څه هم په عمومي توګه ساپی یادېدی خو دی یو ګندهاری و ځکه ګندهاري یا ګنداري د ساپي د قبیلې یو مهم خېل ګڼل کېږي. ساپی یوه غټه قبیله ده چي د لغمان په علاقه او د الیشنګ له سیند څخه نیولې بیا تر کونړه پوري د کافرستان د تپو د لمني په کوزو ناوو کي اوسي. دوی یو ښکلی نارینه توکم دی چي خپله خاصه لهجه لري او عموماً د پشه ئي له ټله څخه یو ښاخ ګڼل کېږي. ځیني ساپي چي ما لیدلي دي پر دواړو ټېکو باندي ئې د ورېښتانو شهبازونه را ایله کړي دي او ېخي کټ مټ ئې د شرقي یهودیانو په څېر د سر د کلکي ورېښتان لنډ کړي وي.

ګندهاري په لرغوني زمانه کي یو ګڼ شمېره او مهم ولس و او هغه ټوله ملک ته ئې خپل نوم ورکړی و چي د اباسین او کابل د سیندونو تر منځ پروت، او اوبه ئې د سوات رود او هغه نالو ته ور وزي. ددې ملک د اباسین

ACKU

پوله تر ګلګیت لاندې له اټک څخه نیولې تر کنړه غوربند پورې غزېدلې ده. دغه ملک د سانسکریت د لیکوالو ګندهارا دی او ښایي داسي وبلل سي چي د هیرودوت ګنداریوی تمثیلوي.

د ده جنوبي ویش د کونړ سره د تقاطع ختیځ پلو ته د کابل سیند کېږي. لوېدیځ ویش ئې د باجوړ د لړۍ هغه خوا جوړوي چي باجوړ د کونړ د سیند له ناوې څخه بېلوي. شمالي ویش ئې هغه جګ غرونه جوړوي چي دغه سیمه د (دارادا) له ملکه څخه جلا کوي. د سترابو (ګنداریتیس) یوه ډېره وړه ساحه درلوده او ښځي په هغه هوار ملک (یا سمه) پورې محدوده وه چي د کابل او اباسین د سیندونو د تقاطع تر منځ پروت دی. دغه محدودوالی ئې بیا البته خاص د دغې برخي د دوآب په قسمت پورې اړه درلوده چي د کابل او سوات د سیندونو تر منځ پرته ده. خو د ګندهارا غټه ساحه چي په سر کي وښوول سوه سربېره پر دوآب او سمه هغه ټوله غرنۍ ملک کښېباسي چي اوبه ئې د پنجکورې (د یونانیانو ګورایوس)، سوات (لرغونی سوآستوس) او باراندو سیندونو ته وزي او هم دا شان شمالي پلو ته لیري د کنړه او غوربند تر کوهستانه پورې چي شا ته ئې د داردو ملک دی، د باجوړ، سوات، بونیر او نورې داسي علاقې ټوله شاملوي.

ګندهاري یا د ښوول سوي ګندهارا اهالي د څو ټاکلو قومونو یا قبیلو څخه جوړ سوي دي چي د دوی په جمله کي په خپله د ګندهاري په نامه غالب ولس ئې د مرکزي ټاټوبي په څېر هغه برخه اشغال کړې ده چي د کابل، سوات او کونړ سیندونو احاطه کړې ده. خو نورو قومونو بیا د ملک پاته هواره سیمه او غرنۍ منطقه د هغو جګو غرونو تر حده پورې نیولې ده چي د سوات پر سیند راسپره برخه پر ګلګیت باندې له راسپرې برخي څخه بېلوي. موجود ګنداري یا ګندهاري لکه دمخه چي ئې وویل سوه اوس په یوه وړه علاقه پورې محدود دي چي د نواګي د تپو په منځ کي پرته ده. د دوی له لرغوني ملک څخه پاته برخه د نورو قبیلو په لاس کي ده چي

عمده ئې مهمند دي او د دوی په باب به همدا اوس ورغېږو.

د هغو نورو قومونو له جملې څخه چې په لرغونې زمانه کې د ګندهارا پر ملک باندي پراته وه، سترابو موږ ته د پنځو قومونو نومونه اخلي چې که موږ د ده بیان تعقیب کړو نو په آساني سره ئې پېژندلای سو.

دی وایي (۲ .xv جغرافیه): "سکندر تر هغه وروسته چې سغدیا ته ئې سوقیات او د سکیتیانو په مقابل کې ئې عملیات وکړه نو باکتریانا ته د خپلو راستنېدو په وخت کې پر هم هغو غرو باندي خو د نورو سړکانو له لاري آریانا ته راتېر او د هند لوري ته ئې مخه وکړه. دی د کوفیس (کابل) او خواسپیس (سوات یا لنډي) هغو سیندونو ته راورسېدی چې (پلیمیریوم) ته نژدې سره یو ځای کېږي. (پلیمیریوم اوسنی د پرانګ په نامه کلی دی. احتمال لري دا کلمه د هندي پراماراکا [یعني پرامارا] مسخه سوی پښتو شکل وي چې د یوې مشهوري راجپوتي قبیلې نوم دی او د اباسین د پولي په ټوله امتداد کې د افغاني قبیلو تر منځ په زیاته اندازه تمثیلېږي). تر خواسپیس (خوړ په پښتو کې سیند دی او اسپ یا اساپ د هغې قبیلې پښتو نوم دی چې آرریان ئې اسپیوی بولي او په خپل اوسني اسلامي نامه یوسفزي بلل کېږي) وروسته د باندوبیني (چې د باجوړ د باراوال علاقه ده) او ګنداریتیس (کندهار) له لاري د خپل حرکت په سلسله د ګوریس (ګري یا ګوري چې کنډوالې ئې د سوات د تولاش په ناوه کې یوه مشهوره او څرګنده منظره جوړوي) له یوه بل ښار څخه تېر سواو ژمی ئې د هیپاسیوی او اساکانوس په سیمو کې وایستی، (سترابو هیپاسیوی په یو بل ځای کې د اسیاسیوی په نامه یادوي، آرریان دوی اسپیوی بولي چې د مروجي پښتو د اساپي یا د اوسنیو یوسفزو د اساپزي نومونو ته ډېره ورنژدې کلمه ده). اساکانوس (د راجپوتي اسواکا پاچا دی،اوسواکا یعني "د اسوا مربوط" چې دا د یوې قبیلې نوم دی چې په لرغونې زمانه کې د سوات په ناوه کې اوسېده او په اوس کې د چترال د

اسپين او د یاسین او ګلګیت د یاشکون یا یسکان له خوا تمثیلېږي).
سکندر د پسرلي په سر کي د تکسیلا د ښار هوارو سمو ته را شیوه سو (دلته له تکسیلا څخه مقصد هغه ساحه ده چي د پېښور علاقې ته نژدې د تاخال اوسنی کلي هلته پراته دي. دا هغه تکسیلا نه ګڼله کېږي چي د اباسین ختیځ ته پرته ده ځکه سکندر تر اوسه لا له دې سیند څخه نه و تېر سوی) تر کوفیس پسي اباسین راځي. هغه ملک چي د دې دوو سیندونو تر منځ پروت دی د استاکینوی (استاکي قبیله ده چي د آرریان له یادوني سره سم استیس ئې سرخېل و)، ماسیانوی (د اباسین پر ختیځه غاړه باندي پراته مشواني چي بیان ئې پخوا راغلی دی)، نیسایوی (د یونانیانو د نیسایا اهالي، د راجپوت نیسیدا او زموږ د زمانې نیساتا چي پر شاوخوا ئې د نیسایا د لرغوني آزاد ښار کنډوالې راګرزېدلي دي) او هیپاسیوی (یا اسپاسیوی، د آرریان اسپیوی، د پښتنو اساپ او د وروستني وخت د مسلمانی د زمانې یوسفزي) له خوا شغال سوي دي. تر هغه پسې د اساکانوس (د سوات او باجوړ پاچا چي وړاندي ئې یادونه وسوه) خاوره ده چي هلته د ماسوګا ښار (دا ښار که په خپله ګوریس نه وي چي دمخه یاد سو نو البته اوسنی باجوړ د هغه ساحه ځرګندوي چي عموماً د [خار] یا [ښار] یعني [شهر] په نامه بلل کېږي) د ملک شاهي هستوګنځای دی. اباسین ته نژدې یو بل ښار دی چي پیوکالایتیس نومېږي (د هغه ساحه البته د [ېکا] کنډوالې راښيي چي تر ټوپی. را لاندي د اباسین پر غاړه واقع دی) ځکه په دې ځای کي یو داسي پل جوړ سوی دی چي د لښکرو د تېرېدو دپاره مساعد دی.

آرریان په همدې پاس ښوول سوي ملک کي د سکندر د تګ لاره په زیاته مشخصه توګه بیانوي. دی په خپل اثر کي (Bk. Iv. ۲۲۴ et seq) په سر سره دا خبره کوي چي سکندر تر هغه وروسته چي سغدیا ئې تابع کړه، بیرته ئې باکتریا ته حرکت راوکړ او له هغه ځایه څخه د پسرلي د

رارسېدو پر وخت ئې (په ۳۲۷ق م کي) له خپلو ټولو ځواکونو سره د هندوستان لوري ته ورمخه کړه او د ققفاز تر غره چي واوښت نو الیکساندریې ته ورسېدی او دا ښار ده هغه وخت د پراپامیسای تر منځ ودان کړی و چي د لومړي ځل دپاره ئې باکتریا ته سوقیات راو کړه.

له دې ځایه څخه چي وړاندي تېر سو نو نیکایا (نجراو) ته راغی او تر هغه پسي د کوفینیس (د ناجیل د درې کاڼوچي هلته د کابل له رود سره یو ځای کېږي) سیند ته ورسېدی. دلته ئې خپلي قواوي ووېشلې او (هیفایستیون) او پر دیکاس ئې د لښکرو د یوې ټولۍ سره د اباسین پر لور د (پیوکالائوتیس) ملک ته ولېږل (ګنینګهام د [هند په لرغونې جغرافیه کي] پیوکالائوتیس د سانسکریت د پوشکالاواتي سره یو شی بللی دی چي دا د ګندهارا لرغونی پایتخت و او د سوات یا لنډې د سیند پر ختیځه غاړه ئې هغي نقطې ته نژدې موقعیت درلودی چي د کابل په سیند ګډېدله) چي د هغه ځای امیر (استیس) نومېدی. (ښایي دا د هغه قوم سرخېل و چي سترابو استاکینوی بللی دی او د هغه مرکزي ښار حاکم و چي اوس ئې چارسده تمثیلوي او عموماً د هشتنغر په نامه یادېږي).

هشتنغر پر یو ډول پخواني نوم باندي دلالت کوي چي په غالب احتمال (هستینګر) یعني د (د هستی ښار) ګڼل کېږي. ځکه هشتنګر د پارسي اوهندي کلماتو یو ترکیب دی چي په دې صورت کي ئې معنا (اته ښارونه) کېږي او نو ځکه په عامیانه توګه د هغو کلیو دپاره په کار اچول سوی دی چي د دې سیند په اوږدو کي پراته دي او هم هغي علاقې ته په دغه نامه ویل کېږي چي هلته دا کلي موقعیت لري).

استیس د یوه ښار (نوم ئې نه دی اخیستل سوی) په ساتنه کي چي ورته راتښتېدلی و ووژل سو. هیفایستیون د دېرشو ورځو تر یوې کلابندۍ وروسته دغه ښار ونیوی او بیا ئې نو د هغه حکومت سنګایوس ته وسپاره (ښایي دا د شینوارو د قبیلې د (سنګو) خېل وي چي اوس د خیبر د

دريڅ لوېديځ ته د ننګرهار د علاقې د نازيان په ناوه کې اوسي؛ بيا نو سکندر د خپلو ځواکونو تر وېشلو وروسته چې پورته ئې بيان وسو په خپله له يوې ټولګی سره د اسپيوی (اساپ)، تيرايوی (تيراهي) او اراسکوی (اورکزي) په مقابل کې حرکت راوکړ او د خوئي (د ناحيل د دريڅ د کائود ګډېدو له ځايه بيا د کونړ تر روده د کابل د سيند نوم کانو دی) د سيند په اوږدو کې چې کله د يوې ناهمواره غرني ملک له لارې څخه راتېر سو نو بيا په يو څه سختی تر هغه رود پوري وت (ښايي دا به جلال آباد ته هغه مخامخ ګودر وي چې هلته دی د کابل د سيند جنوب ته ورتېر سو) او دلته ئې خپل پلي لښکر ته امر وکړ چې په فراغت سره په ده پسې راسي خو دی په خپله له خپلو ټولو سپرو پوځيانو او اته سوه ښښه ويشتونکو مقدونيانو سره چې په درنو وسلو سامبال وه او ده پر آسانو باندې سپاره کړه په ډېر ګړندیتوب د بربريانو مقابلې ته وړاندې ورغلی چې غرونو ته (د سفيدکوه شمالي لمنو ته) يا د خپلو مورچليزو کلاوو دننه ته ګوښه سوي وه. د دغو سنګربنده ښارګوټو له جملې څخه لومړی ښار چې ده حمله پر وکړه (نوم ئې نه دی ياد سوی او ښايي دا په کوټ – رود يعني [د سنګربنده سيند] په ناوه کې د تيرايوی يا دتيراهي يوه مورچليزه کلا وي) دوه پوړه کلاويورباندې راګرزېدلي وې او کلکه دفاع ئې کوله. لاکن د حملې په دوهمه ورځ هغه ونيول سو او ساتونکي ئې ګاونډيو غرو ته وتښتېده. سکندر چې کله دغه ښار د مځکي له خاورو سره برابر کړ نو بيا ئې يوه بل ته مخه وکړه چې اند کانومېدی (د کا. کام دکا يو او بل ته څرمه دوه کلي دي چې د خيبر د دريڅ لوېديځي خولې ته نژدې د کابل د سيند پر جنوبي غاړه موقعيت لري) او د هغه له شيانو څخه د استفادې په منظور ئې کراتيروس د پلي لښکر د نورو کپتانانو سره هلته پرېښووی څو درست ولايت (ننګرهار يا جلال آباد) چې ښايي هغه ده ته ډېر مناسب ځای ايسېدلی وي تر تابعيت لاندې راولي او حکومت پر وکړي.

ACKU

دلته زه دا ویلای سم چي د اراسکوی (اورکزو) په مقابل کي سوقیات به ضرور د کراتیروس په لاربنوونه اجراء سوي وي. ځکه سکندر نو لکه آرریان چي د خپل بیان په ادامه کي وایي تر دې پسي مخ د (ایواسپلا) د سیند خوا ته حرکت وکړ (دا هغه سیند ښکاري چي سترابو [خواسپیس] بللی دی. کله چي د [دکې] او [لال پورې] تر منځ د کابل د سیند پر ګودر باندي تېر سو نو له هغه ځایه ئې بیا د ګوشتې پر سمه باندي حرکت ته ادامه ورکړه) چي هلته د اسپیوی جنرال موضع نیولې وه او د دوو ورځو په موده کي تر اوږدو سفرونو وروسته هغه ښار ته راغی (د ښار نوم نه دی یاد سوی ښایي د ناوګی د سیمي ګندهار وي) چي بربریانو د ده له رانژدې کېدو سره هغه ته اور واچاوه او په خپله غرو ته وتښتېده. مقدونیانو دوی تعقیب کړه او دمخه تر دې چي د ګوښه کېدو هغو ځایونو ته ځانونه ځني ورسوي چي لکي بوکي لاري ئې وې او په آساني ځوک هلته نه سوای ورتلای، په دې تېښته کي ئې ډېر ځني ووژل. بیا نو سکندر د دغو غرونو له یوه څخه تېر سو او د اریګایوس ښار ته راغی (ښایي مطلب به د [توتای] لړی او د اریچند ښار وي چي د یوسفزو د رانیزیو په علاقه کي د همدې لړی پر ختیځه لمن په دغه نامه موجود کلی سته چي شاوخوا ئې هلته خورا زیاتي کنډوالې لیده کېږي) خو هلته له ښاره څخه اهالي وتلي او هغه ته ئې اور اچولی و. سکندر ته د دې ځای موقعیت خورا پراخ وایسېدی او کراتیروس هم په دې وخت کي بیا ورسره یو ځای سوی و نو ئې هغه ته امر وکړ چي دا ښار بیر ته له نوي سره بیا جوړ کړي او له ګاونډي اهالیو څخه ځوک چي غواړي په خپله خوښه ورته راسي دلته ئې واچوي او همدا شان له اردو څخه وتلي کسان چي نور نو د خدمت دپاره مساعد نه وي په دې ښار کي ځای پر ځای کړي. په همدې وخت کي سکندر (البته د توتای او ملکنډ په اوږدو کي) د هغه ځای پر خوا حرکت وکړ چي بربریان ورتښتېدلي وه (ښایي دا د [مورا] غر او د سوات لوري ته د همدغه نامه دره

وه) او د يوه ټاکلي (احتمال لري د ملکنډ يا ښايي د پاجه غره) په ببخ کي ئې خېمې ووهلې اما کله چي ئې هلته وليده چي د بربريانو په کمپ کي د ده تر کمپ ډېر زيات اورونه بل سوه نو پر دوی باندي د حملې دپاره ئې د يوې غښتلي قوې سره مخ په وړاندي حرکت وکړ او تر يوې سختي جګړې وروسته چي د دښمن د خاوري پر سمه او غره باندي سر ته ورسېده، بربريانو په داسي تلفاتو سره ماته وخوړه چي څلوېښت زره کسان ئې ونيول سوه او دوه سوه دېرش زره څاروي ئې له لاسه ور کړه.

له سکندر سره چي دلته کراتيروس بيا يو ځای سو چي لښکري ورسره وې او د اريګايوس ښار ئې جوړ کړی و نو ئې له يوې ټولګۍ سره د اساکيني (د باجوړ د ياسکون) پر لوري حرکت وکړ چي ويل کېده تر دېرش زره داسي فيلانو علاوه چي جبهې ته د داخلېدو دپاره چمتو دي د شلو زرو سپرو لښکرو او دېرش زره پلي لښکرو يو اردو هم لري. د ګواريوی (ښايي له دې جهته په دغه نامه ياد سوي دي چي هغه زمانه [ګوري] راجپوت د اوسني پنجکورې په ملک کي اوسېدله) له خاوري څخه د تېرېدو په لار کي د همدغه نامه (ګورايوس يعني اوسني پنجکورې) تر سيند په خورا ډېر زحمت پوري وته ځکه چي هغه زيات ژور و او هم ئې اوبه تېزي بهېدې او په تل کي ئې ښويندوکي کاڼي او پرښي وې. هلته چي ورمعلومه سوه بربريان خپلو مورچلونو ته تښتېدلي دي نو لومړی ئې خپل اردو د (مساګا) (باجوړ يا خار) پر خوا ورسم کړ چي د دغه ملک پايتخت او د اوو زرو اجيرو پوځيانو د يوې ډلي په لاس کي و چي د هند له داخله څخه راغلې وه. د دغه ځای تر نيولو وروسته چي هلته د اساکينوس مور او لور هم په لاس ورغلې، کښېوته سکندر يوه ټولګۍ د بيزيرا (د يوسفزو د سمي يا [هواري] د سودهوم په ناوه کي د رستم بازار) په مقابل کي واستوله او بله ئې (اورا) ته له دې اوامرو سره ولېږله چي د ده تر راتګه پوري په هغه ځای کي قدرت وساتي.

زه دلته یادولای سم چي د (مساګا) د نیولو په بیان کي (جستین) دغه ځای د (دایدالوس) د غره په نامه بولي (چي د باجوړ او سوات تر منځ د پنجکوړې د سیند شمال ته د (تال دارديال) يو غر دی) چي د ملکې کلیوسیس یا کلیوفیس مملکت ګڼل کېږي (ځکه اساکینوس د کورتیوس له بیانه سره سم په دې تازه وختونو کي مړ سوی دی) او دا مملکت د سکندر له خوا بیرته دې ته وسپارل سو چي له هغه څخه ئې بیا وروسته یو زوی وسو او د سکندر نوم ورباندي کښېښوول سو. د دغي څر ګندوني په ارتباط زه دا خبره زیاتولای سم چي په نن ورځ کي د چترال او بدخشان د ګاونډېو ایالاتو ګڼ شمېر خانان او واکمني کورنۍ په ویاړ سره وایي چي د دوی نسبي لیکه له لوی سکندره څخه رانښلي.

سکندر چي (اورا) ته راغی (د دغه ځای ساحه البته د کنډوالو هغه جګ پوټیان په نښه کوي چي د مردان له سرحدي چونۍ څخه پنځه یا شپږ میله لیري د یوسفزو پر سمه باندي د ساري بهلول په نامه یادېږي) نو که څه هم له دې ځای څخه هغو هندیانو دفاع کوله چي د ابیساروس له خوا په دغه منظور ورته رالېږل سوي وه خو بې له ډېره مشکله ئې ونیوی. (ابیساروس د هغه ځای امیر دی چي د سانسکریت لیکوال ئې ابهیسارا لیکي او د اباسین پر غاړه د نن ورځي له چچ هزاره سره سمون خوري) له دې پېښي سره نو د بیزیرا (بازار) اهالي چي پر یوه داسي لوړ ځای باندي راټول سوي وه چي د یوه پنډ دېوال کلا ورباندي راګرځېدلې وه د شپې پر وخت له دې ښاره ووتل او هغي پربښي ته (چي ښايي دا به د مهابڼ پر جګو باندي د [شاه دوم] یا [ملکا] پربښي وي) د خپل امنیت په خاطر وتښتېدل چي (آئورنوس) نومېده. له دې سره زیات ګاونډي بربریان چي خپل کلي ئې پرېښوول په دوی پسي هم هغه ځای ته ورتلله. سکندر اراده وکړه چي د آئورنوس دغه پربښه ونیسي (ارانای په دغو برخو کي د غرو د څوکو دپاره یو عام هندی نوم دی. د چملا په ناوه کي (چاروراي) ته نژدې د مهابڼ د

(ارانای) يو غابني سته او يو بل بيا د راولپنډۍ په سيمه کي (کهوټا) ته نژدې د (ارانای) څوکه ده) کله چي ده په (اورا) او (مساګا) کي ګارنيزونونه سره ځای پر ځای کړه نو د ملک د ساتني دپاره ئې بيز يرا ته يوه نوې کالوني ولېږله. هيفايستيون او پير ديکاس د سکندر د اوامرو په اساس په يوه بل ښار کي چي (اوروبيټيس) نومېدی وګړي بيا له سره ميشته کړه (د دغه ښار ساحه د سر، اې کنينګهام له خوا د [ارباي] په کنډوالو کي پېژندل سوې ده چي د (نوښار) علاقې ته نژدې د کابل د سيند پر جنوبي غاړه باندي واقع دی) او هلته ئې د يوه ګارنيزون تر جوړولو وروسته د اباسين د رود خوا ته پر مختګ وکړ پر هغه باندي لکه څنګه چي دوی ته امر سوی و، د ګارنيزون د تېرېدو دپاره پل جوړ کړي. بيا نو سکندر په خپله پر دغه لار باندي را رهي سو او د (پېنکېلا اوتيس) (پوشکلاواتي چي وړاندي ئې يادونه وسوه او د اوسني وخت هشتنګر يا چارسده بلل کېږي) په ښار کي ئې چي د اباسين له تسليمېدو څخه ليري نه و پروت، يو ګارنيزون واچاوه او دې ته ئې مخه وکړه چي هغه نور زيات واړه ښارګوټي ونيسي چي پر دغه سيند باندي واقع وه. د هغه ولايت دوه شاهزادګان چي کوفايوس او اساګيټس نومېدل د ده حضور ته ورغله. (کوفايوس ښايي د [کوبا] په نامه د راجپوتي قبيلې خان وي). دی بالاخره ايمبوليما ته (چي د بونير د چملې په علاقه کي اوسنی [امبيلا] ده) راغی چي دا د آئورنوس پرښي ته (اوسنی [ملکا] ته چي د مهابان د غره سر ته نژدې ده او په دې تازه کلونو د هندوستان د وهابي متعصبانو مورچل و. د ۱۸٦۳ – ٦۴م کال د امبيلا د هغو عملياتو د پای ته رسېدو په جريان کي چي د دغه مورچل د ورانېدو دپاره اجرا کېده زه د ملکې "د لارښوونکو" په نامه د هغه خاص هيئت سره مل وم چي دغه دنده ورته سپارل سوې وه) نژدې يو ښار و او هنديانو دفاع ځني کوله. هلته ئې کراتيروس د اردو له يوې برخي سره پرېښووی چي په هغه محل کي د يوې اوږدې پاته کېدني

دپاره د غلې زېرمې او نور هغه ټوله لوازم راټول کړي چې اړتيا ورته پيښېږي. خو په خپله له پاته لښکرو سره مخ د پرښې پر لور ور رهي سو. کله چې يې آئورنوس ونيوی نو سکندر له پرښې څخه راشېوه سو او د اساکينوی د مځکو پر لوري ئې مخ ور ونيوی. (اساکينوی ښايي د راجپوت اسوا - کا يا اسا - کاوی چې البته وړاندې ياده سوې د اساګيتيس قبيله وه او دغه نوم د اسا جت، او د جت د قوم يا توکم مربوط د [اسا] قبيله تمثيلوي. اساکينوی په اوس کې ښايي له دمخنۍ يادوني سره سم د (ياسکون) له خوا تمثيلېږي. دی د هغو بربريانو په لټولو پسې را رهي و چې هلته د غرو خوا ته تښتېدلي وه. کله چې د (ديرتا) (ښايي د [دارادا] پايتخت) ته راورسېدی نو هلته ئې وليده چې هم هغه ځای او هم ئې شاوخوا ملک ټوله پر يوه مخ له اهاليو څخه تش و.

(سکندر ښکاري چې د باراندو تر سيند د (پوران) او چاکيسار هغو ناوو ته وراوښتی دی چې هلته اوس چغرزي افغانان پراته دي. په چلاکيسار کې د نظامي کلا په څېر جوړ سوی يو کلی سته چې (داؤد) ئې بولي او دا ښايي د (داردو) د قبيلې د اهاليو په نامه پسې په اصل سر کې (داردو) نومېدی چې د مسلمانی له خاطر د داؤد په اسلامي نامه پوښل سوی دی). په دا بله ورځ سکندر يوه قوه د شاوخوا ملک د پلټني دپاره ولېږله خو په خپله ئې د اباسين د رود پر لوري مخه وکړه او وختي ئې د هغه سړک د سطحې د هوارولو دپاره لښکري استولي وې چې بې له سمېدو څخه څوک نه سوای پر تللای. د يو شمېر بربريانو له خولې څخه چې اسير سوي وه سکندر په دې وپوهېدی چې د هغه ملک اهالي د ځان د ژغورني دپاره (بارليساديس) ته تښتېدلي دي خو خپل فيلان ئې د اباسين سيند ته نژدې په څړ ځايونو کې خوشي کړي دي. سکندر دغه اسيران له ځانه سره د خپلو لارښوونکو په توګه واخيسته څو د هغو فيلانو ځای ورښيي او يو شمېر فيلان چې ئې په لاس کښېوته هغه ئې اردو ته وسپارله. د غټو ونو

هغه ځنګل چې سيند ته ئې نژدې وليدی نو سکندر امر وکړ چې د ده د لښکرو په وسيله ووهل سي او له لرګو څخه ئې بېړۍ جوړې سي. کله چې بېړۍ تياري او سيند ته لاهو سوې نو په دې وسيله ده او د ده ځواک تر هغه پله پوري ځان پکښې ورساوه چې وختي لا هيفايستيون او پرديکاس جوړ کړی و.

سکندر نو بيا د ملک هغې برخې ته ننوت چې د کوفينيس او اندوس (د کابل او اباسين د دوو سيندونو تر منځ پرته ده او ويل کېږي چې (نيسا) هلته موقعيت لري او نيسا ته (اوسنۍ نيساتا ته چې د سوات د لنډي رود پر کينه غاړه هغه محل ته نژدې واقع ده چې د کابل په سيند ګډېږي) چې له خپل اردو سره راورسېدی نو اهاليو د اکالفيس (چې ښايي د (ناګا) مربوط د (اکا) د قبيلې يو مشر وي) په مشري يوه نماينده جرګه ورواستوله او له سکندر څخه ئې وغوښته چې د دوی د خدای (ديونيسوس) په خاطر د ښار آزادۍ ټولي پر سالم حال پرېږدي او ده ته ئې داړ ورکړ چې کله (باچوس) هنديان تابع کړه او اراده ئې وکړه چې يونان ته ستون سي نو ئې د خپلو بريالیتوبونو د يو يادګار په توګه دغه ښار جوړ کړ او هم هغه (د کوه مور يا کيامور) غر ئې چې دغه ښار ته ډېر نژدې پروت دی له نوي سره د (سيروس) په نامه وباله. سکندر له نيسا څخه د اباسين پر سر تېر سوی پل ته ورغی او هلته ئې اردو تر سيند پوري ايستی. خو دا چې دی چيرته ولاړی موږ دې ته نه يو اړ چې د ده تګ لاره نوره هم تر هغه تعقيب کړو څو چې د اباسين پر اوبو په بېړۍ کي کښته تر سمندره پوري ولاړی. خو په وروسته کي بيا تر کومه ځايه چې د ده اقدامات زموږ د رواني پلټني سره اړه پيدا کوي نو بيا پر هغه خپل ځای ئې يادونه کوو.

د هغو څرګندونو له مخې چې وړاندي د هيرودوت، سترابو او آرريان له بيانو څخه راټولي سوي دي موږ د هغو ټبو اقوامو نومونه زده کوو چې په لرغونې زمانه کي د ګنداريوی پر ملک باندي اوسېدله. دوی استاکينوی،

ماسیانوی، نیسایوی، اسپیوی، او اساکینوی دي.

استاکینوی لکه دمخه چي وویل سوه ښايي د راجپوتي شاهزاده استیس قبیله وه چي د هستینګارا (اوسني هشتنغر) په علاقه کي اوسېده. دوی اوس په دغه نامه په افغانستان کي نه پېژندل کېږي، پر ته له هغه چي د يو څو وړو څانګو په وجود کي چي د (هستي) په نامه دي د دې سرحد د ځينو پښتني قبيلو د خېلونو تر منځ مونده کېږي. دلته د دوی لرغونی مرکز اوس د مهمند قبيلې نيولی دی چي د محمدزيو خېل ئې د هشتنغر په علاقه کي اوسي.

ماسیانوی لکه وړاندي چي څرګنده سوه اوس د مشوانيو له خوا تمثيلېږي چي نن د هغو اصلي مرکز د اباسين پر ختيځه غاړه د چچ هزاره د ګنډغر د تيپې په سريکوټ کي واقع دی. خو د مشاني، مساني، ماشو او داسي نورو په بڼه د اباسين په اوږدو کي د يو شمېر پښتني قبيلو د خېلونو تر منځ ليده کېږي.

نيسايوی احتمال لري د نيسا د آزاد ښار اهالي وه او محل ئې ښايي د نيساتا اوسنی ښارګوټی تمثيلوي چي وړاندي پر وړغېدو او د هغه شاوخوا ډېري زياتي کنډوالې پر تې دي چي پوټيانو او خرابو ئې څو مربع ميله ورشو نيولې ده.

اساکينوی لکه ترمخه چي وويل سوه ښايي اوس ئې د چترال او ياسين د هغو علاقو (ياسکون) تمثيلوي چي په باجوړ کي د دوی لرغونو مرکزو ته څرمه پرتې دي. باجوړ احتمال لري د (باجا سوا) ملک و چي (د [راجستان د پېښه ليک] په لومړي ټوک او يوڅلوېښتم مخ کي) د (تاد) د بيان سره سم د (اوجاميدا) له څلرمه پښته څخه و. د (هستي) د هغو درو ښاخونو له جملې څخه چي نورو ځايو ته د اوسېدوني دپاره ولېږل سوه يو هم (اجاميدا) و او ويل کېږي چي تر ميلاد وړاندي په شپاړسمه پېړۍ کي د پنجاب پر ټوله سيمه او تر اباسين پوري خوا هر چيري خپاره سوه.

(باجاسوا) چي د اباسين شاوخوا ئې ځايونه لاس ته راوسته، پنځه زامن ئې درلوده چي د (پنچاليکا) خپل نوم ئې (پنجاب) ته ورکړ. کشر زوی ئې کامپيلا د هغه د پای تخت بنا کښېښووله او د (کامپيلنګرا) په نامه ئې وباله.

(د دغي ساحې ښبه اټک ته نژدې د کاميلپور په نامه موجود کلی دی چي هلته اوس برتانوي ټاټوبی (کمپ بيلپور) بلل کېږي). له دغي کورنۍ سره د (دروپديوی) په نامه شاهزادګۍ اړه درلوده چي هغه د (پندو) ورونو اشتراکي ماينه وه چي د مهابارت اتلان دي. (پانج پندو) په هغو محلي نکلونو کي چي د دوی کارنامې يادوي او تر اوسه د ګندهارا د ملک په قبيلو کي رواج لري ښځي پېژندلي څېرې دي. د چترال او ياسين (ياسکون) په څرګنده توګه هم هغه وګړي دي چي يونانيانو په لرغونې زمانه کي اساکينوی ياد کړي دي. دوی پخوا زمانه په سوات او باجوړ کي اوسېده خو اوس په دغو علاقو کي په هغه نامه چيرته نه مونده کېږي. احتمال لري اوس دوی په هغو سواتيانو کي شامل سوي دي چي دا نوم د سوات او باجوړ د ټولو لرغونو يا هندي اهاليو دپاره له هغه راهيسي يو عام شموله نوم ګرزېدلی دی چي دوی اسلام ته اوښتي دي. د سواتيانو تر منځ يو غټ ښاخ سته چي د (ګباري)، (ګبارای) يا (ګاوري) په نامه پېژندل کېږي. له نامه څخه ئې څرګندېږي چي دوی پخوا تر هغه چي اسلام ته واوړي (اور نمانځونکي) وه او ښايي د هغي (پنتيالي) قبيلې مربوط پرشياوال وه (چي وړاندي ئې يادونه راغلې ده) د دې قبيلې د لرغوني زمانې له عمده مرکزونو څخه د يوه نخښه د (پنديالي) هغه موجوده علاقه ده چي د کابل او سوات د سيندونو تر منځ د مهمندو په اوسنيو تپو کي موقعيت لري.

اسپيوی اوس د اساپ د قبيلې له خوا تمثيلېږي چي هغه له کندهاره نيولې تر اباسين پوري د افغانستان پر ختيځو پولو باندي د څو غټو اوسېدونکو قبيلو په څانګو کي په زياته پراخه توګه خپره سوې ده.

نوموړې قبیله د یوسفزو تر اسلامي نامه لاندي د یوې ستري او پیاوړي قبیلې په څېر د خپلو لیري نیکه ګانو په لرغونو مرکزونو کي چي هغو ته ئې د یوسفزي (جمع یوسفزیو) اوسنی نوم یا د غرنیو خېلونو له تلفظ سره سم د (اساپزي) نوم ورکړی دی.

اسپیوي چي د آرریان له خوا په دغه راز نامه یاد سوي دي د ستړابو هیپاسیوی یا اسپاسیوی دي چي په یوه وروستنۍ زمانه کي بیا د کورتیوس له خوا د کندهار د ملک د اګریاسپای یا اریاسپای په څېر ذکر سوي دي. د یوسفزیو په خپل اوسني نامه ئې هغه ټوله ملک خپل کړی دی چي د سوات او کابل او اباسین د سیندونو تر منځ پروت او تر هغو ځګو غرو رسېدلی دی چي دوی د یاسین او ګیلګیت د (داردا) له ملک څخه بېلوي. رشتیا هم لرغونې ګندهارا په هغه حدودو چي دمخه وښوول سوه پرته له هغي توټې چي دغه نوم خاص محدودیت پوري درلودی، ټوله د کابل او سوات د سیندونو تر منځ واقع ده او لوېدیځ پلو د کونړ د رود کښتنۍ مجرا ئې احاطه کړې ده. په دې ساحه کي اوسنی کنداری یا ګنداري تر اوسه لا هم د خپل نامه په هغه وړه علاقه کي مونده کېږي چي د باجوړ پر پوله د ناوګۍ په ټیپو کي پرته ده.

د لرغونو ګندهاریو ډېره غټه پرګنه د دوی د (اساپي) ګاونډیانو سره یو ځای چي د سوات، کابل او اباسین تر منځ په ورپوري سمه یا مځکه کي پراته وه، د (یوئیچي ګیتای) یا (جاتا) له خوا څخه د ترنک د سیند ناوې ته پسي واخیستل سوه او د پنځمي میلادي پېړۍ په وخت کي ئې د هغه د غاړو شاوخوا هلته واړول. په همدغه وخت کي ئې د (بودا) د خیرات – لوښی له پېښوره څخه کندهار ته له ځانه سره یووړ. له ښه مرغه ما ته برابره سوه چي دغه مقدس یادګار په ۱۸۵۷ م کال کي هلته ووینم. دغه لوښی هغه وخت په پوره سالم حالت کي ساتلی او په یوه ګوښه خوار اسلامي زیارت کي پروت و چي هغه زیارت د کندهار د لرغوني کلا

ACKU

لرونکي ښار د کندهوالو تر منځ موقعیت درلودی. کندهار ته چي د هغه ملک نوم احتمال لري د اباسین د ګنداریو د دغي کالونۍ له نامه څخه راوتلی وي. په دغه ترتیب د راغلو ګندهاریو په باب دا خبره ډېره نه ده روښانه چي څه سوه، ځکه دوی د کندهار د اوسني ملک د موجودو قبیلو تر منځ په دغه نامه نه پېژندل کېږي او نه هم لږ تر لږه د یوې ځانته ارضي قبیلې په څېر شهرت لري. خو د دوی د وطنوالو او د دغه مهاجرت د انډیوالانو په باب ئې بیا دا خبره معلومه ده چي لس پېړۍ وروسته د دوی اولاده د (یوسفزي) یا (د یوسف د زامنو) تر اسلامي نامه لاندي چي دغه نامه ئې د هغي افغاني ادعاء له کبله چي له اسرائیلي نسبه څخه ئې بولي یو څه ګډوډي ئې راپیدا کړې ده، خپل لرغونی ابائي ملک ته له یوې بلي قبیلې یعني مندړو (پلیني مندروآني بللی دی) سره یو ځای د هیلمند د سیند له غاړو څخه راستانه سول.

د یوسفزو له خپلو روایاتو سره سم دوی د پېښور په ناوه کي خپلو اوسنیو مېنو ته د پنځلسمي پېړۍ د منځنیو کلونو په شاوخوا کي هغه زمانه راغلي دي چي په کابل او غزني کي د میرزا الغ بېګ د پاچهۍ دوره وه. الغ بېګ د امیر تېمور (چي اروپايي لیکوال ئې تېمورلین یادوي) لمسی او په هند کي د مغلو د شاهي کورنۍ د مؤسس امپراتور بابر اکا و. یوسفزي تر دغه مهاجرت دمخه په (غوره مرغه) کي اوسېده چي د ارغسان د هغه رود پر سرچینو باندي پر ته علاقه ده چي د ترنک جنوبي معاون دی. د ترینانو د قبیلې سره چي د کښتني ارغسان او کدني علاقې ئې نیولي وې، د څړځای پر سر باندي د دوی یوه شخړه پېښه سوه او د هغې په نتیجه کي نو له دې خپله ځایه مخ د کابل پر خوا ولېږدېده. په کابل کي ئې د نورو لېږدېدونکو قبیلو سره ولیدل چي مهمند، خلیل او داودزي نومېده. خو په یو ځایي توګه ټوله د غوریاخېل یا غوري په عمومي نامه یادېدله. دوی له هغو سره یو ځای سوه او په ګډه ئې د لویو لارو نیولو او د ملک ناآرامولو ته لاس

واچاوه. د دوی داړي په دې اندازه له زغملو ووتې چې الغ بېګ یوه قوه وروليږله چې دوی ته ایداد ورکړي او ددې اقدام په نتیجه کې د کابل له علاقې څخه د جلال آباد خوا ته پسي واخیستل سوه. هلته ئې د خوګیانو له قبیلې سره چې د سفیدکوه پر شمالي اړخونو او لمنو باندې اوسېده یوه اتحادیه جوړه کړه او د دوی په مرسته مخ د اباسین پر لوري رهي سوه. یوسفزي د خپل سرخېل یا ملک تر مشرۍ لاندې چې خان (کجوه) یا (کاجو) نومېدی د خیبر تر غونډیو د پېښور علاقې ته ورواوښته او هلته د غرنۍ تپې د لمنې په اوړدو کې د هستوګنځي په څېر یوه ټوټه مځکه ورکول سوه. خو هلته چې ئې د اوبو له یوې مجرا څخه د استفادې پر سر له مېشته دلازاکو سره لانجه وه نو له هغو سره په جګړه کښېوته او تر یو لړ پرله پسې نښتو وروسته ئې د کابل او سوات تر سیندونو ها خوا سمې ته وشړل. دلته نو دلازاک په خپل مرکز کې راغونډ سوه چې بې له کومه توپیره د (کوټ کاپورا)، (لنګر کوټ)، (کاپور دګرهي) او ګارهي کاپور ریا د [کاپور مورچل] یا کاپول، چې د سوداګر پېشه راجپوت قبیله ده) په نامه یادېږي. دوی د یوسفزو په مقابل کې چې د سوات له سیند څخه سمې ته راتېر سوي وه له نوي سره جګړې پیل کړې. د دوی هڅې ځای ته ونه رسېدې او بریمنو یوسفزیو دلازاک تر اباسین پوري خوا چچ هزاره ته وشړل او سمه ئې په خپل لاس کې واخیسته.

بدمرغه دلازاک تقریباً نیمه پېړۍ وروسته (۷ - ۱٦۴۴م) د دوی د ناآرامیو او بې نظمیو په وجه چې په چچ کې ئې را پیدا کړې د امپراتور جهانګیر له خوا ختم سوه او له دې قبیلې څخه پاته کسان ئې په ډله ئیزه توګه هندوستان او دکهن ته تبعید کړه چې د هغه ځای د بېلابېلو برخو اهالیو په عمومي ټول کې یومخیزه ورک سوي دي. د هغو وګړو له جملې چې په تېښته ئې له دغه تبعیده څخه ځانونه وژغورل یو شمېر تیت سوي کورنۍ او وړې ټولۍ تر اوسه لا هم د پېښور او راولپنډۍ په بېلابېلو برخو

کي مونده کېږي.

همدا راز د دلازاکو وړې څانګي د بونیر د تپو د اساپزیو په څو خېلونو کي پیدا کېږي. خو دلازاک، چي ویل کېږي پخوا زمانه په پېښور کي یو خورا ګڼ شمېره او پیاوړی ولس و، له دغو برخو څخه د یوې ارضي قبیلې په څېر یو مخیزه ورک سوي دي او ځای ئې یوسف، مندڼ او د دوی د اتحادیې مهاجمینو نیولی دی چي پورته ئې نومونه یاد سوه. د دلازاکو تر شړلو وروسته یوسف او مندڼ سمه په خپل لاس کي واخیسته او د ورپسې د دوولس کلونو په دوران کي ئې ورو ورو خپل ځانونه د سوات باداران کړه. په همدې وخت کي مهمندو او نورو غوریاخېلو له خوګیاڼو سره یو ځای چي په دې هجوم کي ورسره مله وه د پېښور شاوخوا د هغو سیمو تصرف په لاس کي واخیست چي اوس د دوی په نامه دي. خو د مهمندو یو بل غټ جمعیت بیا هغه غرنی سیمي په لاس کي واخیستې چي اوس د دوی په نامه دي دغه سیمي چي د کابل او سوات د سیندونو تر منځ پرتې دي د خیبر او سوات د تپو تر منځ یوه منځنی لړی جوړوي.

د یوسفزو سمه په دغه وخت کي د یوه ایله څرځای سیمه وه چي د ټیټو وحشي بوټو په ځنګله پټه او خلک څنګه وربانديي اوسېدله. پر ټوله ورشو ئې دلته هلته خال خال د سپېرو خاورو پوټیان خپاره وه چي د هغو د پخوانیو ښارګوټو او کلیو کنډوالې تر لاندي پټي وې چي وایي د غزني د محمود له خوا څخه ړنګ سوي دي. د دې سیمي عمده مرکز د لنګرکوټ هغه مورچل لرونکی ښارګوټی و چي وړاندي ئې یادونه وسوه او دا هغه ځای و چي هلته هم دلازاکو خپل وروستی مقاومت وښوٌوی او هم یوسفزو خپل غوڅ بری وګاټه. هغه ملک چي سوابی ته نژدې د شمال – ختیځ پلو پروت و په دغه زمانه کي د کارک – خانه په نامه یادېدی چي معنا ئې د (ګرګدن – کور) کېږي او دا محل چي د نلانو او کوړم اوبو یوه پراخ دلدلزار نیولی و د دغه حیوان پټنځي وه.

امپراتور بابر چې د ۱۵۱۹م کال په پیل کې له کابله څخه د کامې، باجوړ او سوات د علاقو له لارې په دغه ملک کې تېر سوی دی نو د دې ځای بیان ئې په خپلو خاطراتو په یاداښتو کې راوړی دی. بابر په دغه موقع کې د یوسفزو د خان لور وغوښته او په دغه دلدلزاره ساحه کې ئې چې وړاندې یاده سوه د کرګدن ښکار وکړ. داسې ښکارې چې کرګدن له یوې ډېرې پخوانۍ زمانې څخه په دغو برخو کې اوسېده او څرنګه چې په زړه پارسي کې دا حیوان (امبیلا) نومېدی نو ښایي له همدې ځایه څخه د بونیر د چمله په علاقه کې د امبیلا د کلي نوم راپیدا سوی وي چې ما د خپل بیان په یوه تېره برخه کې د آرریان د (ایمبولیما) په څېر پېژندلی دی. کرګدن ډېر وخت کېږي چې له دغو برخو څخه غائب سوی دی او زما په خیال اوس د شمالي هند په هیڅ کوم ځای کې نه مونده کېږي. د کرګدن له پوست څخه جوړ سوي سپرونه د غرنیو یوسفزو تر منځ عمومیت لري او حتی اوس هم د دوی له خوا په زیات ارزښت ورته کتل کېږي او چیرې چې امکان ولري په لاس ئې راوړي.

لرغوني پوټیان یا (تومولي) چې وړاندې یاد سوه په شمېر خورا زیات او دونه پراخ خپاره دي چې د سمې منظرې ته ئې یوه خاصه بڼه ورکړې ده. دغه آثار پر دې باندې دلالت کوي چې د بودائي مذهب یو ډېر ګڼ شمېره، سوکاله او د جګ تمدن خاوند ولس په دې ملک کې ژوند کاوه.

بودایي مذهب لکه څنګه چې موږ د چینائي زائرینو (فاهیان) او (هوین تهسنګ) د سفرونو له مخې پوهېږو په پنځمه پېړۍ کې د شمالي هند پر سیمه او هم د افغانستان پر دغه برخه باندې د غوړېدو په برم کې و خو د اوومې پېړۍ په دوران کې ئې د ځوړېدو پر خوا مخه سوه. د دغه ملک د لویو ښارګوټو او ښارونو په کنډوالو کې اوس لا هم د معمارۍ بقایا او مجسمې په ډېره زیاته اندازه مونده کیږي او په ځینو پوټیانو کې یې چې تر حفریاتو لاندې راغلي دي د یوناني هنر څرګند شواهد لیده کېږي. هغه

خورا زيات شمېر او خورا راز په راز يوناني - باختري سکې چې حتى اوس لا هم يو وخت او بل وخت د ګندهارا د ټوله ملک پر سيمه باندي د لرغونو ټاټوبو په ورانيو کي مونده کېږي، پرته له نورو ټولو شواهدو څخه يوازي همدا سکې په غوڅه توګه ثابتوي چې دا ځای يو زمانه د يوناني کالونيو يو غوړېدونکی مرکز و. دغه حقايق نو طبعاً موږ دې ته چمتو کوي چې د دوی د تېري لرغوني زمانې د سوکالۍ او واکمنۍ د کنډوالو په منځ کي د هغو يوناني ناقلينو د اولادې يو څرک هم ولټوو چې د صنعت او هنر د يادګارونو دغسي يوه بډايه زېرمه ئې په واک کي لرو او دا خو لا پرېږده چې د کورني مصنوعاتو او تزئيناتو څرګند بېزنتيني نوعيت ئې د دې ملک د بوميانو له خوا څخه تر دې نن ورځي لا پالل کېږي. خو دا آسانه خبره نه ده چې د هغو قبيلو په ډېره ګڼه ګوڼه کي وپېژندل سي چې دوی ئې تر منځ ورک سوي دي. البته دا پېژندنه د هغو يوناني نومونو له مخي پرته په بل ډول نه سي کېدای چې په هر صورت له شکه نه دي وتلي او ډېر يا لږ په يوه خارجي او ليري مځکه کي د پېړيو په تېرېدو سره تحريف سوي دي. دا نومونه همدا شان عادتاً د اسلامي تبديليو په وجه په بله بڼه اووښتي او کله ناکله بيا د بريمنو مهاجمانو له خوا څخه مناسب ګڼل سوي دي. له ټولو خبرو سره موږ د يوسفزو د ملک د اوسنيو اهاليو تر منځ ځيني داسي قبيلې او خېلونه په يقيني توګه مومو چې نومونه ئې د بلي هري ريښې په نسبت يوې يوناني ريښې ته په ډېره آساني راجع کېدای سي. که داسي نه وي نو بيا په رشتيا د (ګېتا) يا (جاتا) هغو قبيلو چې د يونانيانو لاس ئې له کالخوائي څخه وکښی، همدارنګه ئې هغه شان نومونه درلوده چې د يونانيانو هغې ته ورته او يا کټ مټ هغسي وه.

د اکا، الي، بائي، جونا يا جانا، يونس او داسي نور قبيلوي نومونه، که څه هم اوس داسي ګومان کېږي چې د جت په توکم پوري اړه لري اما ښايي همدې ولس له هغو يونانيانو څخه را اخيستي وي چې دوی ورسره

ګډ سوه او پاچهانو ئې هم پر خپلو سکو باندي له يوناني ژبي څخه کار اخيستی. که دمخه ياد سوي بر کي د ليبيا د يوناني بارکای نمايندګان وي او له همدې سرچينې څخه د دراني افغانانو بارک يا بارکزي او د پښتنو د ختکو بارک راپيدا سوي وي نو بيا دې ته نه اړېږو چي د داسي مثالونو ليدو ته هک پک پاته سو چي يوناني (اکها) د پښتنو د (اکا) او په مځکه کي د هغو د اړخکي شريک جت د (اګا) په وجود کي وينو. يا يوناني (اليولوی) د پښتنو د (الي) يا (علي) په نومو کي يا يوناني بويوی د راجپوت او پښتون په (بای) کي او يا يوناني (آی ئونوی) د راجپوت په (جونا) او د پښتنو په يونس کي مونږ ته په مخه راسي.

له دغو مهاجمانو سره چي (ګپتا) يا (جاتا) نومېږي او يو غټ ښاخ ئې د (مند) په نامه دی (چي د اروپا د ګوت، يا جوتي او ويند سره سمون خوري) د (هون) نوري ګڼ شمېره او پياوړي ډلي هم راغلي چي د خپلو بريو نښه ئې په افغانستان کي د دوی د قبيله والو د دايمي ټاټوبو په وجود کي پرېښووله. د افغانستان په هغه برخه کي چي اوس زموږ تر کتني لاندي ده دا وګړي د (ګويي) يا (ګيونګين) په نامه تاتاري هون وه چي د (دي ګويګني) د بيان له مخي تر ميلاد پخوا ئې په يوه وختي زمانه کي خپل هغه لرغوني مرکزونه پرېښوول چي د (تارتاري) د ملک د ختيځي برخي په پای کي د چين شمال ته واقع وه او خپل لوی بهيرونه ئې پر لوېديځه خوا باندي را رهي کړه. دغه بهيرونه تر هغه وروسته چي څو پېړۍ د شمالي آسيا پر لويه ورشو لالهانده ګرزېده او جګړې ئې کولې ورو ورو د جنوبي او لوېديځ پلو له خوا د ستر (شامو) يا د (ګوبي) دښت ته (ښايي د ګويي يا ګاوي د نامه په تعقيب دغه شان نوم باندي ايښوول سوی وي) راپساو سوه او هلته له (يوئيچي) يا (ګيتای) سره يو ځای سوه چي په ليري ختيځ کي کېنېستي د همدوی د سيمو له مناطقو (ښايي په لومړي سر کي د شمالي امريکې له وچي څخه تر دوی پخوا راغلي وه. دا ولسونه د سپېڅلو غرونو

(چي چينايان ئې تين شان او برهمن ئې كيلاس بولي) د دواړو خواوو په اوږدو كي د (ايغور كاشغر) او (جتتها زونګغر) له لاري لوېديځ پلو مخ ته ولاړه او تر يوناني واكمنۍ لاندي پر هغو ملكو باندي ئې هجوم وروړى چي له وګړو ډک، متمدن او بډاى ملكونه وه او د سيحون او جيحون (سيراو آمو، جاخارتيس او اكسوس) پر منابعو باندي ودان سوي وه. په داسي حال كي چي يوئيچي او ګيونګين (جاتا او ګوجر) د جنوب او جنوب - ختيځ پر لور مخ ته ولاړه خو ګويي (اوسنى ګاوي يا كوبي) ښكاري چي ډېره برخه ئې د هندوكش شمال ته پاته سوه. د دوى د دغه نامه يوازنۍ بولګه چي اوس په افغانستان كي مونده كېږي هغه (ګاوي) هزاره دي چي د باميان او غوربند شاوخوا اوسي خو د (كابي) يا (كبا) څانګي بيا د اباسين د پولي په اوږدو كي د څو افغاني قبيلو تر منځ مونده كېږي. دغه نوم همدا شان د اګنيكولا راجپوت د پرامارا د قبيلې د خېلونو تر منځ په مخه راځي چي ښايي دوى په يوه پخوانۍ زمانه كي له دغي قبيلې سره يو ځاى سوي او په ګډه سوي وي. دا چي د جاتا او ګوجر ډېر زيات اهالي سر تر پايه د اباسين په ټوله ناوه او په ګرده شمالي هند كي اوسي د دې د شاهدي وركوي چي دغه نيولى ملک ئې په بشپړ ډول ټوله په لاس كي و. جاتا يا جت اساساً كروندګر مېشته خلک دي خو ګوجر بيا زياتره چوپاني كوي. دواړه ښكلي، نارينه، تكړه او زړه ور توكمونه دي. په يوسفزو كي ګوجر پر سمه باندي يو زيات شمېر كلي لري، خو په تپو كي چي هلته ئې شمېر خورا ډېر دى له يوه مخه د رمو او ګلو په ساتنه لګيا دي. د دوى په مالداري كي غواوي، ګاميښي، وزګړي او پسونه ټوله شامل دي. د اباسين په كوزه ناوه او بلوچستان كي جټ خاص، اوښ روزونكي دي او د دغه حيوان په ساتنه باندي شهرت لري.

د آريان له خوا د ياد سوي اسپيوي (اوسني اساپ، يا اساپزي او يا يوسفزي) په باب خبره داسي ښكاري چي دوى هغه تپې نيولي وې چي د

ACKU

سوات له سیند څخه نیولې بیا تر اباسین پورې د هوارې مځکې پر شاوخوا راګرځېدلې پرتې وې خو د همدې لیکوال له خوا یاد سوی اساکینوی (اوسنی یاسکون یا یاشکون) بیا هغه تپې او ناوې اشغال کړې وې چې زیم ئې د سوات او پنجکورې سیندونو ته وروزي. په دې ډول نو دغو دوو قبیلو او ګندهاریو د ګندهارا د ملک ټولې غرنۍ علاقې نیولې وې. اسپیوی اوس د یوسفزو د اساپ د ښاخ له خوا تمثیلېږي او یو آزاد ولس دی چې تر بر تانوي پولې ها خوا ته په هغو تپو کې اوسي چې دلته ئې آن له هغې زمانې څخه خپله نیوکه درولوده چې په دغو برخو کې مقدونیان ورباندې پېښ سوه او په وروسته کې چې دې مقدونیانو هلته وطني خصوصیات واخیسته نو بیا د بومي هیوادوالو په څېر د مځکې په کالخوا کې له دوی سره ګډ سوه. دغه نتیجه چې تر زیاتې اندازې ئې موږ د تاریخ له مخې لاس ته راوړای سو په دې خبره باندې نوره هم ټینګېږي چې یوناني قبیلوي نومونه د دوی د خېلونو تر منځ خورا ډېر پیدا کېږي. اساکینوی په چترال او یاسین کې د یاشکون له خوا او په (هزاره پکلي) کې ښایي د (سواتي) له خوا څخه تمثیلېږي. د دیرلسمي پېړۍ په لومړنیو کلونو کې چې د چنګېزخان قرارګاه دغه ځای ونیوی د سوات او باجوړ ملک د سواتي ګبري په نامه یادېدی ځکه دلته هغه ګبري قبیله چې دمخه ئې یادونه سوې ده د نفوسو د ډېروالي له در که غالبه وه. خو د ورپسې پېړۍ د پای په کلونو کې چې دغه مځکه یوسفزو واخیسته نو ګبري تقریباً یو مخیزه له دې ملکه ووته او د اباسین د غاړې په اوږدو کې د کولي، پلاس او نورو شاوخوا چې د ګبریال یا ګبري د ملک په نامه پېژندل کېږي د (داردو) علاقو ته ورکډه سوه. غالبه ده چې په همدغه وخت کې یاسکون له باجوړ څخه چترال او یاسین ته وکوچېده خو هغه چې د سوات وه تر اباسین پورې خوا د (سواتي) تر نامه لاندې (پکلي هزاره) ته مهاجر سوه. (سواتي) نو یو ارضي نوم دی چې د سوات د ملک ټولو لرغونو ولسونو ته

ورکول سوی دی او سربېره پر ګبري او یاسکون د هندیانو یو شمېر نوري وړې قبیلې هم کښېباسي.

په دې ترتیب نو موږ وینو چې لرغونی ګندهارا هغه شان لکه څنګه چې د لرغونو لیکوالو له اقتباسي بیانو څخه موږ ته رامعلومېږي د کابل او سوات د سمندرونو په منځ کې پرته سیمه ئې د ګنداریوی یا ګندهاریو له خوا نیول سوې وه. د سوات د سیند شمال ته هواره مځکه ئې بیا استاکینوی یا هشتنغر یونیولې وه. د سوات سره د ګډېدو تر محل لاندې د کابل د سیند شمال ته پر سمه باندې ئې ماسیاني یا مشواني پراته وه. په راګرزېدلو شاګیو او د هغو په هوارو لمنو کې ئې چې د سوات له سینده څخه بیا تر اباسین پورې ورشو ئې شاملوله اسپیوی یا اساپي اوسېدله. په دننه تپو کې ئې بیا اساکینوی یا یاشکون مېشته وه. موږ همدارنګه ولیده چې د لرغونو قبیلو له دغو تمثیلوونکو څخه هره یوه ئې تر اوسه پورې لا د دغه ملک د موجوده اهالیو تر منځ پایي او تر زیاتې اندازې په هغو نومونو او زیاتره په هم هغو ځایونو کې چې د اقتباس لیکوالو مو د دوی په نامه ښوولي دي، خو څرنګه چې اوسني یوسفزي غلبه لري نو دوی ټوله ئې تر خپلې شعاع لاندې راوستلي دي. راسئ چې اوس نو د یوسفزو قبیله وڅېړو او د هغې جوړونکي ځانګي جزء په جزء تر کتنې لاندې راولو.

یوسفزي دوه غټې ښاخونه لري چې یو ئې مندڼ او بل ئې یوسف نومېږي. د افغاني نسبي شجرې سره سم دغه تصنیف په دې ډول دی چې د کایس د اولادې لومړنی ځانګه سربني پښتانه دوې غټې پلریني لري چې د ښرخبون او خرښبون په نومو دي. د دوی له جملې څخه خرښبون درې ښاخه دی چې د (کند)، (زمند) او (کانسي) په نومونو یادېږي (زمند د چاوند اسلامي شکل دی. هغه وخت چې په (انهالواره) کې د چاوند رایي سولانکي د واکمنۍ دوره وه نو محمود غزنوي پر هغه ملک باندې ورغی او هغه ئې وران کړ) د دغو نومونو له جملې څخه (کند) دوه خېلونه لري چې

یو ئې (خخي) یا (ښخی) یا (خواخی) او بل ئې (غوریا) نومېږي. له دوی څخه (خخی) درې پښې لري چې مند، مکه او ترکلانې ئې بولي. بالاخره له دوی څخه مند دوه خېله لري چې یو منډن او بل یوسف دی.

د منډن، مندن یا مندر خېلونه د عثمان، اوتمان او راجر دي. دوی د یوسفزو سمه یا هواره نیولې ده. مندن یوه برهمنی قبیله هم ده.

عثمان یا اوسمان د (کمال) او (اما) په نومونو دوه ښاخه لري. کمال د هغو څلیرویشتو سترو قبیلو له جملې څخه د یوې قبیلې نوم دی چې ترکی قوم وربانديي وېشلی دی. (اما) ویل کېږي چې یوه بله ترکی قبیله ده چې چنداني شهرت نه لري خو ښايي د (ناګا) سره د خپلوۍ رګی ولري.

کمال دوه ښاخه دی چې (مشران) یا (لویان) او (کشران) یا (زړکیان) ئې بولي، د مشرانو څانګې دا دي:

ابا، اما، بوسی، کرای، متی، موسا، نیکبی.

او یو شمېر نور چې د وروستی زمانې اسلامي نومونه لري.

له دغې جملې څخه (کرای) یوه ترکی قبیله ده چې ترمخ یاده سوې ده. متي مو په تېرو بیانو کي ولیده چې د شیخ بېټ بټني له اولادې څخه دی. موسا همدارنګه د هیرودوت له هغه میسوی سره لګېږي چې په دوهمه سترابي کي ئې یاد کړی دی. دوی ښايي هغه موسائي شاملوي چې د موسی د دین اسرائیلیان دي. نیکبی مو همدا شان دمخه د نېکبختانو په بیان کي ولیده چې آرریان (ایورګیتیس) بللی دی او په وروسته کي به بیا هم په مخه راسي. د کشرانو څانګي دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| الاداد | بړاخان | بای | قاسم | دالو |
| دیهګان | همزه | لشکری | مغدود | مشوانی |
| رستم | ساهو | ښادي | سلطان | |

او نور چي اوسني اسلامي نومونه ئې دي.

د دغو له جملې څخه الاداد د (دیودوتوس) ځای نیولی دی. بړاخان

د یادو یا ګادون بډا تمثیلوي. بای د یوناني (بویوی) څرګندوی. دالو ښايي دلازاک وي. دیهګان له (دهي) څخه نمایندګي کوي چي د جت یوه بله قبیله ده. مغدود ویل کېږي چي د هغه (ماخ) سره یو شی وي چي د راجپوت مکواهانه تمثیلوي. مشوانی مود مخه ولیده. ساهو د ختري له ساهاني څخه نمایندګي کوي. ښادي د چاتو برهمن ځای نیولی دی. سلطان د هندو (سولتانو) تمثیلوي چي اسلام ته اووښتی دی.

(اما) دوه ښاخه دی چي یو ئې دولت او بل ئې اسماعیل نومېږي. دولت ښايي (دوهیل) تمثیلوي چي سوداګر پېشه راجپوت دی. اسماعیل ښائي هغه سوداګر پېشه راجپوت څرګندوي چي (سیمالا) نومېږي.

د دولت څانګي دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| بهرام | قابیل | اسماعیل | مهیار | مالي |
| معروف | مبارک | پاینده | سنګر | او نور |

له دغي جملې څخه بهرام د ختري یا برهمن له (بهري) څخه نمایندګي کوي. قابیل د کاپول او مهیار د موهر ځای نیولی دی چي دواړه سوداګر پېشه راجپوت دي. مالي چي اوس په باجوړ کي اوسي ښايي د سوداګر پېشه راجپوت مربوط هغه (مال) یا (مال لي) وي چي د اباسین د ناوې یوه لرغونې هندي قبیله ده او د دوی په نامه پسي ملتان د مالیستان په نوم یادېدی. معروف ښايي د نیرروپ ځای نیولی وي چي راجپوت دی. مبارک هغه بارک دی چي دمخه مو ولیده. پاینده د برهمن (پاندي) ځای نیولی دی او سنګر د راجپوت سینګرهـ تمثیلوي.

د اسماعیل څانګي دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| بقال | بام | بهالر | بوسا | دورهـ |
| ایسا | جونا | سیکندر | سلیمان | تائوس |
| اوریا | او نور | | | |

له دغي جملې څخه بقال ښايي د بهاګل ځای نیولی وي چي سوداګر

پېشه راجپوت دی. بام د باما – دیوا برهمن بېلګه ده. بهالر د راجپوت د پراماراد قبیلې بهلار تمثیلوي. بوسا یا بوغا یو ترکی نوم دی. (دورهـ) یا (دودهـ) راجپوت دی. ایسا هغه (اسی) یا (آسیانی) څرګندوي چې ستر ابو (اسیوی) یاد کړی دی او دا د هغو سکیتیانو له څلورو قبیلو څخه یوه قبیله وه چې د یونانیانو لاس ئې له باکتریانا څخه وکښې. جونا د (یونا) یا (یوانا) څرګندونه کوي چې یونانی نوم دی. سیکندر الیکساندر دی. سلیمان ښایي د راجپوت د سولان – کې یا چالوک دپاره اسلامي نقاب وي.

او تمان څلور پلريني لري چې د (اکا)، (کانا)، (الي) او (سدو) په نومو دي. له دې جملې څخه (اکا) ښایي د یوناني (اکها) یا د جت مربوط د (اګا) ځای نیولی وي او ډېر احتمال لا د دې خبري هم سته چې دا به د (ناګا) د قبیلې هغه خېل وي چې دغه راز نوم لري. کانا هغه راجپوت دی چې کاني نومېږي. (الي) یا (علي) د یونان له ایولوی څخه نمایندګي کوي. سدو د (سیه سادا) لنډکی شکل دی چې د راجپوت د ګاهلوت د قبیلې سیسودیا تمثیلوي.

د اکا څانګې دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| عرب | برهام | بیبو | بادو | دلازاک |
| درازي | دوستي | ګوجر | اسماعیل | جائیل |
| جوګی | جونا | کابول | کالا | خوایداد |
| لال | مهپالان | نېکبی | اوریا | پیراک |
| رسول | سپن | شامه | شاهدم | شیخ ملي |
| سیکندر | او نور | | | |

له دغو نومونو څخه یو شمېر ئې وړاندي په مخه راغله. جائیل سوداګر پېشه راجپوت دی. جوګي د هندو یوه مذهبي قبیله ده چې اسلام ته اووښتې ده. خوایداد یا خداداد د یونان د (دیودوتوس) ځای نیولی دی. لال ښایي د سوداګر پېشه راجپوت له (لار) څخه نمایندګي کوي. مهپالان

د ختري مهپي يا مهپال تمثيلوي. (اوريا) يا (أريا) د راجپوت (هرايا) څرګندوي. سېن راجپوت دی. شامه د جاريجا بهټي په څېر د راجپوت يادو په قبيله اړه لري.

د کانا ځانګي دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| اسو | بارو | بوبکر | چور | غلام |
| هاميل | حيدر | ميتها | موسا | سامه |
| شامکی | سيه ساده | اونور - | | |

له دغي جملې څخه آسو د هغه اسي په څېر دی چي دمخه ئې يادونه وسوه. بارو د شمالي هند يوه برهمني قبيله ده. چور يا (چوار) او يا (چائور) د راجپوت له (چاوارا) څخه نمايندګي کوي. هاميل د سيند د راجپوت هامير ځای نيولی دی. ميتها د برهمن مايتهيلا څرګندوي. سامه او شامکی د پورته ياد سوي جاريجا مربوط سامه او شامه تمثيلوي. سيه ساده د راجپوت د ګاهلوت د قبيلې له سيسوديا څخه نمايندګي کوي.

د الي ځانګي دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| الي | بابو | باسو | بارسيم | بيبو |
| چرانده | دابي | هيبو | اسماعيل | جوګي |
| کالا | متاه | مېګي | اوپي | پنجپاو |
| پاندو | پاينده | پيرا | سيدو | سامو |
| اومر | زنګی | اونور | | |

له دغو نومو څخه باسو د باسي ځای نيولی دی چي هندی سرف (زرعي مريی) يا په زرعي مځکه پوري د تړلو مريانو قبيله ده. چرانده د هندو يوه قبيله ده چي خاص ئې مذهبي چارو ته ځان وقف کړی وي. دابي يوه راجپوتی قبيله ده. اوپي، هوپي، هوپان يا ايپي چي د ختري له (اوپل) څخه نمايندګي کوي يو ځل بيا به په مخه راسي. اومر د راجپوت د پرامارا

ACKU

د قبيلې (اومرا سومرا) تمثيلوي.

د سدو څانګې دوې ټولې لري چې يوه ئې (جالو) او بله ئې (دري) نومېږي.

د جالو څانګې دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ابا | ادينه | باسي | بډاخان | بهالر |
| بوديله | براهيم | قاسم | دولت | دنيا |
| هوتي | خيچي | ملي | متي | نسرت |
| پاندو | پنجپائي | رانا | شاهداد | تاجو |
| تائوس | اومر | يحيا | زکريا | |

له دغې جملې څخه بوديله د راجپوت بوتيله تمثيلوي. خيچي د چوهان راجپوت يوه قبيله ده. نسرت د چترال يوه قبيله ده چې موږ ته به بيا هم په مخه راسي. پنجپائي يا پنجپاينده له (پنج پاندو) نمايندګي کوي چې د (پاندو د پنځو) ورونو په نامه د اساپزيو په نکلونو کې شهرت لري. رانا د سولانکي راجپوت رانيکا تمثيلوي. يحيا د جوهيا راجپوت ځای نيولی دی. زکريا د جت مربوط جاکهر دی.

د دري څانګې دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| آدم | اکا | الي | بابو | بالو |
| بام | باني | بارا | بېرى | بېزاد |
| بوديله | قامرال | قارا | چاجو | دلازاک |
| درپېزه | دورهـ | ګالوده | ګوار | حسن |
| جعفر | جاللو | کجو | کالو | خودو |
| لال | مدا | ماما | ميرداد | موسا |
| اوسي | صادق | سرګين | شيخان | سليمان |
| تورکی | عثمان | اوريا | اونور | |

له پورتنیو نومونو څخه به آدم بیا د اپرېدیو په جمله کي راسي. بالو، بام او بارا د (بالا)، (باما - دیو) او (بارو) ځای نیولی دی چي درې سره برهمني قبیلې دي. بېري یوه ختري قبیله ده. قامرال او قارا ترکي نومونه دي. چاجو د رهتور د قبیلې چاجیره تمثیلوي. ګالوده د راجپوت له ګاهلوت څخه نمایندګي کوي. ګوار یا ګواري د سوات له هغه ګبري سره سمون خوري چي ترمخه ئې یادونه وسوه. جعفر د راجپوت د پرامارا د قبیلې د جیپرا ځای نیولی دی. جاللو د راجپوت له (جال لیا) څخه نمایندګي کوي. مدا د جت یوه قبیله ده او مده د سوداګر پېشه راجپوت یوه قبیله ګڼله کېږي. ماما یوه برهمني قبیله ده. اوسي د سوداګر پېشه راجپوت له اسوال څخه نمایندګي کوي. اوریا د راجپوت هرایا تمثیلوي. سرګین د ګلګیت د ناوې نوم دی او ښایي د دغه محل د (داردو) له یوې قبیلې څخه نمایندګي کوي.

راجر یا رازر (چي د راجوار سره سمون خوري) د هندي بېدیا یوه راجپوتي قبیله ده چي لاندي څانګې لري:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| احمد | اکی | اکو | بنګی | بهلول |
| بازید | بهالر | چوره | داؤد | دوران |
| ګدائي | غراني | غلام | اساپ | خیزار |
| لنګر | مالک | مامو | مانی | معروف |
| متا | موغل | نېکبختي | پنجپاو | پایندو |
| سادین | سرګین | شرغت | شاموری | سیهساده |
| سیندی | اومر | زنده | اونور | |

له دغو نومونو څخه بنګی د جت یوه قبیله ده او دا د سیکھ له بنګي او د پښتنو د بنګښ سره چي وروسته به ئې بیان راسي یو شی ده. بهلول د پرامارا له (بېهلا) یا دختري له باهېل څخه نمایندګي کوي. چوره د

راجپوت چواره تمثیلوي. داؤد د (دادو) ځای نیولی دی چي تر دې وروسته به ئې یادونه راسي. خیزار د پرامارا خیجار ځرګندوي. لنګر د لنګاها ځای نیولی دی چي د راجپوت په سولانکي پوري اړه لري. متا او موغل زیاتره سره یو ځای دي. پنجپاو لکه دمخه چي وویل سو له پنج پاندو څخه نمایندګي کوي. پاینده له پاندو یا د برهمن له پاندي سره سمون خوري.

یوسف یا اساپ پنځه خېله دي چي ایسا، موسا، بای، اکا او اوریا نومېږي. دوی کوهستان یا د یوسفزو او یا اساپ (غرنی ملک) نیولی دی چي عموماً (یاغستان) یا (آزاده مځکه) نومېږي.

ایسا (عیسی) چي د (اسي) د (اسوو پر ځای) اسلامي شکل دی لاندي ځانګي لري:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| علي شير | ایمل | ایپي | برهان | دادی |
| ګدائي | حسن | هوتي | الیاس | کاکا |
| کمال | کمبوه | کڼا | خادین | خاکي |
| کوټوال | لوغمان | مدی | ماکهو | ماما |
| ماشو | موسارا | میراحمد | نسرت | پنجپاو |
| سالار | سېن | شرغه | شې | تاجو |
| تائوس | ورکام | ولایتي | یا | زکریا |
| اونور. | | | | |

له دغي جملې څخه (ایپي) د هم هغه (اوپي)، (آپي)، (هوپي) سره یو شی دی چي تر مخ ئې یادونه وسوه. کاکا به د ختکو په قبیله کي بیا په مخه راسي. کمال او کمبوه په دمخه کي یاد سوي دي. (مدي)، (مدا) او (مدو) چي سره یو شی دي او د جت په یوه قبیله پوري اړه لري. ماکهو چي له مکواهانا څخه نمایندګي کوي ښکاري د مکهـ یا مک او هانا له یو ځای

ACKU

کېدو څخه جوړ سوی یو ترکیبي نوم وي. ماشو د مشوانیو په څېر دی چي دمخه یاد سوی دی. سالار او سپن راجپوت دی. (شی) او (یا) د جت له ټله دي.

بای (چي یونانیان بویوي بولي) لاندي څانګکي لري:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| اکو | برکها | چغر | دولت | اسماعیل |
| اساپ | مندی | نور | اونور | |

اکو (چي یوناني اکها، یا د جت مربوط اګا او یا د ناګار د قبیلې اکا ګڼل کېږي) دوې پلرینې لري چي د ګوهره او رانیي په نومو دي.

د ګوهره څانګکي دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ابا | ادین | اکا | الي | بابو |
| بهلول | بای | برات | برچی | بیبو |
| چمبه | دادی | دولت | درزه | جوګی |
| خوایداد | خواجو | لال | مهپالان | معروف |
| مشراک | متورا | میتا | موسا | ساهېل |
| سپن | شامو | شرغه | سیبوجانا | سلیمان |
| زنکه | اونور | | | |

ACKU

د رانیي څانګکي دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| الي | ازي | بهرام | دورهـ | غېبي |
| ایدال | جېلم | کاره | خوازو | لندو |
| مدی | ماکها | مه لا | ملي | مردان |
| سپن | سلیمان | سلطان | اومرا | عثمان |
| اوتمان | اونور | | | |

له دغي جملې څخه برات د راجپوت د سندرغاړي قبیلې مربوط بهارت تمثیلوي. برچي د بهاریجا ځای نیولی دی چي سوداګر پېشه

راجپوت دی. چمبه د راجپوت (چانپاتا) تمثیلوي. ساهېل د سوداګر پېشه راجپوت له سوهور څخه نمایندګي کوي. سیبوجانا د راجپوت د سیپات او جونا دوې یو ځای سوي قبیلې تمثیلوي. نوري پاته ځانګي زیاتره په دمخه کي یادي سوي دي.

اوریا د راجپوت له هرایا څخه نمایندګي کوي. په دغو برخو کي ئې شمېر اوس ښېخي لږ سوی دی او د وړاندي یاد سوي چغر زیو د (بای) یا (بایزي) په ځانګو کي مدغم سوی دی. چغرزی یو لوی خېل دی چي له لاندي ځانګو څخه جوړ پړي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ارجون | بای | برکی | باسی | چور |
| فیروز | جونا | لوغمان | مدا | مکی |
| مندي | ناسر | نسرت | اورمړ | شاکلي |
| سمېل | تائوسان | اوریا | اونور | |

له دغي جملې څخه ارجون د یادو راجپوت د یوې پاندو قبیلې نوم دی. د برکي په باب خو مو دمخه بیان کړی دی. باسي مو همدارنګه دمخه ښوولی دی چي هندی موروثي سرف یا په مځکه پوري د مریي په څېر تړلې قبیله ده. چور ښایي د چوریا ځای نیولی وي چي د مالدارو یوه هندی قبیله ده. جونا یوه راجپوتي قبیله ده. مکي د ماکو یا مکواهانا ځر ګندویه ده چي دمخه یاده سوې ده. مدا او مندي دواړه جت قبیلې دي. اورمړ د هغو مذهبي بدعتیانو د یوې فرقې دپاره نوم ګرزېدلی دی چي د (روښانیانو) په نامه ئې د امپراتور اکبر د واکمنی په دوره کي پر دغه سرحد باندي خورا زیات مشکلات پېښ کړي وه. اورمړ د هغي فرقې پښتو نوم دی چي په پارسي ئې (چراغ کشان) بولي او دا نوم ئې په نیمه شپه کي د هغه ساتېریو له آزادانه عملیاتو څخه اخیستی دی چي د څراغو تر مړه کېدو وروسته به ئې سر ته رسوله. شاکلي له شاکول څخه نمایندګي کوي چي برهمنی قبیله ده. سمېل د راجپوت سیماله تمثیلوي

چي عموماً په افغاني ځانګو کي د اسماعيل په بڼه ليده کېږي.

له تېرو تفصيلي بيانو څخه چي د مندڼ او يوسف د ترکيب په باب وړاندي سوه داسي څرګندېږي چي هغه يوازني عناصر چي د دمخه ياد سوي هجوم په بهير کي له دوی سره را وارد سوه هغه د هيلمند له غاړو څخه مندڼ (چي پليني ئې مندروآني بولي) او د کمال په نامه ترکی قبيلې وې، ځکه د يوسفزو د اوسني ملک غرنی تپې او ورسره پوري هواري سمي وختي لا او په ښکاره توګه د ټولي زمانې په اوږدو کي د اساپ او د دوی د ملګرو خېلونو له خوا څخه نيول سوي وي. خو دا نو بيا نوري قبيلې وې چي د مندڼ او يوسف سره يو ځای ئې پر دې ملک باندي هجوم راوړی. مثلاً د (غوريا) يا د (کند) دوهمه پښه د نامه له مخي داسي چي د کندهار او ګندهارا سره يو ډول اړيکی لري. خو پخوا تر دې چي د غورياخېل ترکيب تر څېړني لاندي ونيسو زموږ د پاره به ښايي مناسبه دا وي چي د خښي هغه پاته ښاخونه راواخلو چي په نسبي شجرو کي د مکه او تر کلاڼي په نامه بلل کېږي.

(مکه) يا (مک) د مکواهانا ځای نيولی دی چي د راجپوت د شاهانه توکمونو له جملې څخه يو توکم دی، که څه هم د (راجستان په پېښه ليک کي) د تاد له بيانه سره سم دا توکم نه د راجپوت بلکي د جت له نسبه سره اړه لري. مکواهانا اوس په افغانستان کي د ماکو له خوا تمثيلېږي او دا يوه وړه قبيله ده چي د دراني افغانانو د خېلونو له جملې څخه يو خېل تشکيلوي. مکه يا مک نن ورځ د يوې ځانته ارضي قبيلې په څېر په افغانستان کي نه پېژندل کېږي بلکي د مکه تر عمومي نامه لاندي خوګياڼي او په دوی پوري مربوط چمکني او لايلي وزيري ښاخونه لکه دمخه چي ئې بيان تېر سو ټوله کښېباسي.

تر کلاڼي لکه پخوا چي وويل سوه نه له افغاني او نه له پښتني نسبه څخه دی بلکي د ترکي خېلونو يو مخلوط دی چي اصلاً ئې د باجوړ په ملک

او هغه ته څرمه د کونړ په ناوه کې اړولي دي. دوی په افغانانو کې شامل سوي دي څکه پښتو ژبه ئې خپله کړې ده او د پښتون یا پټهان قومیت ئې د ځان دپاره غوره کړی دی او د پښتونولی له دوده سره سم ژوند کوي او د پښتني منافعو سره ئې ځانونه پیوند کړي دي. دوی هغه سکیتي مهاجمان تمثیلوي چې د سترابو له قوله د یونانیانو لاس ئې له باکتریا څخه وکښی. (غوریا) یا (غوریاخېل) (یعني د غور خېلونه) څلور پلرینې لري چې (دولت یار)، (خلیل)، چمکني) او (زېراني) نومېږي.

دولت یار یعني (د دولت یاران) (چې دا کلمه احتمال لري د راجپوت د رهتور د قبیلې مربوط د دوهیل او جوره له دوو نومونو څخه جوړه سوې وي) دوه ښاخونه لري چې مهمند او داؤد نومېږي.

مهمند دوې پلرینې لري چې یوه ئې درانی او بله ئې خاتوني بلل کېږي.

د دراني څانگې دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ابا | احمد | اما | ایوب | ازگر |
| بابی | بوچل | دادو | دربی | غازل |
| حاجي | حلیم | هریرا | حسن | ابراهیم |
| ایسا | جاني بېگ | جائیلي | کالا | خوجر |
| لنگر | مکه | مندر | مندو | مارچه |
| متی | موسا | نزل | نېکبی | نور |
| پندیالی | راول | سدو | ساک | سربېدال |
| سلیمان | تره کی | اومر | ولي بېگ | یعقوب |
| او نور | | | | |

له دغې جملې څخه درانی ښایي د (درانگي) ځای نیولی وي چې د آرریان له خوا (درنگای) بلل سوی دی او اوسنی دورانیو هم له دغه څخه

ACKU

منشأ اخيستې ده. ايوب د رهتور جوبسيا تمثيلوي. ازګر له اګګار څخه نمايندګي کوي چې سوداګر پېشه راجپوت دی. بابی ښائي له بيبو سره يو شی وي چې څو واره وړاندې په مخه راغلی دی او په همدې صورت کې نو د پرامارا له بهيبا څخه نمايندګي کوي. دربی د (دهربي) ځای نيولی دی چې د راجپوت سندر غاړي خېل دی. حليم له (هل لا) راجپوت څخه نمايندګي کوي. هريرا د هرايا په څېر راجپوت دی. جائيلي د جايل سره لګېږي چې سوداګر پېشه راجپوت دی او خوجر د خوجار ځای نيولی دی چې د راجپوت د پارمارا د قبيلې سره اړه لري. سربېدال د يوې پرشيائي شاهي کورنۍ نوم دی چې د (د. هيربيلوت) له بيانه سره سم د سلطان الجايتو تر مړينې وروسته چې د چنګېزخان له کورنۍ څخه و په ۱۳۳۷ م کال کې د کوم عبدالرزاق باشتيني له خوا هغه مهال په سبزوار کې تاسيس سوه چې په پرشيا کې د مغلي تاتار امپراتورۍ مخ پر ځوړېدو وه. دغه سړی د هر راز سربېداګه ماجراجويانو د يوه غټ باند په مشري د بغاوت جنډه پورته کړه او د خراسان څو ښارونه ئې ونيول. په سبزوار کې ئې پاچهي راوايسته او صرف د پنځه دېرش کلونو په موده کې د ده له کورنۍ څخه دوولس شاهزادګان يو په بل پسې پر تخت کښېناسته. د سربېدال ملي لقب (ډګر) و. وروستی سربېدال شاهزاده چې امير خواجه ابي مؤيد نومېدی ځان ئې له تيمورلنګ سره هغه وخت ونښلاوه چې په ۱۳۸۰م کال کې خراسان ته ننوتی او هغه فاتح له ده سره ډېره ښه وضعه وکړه. تره کی چې (د تره مربوط) معنا ورکوي د (تورکي) يا (توئارکي) د جمع شکل دی د راجپوت په ياد پورې اړه لري. نوري پاته څانګې پخوا يادې سوي دي.

د خاتوني څانګې دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| عباس* | احمد† | اکا* | الي | اتارا† |
| باسي | بای | بختيار† | بارک* | باروېل† |
| بيان* | بوتا | قاسم† | دولت† | ګنډاو |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| غوري* | هدو | حاجي | حيدر† | ايسا |
| اسماعيل | جنګا | کوکو | کټه سر | خواجو |
| کودين† | کوتک† | مهيار | مينا† | ميتا |
| موسا | پاش† | رامي | رازو | سنجر† |
| ساره | شاني | سيهپاه | سليمان | تنا |
| اومر | اوريا | عثمان | يحيا | يوسف |
| زکريا | اونور | | | |

د پورته نومونو له جملې څخه د (خاتوني) کلي نوم د (ملکي د قبيلې) په معنا دی او په ښکاره توګه هغي مريمي (ماري) ته راجع کېږي چي د خواجه مبارک لور وه. خواجه مبارک د هغه بارک حاجب زوی او د تخت خلف و چي د (کاراخيتای) په نامه پاچهي کورنۍ ئې تأسيس کړه. دې کورنۍ د (د. هيربيلوت) له قوله د اباسين د ناوي د کرمان او سوران په ولاياتو کي پوره دواتيا کاله د هغو يو په بل پسې نهو شاهزادګانو په وسيله حکومت کاوه چي په خراسان کي د جنګيزخان په کورنۍ پوري مربوط د تاتاري مغلو واکمنانو ته تابع وه. ځکه نو هغه پورتنۍ ځانګي چي د ستوري (*) په نښه ټاکلي سوي دي ټوله په يو ځايي توګه (مريمزي) يعني (د ماري خېل) بلل کېږي. خو هغه نوري ځانګي بيا چي د صليب (†) په نښه ټاکلي دي ټوله په يو ځايي ډول (مستوره زي) يعني (مستوره خېل) يادېږي، د هغه څه په ارتباط چي دمخه د برکي قبيلې په باب ويل سوي دي او هم د هغې خبري په ارتباط چي په افغانستان کي د بارکزو واکمنه قبيله هم له دوی څخه راپيدا سوې ده، زه دلته د (د. هيربيلوت) هغه څرګندوني رايادولای سم چي د (نګارستان) په حواله ئې د وړاندي ذکر سوي بارک حاجب په باره کي ويلي دي. دی په دغه باب وايي چي بارک حاجب د (کاراخيتای) (د کرمان د پاچهي کورنۍ) لومړی سلطان چي د

همدې ملک له بومي اهاليو څخه و (د کاشغار او زونګغر يعني د آراخيتاى د ملک) د (موګول) پاچا له خوا څخه د سفير په څېر د سلطان محمد خوارزم شاه دربار ته ولېږل سو او هغه چي د ده عالي استعداد وليدى نو ئې د خپل خدمت دپاره راوګرزاوه او د حاجب يا د دربار د وزير مقام ته ئې وټاکى. له دې ټاکني سره خوارزمشاهي وزير چي کست (عناد) ئې ورسره واخيستى نو ئې بارک حاجب دونه وځوراوه څو چي دربار ئې پرېښووى او د سلطان محمد زوى جلال الدين ته ورغى چي د غزني ولايت ئې په لاس کي و او په هند کي ئې واکمني چلوله. بارک حاجب هغه ته درسېدو په لاره کي مجبوره و د کرمان له ولايت څخه (چي د کورمي پر سيند باندي پروت دی) تېر سي چي هلته شجاع الدين روزيني (ښايي د اسلام تر غوره کولو پخوا ئې د راجپوت د چوهان د قبيلې د [روسيا] په خېل پوري اړه درلوده) د خوارزمشاه د حکومت والي و. خو دغه والي چي غوښته د حاجب د حرم هغه ښکلي ښځي د ځان کړي چي دده د ټولي کورنۍ او متعلقينو په ګډون په دې سفر کي ورسره ملګري وې نو ځکه د حاجب په مخ کي ئې سړک ورته وتاړه. د بارک نفري چي په شمېر کي لږ وه نو ئې داسي چل وسنجاوه چي په خپلو ټولو ښځو ئې د نر جامې واغوستې او په پوره جرئت باندي د والي مقابلې ته وړاندي راغله. خو والي چي د حاجب سره د دونه ډېرو نارينه وو فکر نه و کړی نو ئې زړه ولوېدى او په هغه نښته کي چي پېښه سوه نو نه يوازي دا چي ماته ئې وخوړه بلکي همدارنګه اسير ونيول سو او له خپله حکومته څخه ئې لاس وختى. (والي د حاجب د نفريو د ليدلو په وخت کي البته داسي تصور وکړ چي ښايي د لوګر په پوري علاقه کي چي د حاجب لار ئې له منځه څخه تېره سوې وه د خپلو قوميانو له خوا به مرسته ورسره سوې وي) په دې ډول نو د دغه نوي شاهزاده د قدرت بنا کښېښوول سوه. ځکه بارک حاجب چي له دې لاري د کرمان په حکومت کي ځان ټينګ کړ نو ورو ورو د ملک پوره کالخوايه سو او ځان ئې

خپلواک اعلام کړ. سلطان محمد نو نور ده ته د خپل مامور په سترګه نه کتله ځکه حاجب خپله مور چي لا ځوانه وه هغه ته ور واده کړه. یوه ورځ سلطان د خوش طبعۍ یا د ټوکو په څېر حاجب ته وویل: "د عزت دغي لوړي درجې ته چي اوس ځان پکښي وینې چا را رسولی يې؟" بارک ئې د پوښتني په جواب کي په ویاړ سره داسي وویل: "هغه چا چي سامانیان له خپله مملکته شخه ایسته کړه څو د خپلو مریانو له جملې شخه ئې یوه مریي یعني سبکتګین ته وسپاری چي د غزنویانو د شاهي کورنۍ لومړنی شاهزاده و، او هغه چا چي همدا شان ئې د سلجوکیانو لاس د هغو له خپلي امپراتورۍ شخه وکښی څو چي پر خپلو مریانو باندي ئې ووېشي، دا نو هغه خوارزمیان دي چي ستاسي اجداد ګڼل کېږي". بارک په خپل امارت کي یو په بل پسې اته نفره وارثان درلوده چي د دوی له جملې شخه لومړی د ده زوی مبارک خواجه و، ځکه بارک د هجرت په ٦۳۲ کال کي د (۱۲۳۴ م کال د اکتوبر له شپږمي شخه) د یوولس کلنې دورې تر واکمنۍ وروسته د حکومت چاري هغه ته وسپارلې. د خوارزم شاهي کورنۍ د مغلو له خوا شخه پای ته ورسېده خو بارک خان د جنګېز د زوی اوخلف (اوکتای) نومي له دونه زیاتي پېرزوینې شخه برخورداره سو چي دی ئې نه یوازي پر خپل امارت باندي پرېښووی بلکي د هغې د واکمنۍ حوزه ئې همدارنګه نوره ډېره ورپراخه کړه. د ده زوی مبارک خواجه (چي د خواندامیر له خوا د رکن الدین خواجه حق په نامه یاد سوی دی) شلور خوندي درلودې چي (سونیج)، (یاقوت)، (خان)، او (مریم) نومېدې. له دوی شخه هري یوې د (تورکان) لقب درلودی او ټوله ئې د مغلو په غټو کورنیو واده وې. کومه شاهي کورنۍ چي د بارک حاجب له خوا شخه تأسیس سوه هغه کورنۍ ده چي د کرمان د (کاراخیتای) د شاهي کورنۍ په څېر پېژندله کېږي. له دغي کورنۍ شخه نهو شاهزاده ګانو یو په بل پسې دواتیا کاله له ۱۲۲۴ م شخه تر ۱۳۰٦م کاله پوري پاچهي وکړه. دغه شاهزادګان دا کسان وه:

بارک حاجب یوولس کاله، مبارک خواجه چي د هغه زوی و شپږ کاله، سلطان قطب الدین چي د بارک وراره و اته کاله، حجاج د قطب الدین زوی (چي د کم عمر و نو خواښي ئې د ده پر ځای حکومت کاوه) دوولس کاله، سیورغاتمیش چي د قطب الدین زوی و نهه کاله، پادشاه خاتون چي د قطب الدین لور وه، په هغې پسې شاه جهان چي د سیورغاتمیش زوی او تر هغه وروسته محمدشاه چي د حجاج زوی و.

له هغو خاتوني ځانګو څخه چي پورته ئې نومونه یاد سوه عباس، اتارا، باسي، بارويد، بیان، قاسم، کوکو، کټه سر، سنجر او سیهپاه ټوله لړ. تر لړه د نامه له مخي ترک دي. بختیار له بختاري یا (باکتري) څخه نمایندګي کوي. نور پاته ئې راجپوت او هندي دي چي ټوله ئې تقریباً دمخه یاد سوي دي.

داؤد لاندي ځانګي لري:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| الي | بابو | بازید | بیبي | بهاګل |
| حسېن | مامور | مندر | نېکو | تاجو |
| یونس | یوسف | او نور | | |

له پاس نومونو څخه داؤد له (دادو) یا (دادي) څخه نمایندګي کوي او بیا به په دې باره کي نور هم هغه وخت وږغېږو چي کله د هیرودوت له خوا د لرغوني (دادیکای) په باب زموږ بیان راورسېږي. د بابو، نېکو او حسېن ځانګي په یو ځایي توګه (مندکي) یادېږي چي معنا ئې (د مندا مربوط) کېږي. نوري پاته ځانګي دمخه ښوول سوي دي.

د خلیل ځانګي دا دي:

اکو اکا بارو متي ماشي

نور ساک سالارتورک او نور چي نومونه ئې د اسلامي تسمیې په اساس دي.

پرته له (اکو) څخه چي ښایي د اکها ځای ئې نیولی وي او د یونان له

اکهایوی یا اکهایانان څخه نمایندګي کوي نور نو ټوله په دمخه کي ښوول سوي دي.

چمکني احتمال لري د (چوهان) یا (چاهومان) او (کنا) له دوو راجپوتي قبیلو څخه جوړ یو ترکیب وي چي یو د بل سره یو ځای سوي دي. دوی درې ښاخونه لري چي د (ارني)، (اراني) یا (ارنیا)، (خاني) او (کوجه) په نومو دي. له دغو درو نومونو څخه (اراني) یو کچواهه خېل دی او بیا به د کافرستان د قبیلو په جمله کي وښوول سي. خاني له کایم خاني څخه نمایندګي کوي چي د (تاد) د قبیلو د لیست له مخي د راجپوتي قبیلو له جملې څخه یوه قبیله ده. کهوجه د کهو ځای نیولی دی چي یو بل کچواهه خېل دی او د ارني یا ارنیا سره به یو ځل بیا ولیدل سي. کچواهه یا کشواهه یوه مشهوره هندۍ قبیله ده چي د نسب له بابته نه (د لمر په توکم) راجپوت او نه (د سپوږمۍ په توکم) جت پوري اړه لري، بلکي یو بېل ولس دی چي په راجپوت ورګډ سوی دی. داسي ښکاري چي دوی په جنوب کي خپل نوم د (کش) یا (کج) ملک ته ورکړی دی چي داوسنۍ زمانې بلوچستان دی او په شمال کي ئې هندوکش او کشکار د نامه نخښه ګڼله کېږي. چمکني په دغه خپل نامه اصلاً د سفیدکوه پر سیمه له خوګیاڼو او لایلي وزیریو سره پراته دي خو د دغو برخو په شاوخوا کي دوی خورا ډېر سره پاشلي اوسي. دوی د خپل نامه یو کلی هم لري چي د پېښور د ښار ختیځ پلو ته یو څو میله لیري واقع دی. ویل کېږي چي په دغو برخو کي چمکني پخوا ډېر زیات اوسېده. اوس دوی یو نامعلومه غوندي ولس ګرزېدلی دی.

ارني یا اراني دالاندي څانګي لري:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| برهام | قمر | دریا | درې پلاره | حسېن |
| کهوکي | لشکري | ناسر | تاتوکي | اونور |

د خاني څانګي دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| امبارک | بلاجاوا | گورگه | جمال | مدي |
| ماموت | مصطفی | شېرو | سلطان | تولا |

د کهوجه څانګکي دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| دري | حکيم | ګلشېر | فتاح | جلال |
| لنګر | ميرزا | شومي | ولي | اونور |

له پورتنيو نومو څخه برهام يا براهيم ښايي د برهمن ځای نيولی وي. قمر ياکمر د جيتوا يا جتوی په څېر راجپوت دی. کهوکي له خوګيانې څخه نمايندګي کوي چي پوره بيان ئې دمخه راغلی دی. تائوکي، تواکي، يا توئيکي به وروسته يا د سيستان په قبيلو کي وليدل سي.

زيراني د جيران ځای نيولی دی چي سوداګر پېښه راجپوت دی. دغه څانګه اوس په افغانستان کي د يوې ځانته ارضي قبيلې په څېر نه پېژندله کېږي. خو پاشلې کورنۍ ئې د زيراني يا جيراني په نامه د خيبر لوېديځ پلو ته د ننګرهار يا جلال آباد پر سيمه د تاجکو تر منځ مونده کېږي.

مهمند – يعني (لوی مند) چي ترکيب ئې موږ وړاندي وليدی يوه ستره قبيله يا غټ ولس دی چي وګړي ئې په ډېره زياته اندازه د بمبئي شمال ته په ساحلي علاقو کي مونده کېږي. په افغانستان کي دوی اوس اساساً د پېښور پر علاقه او هم په هغه آزاده غرنۍ سيمه کي پراته دي چي د کابل او سوات د سيندونو تر منځ موقعيت لري. خو د دې قبيلې يو څه بقايا د کندهار شاوخوا په منډ – حصار او ورڅرمه کليو کي د دوی د لرغونو مرکزونو پر محل باندي تر اوسه لا هم مونده کېږي. هلته دوی هغه څوک تمثيلوي چي (پليني) د (مندروآني) په نامه ياد کړي دي او خپل نوم ئې د هيلمند سيند ته ورکړی دی. په اروپا کي د هغه اوسني (ويند) له خوا تمثيلېږي چي د اتريش په قيمومیت پوري اړه لري. د پېښور پر پوله د غرنيو مهمندو يو لوی ښاخ پنديالی نومېږي چي دا نوم ئې د اوسېدني د

محل له نامه څخه اخیستی دی. خو تر ټولو غټ ښاخ ئې د (بای) یا بایزي په نامه دی چې شمېر ئې شپاړس زره کورنی ګڼل سوی دی. د دوی لوی ښارګوټي ګوشته ده او ویل کېږي چې دوی یو منظم او هوښیار ولس دی چې د هندي خپلوی زیاتره مشخصات وربانديې ښکاره دي. موږ ولیده چې (بای) د مندڼ او یوسف د ګڼو خېلونو په څانګو کي په مخه راځي او اوس ئې د کوهاټ په هغه ملک کي هم وینو چې پخوا د یونانیانو په لاس کي و او د هند او باکتریا تر منځ ئې د یوه غوړېدونکي ټاټوبي او مهم ستراتیژیکي ځای په توګه استفاده ځني کوله.

داؤد یا داؤدزی په څرګنده توګه د هم هغه ولس یوه څانګه ده چې په بهاولپور کي د (دائودپوترا) په نامه دئ. داؤدزی او دائودپوترا چې معنا ئې د دیوید زامن کېږي (په ترتیب سره د پښتو او هندي) اسلامي تبدیل سوي شکلونه دي او د هغه (دادي) یا (دادیکا) د لرغوني هندي نامه ځای ئې نیولی دی چې همدا اوس به وربانديې ورغېږو. داودزیو ته څرمه د هشتنګر په علاقه کي د مهمندو یوه بله پښه اوسي چې محمدزي یادېږي. تر دوی ها خوا ته په غرنیو تپو کي بیا اوتمان خېل یا اوتمان قبیله ژوند کوي. دوی د اوتمان له هغو خېلونو څخه چې دمخه ښوول سوي دي بېخي بېل دي. دوی هغه تپې نیولي دي چې له (کوه مور) څخه د (خانوره) تر غرو پوري د سوات د سیند پر دواړو غاړو پر تې دي او محل ئې د مهمندو د تپې او راڼیزو تر منځ موقعیت لري. ویل کېږي چې دې ځای ته د غور له ملکه څخه راوستل سوي او د یوولسمي پېړۍ د سر په کلونو کي د غزني د سلطان محمود له خوا د یوې نظامي کالونۍ په څېر په دغه محل کي دلته ځای پر ځای سوي دي. دوی د هیرودوت (اوتوی) تمثیلوي چې وړاندي ئې بیان راغلی دئ.

اوتمان – خېل لاندي څانګي لري:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| اکا | الي | اصیل | بدو | باللو |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| بورا | غازي | ایسا | کمر | کوروش |
| مدا | موغل | مندل | سرکاني | سرني |
| شامو | شینو | تیراهي | توري | اومر |
| زا | | | | |

له پاس نومونو څخه اصیل د (سوچه ذات) معنا ورکوي او ښایي له دې څخه مقصد واقعي (اوت)، (اوتي) یا (اوتمان) وي. بډو د یادو د قبیلې (بډا) دی. باللو د ختري مربوط (بهاللي) دی او بورا د سوداګر پېشه راجپوت (بوره) دی. غازي د عربي ژبې یو ویاړلی لقب دی چې د اسلام د لاري جنګیالیو ته ورکول کېږي. کمر لکه دمخه چې وویل سوه د جیتوا یا جتوی راجپوت یو بل نوم دی. کوروش، کوریش، ګوریش، ګورایش یا ګوراچ د هغه شاهي راجپوت دپاره بېلابېل لهجوي تلفظونه دي چې کیروچ، کوروچ یا کوریچ نومېږي. دغه قبیله چې (اسلام ته) واوښته نو د دې دپاره چې خپله قومي منشأ پټه کړي نو دا نوم ئې په قریش باندي واړاوه او داسي ئې څرګنده کړه چې ګویا نسب ئې له همدغي عربي قبیلې سره اړه لري چې هغه په خپله هم ښایي په لومړي سر کي له لرغوني پرشیائي کوروش یعني د قیروس له قبیلې څخه راپیدا سوې وي څکه قرېش یا قورایش چې محمد (ص) اړه ورپوري لري، منل سوې ده چې د لومړۍ ختې په حساب یوه سوچه عربي قبیله نه ګڼله کېږي. د کوروش په باب ویل کېږي چې د کافرستان د اوسنیو کافرو دپاره خاص قومي لقب دی. مدا د جت یوه قبیله ده. مندل له مندن یا مندڼ څخه نمایندګي کوي. شامو له (ساما) سره یو شی دی، چې د (یادو) د قبیلې د جاریجا د غټ ښاخ دپاره قومي نوم دی. د دوې لرغونی مرکز په سویستان کي و چې د اوسنۍ زمانې (سیبی) ده او د آریان د لیکني له مخي د دغه کام لقب لرونکی شاهزاده په نومړي محل کي له سکندره سره وجنګېدی. شینو له شینواري څخه نمایندګي کوي چې ژر به بیا مخي ته راسي او همدارنګه به

د تیراهي او توري په باره کې یادونې وسي.
د مندړو د اوتمان پښه چې وړاندې خبري پر وسوې او عموماً د (اوتمان - نامه) په نوم بلل کېږي د اباسین پر لوېدیځه غاړه ئې د مهابان د غره جنوبي لمنی د ګدون یا جدون له قبیلې سره په ګډه نیولی دي. دغه ګدون د (یادو) له هغې ستري قبیلې څخه نمایندګي کوي چې (د راجستان په پېښه لیک کې) د تاد له قوله "د (ایند) د ګردو قبیلو له جملې څخه خورا زیاته نومیالۍ قبیله وه". د دوی نوم د (بودا) د اولادې دپاره چې د سپوږمۍ د توکم لومړی بابا ګڼل کېږي، په قومي نامه باندې اووښتی دی. د دوی پخوانی مرکز په دغو سیمو کې د (جادو کا دالک) یا د جیلم د مالګې په لړۍ کې د (یادو د تپو) پر محل باندې موقعیت درلودی. له دې ځایه څخه دوی یوه ستره کالوني زابلستان ته وړولېږدوله او هلته ئې د ګجنی (اوسنی غزنی) د ښار بنا کښېښووله او "په هغو ملکونو کې ئې تر سمرقنده پوري وګړي مېشته کړل". د زابل په ملک کې ئې د (بهتي) نوم واخیستی (چې ښایي افغاني بیټني له همدغه نامه څخه راوتلي وي) د یادو یو بل ښاخ چې د (جاریجا) په نامه ئې په سیوستان (اوسني سیبۍ) کې واړول همدارنګه ئې خپل نوم واړاوه او د خپل مشهور نیکه (هري) یا (کریشنا) لقب ئې چې د بنې د تروالي په سبب (سامه) یا (شامه) نومېدی د ځان دپاره خپل قومي نوم وګرزاوه. دا نوم ئې د مسلمانېدو له نېټې راهیسته په (جام) باندې تبدیل سو چې د بلوچستان په (لاس بېله) کې د (جاریجا) د وړو شاهزاده ګانو لقب ګڼل کېږي.
د مهابان اوسېدونکي ګادون د پکلې د هغه ګادون یا جادون یوه څانګه ده چې د هزاره (د سانسکریت د ابهیساره) په علاقه کې د اباسین پر هغه بله خوا پراته دي او هلته د (دوره) د سیند (چې د راجات رینګیني دوروابهیساره له همدې ځایه منشأ اخیستې ده) په اوږدو کې لیري د (اوراش) تر هغې بیدیا پوري مېشته سوي دي چې البته د راجپوت د

یوراش، ووراش، بوریش یا بیوریشا یو پخوانی مرکز و. د مهابان ګادون دوه ښاخونه لري چي د سالار او منصور په نومو دي:

د سالار څانګي دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ادین | الي | علیشیر | اتو | قلندر |
| قاسم | دولت | ګوار | ایسا | خواجو |
| متی | سالار | ساها | سلیمان | اود |
| اومر | | | | |

د منصور څانګي دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| بارا | قمر | دولت | دود | دونو |
| غوري | ایددو | ایسا | اسماعیل | خیدر |
| کورم | موسا | پریانه | شېب | تورا |
| اومر | زکریا | اونور | | |

له دغو نومونو څخه علیشیر د اباسین پر پوله د ډېرو افغاني قبیلو د څانګو تر منځ زیاتره په مخه راځي او داسي ښکاري په دغه نامه د هغه مشهور شاهزاده سره اړه ولري چي د پنځلسمي پېړۍ د پای دکلونو په وخت کي ئې پر خراسان باندي حکومت کاوه. امیر علیشیر چي ناظم الدوله و (د د. هیربیلوت) له قوله په هرات کي ئې یوه ستره کتابخانه راغونډه کړې وه او د هغه تاریخ پوه په واک کي ئې ورکړې وه چي خوندامیر نومېدی. (ګوار) د (ګوارای) ځای نیولی دی چي د سوات (ګبر) دی او دمخه ئې بیان تېر سو. (اود)، (اوت) یا (اوتا) ښایي له اوتمان څخه نمایندګي کوي. اومر د پر امارا د قبیلې اومارا دی چي پر دغه پوله باندي ډېر ځله په مخه راځي. بارا یوه برهمنی قبیله ده. قمر ښایي د کمار سره یو شی وي. دود له (دوره) څخه نمایندګي کوي چي د راجپوت له شاهانه قبیلو څخه یوه قبیله ده. شېب یا شایب د (شیواچاري) ځای نیولی دی چي

د هندوانو هغه خېل دی چي خاص ئې مذهبي چارو ته ځانونه وقف کړي وي. تورا هغه (تووارا)، (توري) او (توآر) تمثیلوي چي د یادو یا د ګدون د توکم یوه مشهوره قبیله ده.

د یوسفزو پر هغو منظمو قبیلو سربېره چي وړاندي بیان سوې، یو خورا زیات شمېر ارجل اهالي هم د دوی په منځ کي سته چي د مریانو او تابعانو په طبقاتو پوري اړه لري. دوی تقریباً ټوله له هندي ذاته څخه دي او په یو ځایي توګه غونډ د (هندکي) په نامه یادېږي. دوی ګرده مسلمانان دي چي د بېلابېلو کسبو خاوندان، خواري کښان، سازندګان، چوکیداران، جاروکښان او داسي نور او نور طبقات کښېباسي. دوی زیاتره له ځمکي سره تړلي دي او په ځمکه کي که څه هم مالکیت نه لري خو په خپل بومي ملک پوري په داسي ټولو حالاتو کي نښتي دي چي د هغه د مالکانو، فاتحانو او واکمنانو په برخه کي ئې هر ډول بدلونونه منځته راځي. هندکي له هغه هندو کاست څخه نمایندګي کوي چي (سودرا) نومېږي او دوی هر چیري د اباسین د ټولي پولي په اوږدو کي د افغاني او پښتني قبیله والو تر منځ د تابعانو، بندګانو او کورني چوپړیانو په څېر مونده کېږي. همدا شان د بېلابېلو ډلو په ترکیب یوه ګڼ شمېره مذهبي غوندي طبقه هلته سته چي زیاتره ئې موروثي حیثیت لري او په ځمکه کي د ونډي، یا غذائي موادو، عشر او داسي نورو خوش رضائي مرستو په ورکولو سره د قبیله والو له خوا څخه ساتل کېږي. دا نو لکه سیدان، پیران، ملایان، میاګان او داسي نور ګڼل کېږي. همدغه راز ځیني کشمیري او ګوجر له نورو مسلمانو آوارګانو سره یو ځای د ختکو د قبیلې د ځینو غټو کالونیانو په ګډون چي په روان بیان کي به ئې یادونه وسي په دې ګوټ کي مونده کېږي. بالاخره یو ټاکلی شمېر هندو سوداګران او دوکانداران چي له خپله دینه نه دي اووښتي په بېلابېلو برخو کي په خورا متفاوت تناسب هلته سته چي د ملک ټولي بانکي او تجارتي چاري سامبالوي او د عامه نظر په مقابل کي تر ځینو

محدودیتونو لاندي د بت نمانځني خپل دين ساتي. چوپړ وهونکي طبقات او هغه چي په مځکه کي ونډه نه لري د (فقیر) او (همسایه) په نومو بلل کېږي خو هغه چي غلامان دي د (مريي) په نامه يادېږي. دا بيان د هغو قبيلو په باره کي زموږ کتنه بشپړېدو ته رسوي چي د لرغوني ګنداريوی پر هغه ملک باندي اوسي چي د هيرودوت له خوا په دغه نامه ياد سوي دي.

جنوبي پلو ته ئې د لرغوني اپاريتای ملک پوري نښتی دی چي اوسني افرېدي ګڼل کېږي. د دې پلټني په منظور دغه ملک ښايي داسي په نظر کي ونيسو چي په ترکيب کي ئې د سفيدکوه ټولي ختيځي پوزي (شاګی) او جنوبي لمني او هم د سليمان د لړۍ د ختيځو لمنو هغه برخه راشامليږي چي اوبه ئې لاندي د کورمي سيند ته وروزي. ختيځ پلو ته د اباسين د بهير هغې برخي احاطه کړي دي چي له ده سره د کابل او کورمي د سيندونو د يو ځای کېدو تر منځ موقعيت لري. دا ملک د ګنداريوی له ملک څخه د خيبر د لړۍ ختيځي خوا ته د کابل د سيند په وسيله بېل سوی دی. هغه منطقه چي په دغه ترتيب وښودل سوه د کورمي د سيند ناوه د هغه له مرستيالو نالو سره او هم د برتانوي حوزې بنو، کوهاټ او د پېښور علاقې ټوله کښېباسي. په دغه لويه ورشو کي د هيرودوت اپاريتای چي د يوې قبيلې په توګه مي د خيبر د ټپو د افريديو سره يو شی بللي دي ښايي موږ ئې هغه کام وګڼو چي داريوش ته ئې د باج د ورکړي مسئوليت پر غاړه درلودی او د ستراپۍ په دغه برخه کي ئې هغه زمانه غالبه قبيله تشکيلوله. د نورو قومونو له جملې څخه چي له دوی سره ئې په ګډه د ملک دا برخه نيولې وه آرريان موږ ته د دوو قومو نومونه اخيستي دي. يو د (تيرايوی) او بل د (اراسکوی) په نامه چي سکندر ئې په مقابل کي نظامي عمليات په لاره واچوله. له دوی څخه (تيرايوی) ښايي زموږ د زمانې (تيراهي) وي او دا توجيه تر دې غوره ده چي د کورمي د ناوې هغه (توري) وګڼل سي چي احتمال لري دې ملک ته تر هغه وروسته راغلي وي چي د تېر بيان سره

سم د اباسین ولایتونه د سیلیوکوس نیکاتور له خوا څخه د هند سندراکوتوس ته وروسپارل سوه. اراسکوی په یقیني توګه د اوسنیو (اورګزیو) له خوا څخه تمثیلېږي. شک نسته چي دغه قبیلې په لرغونې زمانه کي د هغي ساحې په پرتله چي نن ئې نیولې ده پر یوه ډېره ورشو باندي غوړېدلي پرتې وې. د دوی موقعیتونه همدارنګه په وروستنیو زمانو کي د نورو قبیلو له راداخلېدو سره خورا زیات تبدیل سوي دي. د هغو قبیلو له جملې څخه چي په وړاندي ښوول سوي ورشو کي نن مونده کېږي ډېر مهم او په شمېر زیات ئې افرېدي، اورکزي، ختک، بنګښ، توري، ځاځي، منګل، شینواري او تیراهي دي. د دوی تر منځ هغو ته ورته تابعان یا چوپړ وهونکي وګړي لکه په تېر بیان کي چي د یوسفزو تر منځ د هند کي فقیر او همسایه په نومونو وښودل سوه، همدارنګه مونده کېږي. اوس راسئ د هغو قبیلو جوړښت تر څېړني لاندي ونیسو چي پورته ئې نومونه یاد سوه.

افرېدي یا اپاریدای چي هیرودوت اپاریتای بللي دي په لرغونې زمانه کي ئې زموږ له احتماله سره سم هغه ټوله ملک نیولی و چي د کابل د سیند جنوب ته د خیبر له لري څخه نیولې د اباسین په شمول بیا لیري جنوبي خوا ته د کالاباغ او د بهادر - خېلو د مالکي تر کانونو پوري رسېدلی و. خو نن ورځ د پېښور د ښار په شاوخوا غونډیو پوري محدود پراته دي. ځکه د چارهاټ (چیرات) د لري په نیمه لوېدیځه خوا، د کوهاټ په علاقه، د خیبر په درو، او د سفید کوه د راجګال د څوکي د (ملاغر) د شاکۍ شمال ته په تپو کي اوسي چي شمېر ئې تقریباً دېرش زره کورنۍ ګڼل سوی دی. په افغاني نسبي شجرو کي افرېدي د غرغښتي افغان د کرای، کرارانی یا کرلاڼي د څانګي د (ککي) په ټولۍ کي له ختکو، ځدراڼو، اوتمان، خوګیاڼیو، شیتاکو، سلیمان او نورو سره یو ځای تصنیف کېږي. کرلاڼي کټ مټ د ترکلاڼي په څېر دي او دوی د (کودي)

او (ککي) له دوو ټوليو څخه جوړ سوي دي. د ککي ټولی (چي ښايي د کوکي په شان يوه ناګاڼي قبيله ده او په روان بيان کي به راسي) له هغو قبيلو څخه جوړه ده چي پورته ئې نومونه ياد سوه. د کودي ټولی بيا له دلاهزاک، اورکزيو، موسا، منګل، توري، هاني، وردک او نورو څخه جوړه سوې ده. د وطني بيانو له مخي ويل کېږي چي افرېدي د ملک له هواري برخي څخه د دلاهزاکو د قبيلې له خوا وايستل سوه چي پخوا زمانه يوه ډېره غټه او پياوړې قبيله وه. دلاهزاک هغه لومړی قبيله وه چي له کابل څخه د خيبر د درې له لاري د پېښور علاقې ته ننوته چي هغه زمانه دغه علاقه د خپل پای تخت د نامه په اقتفاء باګرام نومېدی (د دغه پايتخت ساحه اوس د پېښور د برتانوي چوڼی په احاطه کي راغلې ده). دوی همدغه محل تر اباسين پوري له ټوله ملکه سره يو ځای د لاهور له (راجا) څخه ونيوی او تر اباسين چي ورتېر سوه نو خپل فتوحات ئې ډېر ليري د هغه ختيځي خوا ته وغزول. کله چي سلطان محمود غزنوي د سومنات په مقابل کي خپل سوقيات کول نو دوی د خپلو قبيله والو يوه ډېره ښتلې قطعه د هغه له اردو سره محاذ ته ولېږله. د دلازاکو د هجوم په زمانه کي د ختيځ افغانستان دغه برخه چي د پېښور ناوه او د اباسين دواړي غاړي ئې کښې ايستلې د (سور کافر) يا (سرخ کافر) يعني (The Red Infidels) له خوا اشغال سوې وه چي ګومان کېږي دوی به د هغو يونانيانو اولاده وه چي پخوا زمانه ئې له کابل څخه د جېلم يا جهېلم تر سنده پوري ټول ملک نيولی و خو له دې احتماله سره چي د دوی په ټل کي (سوريا) يا (سوراجبانسي) راجپوت همدارنګه شامل وه، دوی د (دلازاکو) په واسطه چي وايي د محمود غزنوي يا د هغه د پلار مشهور سبکتګين د خوا يوه ترکی قبيله وه (خو په قوي احتمال د هغه جاتاسکيتيانو يو خېل و چي د يونانيانو لاس ئې له واکمنی څخه وکښی) ورو ورو د ملک له سمي څخه شاوخوا غرو ته په کوچېدو مجبوره سوه او زياتره د سوات او بونير غرنيو

ټاټوبو او د خيبر غونډيو ته وختل. دلازاکو خپل برم او شهرت د ميرزا الغ بېگ تر زمانې پورې چې هغه له ۱۵۲۰ م څخه تر ۱۵۴۵م کال پورې د کابل حاکم و پر خپل ځای وساتی، څو چې د يوسفزو او غوريا د قبيلو په وسيله ئې لکه په تېر بيان کي چې څرګنده سوه، له خپله ملکه لاس وختی او د اباسين د ختيځي غاړې، د چچ او پکلې خوا ته وشړل سوه. په دغو برخو (چچ هزاره) کي چې دلازاکو د ډهلي د مغلي حکومت په مقابل کي بغاوتونه کول نو امپراتور جهانګير په ۱۵۴۶م کي يو لښکر ورته راولېږه چي دوی له زوره څخه واچوي. د دغي قبيلې هغه وګړي چي تر جګړې وروسته ژوندي پاته سوه زياتره هندوستان ته تبعيد او د مرکزي هند او دکهن په بېلابېلو برخو کي تيت او پرک سوه. د دغو دلازاکو د اولادې يوه وړه کالوني د (هول پور) په راجپوتي ايالت کي موجوده ده. د قبيلې کوچنی ډلګی ئې همدارنګه په پاشلې توګه د چچ، هزاره او پکلې په علاقو کي هر چيري او همدا شان د بونير په تپو او په خپله پېښور کي دلته هلته مونده کېږي.

دلاهزاک يا دلازاک (يعني سترزاک) چي په پېښور او بونير کي اوسي لاندي څانګي لري:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| اما | بوري* | مندو* | ماني | موتيک |
| سامر* | سونني | اومر* | واتک* | ياسين |
| زکريا* | اونور | | | |

له دغي جملې څخه هغه نومونه چي د ستوري (*) په نښه ټاکلي دي لکه په تېرو بيانو کي چي دمخه ښوول سوي دي راجپوتي او هندي ګڼل کېږي.

افريدي د خپل ځان په باره کي داسي بيانونه کوي چي دوی د غزنوي محمود په وسيله د غور له ملک څخه راوستل سوي او د خيبر د درو د ساتني دپاره د نظامي ناقلينو (کالونيوالو) په څېر په دې خپلو اوسنيو ټاټوبو

کي ځای پر ځای سوي دي. یو دوې پېړۍ وروسته بیا له هم هغه ګوټ څخه یوه نوې کالوني د دوی د تقویې دپاره د شهاب الدین غوري په وسیله دلته مېشته سوې ده. دوی خپل نسب یوه (کاریرای) ته منسوبوي چي د هغه له ماینې (میمنې) څخه راپیدا سوي دي. د دې خبري څرګند مفهوم دا دی چي دوی د (میمنې) د هغه ملک له (کرای) یا (ګرای) ترکو څخه وه چي د مشهد جنوب ته د خراسان په تپو کي د (کرای ترکو) د اوسنیو ټاټوبو سره نښتی پروت دی. افرېدي څو کلي لري او له خپمو څخه استفاده نه کوي. خو زیاتره په داسي کوډلو کي اوسي چي چو کاټونه ئې له بوریا څخه اودلي دي او له یوه ځایه بل ته انتقالېدای سي. همدارنګه ئې زیات شمېر په سمڅو کي ژوند کوي. دوی یو داړه مار او جګړه مار نامتو ولس دی چي وګړي ئې ډنګر، نري کلک دي، ځیري سترګي، وچ کړه وړه او روښانه بڼې لري خو څېره ئې ښکلې نه ایسي.

افرېدي پنځه پلریني لري چي دا دي:

میتا آدم اولاد اکا میري

میتا: پر ته له هغه چي یوه وړه کالوني ئې په (تاکهال) یا (تاکال) او د پېښور شاوخوا ته په ورځرمه کلیو کي مونده کېږي نور نو د یوه ځانته خېل په څېر اوس په افغانستان کي نه پېژندل کېږي. دوی زیاتره د امپراتور جهانګیر له خوا هندوستان ته تبعید سوه او ډېری ئې د حیدرآباد شاوخوا په دکهن کي واړول. نور ئې په بېلابېلو وختونو کي د مرکزي هند راجپوتي ولایاتو ته مهاجر سوه. ویل کېږي چي یوه برخه ئې ډهلي ته نژدې په (پاني پت) کي هم مېشته سوې ده.

آدم: آدم – خېل د افرېدیو یو غټ او مهم خېل دی چي د کورنیو شمېر ئې څلور زره ګڼل سوی دی. دغه خېل د کوهاټ د کانونو او بیا تر برتانوي پولي ها خوا ته د شمال او لوېدیځ پلو د غرنیو سیمو تر منځ د مالکي په سوداګري لګیا دي، آدم خېلو د کوهاټ او چارهاټ تپې نیولي

دي او دوی بالکل د موقعیت، دودونو او علاقه منديو په حساب د افرېديو له نورو خېلونو څخه توپير لري. دوی نه د (سامل) او نه هم د (ګاړ) په ګوندونو پوري اړه لري خو په هره شېبه کي چي ئې مصلحت وګڼي نو د دوی له هر يوه سره يو ځای کېږي. دوی د (حسن)، (جواکي)، او (ګالي) په نومو درې ښاخه لري. چي دغه درې سره په يو ځايي توګه (کاتوري) بلل کېږي. په دې ترتيب نو درست آدم – خېل (کاتوري) دي چي دا نوم ئې د (جاتا) له يوې مشهوري قبيلې سره اړه لري.

د حسن ځانګي دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| اکهور | الي | اپاريدي | اشو* | جونا* |
| کالا* | ميامي | شاهو | زاکو | او نور |

جواکي (يعني جاوا – کي، د جاوا مربوط چي د سفيدکوه د يوې جنوبي شاګی يا غاښي نوم دی) ځانګي ئې دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| اتا | ايتام | بيبی* | دولت | ګودی* |
| هستو | پائې* | سپنی | ياغی | مهوال* |

ګالي (چي ښايي ګايلي کور دوي) ځانګي ئې دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| باکل* | بوستی | دربی* | فيروز | ميری* |
| ملا* | نېکزان | شارکی* | زرغون | او نور |

له پورته نومونو څخه هغه چي د ستوري (*) په نښه ټاکلي دي، راجپوتي او هندي نومونه دي چي تشريح ئې دمخه راغلې ده. اکهور يا اکور د (اَ = A) د کور يا کورنۍ معنای ورکوي. دوی کله کله د آ. خېل په نامه هم يادېږي. خو دا هم بايد ووېل سي چي (کهور) د شمالي هند د يوې برهمني قبيلې نوم دی او د (کهور) کلمه د پنديالي د غړنيو مهمندو او نورو د زياترو ځانګو نومونو ته هم وراضافه کېږي. اپاريدي له لرغوني اپاريتاي څخه نمايندګي کوي. اشو له هندي اشياک څخه

ACKU

څرګندونه کوي، چي د اچي يا اچک دراني سره سمون خوري. ژاکو ښايي چي دلاهزاک تمثيلوي. هستو يوه پاته ښېلګه ده چي له لرغوني هستي يا د استيس له هغې قبيلې څخه نمايندګي کوي چي دمخه د ګندهاري په بيان کي د استاکيني د مورينې په توګه وبلل سوه. ياغي د آزاد او خپلواک معنا ور کوي. ملا د يوه غره نوم دی چي افريدي له اورکزو څخه بېلوي. (ملاغر) (پښتو کلمه ده) چي د ملا د غره معنا لري. زرغون (پښتو دی) چي د زرغونه رنګ او تازه معنا افاده کوي.

(اولا) شپږ ښاخونه لري چي ملکدين، کمبر، کمر، کوکی (څلور سره په يو ځايي توګه فيروزخېل بلل کېږي) سپاه او زخا نومېږي.

ملکدين (چي په سياسي لحاظ د سامل په ګوند اړه لري) څانګي ئې دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| الائې | دربا* | دولت | جنده | جاپر* |
| جونا* | کالو* | کرمنا | کتی* | متا |
| ميری | نسرت | ناتو | رانا* | شاهي |
| اومر | او نور. | | | |

کمبر (چي په سياسي لحاظ د ګاړ په ګوند اړه لري) څانګي ئې دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| الي | آنائې | بوری | دربی | متخان |
| ميران | نېکزان | پابی | پخای | شان |
| شېخمل | سورانی | تار | وتار | زند |
| او نور | | | | |

کمر (چي په سامل اړه لري) څانګي ئې دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ابابکر | ابدال | ايمل | اسکندر | خروګی |
| خداداد | کرمانه | لنډی | متا | پاينده |

ACKU

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| تورکال | زخا | اونور | | |

کوکی (چې په ګاړ اړه لري) څانګې ئې دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ابدال | باری | ګالی | کتھی | مدار |
| مدو | ماکو | ماشی | میران | پاریدي |
| شېرخان | سکندر | توآر | ولي | اونور |

سپاه (چې په سامل اړه لري) څانګې ئې دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ابابکر | ابدال | بغداد | دری ونډی | غیبی |
| هورمز | جاواکی | کارو | لنډی | سوران |
| اونور | | | | |

زخا (چې په سامل اړه لري) څانګې ئې دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| انائې | باری | خسروګی | محب | نصرالدين |
| پخای | پاینده | شان | زائودین | اونور |

له پاسنيو نومو څخه (اولا) ښايي د راجپوت د (هول) ځای نیولی وي. ملکدين – خېل معنا هغه کسان چې د (پاچا په دين وي). دولت – خېل د سلطان محمود د دولت ماموران کېږي. ميري – خېل (د پاچا د مانۍ مربوط وګړئ) (ميري = غرنی، کلا ته ويل کېږي). شاهو – خېل (د پاچا زرغي مريان) (سرفان) دي. هغه نومونه چې د ستوري (✶) په نښه ټاکلي دي راجپوتي او هندی قبیلې دي چې دمخه ئې يادونه راغلې ده. دربا له دهربي څخه نمايندګي کوي چې دسندربولو هندی قبیله ده.

کمبر يو کوردي خيل دی او ښايي د بلوچستان د هغې کمبرانی قبيلې يوه څانګه وي چې د کلات واکمنه کورنی اړه ورپوري لري. د بلوچستان کمبراني(يعني هغه څوک چې کمبر ته منسوب وي) ويل کېږي چې منشأ ئې له حبشي څخه ده. په افغانستان کي د دوی په باب داسي ويل کېږي چې د کلات شمال ته په تپو کي د غزنوي محمود له خوا څخه

مېشته سوي دي. انائي کټ مټ د اونائي او انوائي په څېر يوه ختري قبيله ده او همدارنګه د هندوانو مربوط کايستهٔ ګڼل کېږي. بوری ښايي د بور ځای نيولی وي چي سوداګر پېشه راجپوت دي او يا خو ښايي د ختري له بهري څخه نمايندګي کوي. پابي د راجپوت د چوهان د قبيلې پابيا تمثيلوي.

ميران د مېروارا د هغه مېر ځای نيولی دی چي دلته ئې خپل نوم د ميرانزي علاقې ته ورکړی دی. پخای هغه پشای دی چي وروسته به ئې يادونه وسي. شان ښايي د راجپوت له چوهان څخه نمايندګي کوي. شېخمل د (شري مل) ځای نيولی دی چي سوداګر پېشه راجپوت دی او په ترکيب کي ئې د باش –خېل، نزر –بېګ، ميرزا –بېګ او ولي –بېګ وړې څانګي شاملي دي او دغه نومونه ئې پر دې باندي دلالت کوي چي احتمال لري وروسته د تېمورلنګ په زمانه کي دلته راغلي وي ځکه ويل کېږي چي د بېګ لقب د لومړي ځل دپاره د تېمور په وسيله هند ته راغی. متخان د راجپوتي قبيلې شري مت تمثيلوي. سوراني د چوهان له سورا څخه نمايندګي کوي چي خپل نوم ئې د سوران (سوران د سورا يا سور جمع ده) هغه ولايت ته ورکړی دی چي اوبه ئې د ګومل سيند ته وروزي او د بنو (برتانوي) علاقه د هغه يوه برخه جوړوي. تار او وتار ښايي د توئار او تواري ځای نيولی وي چي يادو راجپوت دی.

کمر د جيتوا راجپوت يو بل نوم دی او له هغه کمبر څخه بېل ګڼل کېږي چي پورته ئې يادونه وسوه. دوی دواړه (د سامل او ګاړ) په مقابلو ګوندونو پوري اړه لري. ابدال به بيا د درانو تر منځ مخ ته راسي. ايمل ښايي د شري مل ځای نيولی وي چي سوداګر پېشه راجپوت دی. کرمانه يا کيرمانه د کرمان وګړي تمثيلوي چي د کورمي په ناوه پوري اړه لري.

کوکی يو ناګائي خېل دی چي په دې برخو کي د ډېري لرغوني زمانې له نېتې سره اړه لري. باري د برهمن له بارا څخه نمايندګي کوي. کتي د

هغي قبيلې يوه څانګه ده چې خپل نوم ئې د غزني د کټه واز علاقې ته ورکړی دی. پاريدي هم هغه اپاريدي دي چې ترمخه ياد سوه او د همدې نامه له نورو څانګو سره يو ځای، چې د ماموزيو، زمختو او علي – خېل مهسود وزيريو او البته يو شمېر نورو تر منځ مونده کېږي، له هغه اپاريتای څخه نمايندګي کوي چې هيرودوت ئې نوم ياد کړی دی.

سپاه البته يو پوځي څواک ځرګندوي چې د سلطان محمود له خوا دلته د ناقلينو په څېر مېشته سوي دي. درې ونډی معنا (درې ټولی يا ډلي). هورمز او بغداد مشهور ښارونه دي او په دغو نومو يادي سوي قبيلې ښايي له همدې ځايونو څخه راغلي وي. غېبي او جاواکي همدارنګه محل ته منسوب نومونه دي. ځکه غېب د راولپنډۍ په علاقه کي يو ځای دی او جاوه د سفيدکوه يو غاښی دی. کارو د ځينو نورو پښتني قبيلو د څانګو په جمله کي هم ليده کېږي او ښايي چې دا به د يونان له (کاڅوري) يا د ليديانو له (ګاريانو) څخه نمايندګي کوي.

زخا ښايي د دلاهزاک يوه څانګه وي. خسروګی د کمر د څانګو په جمله کي له خروګي سره يو شی دی او ښايي هغه ششروزی تمثيلوي چې وړاندي ئې بيان راغلی دی. خو څرنګه چې خسروګی همدارنګه د خسروزی په نامه بلل کېږي نو احتمال لري چې د راجپوت د چوهان د قبيلې د چاچيرا – او سيا دواړه څانګي يو ځايي تمثيلوي.

اکا (چې په سامل پوري اړه لري) څانګي ئې دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| باسی | ايسا | کريرای | کټی | مدا |
| ماروف | ميری | سنجر | شېر | سلطان |
| او نور | | | | |

له دغو نومو څخه باسی ښايي د هندي باسي يا د راجپوتي مځکه وال په مځکه پوري د تړلي مريي ځای نيولی وي. يا خو احتمال لري له هغي بېسي څخه نمايندګي کوي چې پليني ياد کړی دی او دا د پايونيا يو قوم

دی چې زیاتره قبیلې ئې د هایموس د غره په ښېخ کې چې اوسنی بالقان کېږي د ستراېمون پر غاړو باندې اوسېدله. کریرای هغه ترک دی چې کرای نومېږي. سلطان د هندي بیدیا یوه هندو قبیله ده. د نورو بیان مو دمخه کړی دی.

میري یا مېری یوه هندي قبیله ده او د میران غوندي ګڼله کېږي چې د نامه په اقتفاء ئې د میرانزو (برتانوی) علاقه نومول سوې ده. میري اوس د یوې بېلې قبیلې په توګه دلته موجودیت نه لري، بلکي د ملکدین او اکا په ټل کي لکه څنګه چې پاس وښوول سوه شامله سوې ده. دغه بیان نو د افریدو د قبیلې د جوړښت په باره کي زموږ څېړنه بشپړېدو ته رسوي. په دوی پوري نښتي جنوبي خوا ته اورکزي پراته دي چې په تېر بیان کي مي د آرریان له خوا د یاد سوي اراسکوی سره یو شی بللي دي.

اورکزي له افریدو څخه د ملاغر هغې لړی بېل کړي دي چې د باړې او تیراه د سیندونو تر منځ د اوبو سرچینه ده څکه لومړي ته د افریدو د ملک اوبه او دوهم ته د اورکزو د ملک اوبه ورروزي. خو د اورکزو تر ښووني دمخه ډېره ښه به دا وي چې واردواره تیراهي وڅېړو چې لرغونی ملک ئې اوس اورکزو نیولی دی او همدارنګه هغه شینواري وښیو چې تیراهیانو په اساسي توګه د هغو تر منځ اوس اړولي دي.

تیراهي د دې پر ځای چې د کورمي هغه توري وبلل سي چې د دوی ورځرمه ګاونډیان دي او هم د دغو برخو یو لرغونی مېشته ولس ګڼل کېږي، زه دا غوره بولم چې هغه څوک ئې وبولم چې آرریان د تیرایوي په نامه یاد کړي دي. څکه د آرریان بیان سره له هغه چې ډېر لنډ دی خو دا څني څرګندېږي چې د تیرایوي ولس په ښکاره هغه ملک نیولی دی چې د سفیدکوه شمال ته او د کوفینیس (د کابل د سیند) پر دواړو غاړو باندي پروت دی. دا ملک هغه ګوټ دی چې اوس لا هم هلته تیراهي په ډېر زیات شمېر کي مونده کېږي. اما د کورمي توری یومخیزه د سفید کوه پر

جنوبي پلو پراته دي او داسي نه معلومېږي چي د دغي لړۍ پر شمال باندي خپلي مېني درلوولي وي. تيراهي د توريو په پرتله په جلدي لحاظ روښاني بڼې لري او هم د خپل ځان په يوه خاصه لهجه ږغېږي چي تيراهي ئې بولي. خو دوی اوس په افغانستان كي د يوې بېلي ارضي قبيلې په څېر چيري موجوديت نه لري. ددوی لرغونی ملک چي اوس د تيراه په نامه يادېږي، اورکزي ورباندي پراته دي او دا ملک د مستوري او خانكي په نومو له ناوو څخه جوړ سوی دی. دغو ناوو ته د هغه ملک اوبه راوزي چي د (ملاغر) د غاښي او د (سمانه غر) د لړۍ تر منځ پروت دی. (سمانه غر) د تيراه ملک د كورمي له ناوې او د زيموخت له قبيلې څخه رابېلوي. ښكاري چي پخوا زمانه د تيراه ملک يوه ډېره پراخه ساحه نيولې وه او د سفيدكوه د ختيځو ښاخونو هم جنوب او هم شمال دواړو خواوو ته غزېدلی پروت و. ځكه د ميرانزو جنوب ته د (تيري) په نامه يو علاقه سته چي اوس ختټک هلته مېشته دي او بل بيا د كابل پر سيند باندي د (تيرګړي) په نامه يو ځای سته چي هلته همدا سيند د اليشنګ او الينګار په يو ځای سوي رودونو باندي ورګډېږي. دغو ځايونو خپل نومونه ښايي د تيراهي له نامه څخه اخيستي وي. احتمال لري همدغه د تيرګړي علاقه وه چي دلته سكندر د لومړي ځل دپاره له تيرايوي سره مخامخ سوی دی. د تيراهي غټ مرکز په نن وخت كي د ننګرهار يا جلال آباد پر سيمه د شينوارو د ملک د (كوټ رود) Castle River ناوه ده او دا پېښه هم ښايي دلته د نازيان په ناوه كي سوې وي چي سكندر هغه ښارګوټی ونيوی او وران ئې كړ چي دوه پوړه كلا ورباندي راګرزېدلې وه او په خپله هم په دې محل كي ټپي سو. له دې ځايه څخه نو بيا لكه په تېر بيان كي چي ويل سوي دي مخ د (اندكا) پر لور وخوځېدی. د نازيان په ناوه (كوټ رود) كي تيراهي دوه زره كورنۍ ګڼل سوي دي او د همدې شمېر په اندازه د پېښور په علاقه كي د نورو اهاليو تر منځ يو ځای او بل ځای د وړو ټولګيو په توګه پاشلي دي. دوی همدارنګه د

لغمان په زیاترو برخو کې د تاجکو تر منځ پاشانده اوسي چې افغانان ئې له تاجکو سره یو ځای یوه مشترک نسب ته منسوب ګڼي. دوی اوس د تیراه په ملک کې چې هغه ټوله اورکزو نیولي دي نه مونده کېږي. اورکزي پخوا زمانه د کوهاټ او میرانزیو په هواره کې اوسېدله. نو د شینوارو قبیله چې د تیراهي ولس اساسي ټاټوبی د دوی په منځ کې واقع دی یوه داسي قبیله ده چې منشأ او سابقه ئې ښه پوره نه ده معلومه.

د ځینو په ګومان شینواري ښایي د اوسني وخت له الباني نسبه څخه وي او ښه ډېر را وروسته صرف د تېرې پېړیو په منځنیو کلونو کې د نازیان د ناوې په خپل اوسني محل کې د نادرشاه له خوا څخه د دې دپاره مېشته سوي دي چې د یوه ګارډ په څېر د خیبر د درې لوېدیځه خوله وساتي او له همدې زمانې راهیسي د دوی لومړنی اصلي نوم شېرواني د شینواري په بڼه مسخه سوی دی. د اولس نه په خپله حتی د یوې دغسي نسبي منشأ په باب کوم ګومان کوي او نه هم کومه داسي بېلګه ورباندي ښکاره ده چې یوې دغه راز مورینې ته دوی منسوب کړي. د دوی ژبه پښتو ده او د دوی دودونه او کسبونه د پښتنو له هغې سره یو شان دي. خو د قزلباش ترکمنو دوولس زره کسیزه کالوني بیا چې نادرشاه هغه مهال په کابل کې ځای پر ځای کړه چې د هند لوري ته ئې پرمختګ کاوه، تر اوسه خپل هویت د هغې کالونۍ په پاېښت کې ساتي. څکه خپل تر منځ په ترکي ژبه خبري کوي لاکن په جاري کاروبار کې له پارسي ژبې څخه کار اخلي. سره له هغه چې د سني مذهب د بدورده او متعصبو اهالیو په منځ کې پراته دي خو د اسلام د پرشیائي فرقې یعني شیعه مذهب ټینګه پالنه کوي. شینواري ښایي هغه سنوبري یا سیناوري وي چې د راجپوتي نسب مربوط هندیان ګڼل کېږي. دوی د خیبر له درې څخه لوېدیځ پلو د مازینان تر ناوې پوري د سفید کوه د شمالي خوا بېخ او لمني نیولي دي. د مازینان په ناوه کې د خوګیانو د هغې قبیلې سره (چې هیرودوت ئې هیګینوی یادوي) یو ځای

کېږي چي دمخه ئې بيان تېر سوی دی. دوی د هندوکش د کاڤوشان په ناوه کي همدارنګه يوه غټه کالوني لري او يوه بله وړه بيا چي وګړي ئې ډېر نه دي د کافرستان د ناوې د شايګل يا سايګل په برخه کي لري چي اوبه ئې د کونړ سيند ته وزي. شينواري په شمېر پنځلس زره کورنۍ ګڼل سوي دي او د دوی زياته برخه د غاتر چلوونکو په څېر کاروبار کوي او د خپلو انتقالاتو د ورهني دپاره د غاترو د زيات شمېر په تکثير لګيا دي. شينواري څلور ښاخونه لري چي سنګو، مندو، سپاه او عليشري نومېږي. سنګو – خېل او مندو – خېل چي د لرغوني وخت اوسېدونکي دي ښايي د (تيرايوي) د خپلونو له جملې څخه وي. سنګو ښايي د سنګايوس هغه قبيله وي چي (هيفايستون) دوی ته د هغه ښار کالخوايي وروسپارله چي له وړاندي ياد سوي (استيس) (يعني د جاواکي افريدو له هستو – خېلو) څخه ئې ونيوی. مندو څو کرته موږ ته وړاندي په مخه راغلي دي. دوی د جاتا د ستر (مند) د قبيلې يوه برخه ده او منشائې هم کټ مټ هغه ده چي د اروپا (وېند) ځني را پيدا سوي دي. سپاه او عليشير لکه ترمخه چي هم ويل سوي دي د وروستۍ زمانې ناقلين معلومېږي.

اورکزيو (چي آرريان ئې اراسکوی يادوي) پخوا زمانه د کوهاټ او ميرانزو علاقې نيولي وې او له هغه ځايه څخه واردواره د خټکو له خوا او بيا د بنګښو له خوا دې ته مجبوره سوه چي د تيراه غرونو ته وخېژي. وطني بيانونه وايي چي زيات و کم شپږ يا اووه سوه کاله پخوا خټکو او څلور سوه پنځوس يا اوز کاله پخوا بيا بنګښو دې ته اړ ايسته چي له خپلو ټاټوبو څخه د تيراه غرو ته مخه وکړي. اورکزي دېرش زره کورنۍ ګڼل سوي دي چي د مذهب په حساب ئې يو شمېر سني او يو شمېر شيعه دي.

خو په سياسي حساب ئې بيا يو شمېر په (سامل) او بل شمېر په (ګاړ) پوري اړه لري. په دوی کي ځيني خېلونه سته چي د اصلي اروکزو په څېر نه ګڼل کېږي. دغه وصلي اورکزي مېشتي، الي او شيخان نومېږي.

مېشتي په پښتو کي (د اوسېدونکو، مېشته وګړو) معنا لري او دا ښايي هغو لرغونو اهاليو ته اشاره وي چي د اوزکزو تر هجوم پخوا ئې دا ځکه نیولې وه. د میشتي له څانګو څخه یو (ماما) دی چي یوه برهمنۍ قبیله ده. بل (دادی) دی چي یوه هندۍ قبیله ګڼله کېږي او په رووسته کي به ئې هغه وخت یادونه وسي چي د هیرودوت پر (دادیکا) باندي زموږ خبري راورسېږي. یو بل بیا د (حیدر) په نامه دي او ځیني نور ئې بیا اسلامي نومونه لري. الي چي زما په ګومان له یوناني (الیولوی) څخه نمایندګي کوي د افغانستان په دې برخه کي د ډېرو پښتني قبیلو څانګي تشکیلوي او خپل نوم ئې د کورمي د سیند د سرچینو په حوزه کي یوې لويي علاقې ته ورکړی دی چي (الي خېل) نومېږي. د الي په څانګو کي اختان، براهیم، ګندا، مستوره، سوکري او یو شمېر نور شامل دي. د دوی له جملې څخه به (اختان) یو ځل بیا د (اختو) په بڼه ولیده سي. براهیم ښايي د برهمن ځای نیولی وي. ګندو له ګونړا څخه نمایندګي کوي چي د ښارویو روزونکې هندۍ قبیله ده. سوکري د راجپوت د پرامارا د قبیلې ساګره تمثیلوي. مستوره ښايي د (مها استوره) یا (مه اوستوره) ځای نیولی وي چي (اوستوری) قبیله ده او په یوه وروسته برخه کي به ئې د (پلیني) د (ستاوري) په څېر یادونه وسي. شیخان د شیخ د کلمې جمع ده او دا لقب په هند کي هغه چا ته ورکول سوی دي چي اسلام ته را اوښتي وي. د دوی څانګي د (مررا)، (ملا)، (رنګین) او نورو په نومو یادېږي. دغه درې وصلي قبیلې ټوله سنیان دي او په سیاسي حساب پرته له (الي) چي (ګاړ) دی نور نو په (سامل) پوري اړه لري. دوی د (همسایه) یا (تابعانو) په ټل کي ګڼل کېږي او وايي چي شمېر ئې تر لس زره کورنۍ یا د اورکزو د قبیلې تر یوه ثلث اوړي. اورکزي د پښتو په یوه داسي لهجه ږغېږي چي خاص په دوی پوري اړه لري او د یوسفزو له عادي پښتو څخه د افریدو د لهجې د توپیر په نسبت ئې تفاوت ډېر زیات دی. دوی په خپل منځ کي د کورنیو

بدیو په سبب ډېر سره وېشلي دي. اورکزي د (همسایه) په شمول چې ترمخه ئې بیان راغی څلور ښاخونه لري چې پاته درې ښاخه ئې د دولت، اسماعیل، او لښکر په نومو دي.

د دولت څانګې دا دئ:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| عبدالعزیز | بارمحمد | بازوتی | مانی | سپاه |
| اوستوری | اوتمان | فیروز | اونور | |

له دغې جملې څخه اوتمان او فیروز په سیاسي حساب سامل او د مذهب له پلوه سني دي. پاته چې په ګار پوري اړه لري پرته له بازوتي او اوستوري څخه چې دواړه سني دي، نور ټوله شیعه ګڼل کېږي.

اسماعیل (چې ټوله سني دي) څانګې ئې دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| اکا | براهیم | ایسا | ښادي* | محمد |
| مما | ماسو* | رابیا* | سده | اونور |

په دغه جمله کې هغه چې د ستوري (*) نښه لري (سامل) او پاته ئې (ګار) دی.

د لښکر څانګې (چې ټوله سني او ګار دي) په لاندې نومو بلل کېږي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| علیشېر | ایا | مامو | پادي | سالار |
| تاغه | اونور | | | |

له پاس نومو څخه ماني ښایي له مانت څخه نمایندګي کوي چې سوداګر پېشه راجپوت دی او یا ښایي د هغه (ماني) ارادتمندان تمثیلوي چې د بدعتیانو ماني مذهب[1] ئې راوایست او دوی یو وخت په دې برخو

---

[1] وایي دا یوه مذهبي غوندې فلسفه وه چې اساس ئې (ماني) ایښی و. د دوی تعلیمات له دریمې میلادي پېړۍ څخه بیا تر اوومې پېړۍ پورې خپرېدله. د (خیر) په خوا کې ئې (نور، خدای او روح) خو د (شر) په خوا کې ئې (ظلمت، شیطان او جسم) راوستلي وه. د دوی په مکتب کې د زردشتیزم او مسیحیت عناصر موجود وه (مترجم)

کي په شمېر خورا زيات وه او تکليفونه ئې ايجادوله. تاغه له تاګه برهمن يا توغ څخه نمايندګي کوي چي د توغياني (ترخاري) ترکو يو خېل دی. په اورکزو پوري لوېديځ پلو ته ئې د زايموخت، زوائيموخت يا د دمشت قبيله پرته ده چي وايي د (تور ترين) د قبيلې يوه کالوني ده او شمېر ئې پنځه زره کورنۍ ګڼل سوي دي. په بدني لحاظ دوی يو جګ نارينه نژاد دی او زياتره د انګرېزانو په څېر روښانه څېرې او تکړه بدنونه لري. د دغو خصوصياتو په وجه ئې تر هغو قبيلو برتري ځرګنده ده چي پر دوی راګرزېدلي پراته دي او له همدوی څخه ګوښه د اورکزو او د کورمي د توريو تر منځ په هغو تپو کي بېل ژوند کوي چي هلته د شاکلي، سنګروبه او مخازي د غاړو په اوږدو کي چي د کورمي د سيند مرستياليان دي، ډېر زيات کلي لري.

زائيموخت دوه ښاخونه لري چي يو ئې خوايداد او بل ئې مامو نومېږي.

د خوايداد يا خداداد (ديودوتس) څانګي دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| الي | برات | بابکر | هوسان | ابراهيم |
| اسماعيل | کدم | کريم | خادير | مازکي |
| ميراه | نېکبی | پاينده | سنګو | تاپی |
| اومر | زاوا | اونور | | |

له دغي جملې څخه خادېر له کهاتير څخه نمايندګي کوي چي سوداګر پېشه راجپوت دی، (زاوا) هغه (جاوا) دی چي د افريديو جاواکي لکه ترمخه چي وويل سوه، هغه ته منسوب ګڼل کېږي. نور پاته نومونه زياتره په مخه راغلي او وړاندي ئې يادونه سوې ده.

د مامو څانګي دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| بالو | باسي | بوغزی | بوستام | چار |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| داؤد | دراني | درې پلاره | کجير | کمر |
| ښادي | کورمه | مانه تو | مندن | مستو |
| ميرو | پاريدي | سپرى | شاهي | اوزبا |
| واتي | يوسف | اونور | | |

له دغي جملې څخه بالو د برهمن له بالا څخه نمايندګي کوي. مامو چي همدارنګه محمد بلل کېږي د برهمن ماما تمثيلوي. بوغزى د (بوغز) بومي اوسېدونکي چي د کورمي پر سيند باندي واقع دى او پخوا زمانه د کرمان پاى تخت و او دا هغه ځاى دى چي د بابر په خاطراتو او د تېمور په تاريخ کي د (نغز) په نامه ياد سوى دى. د دغه محل اوسنى کلى په داسي ځاى کي موقعيت لري چي ډېري غزېدلي کنډوالې او مورچلي کلاوي چارچاپېره ورباندي راګرزېدلي دي. چار د راجپوت چاوارا تمثيلوي. کجير د پرامارا له کېجار څخه نمايندګي کوي. درې پلاره پښتو کلمه ده چي د (three fathers) معنا لري او د اباسين پر پوله د پښتني قبيلو په څانګو کي ډېر ځله ليده کېږي. ما نه تو د مانت ځاى نيولى دى چي سوداګر پېشه راجپوت دى. تر زائيموخت پسي جنوبي پلو ته د توري قبيله پرته ده.

ټري يا توري د راجپوت هغه تواري يا توئار تمثيلوي چي پخوا زمانه په دې سيمو کي يوه مهمه قبيله وه او د راجپوت د مشهور تومار، توار يا توئار يوه څانګه وه چي يو وخت د هند يوه غښتلې او واکمنه قبيله ګڼله کېده او له دې قبيلې سره د هغو هندو واکمنانو وروستى شاهي کورنى اړه درلوده چي په ډهلي کي ئې تر هغه مهاله پاچهي کوله څو چي برهمني حاکميت د اسلام له خوا څخه د دوولسمي پېړۍ د پاى په کلونو کي د شهاب الدين غوري تر مشري لاندي له واکه ولوېدى. ځيني په دې عقيده دي چي وايي ټري د خپلي ادعاء له مخي ځانونه د راجپوت مربوط د (خاتير) له نسبه څخه بولي خو دغه نوم د دوى د خېلونو او څانګو تر منځ نه

لیده کېږي. ټري د پوستکي په حساب توربخون، لنډي او نري ځلګ دي خو په هر حال دوی ډېر تکړه او کلک ګڼل کېږي. وایي چي د آس په سپرلو کي زیات ماهر او زړه ور دي او ځیني داسي رواجونه پالي چي خاص په دوی پوري اړه لري. دوی خپل وېښتان اوږده پرېږدي او چنداني شی نه پر سر کوي او له یوه داسي سیاره ژوند سره عادت سوی دی چي د خپل ملک په حدودو کي دننه ئې چي پخوا لیري د میرانزو تر (تراواري) پوري غزېدلی و، یو ځای او بل ځای په خېمو کي تېروي. خو په نن ورځ کي دوی د کورمي په ناوه او د سفیدکوه په جنوبي لمنو پوري محدود سوي او د کورمي د (بالیامین) علاقه ئې اساسي مرکز بلل کېږي. پخوا دوی د (پېوار) د لړی لوېدیځ پلو ته د کورمي د سیند تر سرچینو پوري غزېدلي وه. د دوی هغه خېل چي د (الي) په نامه دی دلته ئې یوې لویې سیمي ته خپل نوم ورکړی دی چي (الیخېل) بلل کېږي او دا ځای اوس د جاجي قبیلې نیولی دی. ټري ټوله شیعه مذهبه مسلمانان دي او په شمېر لس زره کورنۍ ګڼل سوي دي. دوی پنځه غټ ښاخونه یا خېلونه لري چي یو په یو ځائي توګه (پنجپدري) نومېږي. دا پنځه پلریني د ګوندي، الي، مستو، سرغالي او دوپانومونه لري.

د ګوندي څانګي دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ایسا | محمود | رستم | شمسی | تاني |
| یوسف | اونور | | | |

له دغي جملې څخه ګوندی دګندي ځای نیولی دی چي د څارویو روزونکې هندی قبیله ده.

د الي څانګي دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| چوګو | خوایداد | ماسو | مت | میرو |
| ملا | شامو | اونور | . | |

له دغې جملې څخه مت ښایي د راجپوت له شري مت او شامو د

راجپوت د جاریجا یادو له شاما څخه نمایندګي کوي. نور ټوله نومونه هندي دي.

د مستو ځانګې دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ازي | بوغزي | دریونډي | فیروز | جونا |
| ماما | مارو | ملا | سپن | تورکالی |
| اونور | | | | |

مستو او ملا د مستوره د ناوې او د اورکزو په ملک پوري د ملاغر د لړۍ بومي اوسېدونکي دي. جونا راجپوت دی. مامابرهمن دی. مارو د مارواړی ځای نیولی دی چې د هندي بېديا بومي هستوګن دي. سپن راجپوت دی. تورکالي ښايي د تهاکورايلي اسلامي مخپوتی وي چې هندی جت دی.

د سرغالي ځانګې دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| اکا | بادی | درې پلاره | همزه | جاني |
| خېشګی | پاری | ساتی | شکور | سپین |
| اونور | | | | |

له دغې جملې څخه پاري، ساتي او شکور ښايي له پارسیا، سات او شکول څخه نمایندګي کوي چې ټولي برهمنی قبیلې دي. بادي، جاني او خېشګي د نامه له مخې څخه ترک دي. خېشګي یا خوېشګي ښايي هغه تمثیلوي چې د (هوشکا) یا (هوویشکا) له نسبه څخه منځته راغلی دی. هوشکا یا هوویشکا د هغه مشهور کنیشکا ورور و چې د کابل او کشمیر پاچهي ئې په لاس کي وه او وروسته به ئې بیا هم بیان مخ ته راسي. دغه د سرغالي ځانګې زیاتره یو مخیزه کوچیان دي.

د دوپا ځانګې دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| امبار | دولت | جعفر | کاچهین | کېوي |

| تارو | سامه | پائي | خيرو |
|---|---|---|---|
| | | | |

په دغو نومو کي جعفر او خيرو له جيپرا او خير څخه نمايندګي کوي چي د راجپوت په پراماراپوري اړه لري. سامه د راجپوت د يادو د قبيلې مربوط د جاريجا يو خېل دی. تارو هغه برهمن دی چي (تري) نومېږي. کاچهين، خاچين يا کاچين او خاجين مو تر مخه د شيخ بېټ په اولاده کي وليده او يو ځل به بيا د (داردو) د قبيلو تر منځ په مخه راسي. کېوي يا کيوي د سيند د بېديا يوه هندي قبيله ده.

په ټريو پوري د پېوار د غابني لوېديځ پلو ته د جاجي قبيله پرته ده چي شمېر ئې نژدې پنځه زره کورنۍ ګڼل سوی دی. دوی سني مسلمانان دي او ګومان کېږي له هم هغه نسبه څخه وي چي په جنوب لوېديځ کي د دوی ګاونډيان منګل اړه ورپوري لري. دوی پښتو وايي او پښتنواله پالي خو نه د افغان، نه د پټهان، نه د غلزي او نه هم د تاجک په څېر منل سوي دي. دوی ډېر ګوښه دي او تر دې زيات چي تل تر تله له ټريو سره په بديو کي ولاړ دي نور نو د دوی په باب چنداني معلومات نسته. دوی ښايي د کرمان د کره خيتای له جملې څخه وي ځکه د افغانستان په دې برخه کي بل هيچيرې کره خيتای په دغه نامه باندي نه مونده کېږي. د کاشغر او يارکند د کره خيتای تر منځ سپاره لښکر د (جيجيت) په نامه يادېږي او پلي لښکر ته (جاجا) وايي. امکان لري زموږ جاجي د هغه (جاجا) د لښکري ټولۍ اولاده وي چي البته د يوې نظامي کالونۍ په څېر د کره خيتای د شاهزادګانو هغي پاچهي کورنۍ دلته ځای پر ځای کړي وي چي اساس ئې په ۱۲۲۴م کي لکه دمخه چي ئې يادونه وسوه د بارک حاجب له خوا څخه په کرمان کي کښېښوول سو. دغي کورنۍ د کرمان او سوران په ولاياتو کي (دا هغه ملکونه دي چي اوبه ئې د کورمي او ګومل سيندو ته وزي) د خراسان او پرشيا د مغلي واکمنانو د تابعانو په توګه دواتيا کاله حکومت کاوه. له بلي خوا بيا دا احتمال هم سته چي ښايي دا به د برهمن

جاجوتهیا تمثیلوي.

جاجي لکه څنګه چي ئې موږ ګورو د (اليخېل) هغه علاقه ئې نیولې ده چي د هرياب او کريا په نومو ئې هغو نالو ته اوبه وروزي چي د کورمي د سیند مرستیالان دي او دا علاقه لوېدیځ پلو ته د (شترګردن) د لړی پر خوا بیا لیري تر جاجي نهانې یا د (هزاردرخت) په تنګي کي تر (برتانوي پوستې) پوري غزېدلې ده. دوی پراتو (ټولیو) یا (وان) باندي وېشلي دي چي ادا، احمد، الي، بیان، حسېن، لېهواني، پېتلا او شامو نومېږي. ادا، بیان او شامو د ترکي قبیلو نومونه دي. لېهواني ښایي د لواني راجپوت ځای نیولی وي او پېتلا د راجپوت له پاتیلي څخه نمایندګي کوي. خو د جاجي عمومي نوم په خپله ښایي د برهمن جیجا یا جاجوتهیا تمثیلوي او ښایي دغه به ئې واقعي منشأ هم وي. شامو ښایي د ترک شاملو یا د راجپوت هغه شامه تمثیلوي چي د جاریجا د قبیلې یا د سپوږمی د توکم د یادو یا ګادون یو بل نوم ګڼل کېږي.

د جاجیو تر شا بیا هم په تریو پوري د منګلو قبیله پرته ده. منګل چي شمېر ئې لس زره کورنی ګڼل سوی دی د کورمي د سیند جنوب ته د چمکنیو په ناوه او هم هغو تپو کي مېشته دي چي لیري لوېدیځي خوا ته د غزني د زرمت د علاقې تر مچلګو (د راجپوت د بچلګوټ قبیله ده) پوري رسېږي. ویل کېږي چي دوی له جاجیو سره نژادي خپلوي لري او عموماً په سیاسي چارو کي له دوی سره متحد وي. دوی ښایي هغه منګلي (منګل بارني، یا منګ بارني چي د هزاره و د اپارني داهي په ارتباط ئې دمخه یادونه راغلې ده) تمثیلوي چي د سلطان محمد خوارزم شاه په مشهوره زوی سلطان جلال الدین منګلي پوري اړه لري چي د هغه د حکومت خاصه حوزه او د شاهزادګی امتیازي محل د غزني ولایت و او هلته د ده کورنی، متعلقین او پلویان ټوله مېشته وه. منګلي یو خاص عمومي نوم دی چي د مغلي تاتاریانو تر منځ استعمالېږي او د (د. هیربیلوت) له خولې ویل

کېږئ چي دا به د عبري ژبي د میکایل (میکائیل) تاتاري شکل وي ځکه دا یو داسي نوم دی چي د مسیحیت په لومړیو پېړیو کي د اسرائیلیانو یا د نیستوریانو له خوا د دوی تر منځ رائج سوی دی. له بله پلوه بیا منګالیا د راجپوت د ګاهلوټ د قبیلې د یوه مشهوره خېل نوم دی او همدارنګه په دې نامه د هندي بېدیا یوه داړه ماره قبیله موجودیت لري. خو منګل بیا د یوې ختري قبیلې نوم دی. د هندي بېدیا منګالیا او جېسالمیر داسي ښکاري چي په بلوچستان کي د هغه مینګل سرچینه وي چي د دې پلټني په وروستۍ برخه کي به په مخه راسي او ښایي همدا شان دوی د هغه منګل رښتیني منشأ وي چي همدا اوس ورباندي رغېږو. د کرمان منګل ځیني په کرهڼه او ځیني په مالداري لګیا دي او ټوله لړ یا ډېر په داړه ماري اخته او د خپل سر خلګ دي. دوی پنځه غټ ښاخونه یا خېلونه لري.

میرال خاجوري مرغا کمال زائو

له دغي جملې څخه میرال یا میران د مېر، میر یا میران په نامه د هغه هندي قبیلې جزء دئ چي خپل نوم ئې په اوسني (برتانوي) کوهاټ کي د میرانزو علاقې ته ورکړی دی او دا ګړی نوموړې علاقه د بنګښو قبیلې نیولې ده چي په روان بیان کي به ئې یادونه وسي. خاجوري د راجپوت د پرامارا د قبیلې له کهیجار څخه نمایندګي کوي. کمال یوه ترکۍ قبیله ده. زائو ښایي د زائولي یا د زابل د اوسېدونکي ځای نیولی وي چي د غزني د ملک بومي افاده کوي. له دغو خېلونو څخه هر یو وړو څانګو ته وېشل سوی دی، لکه بابو، درمان، مدا، سلیمان او نور.

په منګلو پوري جدران پراته دي.

جدران په شمېر لس زره کورنۍ ګڼل سوي دي او دوی د خوست او زرمت تر منځ د سلیمان د لړۍ په هغو تپو کي اوسي چي په ځنګلونو پټي دي. د دوی اساسي څانګه چي اختون نومېږي د کوهاټ پر لوېدیځه پوله د شامل په علاقه کي اوسي. جدران کوربټ د افغان په جمله کي نه ګڼل

کېږي او له یوه مخه یو آزاد ولس دی. دوی په خپل ملک کې اساساً په کرهڼه باندې ژوند کوي. د ژمي په موسم کې د دې قبیلې زیاتره وګړي په ورځني خواري پسې برتانوي حوزې ته راشېوه کېږي او هلته په داسي سترګه ورته کتل کېږي چې پټ خولي، پاسته او خواریکښ خلک دي. دوی د یامه په کار او د څهانو په کښلو کې زیات مهارت لري. د دوی په خپل ملک کې له هري خوا څخه نوري قبیلې ورباندې راګرزېدلي دي او په دې ډول ئې نو د دوی آزادانه اړیکې د ملک له نورو برخو سره شلولي دي. ختیځ ته ئې خوستوال، لوېدیځ ته ئې ګوربوز، جنوب ته ئې غلزي او شمال ته ئې منګل پراته دي.

جدران احتمال لري له هغه چا څخه نمایندګي کوي چې یونانیانو په لرغوني زمانه کې د (ګادروسای) په نامه یاد کړي دي او ښکاري چې دغه ګوښه منزوي محل ته د غزنوي سلطان محمود په زمانه کې په زور راوستل سوي وي. څکه ګومان کېږي چې هغه دې محل ته هغه مهال راولېږدول چې د بلوچستان پر کلات او لاس باندې ئې حمله وکړه او هلته ئې د دوی پر ځای باندې د جهالوان قبیله مېشته کړه. لرغوني ګادروسای په خپل بومي ملک کې د (لاس) د (ګادري) له خوا تمثیلېږي او د همدغه نامه د جمع شکل (ګادران) کېږي چې زمونږ د جدران منشأ تشکیلوي.

د جدران څانګې دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| اختر | اختون | اهمت | ال | الیک |
| الي | الو | ایو | بابر | بخای |
| باشک | بازکی | بېټ | بیبو | بولا |
| برېست | بورهان | ډانګی | ډېري | دوبی |
| درې پلاره | فیروز | ګرازي | غني | ګویان |
| هوس | جامکي | جول | خاني | خرموز |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ختر | خويې | خوجه | لالا | مدو |
| مامل | مندل | مارسپن | متا | مازي |
| موسم | ملتان | موسا | نيامت | نامبت |
| پائو | پرنگی | شېر | سيپاري | شودت |
| سپارکی | سلطان | سوري | تېنپا | توکر |
| توله | تورکی | اومر | ولي | واليدي |
| زنگی | زاني | اونور | | |

له دغي جملې څخه اختر او اختون داسي ښکاري چي سره يو شی وي. ال، الېک، الي او الو همدا رنګه د يوه نامه بېلابېل شکلونه ښکاري. ايو البته د جت يوه قبيله ده. بابور يا بابر يوه ګوجر قبيله ده. باشک د راجپوت له باچک څخه نمايندګي کوي. بېټ ښايي د بهټي يعني د شيخ بېټ له بهټي څخه نمايندګي کوي چي بيان ئې دمخه راغلی دی او جدرانو همدا اوس د ملک هغه ځای نيولی دی چي په لرغونې زمانه کي بهټي هلته اوسېدله. بيبو د راجپوت د پرامارا بهيبا تمثيلوي. بولا ښايي د ولي او واليدي غوندي چي د پورتني ليست په پای کي راغلي دي له هغه بوليدي څخه نمايندګي کوي چي د بلوچستان د کج مکران په برخه کي يوه خورا غټه قبيله ده او دا په سر سره هغه ولس دی لکه د هزاره و فولادي، فائولادي، پولادي (د پتوليمي بوليدي) چي پخوا ئې بيان تېر سوی دی. بولا ښايي د بولان د (درې) او د بيلا (د ښار) او (د لاس بېله) د علاقې د نومونو منشأ وي. ډانګي ښايي د نګست او دوبي ښايي دابي تمثيلوي چي دواړه راجپوتي قبيلې دي. هوس د اوسوال، جول د جائيل او ختر د خاتېر ځای نيولی دی چي ټوله سوداګر پېشه راجپوتي قبيلې دي، جامکي معنای (د جام) او دا په بلوچستان کي د (لاس بېلې) د هغه موروثي جاريجا شاهزاده لقب دی چي قبيله ئې تر مسلمانېدو دمخه لکه پخوا چي ئې هم

بیان تېر سوی دی د (شام) په نامه یادېدله. خویې او خوجه ښایي سره یو شی وي او د (کهو کچواهه) له هغي یوې قبیلې څخه نمایندګي کوي چي کله زموږ بیان کافرستان ته راورسېږي نو هلته به بیا ورسره مخامخ سو. مدو د ماد او مندل د منداهل ځای نیولی دی چي سوداګر پېشه راجپوت دي. خرموز ښایي چي هورمز وي. نیامت او نامبت یو شی ایسي. پائو د راجپوت د ګاهلوټ د قبیلې له پاهه څخه نمایندګي کوي. پرنګی خو پخوا زموږ په مخه راغلی دی. دا یو داسي نوم دی چي موږ به ئې بیا یادونه وکړو چي یوناني منشأ لري. سیپاري یا ساپري او سپارکي یا ساپارکی سره یو شی دي او ښایي له هغه (ساراپارای) څخه نمایندګي کوي چي پلیني ئې یادونه کړې ده. سلطان د هندي بېدیا د یوې (هندو) قبیلې نوم دی. سوري د راجپوت د سور یا د ختري د سوري ځای نیولی دی. تېنپا د جت مربوط تهېنبا تمثیلوي او توکر د جت له تهاکور یا هغه تهاکور څخه نمایندګي کوي چي سوداګر پېشه راجپوت دی. اومر د پرامارا د اومرا ځای نیولی دی. زنګي د زنګ (زنګبار) بومي چي ښایي د مریانو یوه قبیله ده.

تر جدرانو پسي ختیځ پلو ته خوستوال او داوري پراته دي. خوستوال یا (د خوست وګړي) په هغه آباده ناوه کي اوسي چي د شامیل یا کیتي د سیند پاسنیو سرچینو ته ئې اوبه ور وزي. دغه سیند د کورمي د رود یو اساسي ښاخ دی او له هغه سره د (زېروام) په علاقه کي یو ځای کېږي چي د (تل بلند - خېل) د تریو د حد جنوب ته په دوولس میلي کي واقع ده. خوستوال په شمېر څلور زره کورنی ګڼل سوي دي. دوی د خپلو ګاونډیانو له خوا څخه د خوستوالو په نامه یادېږي او داسې نه ښکاري چي د خپل ځان کوم خاص قبیلوي نوم ولري. دوی که څه هم له وزیرو سره چي په حقیقت کي دلته په زور راغلي دي د خوست ناوه په ګډه خوري خو دا اجازه نه لري چي ځان د هغو له نسبي سلسلې څخه وبولي بلکي حتی د یوه ټیټ توکم په سترګه ورته کتل کېږي. خوست احتمال لري د

(خوستان) لنډکی شکل وي چي معنا ئې د (خود ملک) سره برابرېږي. (خو) یا (کهو) یوه کچواهه قبیله ده چي لومړی مرکز ئې د (اودیپور) د شاوخوا تپو په شېخاوات یا شیکاروات کي واقع و. خوستوال نو په دې ترتیب هندي (کهو = خو) دي چي د کافرستان د (خو = کهو) له هغه ولس سره یو شی ګڼل کېږي چي بیا او بیا به هم په مخه راسي. خوستوال او داوري نو لکه افرېدي، اورکزي او د اباسین د پولي د دې برخي د نورو پښتني قبیلو په شان او همدا راز د بنود علاقې د قبیلو په څېر چي په روان بیان کي به ئې یادونه وسي پر دوو متقابلو سیاسي ډلو یا ګوندیو باندي سره وېشلي دي. خو دلته بیا د هغه سامل او ګاړ پر ځای چي دمخه ئې بیان تېر سوی دی، دوی د (تور ګوندي) (یعني توري جناح) او سپین ګوندي (یعني سپیني جناح) په نومو سره بېل سوي دي. د دغو ګوندیو منشأ چنداني نه ده څرګنده خو د سامل او ګاړ د نومو له مخي دا قضاوت کېدای سي چي احتمال لري د اسلام تر راتلو پخوا دا یوه ډله بودایان (سرامان) او دا بله ډله مجوسیان (ګبر یا ګاوړ) وه.

د خوستوالو څانګي دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| باسیر | اسمائیل | لکڼ | مندو | متون |
| ملا | سبان | شمل | تنې | تاره وي |
| اونور | | | | |

له دغي جملې څخه باسیر ښایي باګر یا تمثیلوي چي د هندي بېد یا او راجواري هندو قبیله ده.

اسمائیل د (کچواهه) راجبوت له سیماله څخه نمایندګي کوي. مندو د کچواهه مربوط یوه قبیله ده. متون یا متین ښایي متي څرګندوي چي دمخه ئې د بهټني په جمله کي بیان راغلی دی. ملا او شمل دواړه د ځایو نومونه دي. تنې، تاني یا تونی مو دمخه د بیټني (غلزو) د خپلونو تر منځ ولیده. (تاره وي) یا تاروی ښایي د برهمن له تاري څخه نمایندګي کوي.

ملا ښکاري د یوې داسي قبیلې (البته د کچواهه د یوې پښې) نوم دی چي پخوا د اباسین د دغي پولي پر یوه پراخه ورشو باندي خپره وه او خپل نوم ئې د بلوچستان تر (خزداره) پوري (ملادرې) ته او هم ئې د افریدو په ملک کي د ملا په نامه د تپو لړۍ (ملاغر) ته ورکړی دی چي دا دواړه ځایونه په ترتیب سره د سلیمان د ستري لړۍ د جنوب او شمال په انتها ئې سروکی واقع دی. لکن همدا رنګه د (لکي) په شکل د دغي پولي د پراخي ساحې په تقسیماتو کي د محل د نامه په څېر مونده کېږي. ځکه یو (لکي) په هغه (ملادره) کي سته چي دا اوس ئې یادونه وسوه او بل همدا راز د بنو په علاقه کي موجود دی. دا ښایي د کچواهه د یوې پښې د لرغونو مرکزونو نښه وي چي اوس په مسلمانو ولسونو او نومونو هغه لادرکه سوې ده.

داوري یا دائوري قبیله د داور یا دائور په علاقه کي اوسي. دغه علاقه د خوست د ناوې جنوب ته پرته ده او په خاصه توګه د (روره) یا (روده) په نامه بلل کېږي. په دې علاقه کي دوې پراخي او آبادي ناوې شاملي دي چي یو له بله څخه د یوه اوږده نري تنګي په وسیله سره بېلي سوي دي. دغه تنګی د توګرای تنګي په نامه یادېږي چي (د توګراه ابناء) افاده کوي. (توغرا یا توګرا د راجپوت مربوط د سولانکي یا چالوک یوه قبیله ده). په دې تنګي کي د توچي یا ګمبیلا سیند بهېږي چي د کورمي د سیند یو ښاخ دی. داوري چي خپل نوم ئې د (روره) یا (روده) علاقې ته ورکړی دی، ګومان کېږي چي دې ځای ته د هیلمند د حوزې له زمینداور څخه په هغه زمانه کي را انتقال سوی وي چي افغاني قبیلې د دوولسمي پېړۍ په منځنیو کلونو کي د شهاب الدین غوري له خوا د غور له غرونو څخه د سلیمان لړۍ ته راوستل سوې. شهاب الدین غوري چي اسلام ئې په واقعي توګه د لومړي ځل دپاره په هند کي ټینګ کړ د سلطان محمود غزنوي د لاري په تعقیب ئې یوه بشپړه سلسله افغاني کالونیاني د اباسین په اوږدو کي د

غرنیو موانعو پر حدودو باندي میشته کړي. دا کالونیاني ئې په شمال کي له باجوړ څخه نیولې بیا په جنوب کي تر خزداره پوري زیاتره پر هغو ځایو باندي واچولې چي پوره یونیم سل کاله پخوا محمود هلته اچولي وې. داوري چي شمېر ئې شپږ زره کورنۍ ګڼل سوی دی، دوه ښاخونه لري چي یو تاپي او بل ئې ملي نومېږي.

تاپي (چي کوز داور دی) څانګي ئې دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ارغوند | بنګښ | باري | بټا | بیبا |
| بوکی | بلبل | چارګل | دوري | ګالي |
| هوتي | حیدر | ایدک | ایسوري | جاکر |
| جارس | جاواکي | کټي | ښادی | خوشي |
| مکهي | مېنا | میرو | موساکي | پهار |
| پلاله | راجي | روزي | سامي | سارکي |
| شنګی | سیواکي | سپین | تاپی | تاروتی |
| تارو | تاتا | توغرای | توری | اوتمان |
| زهو | زېراکی | | | |

له دغو نومو څخه به بنګښ په روان بیان کي مخي ته راسي. باری او بټا برهمني قبیلې دي. مکهي د مکواهانه ځای نیولی دی. مېنا او میرو د مرکزي هند او بېدیا هندیان دي. د موساکي په باب مو دمخه یادونه کړې ده. پهار د راجپوت له پوآر (پرامارا) یا د راجپوت له پاریهارا څخه نمایندګي کوي. په واقعیت کي ټوله لیست سوچه هندي نومونه دي.

ملي (چي پاس داور دی) څانګي ئې دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| احمد | الي | امراني | اسوان | ایدل |
| بابی | براهیم | چار | درپا | دهان |
| فیروز | ګدایې | ګارا | ایدال | جبار |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| کاکا | کرای | کتی | ښادی | کوری |
| لاند | لارهه | ملخ | ملي | مندو |
| مریم | موساکي | میانی | نانی | ناسرکی |
| نسرت | ناوګوشي | اورموز | پایي | رپهار |
| ساپکی | سامل | سپني | سوهو | تائوس |
| تره کی | تاروتی | تایب | تاریکي | توآر |
| اومر | زیرا | اونور | | |

له دغي جملې څخه امرانې د (امرا) برهمن ځای نیولی دی. ایدل له هغه ایدال سره یو شی دی چې په لیست کې تر هغه لاندې راغلي دي. بابی له بیبا سره یو شی دی او د پرامارا له بهیبا څخه نمایندګي کوي. درپا هغه دهربی تمثیلوي چې سندربوله قبیله ده. دهان او ګدایې د ختري قبیلو نومونه دي. مندو د کچواهه یو خېل دی. رپهار د پرامارا یو خېل دی. ساپکی یا سپارکی لږ څه دمخه ئې یادونه وسوه. سامل ښایي له شري مل څخه نمایندګي کوي چې سوداګر پېشه راجپوت دی او یا خو ئې د راجپوت د سیماله ځای نیولی دی. سوهو د ګادون مربوط له سوها څخه نمایندګي کوي. تاروتي د تیلو تا سره سر خوري چې سوداګر پېشه راجپوت دی. نور نو تقریباً هر نوم هندی دی او په دمخه کي ئې یادونه سوې ده.

تر داوري پسي ختیځ پلو ته د بنو د علاقې د شیتک قبیله پرته ده. خو پخوا تر هغه چي پر دوی ورغېږو ښه به دا وي لومړی هغه دوې نوري قبیلې راواخلو چي تر اوسه مو د دوی په باب څه نه دي ویلي. دا دوې قبیلې چي د اباسین او کورمي د سیندونو تر منځ ئې له ختیځه څخه تر لوېدیځه پوري غزېدلی ملک نیولی دی د بنګښ او خټک په نامه دی.

د بنګښ قبیله د کورمي، میرانزیو او کوهاټ په ډاګونو کي د پیوهار

ACKU

یا پېوار د لړۍ له ختیځ څخه بیا د ختکو د پولي تر لوېدیځ پوري په هغه سیمه مېشته ده چي ټوله حوزه ئې د همدې قبیلې په نامه بنګښ نومېږي. بنګښ په شمېر لس زره کورنۍ ګڼل سوي دي چي له دې جملې څخه دوه زره کورنۍ ئې (تر برتانوي پولي ها خوا ته) په کورمه کي د تریو د تابعانو په توګه اوسي. په کورمه کي هر بنګښ مکلف دی چي ځان د (همسایه) یا (بنده) په څېر په یو ټوري بادار پوري وتړي چي هغه ئې د کوم بل ټوري په مقابل کي حمایه کوي او دغه بادار د ده نایک یا نایيک یا (ساتندوی او حامي) بلل کېږي. ټوري نایيک خپل (همسایه) بنګښ ته چي له یوې علاقې څخه بلي ته ځي د لاري د تېرېدو دپاره یو پاسپورت یا بدرګه ورکوي او په مقابل کي ئې د جګړې یا ګوندي شخړو پر وخت له هغه څخه خدمت غواړي او هم که بنګښ مستقیم میراثخور ونه لري نو جائداد ئې د بادار حق ګڼل کېږي. له وطني بیانو سره سم بنګښ په لومړي سر کي له سیستان څخه راغلي او د غزني د ګردېز په علاقه کي ئې اړولي دي. دلته د نهمي پېړۍ په وروستۍ څلرمه برخه کي چي د سلطان اسماعیل ساماني دوره وه اسلام ته راواوښته او ګومان کېږي چي د همدې سلطان نوم ئې د اسلامي قومي نوم په څېر د ځان دپاره غوره کړی دی. که څه هم ډېر احتمال خو دا خبره هم لري چي د اسماعیل کلي نوم ئې ځکه اخیستی دی چي دوی د اسماعیلیه په هغه فرقه پوري اړه لري چي حنفي مسلمانان ئې (ملاحده) بولي او دا فرقه د ۱۰۹۹ م – ۱۱۰۰م شاوخوا په پرشیا کي د حسن صباح له خوا څخه منځ ته راغله او په ۱۲٦۵م کي د هلاکو خان له خوا څخه ړنګه سوه. هغه اسماعیلیه او ملاحده او یا (حبشیان) چي د هلاکو له ټکوني څخه بچ پاته سوه نو په غټ شمېر افغانستان ته وتښتېده. دا خبره نه ده روښانه چي بنګښ له کومه سیستان څخه دې خوا ته راغله. آیا د هیلمند د حوزې له هغه ولایت څخه چي اوسنی نوم ئې (سیستان دی چي عربي لیکوال ئې سجستان یادوي ځکه دا نوم ئې له سکستان یا د [ساکا د

ملک] له نامه څخه واخیستی چي دوی هلته ومونډی) او یا د بولان د درې پر پوله له هغه ولایت څخه چي اوسنی نوم ئې سیبی دی (او هندیان ئې سیوستان یا شیواستان بولي). خو خبره چي هر راز وي دوی تقریباً تر پنځه سوه کاله اوسېدني وروسته د غلزیو په وسیله له ګردېز څخه وایستل سوه او سوکه سوکه ختیځ پلو د اباسین خوا ته ولېږدېده. نژدې څلور سوه کاله پخوا ئې ځانونه د میرانزو او کوهاټ د ډاګونو خاوندان کړه او هلته ئې د (تیري) د خټکو په مرسته اورکزي اوسېدونکي د تیراه هغو غرونو ته پسي واخیستل چي زموږ له تېر بیان سره سم اوس دوی په هغه ځای کي مونده کېږي.

بنګښ زیاتره شیعه مذهبه مسلمانان دي او په سیاسي حساب د ګاړ په جناح پوري اړه لري. دوی د پښتني قبیلو په جمله کي ګڼل کېږي. که څه هم د دوی د مورینې په باب بېلابېلي څرګندوني سوي او مختلفو سرچینو ته منسوب ګڼل سوي دي. د ځینو په خیال د بنګښو د سرنیکه اسماعیل له هغه سلطان اسماعیل سره اړه لري چي د ساماني په نامه د هغي شاهي کورنۍ مؤسس و چي په ۸۷۵م کي تر صفاري کورنۍ وروسته (چي د یعقوب بن لیث یا لیس له خوا څخه تاسیس سوې وه) پر پاچهي کښېنسته. اسماعیل د ساماني په لقب یادېدی او دا لقب ئې د هغه لوی نیکه (سامان) له نامه څخه اخیستی و چي مسلک ئې سارواني وه او کسب ئې دا و چي لویي لاري ئې نیولې او د (مرو) شاوخوا ته ئې اړولي وه. د دغه سامان غټ نیکه بیا طاهري یا داهري و، چي د (داهر) له کورنۍ یا قبیلې سره ئې اړه درلوده. داهر د سیند د هغه هندو راجانوم و، چي د عربي جنرال محمدقاسم له خوا څخه په هغه وخت کي مغلوب او ووژل سو چي پر دغه ملک باندي ئې یرغل راوړ. د همدغه داهر له کورنۍ څخه تر مسلمانېدو وروسته طاهري کورنۍ، لکه دمخه چي وویل سوه، منځته راغله. خو بنګښ (یا د غرني پښتنو په تلفظ بنګخ) بنایي له بنګت یا بنکت څخه

ACKU

نمایندګي کوي چي د راجپوت د چوهان په قبیله پوري اړه لري. یا خو ښایي بنګښ د ختهکو چي وروسته به ئې بیان راسي د بنګي د پښې یوه څانګه وي او په سر سره له هغه ذاته څخه وي چي د سکه د قوم د بنګي ښاخ اړه پوري لري او د (جاټا) له نسبه څخه وي. بنګښ په خورا زیات شمېر هند ته لېږدېدلي دي او هلته ئې د ملک په بېلابېلو برخو په تېره بیا د شمال لوېدیځ ولایاتو په فرخ آباد کي غتې کالونی جوړې کړي دي.

بنګښ دوه ښاخه لري چي یو ګاړا او بل ئې سامل نومېږي. ګاړا دوې پښې لري چي د (بای) او (میران) په نومو دي.

د بای څانګي دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| علیشیر | بلند | دنګ | دولت | درسامند |
| دودا | ګلشاه | حسن | ایسا | جمشېد |
| کمال | کتې | لندی | مندر | مستو |
| موسا | میسارو | ښادی | شینګی | تاپی |
| اومر | اونور | | | |

د میران څانګي دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ابا | علیشیر | ازی | بډا | حسن |
| اساپ | خوجه | لابی | لودي | مندر |
| ماردو | ښاهو | اومر | او نور | |

د سامل څانګي دادي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| الي | دربی | کالېسار | کاسی | ښادي |
| خادیر | خوتي | لندی | ماما | ماری |
| مستوری | موزو | موسا | ناسو | پایې |
| تانا | تازی | اوستوری | او نور | |

له پاسنیو نومو څخه ګاړا او سامل هغه دوه سیاسي ګوندونه دي چي

ACKU

دمخه ذکر سوه. دا ګوندونه په هغه ملک کي چي د ګوملي د سيند او د کورمي د جنوبي مرستيالو نالو اوبه وروزي د سپين ګوندي او تور ګوندي په نوم يادېږي. ټولي پښتني قبيلې چي د اباسين د پولي په هغه سر تاسري ملک کي اوسي چي هم دې سيند ته د کابل او د ګوملي د وربهېدونکو جريانونو تر منځ پروت دی، د دغو ګوندونو په اساس پر دوو متقابلو ډلو باندي سره وېشلی دی. دا ګوندونه په پخوا زمانو کي د نن ورځي په پرتله ډېر زوره ور او فعال وه. د برتانوي پولي په دننه کي دا ګوندونه يو مخيزه له منځه تللي دي خو تر پولي ها خوا ته اوس لا هم په هغو ځايو کي رواج لري چي په خپلونو پوري مربوط وګڼي د مصلحت يا انتخاب له مخي څخه نه بلکي د يوې موروثي دندې په څېر تر يوه يا بل ګوند لاندي په متقابلو صفوفو کي درول کېږي. ځکه خبره داسي ښکاري چي دوی د همدې ګوندونو د موريني په باب په څه نه پوهېږي او نه هم دا ورمعلومه ده چي دغه بېلوونکي نومونه چي دوی يو د بل سره په پېژندل کېږي، له کومه راپيدا سوي دي، ټوله هغه څه چي دوی په پوهېږي دا ټکي دي چي د دوی پلرونه او نيکونه د هغه ګوند دپاره سرښندونکي وه چي دوی اړه ورپوري لري او د دوی د لارښووني دپاره داسي يوه سابقه پوره کفايت کوي. احتمال لري دغه ګوندونه په دې برخو کي د اسلام د برترۍ د ټينګېدو پر مهال هغه وخت منځته راغلي وي چي په ختيځ افغانستان کي د دوو اساسي اديانو يعني بودائيت او مجوسيت يا اور – نمانځني پالونکي (چي مقدتيان ئې په ترتيب سره [سرامان] او [ګبر] يادېده) چي همدا زمانه اړخ پر اړخ په غوره کي وه، دواړه يو ځای په ګډه د اسلام د يوې ورورګلوۍ، د برتري عقيدې او ستر نظام تر اداري لاندي ثبت سوه. بای او ميران مو دمخه ياد کړي دي چي لومړی ئې د يوناني بويوي يا د کچواهه راجپوت له بای څخه نمايندګي کوي او دوهم ئې مېر يا مير دی چي د جېسالمير د لويي صحرا او هم د مرکزي هند د تپو او راجواري يوه بومي هندي قبيله

ده. دنګ چي دمخه نه دی تېر سوی همدا شان د وړاندي قبيلې په څېر د همدغي سيمي يوه بومي هندي قبيله ده. مسيارو له شينګي او لابي سره يو ځای همدا راز په دغه رديف پوري اړه لري. دا نور مو زياتره په تېرو بيانو کي ليدلي او هلته تر څېړني لاندي راغلي دي. بدا د يادو يا ګادون يوه قبيله ده. کاليسار ښايي د پرامارا د قبيلې د کالپوسار ځای نيولی وي. خادير هغه خاتير دی چي دمخه ئې بيان سوی دی. خوتي له کوجوتي څخه نمايندګي کوي چي سوداګر پېشه راجپوت دي. تانا هغه تون تمثيلوي چي يادونه ئې دمخه سوې ده. اوستوري د ستوري په څېر دی او د پلېني هغه ستاوري تمثيلوي چي وروسته به ئې بيان په مخه راسي.

د ختک قبيله په هغه سپېره، ډبرين او وچ ملک کي اوسي چي د اباسين د بهير په اوږدو کي له هغه ځايه څخه لږ څه پاس چي د کابل سيند د اټک سره يو ځای کېږي بيا هغه ځای ته نژدې چي تر کالاباغ لاندي د کورمي رود په ګډېږي، پر دواړو غاړو باندي د سل ميله په واټن پورته واقع دي. د ختکو د دغي ترانګي پسور په بېلابېلو ځايو کي خورا ډېر توپير سره لري، ځکه تر اټک پورته صرف يو څو ميله دي خو د مکهد او کالاباغ شاوخوا بيا د دغه پسور اندازه بېخي زياته ده چي له پنځوسو څخه تر شپېتو ميلو پوري رسېږي. ختک په شمېر ډېرش زره کورني ګڼل سوي دي چي له دې جملې څخه تقريباً نيم ئې د اباسين پر ختيځه غاړه پراته دي. دوی يو ډېر ښکلی، په ونه جګ او په تن د ښې ودي څښتن يو هندی توکم دی چي تر نورو ګاونډيو قبيله والو ئې د مخ بڼې عموماً سپين بخوني دي. د دوی ملک بېخي خوار دی. پرته له دې چي د مالګي بسته غرونه لري او زياتره کانونه ئې پوره تر کار لاندي دي نور نو شاړ او لکي بو کي ملک دی چي د کرني وړ مځکه چنداني نه لري. د تېر بيان په يوه برخه کي مي ختک هغه څوک وبلل چي هيرودوت د ستاګيدای په نامه ياد کړي دي او دلته دا خبره پر زياتولای سم چي دوی په اصل کي هم هغه د بنو د

علاقې شيتک دي چي د نامه توپير ئې صرف د محلي لهجې د توپير نتيجه ده ځکه چي په جنوب کي پسته لهجه او په شمال کي زيږه لهجه ويله کېږي. د خټکو لومړنی مرکز د شامل او برمل په هغو علاقو کي واقع و، چي اوس وزيرو نيولی دی. په دې ملک کي دوی ستهک، شتهک، سيتک یا شيتک نومېدله. خو کله چي له خپلو لرغونو مرکزونو څخه د وزيرو په واسطه راوايستل سوه او تر شمالي خواوو راتېر سوه نو هلته بيا د ملک د هغي برخي له تلفظ سره سم د خپلو ګاونډيانو له خوا څخه خټک وبلل سوه. د يو څه وخت تر تېرېدو وروسته دوی په خپله هم د ځان د نامه دپاره دغه نوی تلفظ غوره کړ، که څه هم په خپله معموله پښتو کي دوی تر اوسه لا د دغي ژبي د جنوبي او لوېديځي لهجو پوست تلفظ خوندي ساتلی دی. رښتيا هم خټک د کوهاټ او پېښور په علاقو کي هغه يوازنۍ قبيله ده چي د پښتو په پسته لهجه رغېږي خو پاته نوري قبيلې چي د کوهاټ او کورمي شمالي ته پرتې دي ټوله د شمالي زيږې پښتو په بېلابېلو لهجو خبري کوي.

دغه خټک داسي ښکاري چي په وړاندي ښوول سوې سيمه کي له خپلو مځکو څخه د ديرلسمي پېړۍ په لومړيو کلونو کي هغه زمانه وزيرو ايستلي وي چي د کرمان او سوران په ولاياتو کي د کاراخيتای د واکمنۍ دوره وه او دې دواړو ولايتونو يو ځای هغه امارت جوړ اوه چي بنياد ئې د تېر بيان له څرګندوني سره سم د بارک حاجب له خوا څخه ايښوول سوی و. معلومېږي چي دوی د کوچ په زمانه کي وار دواره د کافر کوه د لړۍ په هغه نااستوګنه برخه کي پناه اخستې وي چي د ميرانزو د اوسنۍ علاقې جنوبي پوله جوړوي او له هغه ځايه څخه ورو ورو ختيځو خواوو ته د تيري د علاقې او د بهادر – خېلو د مالګي د کانو له لاري تر اباسين پوري خپرېږي او د دې سيند پوري خوا هغه کنډوکېر (لکي بوکي) ملک ته ورتېرېږي چي د مکهد او ميانوالي شاوخوا ته پروت دی او د هغه له منځه څخه د

سوهان سیند تېر سوی او بیا په اباسین ګډېږي. په حاضر وخت کې موږ یوازې هغه برخه خټک تر څېړنې لاندې نیسو چې دوی په هغه ملک کې مونده کېږي چې له دمخني ښوونې سره سم پخوا زمانه د هیرودوت له خوا یاد سوی لرغونی اپاریتای هلته د غالب قوم په توګه اوسېده او داریوش هیستاسپیس ته ئې د باج د ورکولو مسئولیت پر غاړه درلودی. په دې ځای کې نو خټک دوې ستري مېني یا تقسیمات لري چې یو د اکوړې خټک او بل د تیري خټک نومېږي. د اکوړې خټک د پېښور د علاقې په ختیځه برخه او د هغه د چارهاټ د لړۍ په تپو کې اوسي چې هلته له افریدو او اورکزو سره ښلي. د تیري خټک د کوهاټ د علاقې په جنوبي برخه کې پراته دي چې هلته ئې پر شمالي پوله د مېرانزو بنګښ اوسي او د کورمي د سیند د تل بلند په برخه کې له وزیرو سره په تماس کې راځي. دغه خټک همدا رنګه د یوسفزو د ملک په جمالګړۍ او د لوندخوړ ناوې ته نژدې په کاټلنګ کې یوه ډېره غټه کالوني لري. غالبه دا ده چې خټک په سر سره هم هغه خلګ دي لکه ستاکه یا ستاکهي چې په سوداګر پېشه راجپوت اړه لري او دوی پر دوو غټو ښاخونو باندې وېشلي دي چې یو ئې (تورمان) او بل ئې (بولاق) نومېږي.

تورمان یا توران دوې پښې لري چې د تري او تره کې په نومو دي.

د تري څانګې دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| اکو | امان | امیر | انو | ازیز |
| بابر | بهرام | بارک | برګوېټ | بیان |
| چاکهو | درپي | درشي | غوري | ګودي |
| ګل | هاتي | حسېن | ادریس | اسمائیل |
| جندا | کابل | کاچیر | کمال | کامي |
| کاني | خاچین | خوشحال | خورم | مادي |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| مائیشي | مکهال | ملي | ماما | مندولی |
| مشر | میري | مورگی | ناسر | پاش |
| راجر | سارو | شکهال | شخاوات | شېخالی |
| شوئې | سوریا | تره کی | وتار | یاسین |
| او نور | | | | |

له دغو نومو څخه تورمان یا توران ښايي توماري، تواري، توآر، تیري یا توري تمثیلوي چي د راجپوت د یادو د قبیلې د ستر توآر بېلابېل شکلونه دي. تره کی له توري - کي څخه نمایندګي کوي چي معنا ئې (دتوري) {of the Tori} کېږي. تري د یوې برهمني قبیلې نوم دی. اکو د اکا غوندي نوم دی او دې نامه یا د یوناني اکها، یا د جت اګا او یا خو البته په واقعي توګه د ناګائي قبیلې د هغه اکا ځای نیولی دی چي په دې برخو کي د خورا لرغوني نېټې اوسېدونکي دي. امان ښايي له (اوان) څخه نمایندګي کوي چي د اباسین پر هغه بله یا ختیځه غاړه باندي یوه داسي قبیله پوره تمثیلوي چي سکیتي منشأ لري.

امیر د امرا ځای نیولی دی چي برهمن دی او انو د ختري مربوط او نائې یا د کایستهه انوائې تمثیلوي. بابر د ګوجر له بابور څخه نمایندګي کوي. بارک هغه برکي تمثیلویي چي بیان ئې تېر سوی دی او هیرودوت د بارکای په نامه یاد کړي دي. دغه راز نوم نه د راجپوتي او هندي قبیلو تر منځ او نه هم د دې برخو د ترکي قبیلو تر منځ چیري لیده سوی دی. برګوېټ د پراما را برکوټه یا د راجپوت بیر ګوټه تمثیلوي. بیان یوه ترکی قبیله ده. چاکهو ښايي د رهتور له چاکیت څخه نمایندګي کوي. درپی هغه دهربی څرګندوي چي سندربوله قبیله ده. درشي د غور د سیمي درزي تمثیلوي چي بیان ئې تېر سوی دی. ګودي د ګاهلوت مربوط د ګودا ځای نیولی دی. ګل د چوهان له ګوئېل یا د راجپوت له ګوهیل څخه نمایندګي کوي. هاتي یا هوتي د جت مربوط د هودي نبښه ده. کاچیر د

ختري د قبيلې له کوچار او يا د ګاهنوت د قبيلې له کاچيرا څخه نمايندګي کوي. کمال يوه ترکۍ قبيله ده. کاني يوه راجپوتي قبيله ده. خاچين پخوا په مخه راغلی دی او يو ځل به بيا هم په مخه راسي. دا د ګلګيت د خجونا له ژبې سره اړه لري. مادي هغه مدي تمثيلوي چې سوداګر پېشه راجپوت دی. مائېشي د رهتور د ماهېچه ځای نيولی دی. مندولی د سوداګر پېشه راجپوت منداهاله تمثيلوی. مشر يا ميشر د برهمن له ميسار څخه نمايندګي کوي. راجر د هندي بېديا يوه راجپوتي قبيله ده چې البته د رهتور يو خېل ګڼل کېږي. سارو د چوهان مربوط سورا تمثيلوي. شکهال او شېخالی چې په ښکاره سره يو شی دی د برهمن له شوکول څخه نمايندګي کوي. شخاوات د کچواهه مربوط شېکاروات ځرګندوي. وتار ښايي د راجپوت له باتر يا د ګوجر له تبار څخه نمايندګي کوي.

د تره کي ځانګي دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| اوډل | اوډاني | بادين | بهرام | بشر |
| بوګر | داور | درخان | ګنده | جالي |
| کاشيد | کهوجک | لغاري | مهپال | مندر |
| ناسر | اوستوري | يوسف | اونور | |

له دغې جنلې څخه اوډل هغسي دی لکه ابدال چې دمخه ئې بيان راغلی دی. بادين ښايي د رهتور بهاديل يا بهارايل تمثيلوي. بشر د ختري له بهاسيرا څخه نمايندګي کوي. بوګر د جت مربوط بايري يا د راجپوت بهاګاير تمثيلوي. درخان د راجپوت د رګبانسي ځرګندوي. ګنده د ګونده نښه ده چې د ځارويو روزنکې هندۍ قبيله ده. جالي د راجپوت له جليا څخه نمايندګي کوي. کهوجک، لغاري، او مهپال به وروسته بيا په مخه راسي. اوستوري هغه شی دی لکه ستوری چې دمخه ئې يادونه سوې ده. يوسف له اساپ څخه نمايندګي کوي چې دمخه ئې بيان راغلی دی.

د بولاق ځانګي دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| اچو | بابر | بنگی | برمل | چاوري |
| دال لو | ګالي | غوري | جونا | خرک |
| خوارم | کوټي | مامر | متون | مریم |
| مندي | مکوري | مروز | میساري | موسا |
| نګوري | نندراک | ناره | روزي | ساده |
| ساغري | ساکو | سېني | شان | شپوي |
| شوئي | تاپاسي | تره | تره کي | او نور |

له دغو نومو څخه بولاق احتمال لري د بولېلي یوه څانګه وي چې دمخه ئې یادونه سوې ده او وروسته به ئې د بلوچستان په برخه کې بیا ذکر وسي. اچوله له اچي څخه (چې له همدې موریني څخه دراني اچکزي منځته راغلي دي) نمایندګي کوي چې (د راجا تارینګیني په حواله) د کشمیر د تاریخ یوه مشهوره هندي قبیله ده. بابر او بنګی دواړه د جت قبیلې دي. چاوره یا چائوره راجپوت دي. دال لو ښايي دوهیل تمثیلوي چې سوداګر پېشه راجپوت دي. خرک د خراره ځای نیولی دی چې په سولانکي پوري اړه لري. د مریم یادونه دمخه د کرمان د کاراخیتاي د شاهي کورنۍ په ارتباط وړاندي سوې ده. مکوري د راجپوت موکوري دي. نګوري سوداګر پېشه راجپوت دي. نندراک ښايي د ختري له نندې څخه نمایندګي کوي. روزي د چوهان مربوط روسیا تمثیلوي. ساده د ګاهلوت د سیسودیا بېلګه ده. ساغري د پرامارا ساګره تمثیلوي. شان ښايي د راجپوت د چوهان ځای نیولی وي. شپوي او شوئې یا شیوي له شیوا – چاري څخه نمایندګي کوي چې هندي مذهبي فرقه ده. تاپاسي بیا یوه بله هندي مذهبي فرقه ده. تره کي د توآر – کي ځای نیولی دی. له دې بیانه سره د هغو قبیلو په باب زموږ کتنه بشپړېدو ته رسېږي چې همدا اوس په هغه ساحه کې اوسي چې د لرغوني اپاریتاي د ملک په نامه بلل

سوی دی. د هغو څلورو قومونو له جملې څخه چې هیرودوت ئې په همدې ارتباط نوم اخیستی دی یو بل قوم ستاګیدای یعني "هغه څوک دی چې د ستاګ له عزیزانو یا ټولۍ څخه بلل کېږي" دوی په څرګنده توګه هغه ساحه نیولې وه چې د سلیمان د لړۍ او د اباسین تر منځ پرته ده او اوبه ئې د ګوملي سیند او د هغه د ږوب او بوري مرستیالو بهېرونو ته وروزي. دا ساحه جنوبي پلو لیري د ویهووا تر هغې لړۍ پوري رسېدلې وه چې د اباسین پر وېش د پښتني او بلوڅي قبیلو تر منځ پوله ټاکي. دغه پراخه غرنۍ حوزه پخوا زمانه سوران نومېده او له کرمان سره یو ځای ئې (چې د دې ملک اوبه کورمي ته وزي) د کاراخیتای هغه مملکت جوړاوه چې دمخه ئې یادونه راغلې ده. معلومېږي چې دغه ساحه ګڼو قبیلو په ګډه نیولې وه خو د دوی له جملې څخه ستاګیدای هغه څوک وه چې په لرغونې زمانه کي ئې د باج د پرې کېدو مسئولیت پر غاړه درلودی.

نوموړی ستاګیدای ما د نن زمانې ختک او شیتک بللی دی. په لرغونې زمانه کي دوی د شاول یا شامیل او برمل یا برمول علاقې نیولي وې (برمل یا برمول احتمال لري د هغو فرومولیانو د فارمول یا فرمول سره یو شی وي چې زه ئې د هیرودوت له خوا د یاد سوي لرغوني پمفیلای په څېر بولم) دغه علاقې په هغو تپو کي واقع دي چې اوس وزیري (د پلیني په خوله بوسیري) ولس نیولي دي او د هوار ملک سره یو ځای نن د بنو د علاقې په څېر پېژندل کېږي. دوی نو په هم هغه وخت کي د ستک، شتک یا شیتک په نامه پېژندل کېده (چې د نامه دغه درې سره شکلونه ئې په وطني خطي آثارو کي په مخه راځي). خو کله چې د شامیل او برمول له استوګني څخه د ستک یوه برخه راوایستل سوه او د اپاریتای د ملک ورڅرمه علاقو ته ولېږدېده نو د دې سیمي د زېږي لهجې په تلفظ ختک وبلل سوه. لاکن د قبیلې هغه برخه ئې چې په خپل لرغوني ملک یعني د نن زمانې د بنو د علاقې په شاوخوا کي ځای پر ځای پاته سوه نو د ستک،

شتک، سیتک یا شیتک خپل اصلي نوم یې هغه شان د ځان دپاره وساتي لکه څنګه چي د دغه ملک په پسته لهجه کي تلفظ کېږي. دغه ملک یې په پخوا زمانه کي ټوله د (سوران) په عمومي نامه یادېدی (چي د راجپوت د [سور] له نامه سره ئې اړه درلوده).

د کرمان او سوران دوه ولایتونه لکه څنګه چي دمخه څرګنده سوه د بارک حاجب د کاراخیتای امارت ئې جوړاوه. هغه قبیلې چي په کرمان (یعني هغه ملک کي اوسېدی چي اوبه ئې د کورمي سیند ته وروتلې) په دمخه پاڼو کي مو وښوولې. اوس د هغو قبیلو ښووني ته اقدام کوو چي په سوران (یعني هغه ملک کي اوسي چي اوبه ئې د ګوملي سیند ته وروزي) او دا ملک له هغي ساحې څخه نمایندګي کوي چي د لرغوني ستاګیدای په نامه بلل سوې ده. دغه پراخه سیمه یو شمېر بېلابېلو قبیلو نیولې ده چي له هغې جملې څخه شیتک، وزیري، کاکړ او شېراني ئې غټې قبیلې دي. له دوی سره څو نوري هم سته چي د وګړو شمېر ئې لږ او نوم ئې ډېر شهرت نه لري لکه ګوربوز، خروټي، فرمولي، اوستوراني او نور.

د شیتک قبیله ویل کېږي چي نسب ئې له کوم شاه آفرید سره اړه لري. له دې څرګندوني څخه ښکاري چي دوی له افریدو سره یو ډول نامعلوم ارتباط لري ځکه د هغو په باب هم ویل کېږي چي له کوم (آفرید) څخه راپیدا سوي دي. شیتک چي د بنو د علاقې په حوزه کي د بنو په نامه په یوه وړه ناحیه کي اوسي په اوس وخت کي عموماً د بنوڅیو په نامه پېژندل کېږي. دوی درې غټ ښاخونه لري چي کېوي، سوراني او سامي بلل کېږي.

د کېوي یا کیوي څانګي دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| بای | باکهی | بالبو | بارک | بوبل |
| بوراه | بوتی | براهیم | بورتاه | قلندر |
| دال لا | دودا | ګاله | ګېدی | غازي |

ACKU

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| غوندي | ګيدار | هاويد | اساپ | اسمائيل |
| چېلم | کبير | کاکي | کماري | کرک |
| کېوي | کهوجک | لېوان | ماما | مندي |
| ميرګل | ميري | ميتا | موغل | موسا |
| نېري | نقرالدين | راوت | رستم | سربي |
| سېتي | شادي | شوبا | سيندي | تاپي |
| ترګالي | توهالي | تورار | اومر | اونور |

له دغو نومو څخه باکهي ښايي د باهيکاتها ځای نيولی وي چي هندي مذهبي قبيله ده. بالبو د پرامارا له بهيبا څخه نمايندګي کوي. بارک پخوا په مخه راغلی او څېړل سوی دی. بوبل د ګوجر له بابر څخه نمايندګي کوي. بوراه د سوداګر پېشه راجپوت بور تمثيلوي. بوتي د راجپوت د بوتا ځای نيولی دی. براهيم د برهمن ښه ده.

بورتاه د سولانکي له بهورتا څخه نمايندګي کوي. قلندر يوه اسلامي مذهبي قبيله ده چي ښايي د چارندا ين هغه هندي قبيله څرګندوي چي اسلام ته اووښتې ده. دال لا د سوداګر پېشه راجپوت دوهيلا تمثيلوي. ګيدار به يو ځل بيا د بلوچستان د قبيلو په جمله کي د ګيدور او ګادورا په څېر وليدل سي چي د يونانيانو د لرغوني ګيدروساى څرګندويان دي. کهوجک خپل نوم د پښين د کوږک امران لړۍ ته ورکړي دي او دا د کجک سره يو شی دی چي ښايي يوه کچواهه قبيله تمثيلوي. نېري ښايي له نايري يا ناير څخه نمايندګي کوي چي د جنوبي هند يوه مشهوره قبيله ده. نقرالدين د سوداګر پېشه راجپوت نګادرا تمثيلوي. راوت د څاروي روزونکو يوه هندۍ قبيله ده. سربي د سوربيا ځای نيولی دی چي دا هم څاروي روزونکې هندۍ قبيله ده. سېتي د خيتري له سيتهي څخه نمايندګي کوي. شوبا هغه شيوا – چاري څرګندوي چي هندۍ مذهبي

ACKU

قبيله ده. ترګالي د ختري تکالي تمثيلوي. توهالي د سوداګر پېشه راجپوت د دوهيل ځای نيولی دی. تورار له دهارار څخه نمايندګي کوي چې هندی، څاروي روزونکې قبيله ده. اومر د پرامارا له اومرا څخه نمايندګي کوي. په بنو کي هم هغه شان لکه د سرحد په نورو هوارو علاقو کي يو څورا زيات شمېر ارجل وګړي د غالبو قبيلو تر منځ د تابعانو او بندګانو په څېر اوسېږي. دوی په يو ځايي توګه د (هندکي) يا (هنديانو) په نامه يادېږي او په ترکيب کي ئې بېلابېلي مسلماني او هندو قبيلې يا کاستونه شموليت لري چي ډول ډول کسبونه او کارونه سر ته رسوي. هندو قبيلې ئې اروړا، بهاکا، بهټيا، ختري او نوري دي. خو مسلماني قبيلې ئې بيا ډم، ګوجر، جولاه، کشميري او داسي نوري دي.

د سوران څانګي دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ادم | اماندی | ايمل | باره | بهنګي |
| بوری | بوبک | بوبکر | چندن | چار |
| دنده | دولت | دهرما | دوران | ګبرک |
| غور | همزه | هيبک | جاجي | جانی |
| کمال | کېچی | کېوی | کاکل | خاچين |
| ښادی | خاتون | کهوجک | کهوتی | لادی |
| لالی | لاتا | ماهېت | مکهال | ملی |
| ممکت | مندو | مشکی | مېشو | ميتا |
| نانی | نوکر | پاک | پالی | رېمی |
| سابو | سلامي | سنګو | سرائي | شوردورا |
| شومي | سيرکي | سلطان | توتا | تورکي |
| اوتمان | زاکر | ړوب | او نور | |

له دغو نومو څخه سوراني د راجپوتي قبيلې هغه څوک افاده کوي چي

د سور په ستره څانګه پوري اړه لري. نور نومونه زیاتره په مخه راغلي او وړاندي څېړل سوي دي. چندن ښايي د چوهان له چندا څخه نمایندګي کوي. چار د راجپوت چاهیرا تمثیلوي. دنده له داندي څخه نمایندګي کوي چي هندی مذهبي قبیله ده. دهرما د ګاهلوت مربوط (دهورمیا) تمثیلوي. دوران د راجپوت له (دور) څخه نمایندګي کوي. ګبرګ له ګبریا ګواري څخه نمایندګي کوي چي دمخه ئې بیان تېر سوی دی. جاجي د برهمن د جیجوتهي ځای نیولی دی. کېچي د چوهان د قبیلې کهیچي یا د سوداګر پېشه راجپوت کهیچو دی. کاکل یا کایکال د پښتنو کاکړ تمثیلوي. کهوتي د کوجوتي ځای نیولی دی چي په سوداګر پېشه راجپوت اړه لري. لادي د سوداګر پېشه راجپوت لادي ګڼل کېږي. لالی د برهمن د لایلي نښه ده. لاتا د راجپوت د لاتهار سره سمون خوري. ممکت د برهمن د ممکهوت ځای نیولی دی. مېشو د رهتور د مهایچه بېلګه ده. نوکر د سوداګر پېشه راجپوت نګار او یا خو د ګوجر مربوط نګار تمثیلوي. پاک د راجپوت له پتاک څخه نمایندګي کوي. پالي سوداګر پېشه راجپوت دی. رېمي د رهتور له رامدیوا سره لګېږي. سیرکي او توتا د سوداګر پېشه راجپوت د سیرکایرا او تیلوتا سره سر خوري. زاکر د جاکهر ځای نیولی دی چي د هندي بېدیا هندو قبیله ده.

د سامي څانګي دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| بابک | باده | بدل | بهلول | باجل |
| بنګښ | بارک | بشر | باتک | بازید |
| بهاون | چېت | چیغا | دادی | ګنده |
| ګاری | غزني | غېب | همیر | حسن |
| هاتي | هیبت | انجال | ایسا | اسمائیل |
| کافعه | کمال | کلرا | کتې | کېنګر |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| خټک | خوجری | لاچي | لادی | لنګر |
| ماميت | مندا | منګور | ماسي | متي |
| ميسري | موسا | ناټک | نيل | اودی |
| پائي | پهار | پريد | سابو | سمالی |
| سرور | سرتوی | شکهال | سيکندر | سيناور |
| سوکری | سورو | تاپي | وزيري | وېران |
| ياسين | زالو | اونور | | |

له دغو نومو څخه زياتره په مخه راغلي او وړاندي څېړل سوي دي. چېت يا چايت بنايي د رهتور له چاکيت څخه نمايندګي کوي. کلرا او خوجري بنايي د ختري د قبيلې کلهار او کوچار تمثيلوي. منګور د منګوره ځای نيولی دی چي په سوداګر پېشه راجپوت اړه لري. ميسري د برهمن د ميسار څرګندونه کوي. پائي د ګاهلوت له پاهه څخه نمايندګي کوي. پهار د (پرامارا) د پوآر سره سمون خوري. پريد د اپاريدای يا افريدي ځای نيولی دی. سمالي د راجپوت د سيماله څرګندونه کوي. سرور يوه راجپوتي قبيله ده. سيناور يا سنوبر د جت يوه قبيله ده.

د بنو د علاقې په پاته برخه کي د ايسا – خېلو او مروت قبيلې پرتې دي. ايسا – خېل په تېر بيان کي د غور د لودي قبيلې د نيازي د پښې د يوې ښاخکي په څېر ښوول سوي دي. د نيازيو له جملې څخه يو شمېر ئې ځائي خلک دي چي په کرونده ګري ګوزاره کوي او يو شمېر ئې بيا کوچي خلک دي چي د پووندهګري يا (کارواني سوداګری) په ورهنه لګيا دی. ګرونده ګر نيازي د ايسا – خېلو د علاقې ايسا – خېل، د ايسا – خېلو او کالاباغ تر منځ پراته کمرمشاني، د ټانک د علاقې خوندي يا کوندي او د اباسين پر ختيځه غاړه د ميانوالي سرهنګ په خپل ترکيب کي کښېباسي.

د ايسا – خېل ښاخکي دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| اوان | بادر | بنګی | جت | کازیر |
| کوړېش | مامو | ماسو | مولو | شېخان |
| او نور | | | | |

له دغو نومو څخه ایسا دمخه ښوول سوی دی چي البته له اسي (د سترابو له آسیاني او د سانسکریت د کتابو له اسوا) څخه نمایندګي کوي، خو ښایي همدارنګه هغه څوک تمثیلوي چي عیسائي یعني (د عیسی امتیان) یا مسیحیان دي. اوان دمخه راغلی او یادونه ئې سوې ده. کازیر او کوړېش یا ګوریچ ویل کېږي چي سره یو شی دي. کوړېش د راجپوت د کیروچ په څېر دمخه وپېژندل سو، چي دا یا د رهتور او یا د کچواهه یو خېل دی.

د پوونده څانګي دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| الي | مهسود | مه‌لا | ممرېز | نور |
| او نور | | | | |

دوی اوړی په خراسان او ژمی په هند کي تېروي او تک و راتک د ګوملي د ګوالري له لاري کوي.

مروت یا مائورت (چي د لویي صحرا یوه هندی قبیله ده) د بنو د علاقې د مروت په سیمه کي اوسي او دوی د هغه لوهاني یو ښاخ دی چي دمخه ئې بیان تېر سوی دی. له دوی څخه یوه برخه کرونده ګر او بله برخه ئې کوچیان دي چي په شمېر اته زره کورنۍ ګڼل سوي دي. دوی یو ښکلی، په ونه جګ، په غړو غښتلی راجپوتي توکم دی.

کوم بټني چي د ګبر د غره په لوېدیځو لمنو او هم د بنو او دېره اسماعیل د (برتانوي) علاقو پر پوله د وزیرو د شاګیو په راوتلو غاښو کي اوسي د هغو بټنیو یوه څانګه ده چي پخوا څېړل سوی دی او په شمېر پنځه زره کورنیو ته رسېږي. دغه بټني درې ښاخه لري چي تاتا، دانا او اوراشپون نومېږي.

تاتاچي همدارنګه پالا بلل کېږي څانګي ئې دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| اشک | بای | بولاکی | دارکی | دېوی |
| جاټول | کانه | کټه ګرام | کیچي | خیر |
| نیامت | پیرا | سادی | ساری | سپن |
| شکر | شان | تری | توران | اومر |
| او نور | | | | |

له دغي جملې څخه اشک له اچک سره یو شی دی او یو ځل به بیا د دراني قبیلو په جمله کي مخي ته راسي. دېوي د پرامارا د قبیلې له دېبا څخه نمایندګي کوي. جاټول د سوداګر پېشه راجپوت جاټېل تمثیلوي. شکر د سکروار ځای نیولی دی چي راجپوت دی. نور نومونه دمخه راغلي او څېړل سوي دي.

د دانا څانګي دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ادم | ادی | اجاد | الی | ایب |
| ازغا | بابور | بوبک | دادی | داؤری |
| ګالی | هاتي | کاکا | کېسو | لامر |
| مکهال | معروف | پایې | پار | پیرا |
| سوراج | سپن | شادی | شیخ | سیکندر |
| تری | ورغاره | وړوکی | وریا | او نور |

دغه نومونه زیاتره وړاندي په مخه راغلي دي. پار ښایي (د پرامارا) له پوآر څخه نمایندګي کوي. داؤری هغه داوري تمثیلوي چي دمخه ئې څېړنه راغلې ده.

د اوراشپون یا وارشپون څانګي دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| بارک | برمست | چپلی | دند | دری |
| درې پلاره | ګالر | غربون | جانجی | جاریک |

ACKU

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| کهټ | کودین | مغزی | مندرا | مندی |
| مویا | میانی | سامر | سرور | سپکرا |
| شاخی | شنبې | تری | تره کی | او نور |

له دغي جملې څخه وارشپون ښايي د (کچواهه) راجپوت له بيوريشا يا بيوريشبانسي څخه نمايندګي کوي. موږ دمخه وارشپون يا اشپون د خاچين يا غرشين سره يو ځاى چي د شيخ ببټ، ښتني زامن دي په تېر بيان کي يو ځل ليدلي دی. دوی به بيا هم د داردا د ملک د (بوريش) په بيان کي په مخه راسي. چپلي د ختري مربوط چوپرا تمثيلوي. (دند) د پرامارا له (دهند) او (دري) د چوهان له (ديورا) څخه نمايندګي کوي. ګالر د ختري کولهار تمثيلوي. غربون د تيراه د خانکای يا کاشا د سيند د عمده ښاخ نوم دی چي هلته د کوهاټ په ميرانزو کي د (هنګو) د رود له بهيره سره يو ځای کېږي. جانجي د ګوجر له جنجهار څخه نمايندګي کوي. کهټ د کتهک ځای نيولی دی چي د هند سندربوله قبيله ده. مغزی د ګاهلوت مګراسا تمثيلوي. مندی دکچواهه له مندو څخه نمايندګي کوي. سامر د پرامارا د سومرا ځرګندونه کوي. سرور د سوداګر پېښه راجپوت سورار او يا له شنبې سره يو ځای هغه برهمني قبيلې تمثيلوي چي سروريا او سامپي نومېږي. تری همدارنګه برهمن دی او تره کی ښايي له تره – کي څخه نمايندګي کوي چي (تري ته منسوب) معنا ورکوي.

د شيتک د قبيلې يا د بنوځيو لوېديځ پلو د ټانک، کولاچي، درابند او چاودان تر (برتانوي) علاقو ها خوا ته د شېراني قبيله پرته ده. دې قبيلې هغه ملک نيولی دی چي په جنوب کي د (زمري) او په شمال کي د ګوملي د ناوې د وزيري ولس تر منځ پروت دی او لوېديځ پلو د ږوب د ناوې د کاکړو او مندو قبيلې له خوا څخه احاطه سوي دي.

شېراني (چي د سوداګر پېښه راجپوت له جيران سره لګېږي) د کلکو غرنيو وګړو يو نمايداره، په ونه جګ تو کم دی چي زياتره په کرهنه

لګیا دي او د ځینو خاصو د ودونو له مخې ئې له نورو څخه توپیر لیده کېږي. مثلاً تر نورو پښتنې قبیلو دوی ناوخته واده کوي او پلار نه یوازې دا چې د خپلې لور په مقابل کې هیڅ نه اخلي بلکي له هغې سره یو څه پوښ هم ورکوي. دوی تابعان یا مریان نه لري بلکي خپل ټوله کار او کرنه په خپله سر ته رسوي. دوی یو شمېر د لاسي کارو ماهران، کاسبان او هم یو شمېر (هندو) دوکانداران لري. د دوی مشر د نیکه (Grandfather) په لقب یادېږي (چې البته هندي نایک دی چې د [لاربښود، غټ، ساتندوی] او داسې نورو معنا افاده کوي. نیکه په قبیله کې د خورا زیات صلاحیت تښتن دی او د خپلو انتظامي او مذهبي دندو په بدل کې د قبیلې له خوا څخه په پسو، غویو او نورو شیانو کې د مرستو خپله ونډه اخلي. شېراني که څه هم ډېر پخوا اسلام ته اووښتي دي خو ویل کېږي چې هیڅکله د غوښې په منظور غویي نه وژني. لاکن د هغه غوایي غوښه خوري چې په طبیعي ډول مړ کېږي او تر مړینې دمخه ئې لومړی غاړه په شرعي طریقه پرې کوي.

شیراني پخوا زمانه د خپلې لوټمارۍ په خاطر پر دې سرحد باندې یو خطر ګڼل کېده خو اوس د پښتنو په پرتله آرام او پر نظم برابر خلک دي. دوی نه په راجپوت او نه هم په جت کې شمېرل کېږي بلکي د یو پخواني نیکه د نامه په اقتفاء همدارنګه د (چار) یا (چهار) په نوم بلل کېږي. د اباسین د ناوې په دغه برخه کې د دوی نېټه له یوې خورا ډېرې پخوانۍ زمانې سره اړه لري او د (تاد) په ګومان ښایي دوی د سوراشترا هغه وګړي وي چې سورانومېږي.

شېراني درې غټ ښاخونه لري چې وادم، جلواني او هرپیال نومېږي.

د وادم څانګې دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| احمد | انجار | انګو | بابر | بابی |
| بهلول | بارک | بیرام | دولت | هامیم |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| هاني | هورموز | حيدر | جاهيم | كمال |
| كاپيپ | كارو | كهارو | لالا | لند |
| ماينا | مامند | منگل | مساني | مارهېل |
| مارو | موسا | نورو | نيازي | پېڅو |
| رودين | سنجر | سيداني | اومر | يحيا |
| او نور | | | | |

له دغو نومو څخه وادم ښايي د يادو د قبيلې له بيدمان څخه نمايندگي كوي. انجار د برهمن انجيرا تمثيلوي. انگو يا هنگو په ميرانزو كې د يوه ښار گوټي نوم دی. بابر يوه گوجر قبيله ده. بابی او بهلول د پراماراً له بهيبا او بېهيل څخه ځرگندونه كوي. هاني دبرهمن له هانا څخه، جاهيم د سوداگر پېشه راجپوت جائېمو تمثيلوي. كاپيپ له سوداگر پېشه راجپوت او يا د ختري له كپار څخه نمايندگي كوي. كهارو د كهورو ځای نيولی دی چې د څارويو روزونكې هندی قبيله ده. كارو د جت مربوط له كوري څخه ځرگندونه كوي. لالا د برهمن د لېلې ښېلگه ده دلند يوه سندی قبيله ده. ماما برهمن دی. منگل په ختري اړه لري. مساني له مشوانې څخه نمايندگي كوي چې وړاندې د سترابو د ماسيانوی په څېر ښوول سوی دی. مارهېل ښايي د رهتور مربوط ماهولی او يا د جت (هېلا) د رهتور له (مارو) سره يو ځای تمثيلوي. مارو د پراماراً د موري ځای نيولی دی. يحيا د راجپوت د جوهيا ځرگندوی دی.

د جلواني څانگې دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| انو | ايمل | بابكر | بېزا | براهيم |
| بوبک | گادو | هاميم | ايسا | كابل |
| كلاشه | كانو | كرمان | كهيدار | كهوجک |
| كولار | كېنگرى | لودا | مامند | مندل |

ACKU

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| مانو | معروف | مروت | مایار | میر |
| موسا | نېکبې | نېکزن | اوبه | پرچه |
| پاریک | پیراک | سادو | سالار | سارو |
| شکر | شمال | شنبې | سیپند | سپاپی |
| سلطان | تره کی | ترخان | وریا | یعقوب |
| اونور | | | | |

له دغو نومو څخه جلواني، د ملواهانه جهاله تمثیلوي (چې جمع یې جهاله وان کیږي) دوی هغه ولس ښکاري چې د بلوچستان په کلات کې ئې د جهاله وان ولایت په نامه بلل سوی دی. انو د ختري مربوط اونایې دی. ایمل د سوداګر پیشه راجپوت له شري مل څخه نمایندګي کوي. ګادو د ګادی ځای نیولی دی چې هندی څاروي روزونکی دی. کلاشه د سولانکي مربوط کلاچه دی او یو ځل بیا به د کافرستان د قبیلو تر منځ په مخه راسي. ګانو له کاني څخه نمایندګي کوي چې (رهتور) راجپوت دی. کولار یوه بومي هندی قبیله ده او د ګونګاري په څېر له کهنګر، یا کنجر او یا چنغر څخه نمایندګي کوي چې د هندي توریانو قبیله ده. اوبه د هرات خوا ته د غور په ملک کې د یوې علاقې نوم دی او دلته ښایي د ختري مربوط (اوپل) تمثیلوي خو البته دا خبره له شکه نه ده وتلې. پرچه ښایي د پراچه ځای نیولی وي چې په هند کې د هغې قبیلې نوم دی چې وګړي ئې پلنډه په شا میده ریزه شیان خرڅوي او کوڅه په کوڅه ګرزي نارې پر وهي. شمال له شیخ ملي یا شري مل او یا سیماله څخه نمایندګي کوي چې ټوله وړاندي یادي سوي راجپوتي قبیلې دي او یا خو د شمال د علاقې یوه بومي قبیله ده. شنبې د برهمن له سامپی څخه څرګندونه کوي. سپاپي یا سیپاپي د پرامارا مربوط سیپات او پاپا څخه نمایندګي کوي چې دواړه سره یو ځای سوي دي.

د هرپیال ځانګي دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ارو | ادریس | کالو | کارمو | خلیل |
| نازک | سادو | سپن | شاهو | توری |
| یاسین | یوسف | اونور | | |

د نومو له دغې جملې څخه هرېپال د یادو مربوط د جاریجا یو ښاخ دی. ارو ښايي د برهمن له هري یا د چوهان له هاره یا د راجپوت (کچواهه؟) له هرا یا څخه نمایندګي کوي. ادریس د (ادار) ځای نیولی دی چې د ګاهلوت یو ښاخ دی. سادو دګاهلوت سیسودیا تمثیلوي. یاسین ښايي د ګلګیت په ملک کې د یاسین د علاقې یا سکون تمثیلوي چې زموږ د پلټنې په یوه وروستۍ برخه کې به ئې یادونه وسي. د شېراني نوم چې په عمومي توګه پورتني درې ښاخونه کښېباسي ګومان کېږي چې د راجپوت مربوط جیران تمثیلوي لکه وړاندې چې پر وړغېدو. خو تر هغه لا دا احتمال ښايي ډېر ټیک وي چې د لويي صحرا او جیسالمیر له هندي میساري څخه نمایندګي کوي. په دې ترتیب نو له میساري څخه په پښتو کې مزرى (جمع ئې مزري) یا زمرى (جمع ئې زمري) جوړېږي چې پارسي ئې شېر یا شیر (جمع ئې شېران یا شیران) کېږي او د (tiger, lion) معنا ورکوي او ښايي هغه مهال چې نوموړې قبیله اسلام ته رااوسته نو هندی نوم ئې په دغه اسلامي نقاب پوښل سوی وي.

په شېرانیو پسې شمال پلو ته د وزیرو ستره قبیله پرته ده. دوی ښايي د پونتوس[۱] یا ایوکسین پر سمندرګي باندې د تیمسقیره[۲] له هغه لرغوني (بوسېري) څخه منشأ اخیستې وي چې پلیني ئې یادونه کړې ده. یا خو امکان لري چې د ختري له بهاسیرا سره اړه ولري. وزیري له غلزو سره ګډ د سلیماني په نامه هم بلل کېږي ځکه چې د سلیمان په لړۍ کې

---

[۱] Pontus

[۲] Themiscyra

اوسي. د سليمان لړۍ احتمال لري د سولانکي راجپوت د نامه په اقتفاء د عربي فاتحانو له خوا څخه په همدغه نامه ځکه وبلل سوه چي د عربو د هجوم په وخت کي نوموړی ملک د سولانکي کام په لاس کي و. لکه څنګه چي غلزي د سليمان د لړۍ د شمالي برخي په لوېديځو لمنو او غاښو کي د شمير له پلوه غالبه قبيله ګڼله کيږي همدغه راز بيا وزيري د همدې لړۍ د شمالي برخې په ختيځو لمنو او غاښو کې تر نورو اوسېدونکو ډېر پراته دي. وزيري د سليمان د لړۍ پر دغه خوا باندي د کورمي له تل بلنده څخه نيولې چي د ميرانزو سره پوله لري بيا د ګوملي تر درې غزېدلي دي. د دوی اصلي علاقې شامل (ياشوال)، برمل (يا بارمول)، خيسور، مارغت، شام او داسي نور ځايونه دي. دوی يو ګڼ شمېره، تکړه او داړه ماره قبيله ده چي د خپل زيږ سلوک او سخت خوی په وجه شهرت لري. دوی دوه ستر ښاخونه لري چي خيزاري (د پراماراکهېجار) او لايلي يا لېلې (د برهمن لېلې) نومېږي. لېلې وزيري چي په شمېر شپږ زره کورنۍ ګڼل سوي دي د پېړيو پېړيو راهيسي لکه دمخه چي ئې بيان هم راغلی دی د سفيدکوه پر شمالي لمنو باندي د خوګيانو تر منځ اوسي او په اوس کي له اصلي وزيرو څخه بېخي توپير لري. خيزاري وزيري درې ښاخه دي چي موسا، مهسود او ګوربوز نومېږي.

موسا د اوتمان او احمد په نومو دوې پښې لري چي دواړه يو ځای د درويش په نامه يادېږي. له دغي جملې څخه اوتمان چي اتلس زره کورنۍ ګڼل سوي دي، درې پلريني لري چي محمود، ابراهيم او ولي نومېږي.

د محمود يا مهميت څانګي دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ايدل | اييز | بابور | بادی | بخشی |
| بلال | براک | بوزی | چالاک | دارانی |
| دردانی | دارمل | دوسالی | ګوګی | حسن |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| حکیم | هیبت | ایرامیا | جنگی | کهالپ |
| خرمنز | خوجه | لالی | لوچی | ماشي |
| ملی | ماما | مندی | مارچی | ماسکی |
| مهرمان | میهتر | نانا | نازل | نور |
| پهار | پېنګ | راجي | رازوتي | رېشمین |
| شادي | شامل | شاپی | سرمست | شېخ ولي |
| سیکندر | سلیماني | تری | ترګالي | تورګی |
| توله | وزر | ووزی | اونور | |

له دغو نومو څخه زیاتره ئې په مخه راغلي او وړاندي ځېړل سوي دي. چالاک د سولانکي له چالوک څخه نمایندګي کوي. ګوکی د رهتور له ګوګادیوا څخه څرګندونه کوي. دوسالي د سوداګر پېشه راجپوت دوسورا تمثیلوي. درداني له دینوریا څخه نمایندګي کوي چي همدا شان سوداګر پېشه راجپوت دی. ایرامیا البته د کچواهه مربوط د ارانیا ځای نیولی دی چي بیا به هم د کافرستان د قبیلو په ټل کي په مخه راسي. کهالپ هم هغه چلپي یا چپلي دی چي د اوراشپون په څانګو کي راغلی دی (١١٦ مخ). لوچي یا لاچي د بنو په علاقه کي د یو ښارګوټي نوم دی. ووزی او بوزی چي په پورته لیست کي راغلی دی په ښکاره سره یو شی دي.

د ابراهیم څانګي دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| الي | بادین | باجل | بوبلي | بوزی |
| قلندر | دادی | دیټا | هیبت | انداس |
| اسکندی | جانبېګ | جنګی | کرای | کایي |
| خوجه | خوشحال | لاچي | لکهي | مادا |
| مچګان | مختار | ملی | منزر | متي |
| مېوا | میرالي | نونیا | نیامت | پاله |

ACKU

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| پیلا | رامي | سخي | سلامي | سامی |
| شاخه | شامیره | میرکی | سوګی | سونی |
| تارپشي | تولک | توری | اودي | وړوکی |
| زاکر | زارني | اونور | | |

له دغو نومو څخه بادین (یا شیخ بادین) څو ځله وړاندي په مخه راغلی دی او ښایي د راجپوت له بودانو یا د برهمن له بیدا او یا د یادو له بیدمن څخه نمایندګي کوي. باجل یا بوچل د راجپوت باچل تمثیلوي. انداس د پاریهارا (اندوه) څرګندوي. نونیا د راجپوت د نینګیوار نښه ده. رامي د رهتور د رامدیوا ځای نیولی دی. سوګی د راجپوت سوهاګي تمثیلوي. تولک د غور د تایمني په علاقه کي یو ښارګوټی دی چي د جنګېزخان له خوا تر کلابندۍ لاندي راغی او ړنګېدو ته یې ورساوه. زارني همدارنګه د غوري یو ښارګوټی دی چي د تایمني د غټانو پای تخت و. زاکر د جت مربوط له جاکهر څخه نمایندګي کوي.

د ولي ځانګي دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| اندی | ارال | ارام | ایدیا | بابا |
| بدا | باجی | بکا | بنګت | باشکی |
| بادا | دری | دېګان | فتوح | ګالی |
| ګاری | هندی | ایمبار | ایسا | جابی |
| جمال | جانبېګ | جانی | جوګی | کابل |
| کاجی | کاکا | کهندر | خرماز | خوزی |
| کوتار | لادی | مادا | ملکشاهي | مالو |
| ماما | مامیت | مندر | معروف | مېنا |
| مېستي | میتا | میتاکي | موسا | میامي |
| میان | نانک | نارمي | نور | پال |

ACKU

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| پیپالي | پولیا | ربشمین | سالي | ساردی |
| شابر | شکهال | شربت | شوبر | شومی |
| سونی | سور | سیفلی | تختي | تاتار |
| تاہی | تور | تورک | توره | وروکی |
| اونور | | | | |

له دغو نومو څخه اندی او هندی د پاریهارا د (ایندوه) ځای نیولی دی. بدا د یادو مربوط بدا تمثیلوي. بنګت د چوهان د قبیلې بنکت دی. باشکی د راجپوت له باچک څخه نماینده‌ګي کوي. کابل یا کابل – خېل د وزیرو د کام یوه غټه او مهمه پښه ده چي له میامي سره یو ځای هغه څوک تمثیلوي چي هیرودوت کابلي مېیونوی (یا په بل نامه لاسونوی) بللي دي او بیان ئې په دوهمه سترابي کي راغلی دی. لاسونوی ښکاري چي خپل نوم ئې د بلوچستان په کلات کي د (لاس) ولایت ته ورکړی دی. سربېره پر کابلوی – مېیونوی هیرودوت د کبالا نوم هم اخلي او بیا نو د هم هغي دوهمي سترابي په حوزه کي هیګینوی ورپسې یادوی. هیګینوی موږ د خوګاني یا خوګیاني په څېر پېژندلی دی چي د سفیدکوه، پر شمالي دړو باندي اوسي. کابلوی ښایي هغه څوک وګڼو چي کابلی ئې تمثیلوي او په اوس کي کابل – خېل وزیري دي. مېنا، ماینا یا مینه د مېوار یوه مشهوره بومي هندي قبیله ده. پال او پولیا دواړه سره یو شی دي. پیپالي د ګاهلوت د قبیلې پیپارا دی او ښایي د پوپل یا پوپلزي سره یو شي وي چي د درانیو یوه قبیله ده. شابر یا شوبر سره یو شی دي او ښایي د ختري سبروال تمثیلوي. شربت د سوربیا ځای نیولی دی چي سوداګر پېشه راجپوت دی. شکهال او شومي د برهمن له شاکل او شونک څخه نماینده‌ګي کوي. سوني یا (سون ني) د سوداګر پېشه راجپوت سوني تمثیلوي. تختي ښایي د پرامارا له تیکا او وروکی د راجپوت له بوریشکي یا بیوریشا څخه نماینده‌ګي کوي.

احمد چي د موسا درویش یوه بله پښه ده او په شمېر لس زره کورنۍ ګڼل سوي دي د سپن او کالو په نومو دوه ښاخونه لري.

د سپن څانګي دا دي:

| اګکار | الاهداد | الي | امل | ایدل |
|---|---|---|---|---|
| بابر | باکر | برات | بولا | بوتي |
| براهیم | دودي | ګالي | ګندايې | ګراره |
| هاتي | ایسا | اساپ | جانبېګ | جنګر |
| کاکا | کمال | کیمل | لالا | لندی |
| مدک | مدی | مدید | مریز | مروت |
| موسا | میان | نانا | پایې | پاتېک |
| پربا | پاتوه | پېرګه | سلیمی | سنزر |
| شامي | سیرکي | سودت | تائوس | تاراه |
| تولک | تورک | توري | اومر | ولي |
| ولید | زیراکي | او نور | | |

له دغو نومو څخه سپن (د سپنګړه په نامه) یوه مشهوره راجپوتي قبیله ده. اګکار سوداګر پېشه راجپوت دی. برات ښايي د راجپوت بهارت تمثیلوي. بولا د برهمن له بالا څخه نمایندګي کوي او د بلوچستان بولدي او نور تمثیلوي. بوتي د راجپوت د باټیا ځای نیولی دی. دودي د راجپوت دودا تمثیلوي. ګندايې او ګراره له ګندوال او ګراریا څخه نمایندګي کوي چي د څارویو روزونکي هندي قبیلې دي. هاتي د جټ له هودي څخه. جنګر د جنګام ځای نیسي چي د هندو مذهبي قبیله ده. کاکا دختري مربوط له ککي څخه نمایندګي کوي. پربا د چوهان (پوربیا) تمثیلوي. پایې د ګاهلوت له پاهه څخه نمایندګي کوي. سنزر د سنجر ځای نیولی دی. سیرکي ښايي سیرکیرا تمثیلوي چي سوداګر پېشه راجپوت دی.

ACKU

سودت یا سورت د سودا یا سورتیا ځای نیولی دی چي د پرامارا قبیلې دي. سلیمي د سلیماني سره سر خوري. شامي د جاریجا مربوط شامه تمثیلوي. اومر د پرامارا د اومره ځای نیولی دی.

د کالو څانګي دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| اګکار | الي | اندکي | اشپاله | بادین |
| بدخشان | بګهوان | باجل | بلوچ | بامي |
| باپچ | باسي | بټن | بېزن | بوبل |
| قمر | قاضي | دربا | دروېزه | ګاله |
| ګالوت | ګنګی | ګیدار | ایندکی | اندس |
| اساپ | اسو | کبیر | کرائی | کټی |
| کهوجل | کودو | لالی | مالک | مندک |
| مستي | متا | میسری | موغل | مالا |
| ناګره | نانا | ناسري | نزربېګ | پاسرکی |
| پوټی | سادن | سخریا | سنجر | سنزی |
| سېني | ښادی | شخان | شمسی | شیخ بازید |
| شېراک | شیوکی | سیدي | سیپاهی | تاخی |
| تاکره | توری | اومر | اوټمان | واشک |
| واتک | زا | زازا | زکریا | زالی |
| زرګر | اونور | | | |

له دغو نومو څخه کالو د راجپوت د ګاهلوت د قبیلې له کالم څخه نمایندګي کوي. اندکی، ایندکی او ایندس ټوله سره یو شی دي او د راجپوت د پاریهارا د قبیلې ایندوه تمثیلوي. بلوچ به په وروسته کي راسي. بامي د برهمن باما دیوا دی. باپچ ښایي د پرامارا له (پپا) یا له (بپپا) څخه نمایندګي کوي چي وروسته به ئې یادونه وسي. بېزن به د بلوڅو د

ACKU

بیزنجو په څېر بیا په مخه راسي. قمر د برهمن مربوط د چندرا اسلامي نقاب دی. دربا هغه قبیله ده چي دهربي نومېږي او شعر ویونکې یا سندربوله قبیله ده. دروېزه ښایي د رهتور مربوط د دوهریا یا داهیریا ځای نیولی وی (چي د خراسان او پرشیا هغه مسلمانه شاهي کورنۍ ځني راپیدا سوې ده چي طاهري نومېږي). ګاله د چوهان له ګوهیل څخه نمایندګي کوي. ګالوت د راجپوت ګاهلوت یا ګراهیلوت تمثیلوي. ګیدار د لومړي بلوڅ نښه ده چي وروسته به ئې د بلوچستان په قبیلو کي یادونه راسي. کبیر د راهتور مربوط د کبریا ځای نیولی دی. کرانی د راجپوت د کایسته د قبیلې کران دی. ناګره له ناګوره څخه نمایندګي کوي چي سوداګر پېشه راجپوت دی. کانا ښایي د جت مربوط د ناوناګا ځای نیولی وي. ناسري یا ناسیري هغه ناسر دي چي د پوونده کارواني سوداګرو قبیله تشکیلوي. پوټی د افغانستان (د ترنک په ناوه) کي د یوې علاقې نوم دی. همدارنګه د پنجاب په شمال کي (د پوټهوار په نامه) یوه علاقه سته چي دا نوم ئې البته د یوې جت قبیلې له نامه څخه اخیستی دی چي پوټی بلله کېږي. سادن ښایي د پرامارا سوده تمثیلوي. سخریا د سوداګر پېشه راجپوت د سیکیرا ځای نیولی دی. واشک د راجپوت (د رهتور یا کچواهه؟) مربوط له باچک څخه نمایندګي کوي. تاخی د برهمن تاګا تمثیلوي. زکریا د جاکهریا بېلګه ده چي د هند د لویي صحرا یوه قبیله ده. زالي د راجپوت (د کچواهه یا پاریهارا؟) له جالیا څخه نمایندګي کوي. (زازا) او (زا) ښایي د جاجي سره سمون خوري چي دمخه ئې بیان تېر سوی دی.

مهسود یا مسعود وزیري د الي او بهلول په نومو دوه ښاخه لري.

د الي څانګي دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| اکا | استانی | اتا | بنګښ | باسی |
| ببری | چار | دودیا | دوسنګ | ګدایې |
| ګالي | ګاري | غالپ | جامین | کنګر |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| کتي | کېمل | کېسی | خالي | کهوجک |
| ماچی | مدا | مهپال | مه لا | مان |
| منګی | متی | میراک | ناجیل | پیپلی |
| پوټیا | سلمی | سرګله | شهابی | شامن |
| شېباني | شېخا | تره کی | تاتاری | توتیا |
| او نور | | | | |

له دغو نومو څخه استانی د راجپوت مربوط د کایسته د قبیلې اشتانه تمثیلوي. ببری یوه ختري قبیله ده. غالب له هغه کهالپ سره یو شی دی چي وړاندي ئې د وزیرو د مهمیت په څانګو کي یادونه راغلې ده. کنګر له کهنګر څخه نمایندګي کوي چي بوهمي هندي قبیله ده. منګی د من – کی ځای نیولی دی چي (د – من) (of man) معنا ورکوي. شهابی، شېباني او تاتاري داسي نومونه دي چي له تاریخي پلوه له ترکو سره اړه لري. نور نو زیاتره نومونه دمخه راغلي او یادونه ئې سوې ده.

د بهلول څانګي دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| اشنګی | ایکام | بابول | بالم | بنده |
| بټني | بلال | بورتی | قیامت | درمان |
| دروېش | ګېګا | غورکی | همال | هیبت |
| جوګی | کمال | کتي | خرمن | خورمنګ |
| لادی | لنګر | لېلا | ملای | ملکشاهی |
| مندا | ماسوره | مېرات | نافک | ناسیری |
| نورنګ | پنجی | پایو | روزی | سالمکی |
| سندر | سرمات | شامک | شینګی | شومی |
| سورا | تانو | تهانو | توخی | توتیا |
| اودی | او نور | | | |

له دغو نومو څخه بهلول ښايي د پرامارا بهيل يا د سولانکي بهيلا تمثيلوي. اشنګی د اشياک ځای نيولی دی چي د جيسالمير د لويې صحرا هندو قبيله ده. بورتی د سولانکي د بهورتا نمايندګي کوي. قيامت يا کيامت د ګوئېما سره لګېږي چي سوداګر پېشه راجپوت دی. درمان د ګاهلوت د دهورميا ځای نيولی دی. کېګا د رهتور د ګوګاديوا سره سر خوري. لادی سوداګر پېشه راجپوت دی. لنګر د چالوک يا سولانکي له لنګاهه څخه څرګندونه کوي. لېلا د برهمن له لېلې څخه. مېرات هغه مايروت (مېر) تمثيلوي چي بومي هندي قبيله ده.

نانک د راجپوت له ناوګ يا د جت له ناوناګا څخه نمايندګي کوي. پنجی د سوداګر پېشه راجپوت له پنجام څخه. روزي د چوهان له روسيا څخه. سالمکی د سولانکي څرګندويه ده چي د راجپوت په چالوک پوري اړه لري. سندر د رهتور له سونداره څخه. سرمات (چي څو ځله دمخه د سرمست په بڼه راغلی دی) د راجپوت شري مت تمثيلوي. شينګی د راجپوت سينګالي څرګندوي. توتيا د سوداګر پېشه راجپوت تيلوتا تمثيلوي. اودی يو مشهور راجپوتی نوم دی (اوديپور). له پورتنيو څانګو څخه لادي او بټني دواړه يو ځای د نېکزان په بل نامه بلل کېږي چي البته د چوهان مربوط د نېکومبه يا نيکومبا د نومو د پتېدو دپاره يو اسلامي پوښ دی. ماميت، مدی او پيپلی وزيري په يوځايي توګه (ستر وزيري) بلل کېږي.

همدارنګه دوی د (درې – نغري) په نامه يادېږي چي درې کورنۍ افاده کوي. د دغو درو قبيلو جرګې يا شورا ته د نهائي حکم په څېر هغه ټولي شخړي د پرېکړي دپاره وړاندي کېږي چي د قبيله والو تر منځ پېښي وي او دوی ئې په خپلو جرګو کي نه سي حل کولای. پرېکړه وال نو د يو خاص کود سره سم چي (نرخ) بلل کېږي خپله فيصله پر راباسي. نرخ يوه هندي کلمه ده چي معنا ئې (تعرفه، ثابت قيمت) او داسي نور ګڼل کېږي.

ستر وزيري په شمېر دوولس زره كورنۍ دي چې ټوله ئې په (سپين ګوند) پوري اړه لري.

ګوربوز وزيري د ناسري او خري په نومو دوه ښاخونه لري چې د دوی څانګي دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| بېګی | بېری | بوريا | ګنده | حسېن |
| کودی | لندی | مانی | پاخه | پيري |
| پرېت | سرګالی | شپر | زاودين | اونور |

له دغي جملې څخه خری ښايي له ختري څخه نمايندګي کوي. بېری د ختري يوه قبيله ده بوريا ښايي د سوداګر پېشه راجپوت بورا تمثيلوي. ګنده د هندي څاروي روزونکو يوه قبيله ده. پرېت د ګاهلوت مربوط د پوروت ځای نيولی دی. ګوربوز که څه هم د وزيرو په جمله کي تصنيف سوي دي خو ويل کېږي چې دوی ځانته يو بېل ولس دی. وايي چي پخوا دوی د شاخدو په ناوه او دبابر په غره کي اوسېده خو کله چي مهسود وزيرو له هغه ځايه څخه وايسته نو ئې د ګبر په غونډيو کي پناه واخيسته او له هغه ځايه بيا د خاچين ښتنی ولس له خوا چي هلته پخواني اوسېدونکي وه، کډه کولو ته مجبوره سوه. ګوربوز اوس په شمېر کي ډېر لږ سوي او د وزيرو د ملک په شمال لوېديځ کي هغو غونډيو ته ګوښه سوي دي چي په آساني څوک نه سي ورتلای او د خوست او داور له علاقو سره پوله لري.

د وزيرو جنوب ته د کاکړو ستره قبيله پرته ده. دوی د غرني ملک يوه ډېره پراخه ورشو نيولې ده چي اوبه ئې د ګوملي د سيند هغي مرستيالي نالې ته وزي چي د ږوب په نامه ده. دغه ورشو له وګړو ډکي او آبادي ناوې لکه ږوب، بوری، کانجوغی او هم د برشور، هانا، جوارا او نورو په نومو يو لړ وړوکي ناوې ټوله کښېباسي. د کاکړو په باب دا ګومان کېږي چي د هغه (ګاګر) يوه څانګه وي چي په چچ هزاره پوري د اباسين پر

ختيځو غاړه باندي د پوټوار د ملک یوه ستره قبیله ده. خو په وطني لیکنو کې د دوی نوم زیاتره د کایکان، کایان، کیکانان، کاکان او همدا رنګه کاکړ لیکل کېږي چې د مهابهارت د کایکایا او د سیستان له کایاني سره ئې خپلوي څرګندوي.

همدا شان د دوی په باب ویل کېږي چې نسبي منشأ ئې له هم هغه ځایه څخه ده چې د غور د ملک اوسېدونکي تایمني (د هیرودوت تاماناي) اړه ورپوري لري. دوی په رشتیا هم له هغو تایمنیانو سره خورا زیات مخلوط دی چې کاکړو ته د مشر ورور په څېر او ساتندویانو په ستر ګه ګوري. کاکړ ښایي د رهتور له کهوکرا څخه نمایندګي کوي او له تایمنیانو سره ددې قبیلې پیوند ښایي له یوې هغې وختنۍ زمانې سره اړه ولري چې هغه مهال احتمال لري کاکړو د غور غونډۍ د یو غالب ولس په توګه نیولي وي. په افغاني شجرو کې کاکړ د پښتني ملت د غرغښت په ښاخ کي راځي چې هغه د داني، بابي او مندو له درو پښو څخه جوړېږي. له دغي جملې څخه داني څلور پلريني لري چې کاکړ، ناغر، پاڼي، او داوي نومېږي. داني هغه څوک تمثیلوي چې د مهابهارت او د سانسکریت لیکوالو د (داناوه) په نامه یاد کړی دی.

د کاکړ څانګې دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ادم | اکا | الي | انګو | انو |
| اپاخ | اربی | استانه | اتو | برات |
| چوپې | دادر | دالور | درپی | دومهړ |
| غوری | هاکلون | حسېن | ابراهیم | الیاس |
| ایسا | اسمائیل | ایسمام | جدران | جافره |
| کابل | کمال | کاپیپ | کر کراتو | کپوی |
| ختن | مکران | ملی | مندو | مردان |

ACKU

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| مستک | موسا | مزري | پايې | پاخی |
| پاڼی | پندار | پوخی | راجر | رانی |
| رومی | سباک | سالور | سنتهيا | سنجاره |
| سرګاري | ستګ | سپن | شام | شامل |
| شپراد | شوري | سيتام | سودان | سليمان |
| سوران | تبراک | طاهر | تره غاري | تارن |
| تور | اود | اوتمان | يونس | يوسف |
| زان غوري | او نور | | | |

له دغو نومو څخه يو شمېر وړاندي په مخه راغلې او يادونه ئې سوې ده. انګو د راجپوت د انانګا ځای نيولی دی. اپاخ له اپاهاريا څخه نمايندګي کوي چي ښاروي روزونکي (هندي) قبيله ده. اربی هغه هندی قبيله تمثيلوي چي مرکز ئې په لرغونې زمانه کي د ارابيوس پر سيند (چي اوس ئې هاب بولي) باندي واقع و. دغه قبيله چي د بلوچستان د (لاس) په ولايت پوري د سيند پر پوله پرته وه سترابو د اربيس په نامه ياده کړې ده. پېښور ته څرمه د کابل پر سيند باندي د يوه لرغوني ښارګوټي کنډوالې سته چي د تېر سوي بيان سره سم ارباى (د آرريان په خوله اوروبيتهس) نومېږي. دغه ځای ښايي په پخوا کي د اربي ولس يو ښار و او دوی د هغه چا نيکه ګان وه چي دلته ئې موږ پر نامه باندي رغېږو. چوپې ښايي د راجپوت له چوهان يا د رهتور له چانېرا څخه نمايندګي کوي. دومهړ له دامرا څخه څرګندونه کوي چي په پخوا کي د شمېر له پلوه يوه ډېره غټه قبيله وه او (د راجاتارينګيني له قوله) د هغه ملک د يوه غښتللي او شورښي کام په څېر د کشمير په تاريخ کي خورا برجسته تصويرېږي چي د لاهور په شاوخوا کي پروت دی. دومهړ، دومړ يا دامر د توکاتو پر هغه غره باندي اوسي چي د بلوچستان په کلات کي د شال (کوټي) ناوه تر لاندي ده. هاکلون له

هیکلان او یا د بلوچستان د کلات د ښښین د ناوې په کلي کي له هغه ولس څخه نمایندګي کوي چي اوس هیکلزي نومېږي او دوی ښایي د هیرودوت (په دوولسمه ستراپۍ کي) ایګلای تمثیلوي. مکران د اوسني بلوچستان د یوه غټ ولایت نوم دی چي وروسته به پر ورغږېږو. مندو یوه کچواهه قبیله ده. مزری د جیسالمیر د صحرا پر هندي میساري دلالت کوي او دمخه ئې د شیرانیو په بیان کي یادونه راغلې ده. پانی د راجپوت په پرامارا پوري اړه لري. رومی ښایي د رهتور د رام – دېوا ځای نیولی وي. سباک د یوې لرغوني هندۍ قبیلې نوم دی (چي البته د کچواهه یوه ښښه جوړوي). د نوشیره علاقې ته نژدې د کابل پر سیند باندي یو کلی هم سته چي (پیرسباک) نومېږي. دغه ښایي د سباک د قبیلې د یوه پخواني مرکز نښه څرګندوي چي په هغې پوري د غزني مشهور سبک – تګین اړه درلوده. د نامه وروستی کلمه (تګین) یا (دکین) (د کماق = بلل سوی) یوه ترکۍ کلمه ده چي د (بلل سوي) معنا افاده کوي او ترکي واکمنانو د خپلو مریانو دپاره استعمالوله. په دې ډول نو سبک – تګین د (yclept Sabak) سره معادل دی. سنتیا د برهمن له سوناډهیا څخه نمایندګي کوي. ستګ یو زوړ نوم دی چي له هغو څخه د هیرودوت ستاګیدای او د اوسنۍ زمانې ختک او شیتک راوتلي دي لکه څنګه چي ئې دمخه بیان تېر سوی دی. طاهر د (دوهریا) یا (داهریا) رهتور اسلامي شکل دی.

د ناغر څانګي دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| بهراند | چندولی | چندرو | دور | حیدر |
| خادو | ماشو | مترولی | نمیر | پاهت |
| پالکت | پرید | رورک | سلایچ | سیلاتي |
| تارک | ترنک | تیرو | یونس | اونور |

له دغي جملې څخه ناغر د یوې سوداګر پېشه راجپوتي قبیلې نوم دی. دوی اوس د یوې ارضي قبیلې په څېر په افغانستان کي نسته څکه

ډېرى ئې له لوديانو او نورو سره يو ځاى هندوستان ته ليږدېدلي دي. په هند كي دوى اصلاً په كراؤلي، شېخاوتي او د راجواري په نورو ايالاتو كي او هم ئې په برار او د مركزي ولاياتو په نورو برخو كي او هم ئې د دكن په حيدرآباد كي يو ځاى او بل ځاى اړولي دي. چندولى د ګوجر له چندېلي څخه نمايندګي كوي. چندرو د برهمن چندرا تمثيلوي. رورک د پاريهارا له (رورا) څخه نمايندګي كوي.

د پاني څانګي دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ادين | اغزر | احمد | الي | بابر |
| بابكر | بهون | باى | بلبل | بيهدين |
| قاسم | دهپال | دري پلاره | ګاهدا | همزه |
| هزران | هيبت | انځر | ايسوت | كابل |
| كمال | كانو | كرېر | كارمو | خيتانى |
| كهوجک | لاهر | مغدود | مامى | ملاهى |
| ماردو | مرغستان | مرغرانى | مارسېن | موكى |
| مولا | موسى | ناسر | پاک | سامى |
| سندود | سرهنګ | سېن | ښادي | شكون |
| شېرو | توله | توتي | اومر | اومرګات |
| اوتمان | ودير | زماري | اونور | |

له پاسو نومو څخه پانى د پراماړا يوه قبيله ده. اوس د پاني له جملې څخه نسبتاً ډېر لږ وګړي په افغانستان كي پاته دي ځكه په دغه نامه زياتره كسان له ناغر سره يو ځاى چي دمخه ياد سوه د هند خوا ته ليږدېدلي او په هم هغو نومو‌ړو علاقو كي ئې اړولي دي، خو دوى په زيات شمېر د برار او دكن تر سيمو په تېره بيا په حيدرآباد كي ځاى پر ځاى سوي دي. ايسوت يا سوت د رهتور د قبيلې يو خېل دى. لاهر ښايي د

برهمن له لاهيري څخه څرګندونه کوي. نور زياتره په وړاندې بيانو کي په مخه راغلي دي او ځيني نوي نومونه هم دلته سته چي درک ئې چنداني نه معلومېږي او نه هم پېژندل کېداى سي. ودير ښايي د کافرستان له واديهو سره يو شى وي چي وروسته به ئې يادونه په مخه راسي.

داوي، داتي يا دابي لاندي ځانګکي لري:

الي بلبل دومر همر خوندي موسا

له دغو نومو څخه داوي يا دابي (د پراهيرا مربوط) راجپوتي قبيله ده چي اوس په افغانستان يا حتى په کاکړانو کي چنداني د چا پام نه وراوړي. کاکړ د شمېر له پلوه يوه ډېره غټه او مهمه پښتني قبيله ده. د دې قبيلې د کورنيو شمېر د سليمان په لړۍ کي شل زره ګڼل سوي دي. کاکړ د هندوستان په بېلابېلو برخو او په تېره بيا د بلندشهر او روهتک په علاقو کي هم يو شمېر مېني لري. خو په هندوستان کي د نورو پښتني ناقلينو په څېر يو مخيزه په ژبه، دودونو او همدارنګه په کړو وړو کي هندي ګرزېدلي دي.

د کاکړو يوه کالوني په کندهار کي هم سته او د دې قبيلې لوى شمېر له هغو تايمنيانو سره يو ځاى د غور په ملک کي پراته دي چي له دوى سره د قومي خپلوي ادعاء کوي. د دغه ملک (فيروزکوهي) او د سيستان کاياني، د پېښور د اوتمان – خېلو سره يو ځاى همدارنګه دا ادعاء لري چي نسب ئې له کاکړو سره مشترک دى.

د غرغښتي افغان د بابي ښاخ د هغي حوزې په دننه کي ئه مونده کېږي چي دمخه د هيرودوت له خوا د ياد سوي ستاګيداى نامه ته منسوبه سوه. دوى صرف د وړو ټوليو په بڼه تيت او پرک يو ځاى او بل ځاى پاشلي اوسي. ددې قبيلې غټه برخه چي اصلاً د سوداګرۍ په کاروبار لګيا ده د کندهار د ښار په دننه او شاوخوا کي او همدارنګه د بلوچستان په پاى تخت کلات کي اوسېږي. بابى احتمال لري د پرامارا د قبيلې له بهيبا څخه

نمایندګي کوي.

د بابي څانګې دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ازرایل | باخی | ادریس | جندر | کاټو |
| میر | سایب | سارو | شېلوی | اونور |

ویل کېږي چي بابی په پخوا کي له څلورو خېلونو څخه جوړ سوي وه چي د ملائکو د نومو په اقتفاء جبرایل (ګبرائیل)، میکایل (میکائیل)، اسرافیل (اسرافېل) او ازرایل (عزرائیل) نومېده. خو افغانان چي کله مسلمانی ته را اوښته نو د تسمیې دغه سلسله ئې خوښه نه سوه او په نومو کي ئې بدلون راغی. له دې خبري څخه څرګندېږي چي په یوه پخوا زمانه کي ئې له یهودي یا اسرائیلي کورنیو سره یو ډول اړیکي درلوده. په پرشیا کي د بابي په نامه یوه غټه او مهمه قبیله هم سته چي ښایي د افغان له بابي سره به ارتباط ولري.

تر غرغښتي لاندي د مندو په ښاخ پوري مربوط وګړي د ږوب په ناوه کي د سیند د بهیر په امتداد له کاکړانو سره یو ځای پراته دي.

د مندو څانګې دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ایمل | بابکر | بنګی | بارک | برهام |
| چار | همزه | هیبک | اسمائیل | کمبر |
| لالی | مالېوه | ممکتی | مېس | مانی |
| نېکبی | نوکر | سلامي | شوردره | شومی |
| سیرکی | توره کی | اونور | | |

مندو د کچواهه مربوط یو ستر خېل دی او د اباسین پر پوله د پښتني قبیلو تر منځ هر چیري خپور لیده کېږي. نور پاته نومونه څو کرته وړاندي په مخه راغلي دي.

د کاکړو تر شا شمال - ختیځ پلو ته د خروټو قبیله پرته ده او دا د

هغو اساسي خېلونو له جملې څخه يوه پرګنه ده چې د کارواني سوداګرو د پوونده و ټولنه تشکيلوي. خروټي د سوداګر پېشه راجپوت خرايټه تمثيلوي. دوی په شمېر شپږ زره کورنۍ ګڼل سوي دي او د سليمان د لړۍ پر ختيځو ډډو باندي د (پالتو) او (دواګومل) په علاقو کي مېشته دي. خروټي تقريباً له يوه مخه کوچيان يا پوونده دي. د دوی په ملک کي مهم ښارګوټی اورګون يا وارګون نومېږي چې په هغه کي فورمولي قبيله مېشته ده. خروټي همدا راز د پالتو له درې څخه نيولې بيا د کټواز تر علاقې پوري د سليمان د لړۍ پر لوېديځو ډډو باندي استوګنه کوي. هغه خروټي چې د پوونده و په ټل کي نه راځي زياتره ئې په کرهڼه او د مالونو په څرلګيا دي. دوی د اوښانو لويي ګلې او په خورا غټ شمېر د وزګړو او پسونو رمې لري. کرونده ګر او مالدار خروټي په کړو وړو، رواجونو او حتی په ژبه کي له سوداګر پېشه خروټو څخه چې هغه په خپلو خويونو کي ډېر زيږه دي او د ځانو په سامبالېدو هم چنداني ګوته نه وهي، خورا زيات توپير سره لري. خو له هر څه سره دوی ټوله ډېر ښکلي او نارينه ولس دی چې د هنديانو په پرتله ئې د مخ بڼې روښانه دي.

د خروټو څانګې دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ادېک | الي | الو | امند | امبر |
| ازغر | بابر | بادين | بناس | بندر |
| بوستام | بی | درې پلاره | ګاري | غېبی |
| غوري | غونډی | هارون | ايسا | ايسوت |
| کاکل | کرابه | خدير | خاران | خيدار |
| لاجمير | لاللی | لالی | لانګی | لېوان |
| مداد | ملېک | ملی | ماتوک | مزرک |
| موتيک | مريګت | موسا | نادر | نورا |

ACKU

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| پانجو | پروتی | پسانی | رایو | سختا |
| سندر | سید | شایب | شاهتوری | شالی |
| شامو | شاریک | سلیمان | سلطان | سوران |
| تار | تور | یاه | یحیا | یاسین |
| زاکو | زائولي | رونیا | اونور | |

له دغو نومو څخه ازغر ښایي د راجپوت د پاریهارا د قبیلې د اګاستوار ځای نیولی وي. ښاس د راجپوت له موناس څخه نمایندګي کوی. ایسوت د رهتور مربوط یو خېل دی او په تېرو پاټو کي څو ځله مخي ته راغلی دی. کاکل د سوداګر پېشه راجپوت کاکلاس تمثیلوي. خدیر د خاتیر ځای نیسي چي سوداګر پېشه راجپوت دی. خاران ښایي په بلوچستان کي د خاران د علاقې وګړي څرګندوي. خیدار د کیهدار سره لګېږي چي سوداګر پېشه راجپوت دی. کرابه د کاربیرا ځای نیسي چي سوداګر پېشه راجپوت دی. پانجو له پنجام څخه نمایندګي کوي چي سوداګر پېشه راجپوت دی. پروتي د ګاهلوت له پوروت سره سمون خوري. سندر د رهتور له سندارا سره برابرېږي. یحیا د پاریهارا له جوهیا سره لګېږي. نور نومونه زیاتره دمخه یاد سوی دی. خروټي له غلزو سره د خپلوي ادعاء کوي او داسي څرګندوي چي ګویا د (توخو) یوه څانګه ده چي په خورا وختي زمانه کي ورځني بېله سوې ده. وایي چي د ساهک په نامه غلزي داسي ادعاء لري چي خروټي د دوی تابعان یا همسایه دي یعني د خپلو بندګانو په څېر ئې بولي.

یوه بله خروټو ته ورته قبیله ناسر دي چي د کاروانې سوداګرو د پوونده خپلونو له جملې څخه یوه ټولی تشکیلوي. دوی داسي ښکاره کوي چي ګویا د هوتکي غلزیو له ټله څخه یو ښاخ ګڼل کېږي. خو هوتک غلزي بیا دا ادعاء کوي چي ناسر د دوی همسایه یا بندګان شمېرل کېږي. د دوی تر منځ رابطه صرف د مځکه وال او د کښتګر رابطه ده. دواړه قبیلې یعني

هم خروټي او هم ناسر دوبی د څړ دپاره په هغو سیمو کي تېروي چي په ترتیب سره توخو او هوتکو نیولی دی او ژمی بیا داباسین د دیره جات پر سیمه په (دامان) کي باسي. ځیني ناسر بیا ادعا کوي چي نسب ئې له شاه حسین غوري سره اړه لري خو نور ئې بیا وایي چي په نسب بلوڅو ته رسېږي، ناسر که څه هم په ژبه او دودونو کي له پښتنو سره ګډ سوي دي خو بیا هم په بنو او کړو وړو کي یو بېل ولس دی او د هندي مورینې نښې بې له شکه وربانديي ښکاره دي. دوی په شمېر دیرلس زره کورنۍ ګڼل سوي دي. د کابل په کوهدامن کي د ناسرو یوه وړه مېنه سته خو د قبیلې لویه برخه ئې په افغانستان کي مځکه نه لري او اساساً د هند او مرکزي آسیا د هیوادونو تر منځ د وړلو، راوړلو په تجارتي کاروبار لګیا ده.

د ناسرو څانګې دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| عالم بېګ | بنو | بهار | بوری | چالاک |
| داؤد | دوموش | حبیب | کمال | خیدار |
| مالي | مانک | مندی | مروت | موسا |
| ناسو | نیامت | ښادي | سپینکی | سورکی |
| ترهکی | اومر | اوریا | اوتمان | یحیا |
| زنګی | اونور | | | |

له دغي جملې څخه بهار دیوې هندي بومي قبیلې نوم دی چي اوس ئې په دې سیمه کي د بلوچستان د کلات براهوي نمایندګي کوي. چالاک د راجپوت مربوط چالوک یا سولانکي تمثیلوي. داؤد د (دادو) ځای نیولی دی چي په روان بیان کي به خبري پر وسي. دوموش پر زوایموخت باندي دلالت کوي چي دمخه یاد سوی دی. مانک د سوداګر پېشه راجپوت له مانت څخه نمایندګي کوي. ښادي له خادي او خودو سره یو شی دی چي څو واره دمخه راغلی دی او له شودي څخه (چي روسان ئې خشودي بولي او پر اوسنیو استونیانانو باندي دلالت کوي) یا د برهمن له چاتو څخه

ACKU

نمایندګي کوي. سپینکی، سورکی او ترهکی یو په بل پسې د ناسرو هغه طبقات افاده کوي چي د سپینو، سرو او تورو په نامه یادېږي. نور نومونه زیاتره په دمخه بیانو کي یاد سوي دي.

فرملی یا پورملی (د هیرودوت پامفیلای) ویل کېږي چي شمېر ئې په افغانستان شپږ ژره کورنۍ ګڼل سوي دي. دوی د سلیمان د لړۍ پر هغو ختیځو ډډو باندي پراته دي چي د پلاتو د درې پر سر پوله لري. هغه علاقه چي دوی نیولې ده د دوی د نامه په اقتفاء فرمول نومېږي او د هغي اساسي ښارګوټي ورګون یا ارګون نومېږي چي دمخه ئې یادونه راغلې ده. فرملي تر افغانستان دباندي ډېر لږ پېژندل کېږي. وایي چي دوی په خپل ګوښي حالت کي خورا لږ د خپلو ګاونډیانو سره ګډ سوي دي. دوی یو آرام او خواریکښ ولس دی چي په کرهڼه او د اوسپني په کاروبار لګیا دي. په فرمول (برمول) کي دوی زیاتره د اومي اوسپني د ویلي کېدو کار کوي. دوی د خرڅلاو دپاره فلز جوړوي او په لوېدیځ افغانستان کي ئې د خروټو د نمایندګۍ په وسیله پلوري. د فرمول علاقه (یعني د وزیرو برمول چي وړاندي ئې یادونه راغلې ده) د یوې داسي ناوې په څېر ښوول سوې ده چي اوبه ئې د کورمي سیند ته وزي او پر دواړو غاړو ئې د کاج وني او نوري ځنګلي درختي ګڼي ولاړي دي او د هغې مرکزي برخه د کرني له پلوه ډېره آباده ده. دا برخه په باغو او باغچو باندي پټه ده او د ملک هر راز عادي مېوې هلته پریمانه او منې ئې د جنسیت له مخي ډېري وتلي دی. فرملیان د وزیرو او خروټو تر منځ پراته او په تاجکو کي شمېرل کېږي. د دوی ژبه د شاهنامې ژړه فارسي ده. دوی هم له افغان او هم له پښتون دواړو څخه څرګند توپیر لري خو د خپلي ادعاء له مخي ځانونه د هغه خیلیجي نسب سره مشترک بولي چي پای تخت ئې د دوی په خوله د خیلیج هغه ښار و چي د هیلمند او کلابست لوېدیځي خوا ته پروت دی. ښایي دغه خبره د کیلیکیا هغي لرغوني علاقې ته یوډول مبهمه اشاره وي چي په کوچنۍ

آسیا کي موقعیت لري. ویل کېږي چي ځیني فرملیان په کابل او د هغه په لوېدیځو علاقو کي هم سته چي اساساً د سوداګرۍ په کاروبار لګیا دي. د یوسفزیو په ملک کي هم د فرمول یا پرمول په نامه یو کلی سته چي د بونیر پرخوا د سرخاوي د درې په جنوبي خوله کي پروت دی.

اوشتراني، اوشتوراني، اوشتوري، ستوریاني یا ستوري د هغه لرغوني ستائوري ولس اوسني نمایندګان دي چي پلیني (Hist. Nat. vi. ۱۸) له تاپیري، اناریکي او هیرکاني سره یو ځای داسي یاد کړی دي چي د اپاورتېن (ابیورد) د سیمي او د مرګیانا (مرغاب) د علاقې تر منځ په پراته ملک کي اوسېدله. افغاني بیانونه وایي چي اوشتوریانا په پخوا زمانه کي د (ستوریاني چاه) او تراوي یا تري علاقې نیولي وې چي د کندهار شمال – ختیځ ته پرتې دي. دغه علاقې د کارېزو په بهیرونو پوره اوبېدلې او د ښو حاصلاتو د ورکولو له مخي ځخه ئې شهرت درلودی. له دې علاقو ځخه د کاکړو هغه خېل دوی پسي واخیسته چي لواني نومېږي.

اوشتوریاني حق نه لري چي ځان د افغان یا پښتون له نسبه ځخه وبولي. که ځه هم دوی له دې پلوه د پښتني قبیلو په تل کي راځي چي د دوی ژبه ئې اخیستې ده او د دوی قومیت ئې غوره کړی دی. له دوی ځخه یوه برخه اوس کرونده ګر او بله برخه ئې کوچي خلک دي. کرونده ګره طبقه ئې په هغو غونډیو کي اوسي چي د دیره اسماعیل په علاقه کي د کولاچي لوېدیځ ته پرتې دي خو کوچي طبقه ئې د پوونده و له کارواني سوداګرو سره یو ځای کېږي او د اباسین د حوزې د دیره جات دامن او د هیلمند د حوزې د کندهار د بیدیا تر منځ تګ او راتګ کوي. دوی د موسم له تاپې سره سم ژمی په هند او دوبی په خراسان کي باسي. کوچي اوشتوریاني له یوه مخه د تورو وژغنو په خېمو کي اوسي چي کږدۍ ئې بولي. دوی خپلې کږدۍ د دوو یا درو ځخه نیولې بیا تر شلو یا زیاتو پوري د وړو وړو ډنډرو په ځېر غوړشکه، غوړشکه د یو کمپ په شکل دروي چي

کیري (او په ختیځ ترکستان کي کورا) ورته وایي. لاکن د دې قبیلې ځائي وګړي بیا په داسي کوچنیو کوډلو کي ژوند کوي چي له یوه ځایه بل ته انتقالېدای سي. دا کوډلي چي د غز (تمارسک Tamarisk) له چیخلو څخه په اودلي شکل جوړي او د ختو استر ورکول سوی وي د یوه کلي په ترتیب ئې ځای پر ځای کوي چي د هغو مجموعې ته بې له کومه توپیره هم جهوک (چي یو پنجابی لغت دی) او هم کیري ویل کېږي او دا دواړي کلمې هندي مورینه لري چي (کړي) یا (ډنډوري) افاده کوي. اوشتوریاني په شمېر پنځه زره کورنی ګڼل سوي دي چي له دې جملې څخه نیم ئې مېشته کرونده ګر او نیم ئې د څارویو مالدار دي. دوی یو آزاده، زړه وره او نارینه ولس دي چي د زېږه خوی تښتنان او د داړه ماری شوقیان دي. د اوشتوریاني د ولس هغه څنګه چي ګنډاپور نومېږي اساساً له ټانک څخه نیولې تر درابند پوري د دیره جات دامن په اوږدو کي پر برتانوي ساحه باندي مېشته دي او له دوی څخه آرام، منظم او خواریکښ وګړي جوړ سوي دي او د دوی تر منځ اوس یو شمېر داسي کسان را پیدا سوي دي چي (د دوی په تناسب) د تصدیو خاوندان او بډای سوداګران دي. ګنډاپور ډېر احتمال لري چي د ګندوفاریس په نامه له هغې لرغوني شاهي کورنۍ څخه نمایندګي کوي چي د میلادي پېړۍ د پیل په شاوخوا کي ئې د سیستان او کندهار پر ملک باندي حکومت کاوه.

اوشتوریاني دوې غټې پلریني لري چي د ګنډاپوري او هامر په نومو دي.

د ګنډاپوري څانګي دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| اختا | الي | امار | امران | ایدک |
| بابر | باهیر | بارا | بازک | بوجار |
| براهیم | دادی | دانا | دودا | درې پلاره |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ګدايې | ګندا | حاجي | حيات | حسېن |
| ايسا | اساپ | جافر | جالي | جامک |
| کمال | خليل | خوبی | خيري | مکی |
| مالا | ملنګ | مانی | مرېری | مېنا |
| نسرت | نېکال | پاباهي | پائېک | پرا |
| سروان | سېدال | شابی | شداد | شېخی |
| سيکندر | سلطان | تاجی | تانو | تاره |
| اوتمان | يعقوب | يحيا | زائولي | زارني |
| زوهاک | اونور | | | |

له دغو نومو څخه اختا د غور هغه يوه لرغونې قبيله ده چي تر اوسه هم د تايمنيانو تر منځ د اختان په څېر پېژندله کېږي. امار او امران په ښکاره سره يو شی دي او د پرامارا (اومرا) تمثيلوي چي له همدې نامه څخه د کوړ.ک امران د غرونو د لړی نوم راپيدا سوی دی. بابر يو ګوجر خېل دی. بارا يو برهمن خېل دی. بوجار ښايي د برهمن له بهوجاک يا د راجپوت له بيجهيريا څخه نمايندګي کوي.

ګدايې او ګندا ښايي د ګادي او ګندوال ځای نيولی وي چي ځاروي روزونکي هندی قبيلې دي. جامک ښايي جائېمو تمثيلوي چي سوداګر پېشه راجپوت دي. خيري د پرامارا د خير ځای نيولی دی. سيکندر د الکساندر څرګندونه کوي او ښايي چي د لوی سکندر او د ده د يارانو پر اولاده باندي دلالت کوي. پاباهي د چوهان مربوط پابيا تمثيلوي. (پرا) د (پري) غوندي دی چي څو کرته په مخه راغلی او هغه پاريهارا تمثيلوي چي د راجپوت په شاهي توکم پوري اړه لري. يعقوب د اکوبي ځای نيولی دی چي د سکلاب (سلاوي) ترک يو خېل دی. زائولي او زارني د قبيلو نومونه دي او په دې نومو ځکه نومېدلي دي چي په ترتيب سره د غزني او

غور د زاول او زارني په علاقو کي اوسېدلي دي. زوهاک (ضحاک) د زاک او ساک په شان دي او د سیستان او مکران له هغو لرغونو اوسېدونکو څخه نمایندګي کوي چي د بابل د پاچا یعني نمرود آسوري رعیت وه.

د هامر څانګي دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| باګر | امان | الدو | اکو | ادین |
| هدو | غورانی | ګاګل | دادر | بای |
| کمال | کدر | جارو | ایسا | حسن |
| متک | مشر | مدید | لالک | کاري |
| سېن | سالي | سابی | پانیا | موسا |
| او نور | توسا | تورمان | شې | شامو |

له دغي جملې څخه هامر د سندي بېدیا د یوې راجپوتي قبیلې نوم دی. باګر ښایي له باګریا څخه نمایندګي کوي چي د هندي بېدیا (بومي) قبیله ده. ګاګل د سوداګر پېشه راجپوت کاکلسه تمثیلوي، یا د رهتور د قبیلې ګوګادر څرګندوي. جارو د رهتور له جورا څخه نمایندګي کوي. متک، موتیک، متا او میتا چي څو څله په وړاندي ښوول سوو څانګو کي راغلي دي داسي ښکاري چي سره یو شی وي او د راجپوت شري مت تمثیلوي. توسا د چوهان د تاسیرا ځای نیولی دی. پانیا د پراماراله پوني څخه نمایندګي کوي. د هامر خېلونه له اصلي ګنډاپوریانو څخه هم په ښو او هم په دودونو کي ښه زیات توپیر لري. له دوی څخه ځیني په تېره بیا د (امان) خېل ئې د بلوڅو په شان د وېښتانو اوږده شهبازونه پرېږدي.

له دې بیانه سره د هغو قبیلو څېړنه بشپړېدو ته رسېږي چي د لرغوني ستاګیدای پر هغه ملک باندي اوسي چي په یوه تېر بیان کي د دوی په نامه بلل سوی دی. په دې پسي د هغو قبیلو یادونه کوو چي د هیرودوت له خوا د یاد سوي دادیکای په ملک کي مونده کېږي. دادیکای د هندي ژبي له (دادیکي) یا (دادي قبیلو) سره لګېږي چي د اوس وخت موجود (دادي)

کېږي.

دادی اوس د يوې ځانته ارضي قبيلې په ځېر په همدغه خپل نامه په افغانستان کي چيري نه مونده کېږي. خو د دادي په نامه ځانګکي د اباسين د پولي پر اوږدو باندي د زياترو پښتني قبيلو تر منځ پيدا کېږي. همدا شان د اباسين پر هغه بله غاړه چي زموږ د پلټني تر ساحې دباندي ده د بهاولپور دائو د پوترا په اسلامي نقاب کي له لرغوني داديکای څخه نمايندګي کوي. د داديکای لرغونی ملک چي پای تخت ئې اوس ښايي د (دادر) د هغه ښارګوټي له خوا تمثيلېږي چي د هند له خوا د بولان د درې خولې ته نژدې پروت دی. البته داسي ښوول کېدای سي چي د شمال پلو ته د کوږ ک امران او (ويهوا) لړيو احاطه کړی دی. خو په جنوبي خوا کي بيا تر خزداره پوري (ملادري)، په ختيځ کي بيا د اباسين رود او په لوېديځ کي بيا د خاران هغه ملک احاطه کړی دی چي نوشکی او ښوراوک هم کنښېباسي. په دغه راز ټاکلې ساحه کي د (سيبی) علاقه يعني لرغونی سيوستان هم شاملېږي. ښکاري چي خاران (د سترابو په خوله کارينې چي دمخه ئې بيان تېر سوی دی) په لرغونې زمانه کي د بلوچستان د کلات ټوله اوسنی ولايت د هغه د ساراوان او جالوان يا جهالوان له برخو سره چي په ترتيب سره شمال او جنوب ته پراته دي له يوه مخه په خپله حوزه کي شاملوله. د ساراوان او جالوان نومونه داسي معلومېږي چي ښايي د افغانانو د سرواني او جلواني قبيلو له نامه څخه اخيستي وي. ځکه دغه قبيلې ويل کېږي چي د نظامي ناقلينو په توګه د غزنوي سلطان محمود له خوا څخه د مکران خوا ته د هغه د وېش په دغه برخه کي ميشته سوې. د سلطان محمود د زوی او خلف له خوا څخه چي د يوولسمي پېړۍ د لومړۍ نيمايي په کلونو کي د مکران په خلاف بيا له سره بريدونه پيل سوه نو دغه کالونياني ئې نوري هم ټينګکي او پراخي کړې. لکه دمخه چي ئې بيان تېر سوی دی. سرواني د بېټني او جلوانې د شېراني يوه ځانګه ده. د جلواني

غتې څانګې د کونګاري، مايار، مروت، نېکبي، سالار او سپند په نومو دي.

د سرواني څانګې دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| اچو | اګهوک | احمد | اکو | الي |
| اسپک | اسو | بالی | بوبک | دای |
| دودو | ګداېي | هدیه | هارون | هیبک |
| اسمائیل | ایسوت | جعفر | ککور | کربوری |
| ملانه | مالاته | ملکیار | مامو | متا |
| موسا | ناهر | نور | پونی | رستم |
| ساکنوت | سام | سمیا | سنجر | سپنی |
| شاخا | سوده | سرپیال | سوری | |

له دغو نومو څخه سرواني (د پاریهارا مربوط؟) یوه راجپوتي قبیله ده. اچو یوه هندی قبیله ده چي دمخه ئې یادونه تېره سوې ده او بیا به هم د دراني اچکزي په څېر مخې ته راسي. اګهوک ښايي له اګهوري څخه نمایندګي کوي چي هندي مذهبي قبیله ده. ککور د ختري له کاکې څخه څرګندونه کوي. کربوری د کاربایرا ځای نیولی دی چي سوداګر پېشه راجپوت دی. ملانه د چوهان له ملاني څخه نمایندګي کوي. مالاته د رهتور مالاوات تمثیلوي. ملکیار د مولاک ځای نیولی دی چي د ښارويو روزونکې هندی قبیله ده او له دې سره د رهتور مربوط (جورا) یو ځای سوی دی. مامو د برهمن له ماما څخه نمایندګي کوي. ناهر د سوداګر پېشه راجپوت ناګهر تمثیلوي. پونی د پرامارا مربوط یوه قبیله ده او سوده هم دغسي. نور نو زیاتره نومونه په مخه راغلي او یادونه ئې تېره سوې ده.

هغه هواره سیمه چي د اباسین د رود او د سلیمان له لړی څخه د راوتلو غونډیو تر منځ پرته ده د دیره غازي په نامه هغه برتانوي علاقه

ACKU

تشکیلوي چي هلته اهالي خورا ارجل اوسي او په ترکیب کي ئې د مسلمانانو بېلابېلي قبیلې لکه سید، افغان، پښتون، بلوڅ او د دوی زیات شمېر ورې څانګي ټولي شاملي دي. همدارنګه د هندوانو بېلابېل کاستونه لکه برهمن، ختري، ارورا، لبانه، سود، بهټیا او نور په نومورې محل کي اوسي. بلوچ چي د لغاري، بزدار، مزاري، لوند، کسراني، درېشک، کوسه او نورو زیاتو خپلونو څخه جوړ سوي دي، د نسب له پلوه خورا زیات مخلوط دي او د دوی په باب ویل کېږي چي د شپاړسمي پېړۍ نیمایي ته ورڅرمه په هغه وخت کي دغو برخو ته راغلي دي چي همایون د پرشیا په مرسته د خراسان له لاري د یوه غټ لښکر په مشرۍ چي تر ډېري اندازې د بلوڅو او د کندهار د ملک له نورو قبیلو څخه جوړ سوی و مخ پر هند باندي وړاندي راغی څو چي په ډهلي کي د خپلي پاچهۍ تخت بیا لاس ته راوړي. بلوڅ اوس یوه ډېره لویه او مخلوطه قبیله ده. دوی رشتیا هم یو ځانته قومیت تشکیلوي چي له افغان څخه بېخي بېل دي او د افغان په نسبي شجرو کي کورټ نه دي شامل سوي. واقعیت دا دی چي د ګډي وینې نسبي رګې خو لا پرېږده بلکي د سیاسي مناسباتو په وجه لا هم د افغان یا پښتون تر قومي نومو لاندي نه راځي. دوی تر دې چي هندي وبلل سي زیات پرشیائي ګڼل کېږي. که څه هم د توکم، ژبې، دودونو او کړو وړو له مخي په قطعي توګه هندیان دي نه پرشیایان. بلوڅ په لومړي سر کي د راجپوت مربوط (بلائېچه) وه او د خاران هغه ملک ئې نیولی و چي د دوی د خپلوانو قبیله والو یعني راجپوتي بهارائیچه له ولس سره نښتی و. (بهارائیچه اوس په افغانستان کي د ښوراوک برېخي تمثیلوي) هم بلائیچه او هم بهارائیچه دواړه د اګنیکولا مربوط د ستر چاهومان یا چوهان خپلونه دي. برېڅو ځیني مهمي او غټي کالونیاني په هند کي جوړي کړي دي او خپل نوم ئې په (اوده) کي یوې علاقې ته ور کړی دی (چي بهرائیچ نومېږي). د دې قبیلې یوه بله کالوني (د ډهلي د علاقې) د جها ججار په نوابي کي موحوده ده چي

د هغې ارواښاد مشر يو برېڅې پښتون و او د ۱۸۵۷م کال په هندي ښورښن کې د خپل جرم په گناه اعدام سو. د بلوڅو په باره کي به موږ وروسته ورغږېږو خو دلته بايد دې خبري ته پام وکړو چي د دوی د قوميت مربوط وګړي د هغي ساحې په دننه کي مونده کېږي چي وړاندي د داديکای په نامه وښوول سوه. خو تر هر څه لوړی مناسبه به دا وي چي د افغانستان د ښوراوک برېڅي پسي راواخلو.

برېڅي يا برائيچي چي درې زره کورنۍ گڼل سوي دي له دې څانگو څخه جوړ سوي دي:

ابو الي بادو بهادر بندو شېرو او نور

د دوی ملک د کلکي ختي يو خورا سپېره ډاګ دی چي د لوړې رود پکښي تېر سوی او چارچاپېره د رېګو شاړي وربانديي راګرزېدلي دي. برېڅي د غزو د چيخلو او مزرو په کوډلو کي اوسي چي کږل (د پارسي کده = [سرای]) ئې بولي. دوی د اوښانو لوئي ګلې روزي. ابو ښايي له لرغوني ابی څخه نمايندګي کوي چي زما په عقيده د هومير له خوا ياده سوې يوه سکيتي قبيله ده او يا خو د راجواري (دمونت ابو) علاقې ته منسوب دی چي په لومړي سر کي له هغه ځايه څخه راغلي دي. نور نومونه مو په تېرو بيانو کي ليدلي دي.

په هغه هوار ملک کي چي د اباسين او لوېديځ پلو د (کلا روه) د غونډيو د لړۍ تر منځ پروت دی د بلوڅو وړاندي يادي سوي قبيلې مونده کېږي چي دلته به ئې تر څېړني لاندي ونيسو. د (خېل) او (زي) د شاوندي پر ځای چي پښتون او افغان ئې په خپلو قومي نومو کي استعمالوي، بلوڅان د خپلو خېلونو او ښاخونو نومو ته د پارسي د جمع تمليکي شاوندي (آني) وراچوي چي په معنا کي (د هغو له جملې څخه) يا (په هغو پوري مربوط) افاده کوي. مثلاً (الياني) د (الي له خېل يا کورنۍ څخه) معنا ورکوي. او سنجراني بيا (د سنجر له کورنۍ يا ذاته څخه) معنا افاده کوي.

ACKU

الياني نو د پښتون او افغان له اليخېل او اليزي سره برابرېږي او په همدې توګه نور.

لغاري بلوڅ د الي، هادي، باګل او هيبت له خېلونو څخه جوړېږي او په (پچاده) يا د کلکي ختې د غونډۍ او لمني د تړانګي په اوږدو کي اوسي.

د الياني څانګي دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| بوزدار | چاجی | چندی | چانګو | ګبول |
| جوګی | خلیل | لانجو | مېهرو | میتا |
| موند | سنجر | سورج | تالپور | او نور |

د هادياني څانګي دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| اسار | بشام | بیجار | دېبی | حاجی |
| جهار | کلوهی | سماله | شاهو | زنګل |
| او نور | | | | |

د باګلياني څانګي دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| باګل | باغی | دادو | کلېری | ماسو |
| ننګری | او نور | | | |

د هيبتاني څانګي دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| بدوی | هابتی | پهېرو | رستم | سور |
| سوراج | او نور | | | |

زياتره پاسني نومونه په آساني سره پېژندل کېدای سي. بوزدار د بزدار سره لګېږي چي د پارسي د (بزو – رمه) کېږي او ښايي د هندي (بهګتا) پر ځای باندي د اسلامي بدیل په توګه استعمال ته راغلی وي. چاجي د رهتور چاجيرا تمثيلوي. چندی د چوهان له چندا څخه نمايندګي کوي. چانګو د چوهان ځای نيسي، ګبول له کاپول سره لګېږي چي سوداګر پېشه راجپوت دئ. جوګی يوه هندي مذهبي قبيله ده. خليل

ښايي د پرامارا له کوهيلا يا د ختري له کوهلا څخه نمايندګي کوي. لانجو د سولانکي پر لانګاهه دلالت کوي. مېهرو د ختري مېهرا تمثيلوي. ميتا ښايي د برهمن له مايتهيلي سره سمون خوري. موند د کچواهه مربوط موندا تمثيلوي.

هادي د جت له هودي څخه څرګندونه کوي. بشام د بيسان ځای نيسي. بيجار د (پاريهارا؟) راجپوت له بيجهړيا څخه نمايندګي کوي. دېبی د پرامارا دېيا تمثيلوي. حاجی د راجپوت دهايوبانسي نښه ده. جهار د ګوجر له جينهار څخه نمايندګي کوي. کلوهي د ختري کوهالی تمثيلوي. سماله د (کچواهه يا پاريهارا؟) راجپوت سيماله څرګندوي. شاهو يا شاهي چي څو کرته په وړاندي بيانو کي په مخه راغلی دی د سولانکي مربوط د هندي (رائوکه) اسلامي معادل دئ چي دواړه پارسي او هندي کلمات ئې په ترتيب سره (د پاچا مربوط) معنا ورکوي. زنګل د جنګام ځای نيسي چي هندی مذهبي قبيله ده. باګل د سولانکي بهاګېله يا د سوداګر پېشه راجپوت بهاګېل تمثيلوي. باغی د بيراغي ځای نيولی دی چي هندی مذهبي قبيله ده. دادو له دادي څخه نمايندګي کوي. کلپری د ختري کلهار تمثيلوي. ماسو له (مهاسو) يا (مه آسو) څخه څرګندونه کوي چي معنا ئې (ستراسوا) کېږي او د راجپوت قبيله ده. ننګری؟؟؟ هابتي يا هيبتي هغه څوک دی چي د (هاب) د سيند له علاقې څخه دی. بدوي د رهتور پر بهادايل دلالت کوي. پهېرو د پاريهارا سره سر خوري. رستم د يوه مشهور پرشيائي اتل نوم دی چي ښايي له هندي مورينې يا خپلوۍ سره اړه ولري چي بومي ملک ئې زابل يا غزني او پلار ئې پر سيستان او کابل حکومت کاوه.

بوزدار د هغو غونډيو اوسېدونکي دي چي د (سانغر) او (ويدو) د درو تر منځ پرتې دي او پر لوېديځه پوله باندي ئې (لونی) پښتانه اوسي. د دوی څانګي دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| بسکان | بهالا | چاکر | چندیا | چنگو |
| دیگار | دول | دورک | گادي | گاهام |
| گامو | غلام | ایسا | جعفر | کلاتی |
| کایانی | لادو | لاگر | لوند | ماری |
| میر | میتا | نامور | نندو | پولادی |
| شامار | شاهو | شوکر | سیها | سوبی |
| سورب | اونور | | | |

له دغې جملې څخه بسکان ښايي د کايستهه مربوط بستاب تمثيلوي. بهالا د راجپوت له بهالا سلطان يا د ختري له بهاللې څخه نمايندګي کوي. چاکر د کلات د بلوڅو د يوه اجدادي سرخېل نوم دی. يا ښايي چي دا به د رهتور مربوط چاکيت وي. ديګار ښايي د دهېنګر په نامه د څارويو روزونکې هندی قبيله يا د ختري مربوط دوګل تمثيلوي. دول له دوهيل څخه نمايندګي کوي چي سوداګر پېشه راجپوت دی. دورک د (کچواهه) راجپوت دورګبانسي څرګندوي. ګادی هم ختري او هم هندي څاروي روزنکي دي. ګاهام د ګاهروار او ګامو د ګاموها ځای نيولی دی چي دواړه راجپوت دي. لادو له لادي څخه نمايندګي کوي چي سوداګر پېشه راجپوت دي. لوند له هغه ټله څخه يوه راجپوتي قبيله ده چي په راجواړه کي د لوني د سيند پر غاړو اوسي. ماري د پرامارا مربوط له موري څخه نمايندګي کوي. نندو د ختري له جمه نندې تمثيلوي. پولادي د هزاره د فولادي سره يو شی دی چي بيا به هم په مخه راسي. دا له يوې ډېري لرغوني او مهمې قبيلې څخه نمايندګي کوي چي په دې برخو کي اوسېده او د دوی د نامه په اقتفاء د (بولان) دره نومول سوې ده او خاطره ئې د (پولاجي) په زيارت کي چي ډېر لېري نه دی ځني

ACKU

پروت او همدارنگه د ملتان د (بول) یا (بولا) په ډېر مشهور او لرغوني معبد کي نمانځله کېږي. د دوی اصلي نوم (بولا) دی. په پای کي ئې د (دی) توری صرف د سندي ژبي د اضافت شاوندی دی چي د هندي ژبي د (کي) او د پښتو د (د) سره برابرېږي. شامار د سامرپهالا ځای نیولی دی چي ځاروي روزونکې قبیله ده. شوکر د برهمن شوکول تمثیلوي. سیها ښایي د ختري له سهاني څخه نماینده ګي کوي. سوبي او سورب په ښکاره سره یوشی دي او سورما څرګندوي چي سوداګر پېشه راجپوت دی. بوزدار د حضرت سلیمان مریدان دي چي د جعفر له اولادې څخه دي او د (تائوسا) د هغه زیارت مؤسس دی چي د سخي سرور له زیارته سره یو ځای د ملک په دې برخه کي د زیارت کولو خورا مشهور ځای ګڼل کېږي. نوموړی سلیمان ښایي د سولانکي اسلامي بدیل او جعفر هم د جیپرا ځای نیولی وي چي د پرامارا د قبیلې یو خېل دی.

کهوسه یا کوسه په هغه هوار ملک کي اوسي چي لوېدیځ پلو له بوزدار سره پوله لري. د کهوسه څانګي دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| بادا | بلېل | چنګال | دلانه | دستي |
| ګامو | حاجي | هامل | ایسا | جاجېلا |
| جندا | جنګل | جروار | جایا | کلول |
| لاشاري | ماموري | متي | میهېر | سیکندر |
| اوګ | اومر | اونور | | |

له دغو نومو څخه کهوسه د لوئي صحرا یوه هندي قبیله ده او ښایي د کهو یوه څانګه وي چي د کچواهه یو ستر خېل تشکیلوي. بادا د یادو بډا تمثیلوي. جاجېلا د برهمن له جاجوتهیا څخه نمایندګي کوي. جنګل په ښکاره د هغه چنګال په شان دی چي د لست په سر کي ئې نوم راغلی دی. جروار له جروریا څخه نمایندګي کوي چي ځاروي روزونکې قبیله ده.

میهېر د سوداګر پېشه راجپوت میهېریا، یا د ختري مېهرا تمثیلوي.

مزاري د دیره غازي د علاقې په یوه داسي برخه کي اوسي چي ورشو ئې تقریباً پنځوس په دېرش میله کي مساحت لري. د دوی جوړښت لاندي ځانګي کښېباسي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ابدال | ازاد | بلاچ | بنګی | باټیل |
| بهیمبار | چائوغی | چائونګل | دېوا | دهارو |
| ګرانی | ګولاه | ګورک | ګلشېر | هارو |
| جالا | جاسک | جرک | کایسر | کیسر |
| لوت | مروی | ماسید | مینګل | مور |
| موسي | نوزک | پاندی | پیراک | پولات |
| رئیس | سادو | سلات | سامل | سنجر |
| سرګه | تکر | زاد | | |

د نومو له دغي جملې څخه مزاری له میساري څخه نمایندګي کوي چي د هندي صحرا یوه هندو قبیله ده. بلاچ د بلوچ ځای نیولی دی چي د چوهان مربوط بلائیچه تمثیلوي. بنګی د جت یوه قبیله ده. باټیل د راجپوت بوټیله څرګندوي. بهیمبار د ګاهلوت د بهیملا بېلګه ده. چائوغي او چائونګل داسي ښکاري چي سره یو دي او ښایي د پرامارا له چاوندا څخه نمایندګي کوي. دېوا د پرامارا له دېبا سره لګېږي. دهارو د رهتور دوهاریا تمثیلوي. هارو د برهمن د هري سره برابرېږي. مور د موهور ځای نیولی دی چي سوداګر پېشه راجپوت او د هند د لویي صحرا یوه قبیله ده. موسي هغه موسا دی چي ډېر ځله د پښتون او افغان د زیاترو قبیلو د ځانګو په جمله کي په مخه راغلی دی او دلته ئې د (آني) د شاوندي په وجه بدلون موندلی دی یعني د (موسا – آني) پر ځای په (موسیاني) اوښتی دی. پاندی د برهمن د پاندې څرګندوي دی. پولات هم هغه پولادي دی چي

وړاندي ئې بیان راغلی دی. رئیس یا رئیساني د سولانکي رائو کا تمثیلوي. تکر د تهاکر نښه ده چي سوداګر پېشه راجپوت ګڼل کېږي، سرګه د پرامارا له سکره څخه نمایندګي کوي.

لوند دوه ښاخونه لري چي سوري او تیبي نومېږي. د دوی څانګي دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| الو | باران | چندیا | چاتو | چولی |
| دولت | دستي | دېګو | ګادي | ګاراني |
| ګېنجور | ګوریچ | حیدر | جامو | جندی |
| چنګو | جت | کمال | کمبر | کانج |
| خوندی | کوسه | لادی | لوند | ماري |
| مېلو | مېؤ | ناتهو | پاشم | پېشاک |
| رېند | سادو | ساه | ساک | شاه |
| سیدیک | اونور | | | |

له پورتنیو نومو څخه لوند د هغي جملې یوه قبیله ده چي په ماروار کي د لوند د سیند پر غاړو اوسي. د دوی د سوري او تیبي ښاخونه د هغو علاقو په نومو یاد سوي دي چي هلته دوی وربادي مېشته دي. چاتو یوه برهمني قبیله ده. ګوریچ د راجپوت کیروچ دي چي دلته عموماً ګورچاني بلل کېږي. دا نوم پخوا هم په مخه راغلی دی او وروسته به بیا هم په مخه راسي. جامو د سوداګر پېشه راجپوت د جائېمو ځای نیولی دی. رېند د (کچ) مربوط د (رین) یا (ران) په نامه یوه هندی قبیله ده. (کچ) د مالکي ډېر غټ کډهل دی چي د لوني سیند هغه ته تویېږي. مېؤ د مېوات اصلي اوسېدونکي دي چي د هند بومي قبیله جوړوي. (ساه) د جهیلم په علاقه کي د اباسین د ختیځي غاړي یوه هندو قبیله ده.

کسراني هم په هغه ملک کي اوسي چي د دیره اسماعیل او دیره غازي د

علاقو په وصلي محل کي واقع دی او هم د هغه لوېديځ پلو ته ئې په ورپوري غونډيو کي استوګنه کوي. د دوی په جوړښت کي لاندي څانګي شاملي دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| آدم | اتا | بالو | بنج | بهاده |
| بهتي | بووا | بروه | چالګري | چائوره |
| چوره | دانا | ګوريجا | هامل | هولت |
| جاند | جروار | جوسه | کاپيج | لګها |
| لالګو | لشکر | مام | مندو | مير |
| پېهور | رانج | سوبا | واسو | اونور |

له دغو نومو څخه کسر يا کسراني ښايي د ګهلوت کوچرا تمثيلوي. بهاده او بهتي د (جادون) يا (يادو) د قبيلو مربوط د بډا او بټي سره لګېږي. بووا ښايي هغه قبيله وي چي له هغې څخه (بووی) يا د (ديلامي) په نامه د پرشياشاهي کورنۍ راپيدا سوې وي. جروار د جروريا ځای نيولی دی چي څاروي روزونکې قبيله ده. لګها د لغاري سره يو شی دي چي د جمع په صورت کي ئې د (اري – آني) تمليکي شاوندی لکه دمخه چي خبري پر وسوې ورلوېدلی دی او بيا به ئې هم د بلوڅو په جمله کي يادونه راسي. لانګو د سولانکي له لنګاها څخه نمايندګي کوي. مام برهمن دی.

نوټکالی يا لاټک چي د ديره غازي د علاقې د سانغر په ناحيه کي اوسي له دې څانګو څخه جوړ سوي دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| باګل | چوت | جاسم | لالو | مندر |
| مارو | ماسو | متی | سنجر | تانګو |
| اونور | | | | |

له دغو نومو څخه نوټک ښايي له ناټ يا ناټه څخه نمايندګي کوي چي يوه بومي هندی قبيله ده او د کوچيانو په راز خويونه لري. دوی زياتره

د شعبده بازانو، پر رسۍ باندي د ناڅېدونکو، ورزشکارانو، او داسي نورو کېل بازانو په څېر کارونه کوي. چوت ښايي د برهمن د چاتو ځاى نيولى وي. نور نومونه وړاندي ياد سوي دي. د بلوڅو د قبيلو دغه څانګي چي پاس ښوول سوي دي زياتره ئې په شمېر يو څو لږ کورنۍ دي چي ور کوټۍ ئې له پنځلسو څخه تر شلو پوري او غټي ئې صرف تر سلو کورنيو پوري کښېباسي. دغه ټوله بلوڅ چي پورته وڅېړل سوه د برتانوي حوزې اوسېدونکي دي.

ګورچاني خپل نسب له يوه نيکه څخه رانيسي چي ګوريش يا ګورايش نومېدى او همدې نامه دا فکر راپيدا کړى دى چي دوى د عربو د قريشو سره خپلوي لري. ګوريچ په حقيقت هندى ولس دى او په سر سره هغه راجپوتى کېروچ ګڼل کېږي چي البته د کچواهه يا پاريهارا له جملې څخه يو خېل دى.

دګوريچ يا کوريچ يا ګورايش يا کوروش نوم چي په بېلابېلو ځايو کي دغه راز بېلابېل تلفظ کېږي د اباسين پر پوله د يوې زياتي غوړېدلي او خپرې قبيلې نوم دى. د کورېش يا کوروش نوم ويل کېږي چې د لغمان شمال ته د کافرو قبيلو قومي نوم دى. دا هم ناممکنه نه ده چي ښايي دا به د پرشيا د قيروس پاچا چي د قابول په ملک کي زوکړى و، د هغه د کورنۍ نوم وي. کېروچ ښايي د يوې داسي راجپوتي قبيلې يا خېل نوم وي چي که څه هم د توکم او نسب له پلوه بېله وي اما د راجپوتي قوم سره له وصلي لاري يو ځاى سوې وي.

ګورچاني څانګي دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| البخ | آيري | بابى | بابول | بادول |
| باکر | بنګال | بازګير | براهام | چنګ |
| چوټى | دلال | دودا | دورک | ګابول |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ګنداغوالخ | ګات | ګهورم | ګیشکوری | ګوک چلم |
| ګوراک | هېلو | هوتی | جلاب | جلال |
| جامو | جاند | جنګی | جارو | جاسک |
| جوګی | کمبر | کانګ | کتال | خلیل |
| خیری | کوهان | کورپټ | کولنګ | لشا |
| ملوک | مانیک | مېلوبار | مېو | میتا |
| موتیک | نوک | پاهید | پیتافی | پیر |
| پومپل | ساګور | سرمور | سارو | شالو |
| شېخ | سوهو | سور | تانګو | تهالر |
| ترکال | اومر | زوواد | زاهر | اونور |

له پاسنیو نومو څخه زیاتره ئې په مخه راغلي او څېړل سوي دي. بابول د ګوجر د بابر ځای نیسي. بادول د رهتور له بهادایل څخه څرګندونه کوي. بنګال د چوهان د بنکات سره سمون خوري. دلال د جت یوه قبیله ده. دودا د راجپوت مربوط یو بې قبیلې خېل دی. ګات د جت له ګاتوارا څخه نمایندګي کوي. هېلو او هوتی د جت هېلا او هودي تمثیلوي. جارو د رهتور جورا څرګندوي. ګېشکوری د جت د ګیش د قبیلې کوری دی. کورپټ د کور ځای نیولی دی چي څاروي روزونکې قبیله ده. (لشا) یا لشاري ښایي (لاسي) یا د (لاس) وګړي افاده کوي. سوهو دسوهور څرګندونکی دی چي په سوداګر پېشه راجپوت اړه لري.

درېشک بلوڅ په دې برخو کي یوه ډېره لرغونې قبیله ده چي د دیره غازي د راجانپور په علاقه کي اوسي او لاندي څانګي کښېباسي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ارب | اراهو | بسکال | بهاګ | ګمبری |
| ګاموک | ګوندفاز | ګوپانګ | ایسان | جاسک |
| کیرمان | کټه هل | مالو | منډو | مسید |

ACKU

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| مزار | مینګو | نوک | پهال | سامین |
| سرګنی |ساید | سازېب | شیخ | اونور |

له دغلي جملې څخه ارب دمخه څېړل سوی دی. اراهو ښايي د ګاهلوت اهاریا تمثیلوي. ګاموک د ګاموکا او ګامو د ګاموها سره لګېږي چي راجپوت دی. ګوندفاز او ګوپانګ (هندی) څاروي روزونکي قبیلې دي. یوه بله قبیله چي عموماً د بلوڅو په ټل کي شمېرله کېږي هغه د (ختران) په نامه ده، که څه هم دوی په خپله دې ته ترجیح ورکوي چي پښتانه وبلل سي.

ختران د دیره غازي لوېدیځ پلو ته په هغو غونډیو کي پراته دي چي شمال ته ئې لوئي پښتانه او جنوب ته ئې مري بلوڅ او لوېدیځ ته ئې د ځدرانو د غونډیو هغه لړۍ موقعیت لري چي ترشا ئې ترین افغان اوسي. دوی په یوه خاصه لهجه خبري کوي چي خترانکي نومېږي. دا لهجه چي له پښتو څخه بېخي بېله ده او له بلوچکي څخه هم څرګند توپیر لري خو یو زیات شمېر پنجابي او سندي کلمات پکښي استعمالېږي. ختران هم لکه بلوڅ غونډي خپلي څني اوږدې پرېږدي او له هغو سره په کړو وړو کي ورته دي خو د رنګ بڼې ئې تر هغو روښانه دي. دوی یو خپلواک ولس دی او په شمېر پنځه زره کورنۍ ګڼل کېږي. د دوی غټ ښار ګوټي ناهرکوت یا لغاري برخان دی.

د ختران څانګي دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| باهرهای | بلایت | بیبی | بوهر | چاچي |
| چاکر | دابی | داهیمه | داریوال | ګنجوره |
| حسن | هوسی | ایسا | ابسابلاتا | جاکره |
| جاهیا | جام | جوګی | کاسیم | کهېچي |
| لالک | لانجا | معروف | مات | مزار |

ACKU

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| موهیما | ناهر | پاتو | روتهار | سالار |
| سپمین | شامیر | سیداک | تایک | واګادیو |
| زاکری | اونور | | | |

له دغي جملې څخه باهرهای د سوداګر پیشه راجپوت بهائورهای څرګندونه کوي. بلایت د جت بالماین تمثیلوي. داهیمه هندی څاروي روزونکې قبیله او همدا راز یوه برهمني قبیله ده. ګنجوره ویل کېږي چي د ختران د قبیلې د سر هغه لوی نیکه دی چي په لومړي سر کي ئې د ترین په قبیله پوري اړه درلوده. (چاچي) ویل کېږي چي د ودای بلوڅ یو ښاخ دی. هوسي ښايي د اوسوال ځای نیولی وي چي سوداګر پیشه راجپوت دی. ایسابلاتا یو ترکیبي نوم دی چي د اساپ اولاتا له یو ځای کېدو څخه جوړ سوی دی. مات د برهمن له شري ●ت څخه نمایندګي کوي. ناهر د مغلي امپراتورانو په زمانه کي د ختران د قبیلې سرخېل وټاکه چي استوګنځای ئې په ناهر کوټ کي و. روتهار په خپله رهتور دی. تایک د پرامارا له تایکا څخه نمایندګي کوي. واګادیو د رهتور له ګوکادیوا څخه څرګندونه کوي. نور زیاتره نومونه په دمخه کي څېړل سوي دي.

د ختران شمال ته موسا یا موسا – خېل پراته دي چي یوه پښتني قبیله ده. د دوی تر شا بیا هم شمال ته شېراني اوسي چي دمخه ئې بیان تېر سوی دی او لوېدیځ ته ئې کاکړ پراته دي. موسا – خېل په شمېر شپېږ زره کورنۍ ګڼل سوي دي او د ځینو په عقیده دوی د کاکړو یو ښاخ ګڼل کېږي، که څه هم کاکړ ئې د قومي خپلوۍ په حساب په ځان نه ګڼوي. موسا – خېل پښتو وايي او ټوله سني مسلمانان دي خو د ولسواکو (دیموکراتو) پښتنو په پرتله دوی د فیوډالي حکومت په شکل کي بلوڅو ته ډېر ورته دي.

د موسا – خېل څانګي دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| باهر | بلېل | بازيل | همزه | حسن |
| کانو | لاهر | مغدود | ساليم | ښادي |
| اومر | او نور | | | |

په موسا - خېلو پوري د شمال خوا ته يوه بله پښتني قبيله د ايسوت يا سوت په نامه ده چي د رهتور يو خېل ګڼل کېږي. دوی په شمېر فقط درې سوه کورنۍ دي. دوی زياتره کوچيان دي او د ژوند ورشو ئې د ديره غازي لوېديځ ته د (کلاروه) غاښې دی. د ژمي پر مهال په سمڅو کي اوسي. دوی د جعفر پښتنو (د پراماراجيپرا) سره په ازدواجي کړۍ کي متحد سوي دي. د دوی له جملې ځينو کرايه کښان او کرونده ګر دي. د ايسوت څانګي دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ادو | چندو | خادی | خيدار | کوتی |
| مولا | نوه | پاينده | سادو | ستار |
| او نور | | | | |

د ايسوت جنوب ته د جعفر په نامه هغه پښتني قبيله پرته ده چي پورته ئې يادونه وسوه. دوی په شمېر تقريباً پنځه سوه کورنۍ ګڼل سوي دي او د دوی غټ ښار ګوټی (دروګ) نومېږي.

د جعفر څانګي دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| هيل | جاتل | جيرا | خيدار | موهره |
| پاتو | راجالي | راميد | روانی | اومر |
| ساده | سيلها | او نور | | |

هيل او جاتل دواړي دجت قبيلې دي. جيرا د سوداګر پېشه راجپوت جيران ثرګندوي. موهره هم د سوداګر پېشه راجپوت په موهور دلالت کوي. پاتو د راجپوت له پاتوريا څخه نمايندګي کوي. راجالي د هندي صحرا د راجپوت له راجوار يا راجر سره لګېږي. روانی د رېواري ځای

نیولی دی چې څاروي روزونکې قبیله ده. سیلها د ختري سینهاله یا د راجپوت سیلهاله تمثیلوي.

د ختران لوېدیځې خوا ته لوني پښتانه پراته دي. لوني د هغې لرغوني لاوانیا اوسني څرګندویان دي چې د لسمي او یوولسمي پېړیو په دوران کې ئې له خپلو ګاونډیانو (دامارا) یعنې اوسني (دومړ) سره یو ځای د کشمیر په تاریخ کې ډېر غټ نقش ادا کړی دی. لوني پښتانه ځکه په دې نامه بلل کېږي چې د همدغه واحد توکم له لوند بلوڅ څخه توپیر وسي. دوی چې په شمېر تقریباً یو زر کورنی ګڼل سوي دي د چوتیالي شمال ته د ترینانو په ملک کې اوسي. د دوی ژبه یوه کچه پښتو ده چې له بلوچکي سره ګډه ده.

د لوني څانګې دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| بابو | بنجی | دروک | کات | لادو |
| مادو | مال | سادو | ساګهو | سمند |
| شادی | شیمي | زنګېل | او نور | |

د ترین قبیله د سیبۍ او پښین په علاقو کې اوسي او د هغو پنځو قبیلو له جملې څخه یوه قبیله ده چې د سړبني افغان د شرخبون ښاخ تشکیلوي. نوري پاته څلور قبیلې شېراني، میانه، برېڅ او اورمړ دي. له دغې جملې څخه شیراني ښوول سوي دي او پاته به په روان بیان کې وڅېړل سي. ترین یو څه کرونده ګر او یو څه هم پوونده ګر دي. دوی درې ښاخه لري چې د سپین، تور او ابدال په نومو یادېږي. ابدال دراني قبیلې کښېباسي او بیان به ئې مخې ته راسي.

سپین ترین د تل چوتیالې په (ژوره) یا کنده کې اوسي او زیاتره ئې د کریکښې په کاروبار لګیا دي. دوی په شمېر شپږ زره کورنی ګڼل سوي دي او لاندې څانګې کښېباسي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ادو | لغجام | لساري | مارپا | اوبچی |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| پام | شادو | سلېمانلغ | وادر | یحیا |
| اونور | | | | |

تور ترین د پښین په ناوه کي اوسي چي شمال ته ئې اڅکزي، لوېدیځ ته ئې برېڅ او جنوب ته ئې د شال (کویټې) علاقه موقعیت لري خو د ختیځ په خوا کي د سپین ترین له خپلو قبیلو والو څخه د کاکړو د خاوري د یوې ټړانګي په وسیله بېل سوی دی. دوی په شمېر لس زره کورنۍ ګڼل سوي دي او لاندي څانګي کښېباسي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ابابکر | احمد | الي | بابو | بادهي |
| بادو | بتي | هارون | هدیه | حیدر |
| هیکل | اسمائیل | کانده | کوک | ملکیار |
| مالمونی | مندی | منګل | نېکبختي | نور |
| سیکهي | تراه | یعقوب | اونور | |

سپین ترین معنا (د لوړي درجې ترین) او تور ترین معنا (د ټیټي درجې ترین) دا د سپین او تور تشریحي نومونه ښایي هغو سیاسي ډلګیو ته اشاره وي چي په دمخه بیان کي پر ورغږېدو. خو په خپله د ترین نوم ښکاري چي د برهمن له تري سره یو شی وي. ابابکر چي څو ځله وړاندي په مخه راغلی دی ښایي د سترابو له خوا یاد سوی هغه لرغونی ابوېوی تمثیلوي چي یوه سکیتي قبیله ده.

برېڅي یا بهرېچي د راجپوت د اګنیکولا د چوهان مربوط بهرائیچه دي چي د پښین او د سیستان د بیدیا تر منځ د ښوراوک په سینه کي اوسي. دوی په شمېر څلور زره کورنۍ ګڼل سوي دي چي په کلابست، رودبار، پولالک او دهیلمند لوېدیځ پلو ته په ځینو نورو ځایونو کي وړې مېني لري. دوی زیاتره کوچي دي خو ډېری ئې د مزرو او غزو له چیخلو څخه په اودلو کوډلو کي ژوند کوي چي سربېره د ختو استر ور کول سوی

ACKU

وي او کډل ئې بولي. دغه کوډلي اکثره د لوړي د هغه رود د بهير په اوږدو کي موقعیت لري چي د دوی د ملک له منځه تېرېږي او په خپل همدې مسير کي د ترنک سره يو ځاى کېږي.

د بېرېښو څانګي دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ابو | الي | بادل | بارک | بسا |
| باسوک | چوپان | داؤد | حسېن | محلی |
| مندی | مردان | شکر | شېخ | زاکو |
| او نور | | | | |

بسا او باسوک سره يو شي دي او د باسي په نامه د زرعي مريي (سرف) قبيله تمثيلوي چي پخوا ئې يادونه راغلې ده. چوپان د همدغه نامه د هزاره له خېل څخه راپيدا سوی دی. محلي ښايي له مهايلي څخه نمايندګي کوي چي ځاروي روزونکې قبيله ده.

د بېرېښو جنوب ته د نوشکي بلوڅ پراته دي.

بلوڅ زه د چوهان د بلائيچه په څېر پېژنم. دوی به بيا هغه وخت په مخه راسي چي کله موږ د اوسني بلوچستان د اهاليو په باب کي خبري کوو.

د ميانه يا (مى يانه) په نامه قبيله اوس د يوه ځانته ارضي قوم په څېر په افغانستان کي چيري نه مونده کېږي، بلکي د ملک د ختيځ سرحد په زياترو برخو باندي د غټو پښتنني قبيلو لکه شيرانيو، بنګښو او نورو د څانګو تر منځ او هم د پوونده سوداګرو په جمله کي په پاشلې توګه تيت دي. (شېراني مى ياني) د ګومل په ناوه کي اوسي چي د دوی څانګي دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| بادر | فيروز | اسمائيل | لغمان | مايار |
| ميرګل | نارو | سپن | شری | او نور |

د بل (مي ياني) څانګې دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ابيس | غرشين | غوراني | جعفر | جوت |
| کېکي | ختران | لاتهـ | لواني | ملاهي |
| سلاه | سامره | سرګهي | شيکون | سوت |
| سور | توغ | زېری | زورا | |

له دغو نومو څخه (مي ياني) ښايي هغه لرغوني ميونوی تمثيلوي چې بيا وروسته (ليدي) وبلل سوه او د هيرودوت له خوا د (کرويسوس) د رعيتو په جمله کې ياد سوي دي. کرويسوس د هغې (ليديا) پاچا و چې داريوش ونيوله. لاتهـ يا لاس ښايي د سيستان د (ليس) يا (ليث) ځای نيولی وي چې د هغوشاهي کورنۍ تر طاهريانو وروسته هلته وغوړېده. سامره د پرامارا سومره دي. زېری او زورا ښايي سره يو شی وي او د غور له زوري څخه نمايندګي کوي.

اورمړ يا (آئورمر) (د پرامارا اومرا) په دې نامه ځکه ياد سوی دی چې د چراغ – کشان له فرقې سره ئې اړه درلوده. دوی اوس د يوې بېلې ځانګړي قبيلې په څېر په افغانستان کې نه مونده کېږي. د دغو بدعتيانو اصلي مرکزونه د وزيرو د ملک په کانيګورم کې واقع دي چې ويل کېږي هلته تر اوسه لا هم د اورمړو ځيني کورنۍ موجودي دي. د دوی له څانګو څخه يو شمېر دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| خېکني | خرمجانی | ملاتانی | بېکنی | جيرانی |

د ټولو غونډ شمېر د څلورو سوو کورنيو په شاوخوا کې ګڼل سوی دی. نور پاته اورمړ د افغانستان د همدغې پولې په شاوخوا او د هندوستان سره په پوري علاقو کې تيت دي. ځيني ئې د لوګر د برکيو په منځ کې او نور ئې بيا په پېښور کې مونده کېږي چې هلته يو کلی د اورمړ په نامه هم لري. دوی يو آرام او زيارکښ ولس دی چې زياتره ئې په کرهڼه او د سوداګرۍ په کاروبار لګيا دي.

د اورمړ څانګې دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| بوکی | داهری | دالچه | دوه توی | هران |
| جالویان | کانیګروم | خلیل | خیزران | کونیخ |
| ملانی | منتوی | مشکور | ماشوی | رانګ |
| سایدانی | سنګتوی | سین | شکتول | زیک |
| اونور | | | | |

زیاتره دغه لفظونه داسې ښکاري چې د ځایونو نومونه وي. مثلاً لکه هغه چې په آخره کې ئې (توی) راغلی وي چې دا یو پښتون اسم دی او (د اوبو د وړې نالې) معنا ورکوي. یا لکه کانیګروم او نور.

سربېره پر هغو یادو سوو قبیلو چې د لرغوني دادیکای په ملک کې مونده کېږي د مري او بوګتي بلوڅو قبیلې هم په دې حوزره کې پرتې دي.

مري په دې برخه کې یوه پراخه غوړېدلې قبیله ده او هم دا شان د سکر او خیرپور شاوخوا په کوز سند کې ډېره ګڼه پرته ده. خو د دې قبیلې هغه برخه چې زموږ ورسره سروکار دی په هغو غونډیو کې اوسي چې ختیځ او شمال ته د ختران، لوني او ترین په اړخ کې (کاچي) احاطه کړې دی او جنوب ته ئې بوګتی پراته دي. د دوی اصلي ځای (کاهن) دی چې چارچاپېره تر سیبي او شام او د پهیلوار تر ډاګونو پورې غزېدلی دی. دوی کوچي او داړه وهونکی ولس دی چې کلي نه لري خو په وړه کرهڼه لګیا او ځینې کوچني مورچلي ځایونه لري. د دوی څانګې دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| آهـ | بهاول | بیجار | قلندر | چلګاری |
| غزنی | ګوسر | ایسان | جنګی | کندار |
| کهونګری | کیوي | لانج | لوهار | مزار |
| موهند | پاوادی | سالار | سرور | شاهیجه |
| شېر | سومر | اونور | | |

ACKU

له دغو نومو څخه (آه) ښايي يوه ناګائي قبيله تمثيلوي؟ بهاول د چوهان له بهاور څخه او بيجار د راجپوت له بيجهړيا څخه نمايندګي کوي. ګوسر د سوداګر پېشه راجپوت د ګاسورا نبسه ده.

کهونګري د کهنګر ځای نيولی دی چي هندي بومي قبيله ده. پاوادي پر پاوريا دلالت کوي چي سندربوله قبيله ده. پاته نور په آساني سره پېژندل کېدای سي.

بوګتی قبيله په هغو غونډيو کي اوسي چي د مري بلوڅ جنوب او د راجانپور لوېديځ ته پرتې دي. د دوی څانګي دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| باګی | چندر | دامکی | دريګ | فيروز |
| ګور | جعفر | جاکر | جاسک | کاهېجا |
| کالپر | کامک | ماهل | مندو | ميسوري |
| ناتهه | نوک | نوري | پجالور | پهونګ |
| راما | روهل | سېخر | شالو | شمبی |
| سودا | سوندر | سورکی | اونور | |

له دغو نومو څخه بوګتی ښايي بهګتا تمثيلوي چي هندي څاروي روزونکې قبيله ده. چندر د برهمن له چندرا يا د چوهان له چندا څخه نمايندګي کوي. کالپر د پرامارا له کالپوسر څخه راما د رهتور مربوط رامديوا تمثيلوي. روهل د روهيله ځای نيولی دی چي د (روه) د بومي دپاره راځي. شالو د شان يا کويتې د بومي دپاره. بوګتی هم لکه مري غوندي کوچي او داړي وهونکي وګړي دي خو په دې وروستيو کلونو کي له زياترو نورو خپلواکو پښتني قبيلو سره چي پر برتانوي پوله پراته دي خورا ډېر تر نظم لاندي راغلي او په کرهڼه ئې لاس پوري کړی دی.

دغه بيان د هغو قبيلو په باره کي زموږ څېړنه بشپړېدو ته رسوي چي دوی په هغه ملک کي اوسېږي چي هيرودوت د داديکای نامه ته منسوب کړي دي. همدا شان د هغو څلورو قومونو په باب زموږ کتنه تکميلوي چي

د نوموړي تاريخ پوه له خوا ئې د داريوش هيستاسپيس د اوومي ستراپي په تر کيب کي نومونه اخيستل سوي دي. **اتمه، نهمه او لسمه ستراپي** له هغې سيمې څخه دباندې ده چې د اريانا په حوزه کې راځي او زموږ پلټنه ورپورې محدوده ده. خو يوولسمه ستراپي بيا زموږ د څېړني په ساحه کي دننه ده.

ACKU

# یوولسمهستراپي

یوولسمه ستراپي، د هیرودوت په خوله د کاسپیوی، پاوسیکای، پانتیماتوی او داریتای له قومو څخه جوړه سوې ده. له دغي جملې څخه لومړی یاد سوی نوم ښایي د کسیاپا بودا له هغي قبیلې څخه ځرګندونه کوي چي د نامه په اقتفاء ئې د کشمیر ملک په سانسکریت کي (کسیاپمار) یا (کسیاپګار) بلل کېدی او په همدې صورت کي نو زموږ د پلټني تر ساحې دباندي دی. پاته درې قومونه چي - که لږ تر لږه چیري زما پېژندنه ټیک وي - یو په بل پوري پراته وه او له هیلمنده څخه رانیولې بیا تر اباسین پوري د پروپامیسس په ساحه کي له یوه سره تر بله غزېدلې وه. دغه غرنی تړانګه چي د باکتریانا د جنوبي پولو په اوږدو کي ئې موقعیت درلودی په اوس وخت کي د زابلستان یا غزني، د کابلستان یا کمبوجیا (اوسني کافرستان) جګي غرنۍ سیمي او هم د داردستان یا د (بولور) د کوهستان غرنۍ منطقه کښېباسي. دا ټوله سیمه له یوې خوا د اوومي ستراپۍ د شمالي پولو چي همدا اوس وښوول سوه او له بلي خوا د دوولسمي ستراپۍ د جنوبي پولو چي وروسته به وښوول سي، په دا منځ کي په ایربه توګه پرته ده. په هغه ترتیب چي دغه درې قومونه له لوېدیځ څخه تر ختیځ پوري پراته وه لومړی ئې پانتیماتوی، په هغه پسې پاوسیکوی او بیا نو داریتای راځي.

تر هغه ځایه چي ما ته رامعلومېدای سي د پانتیماتوی په دغه خپل نامه په افغانستان کي کوم څوک نه سي موندل کېدای. دا نوم ښایي یو

یونانی ترکیب وي چي (ټول متي) افاده کوي یعني هغه قبیله چي له افغاني شجرې سره سم، لکه پخوا چي ئې بیان ټېر سوی دئ، د شیخ بېټ د لور (متو) ټوله اولاده کښېباسي چي٠ په یو ځایي توګه (متي) نومېږي او غټې ښاخونه ئې د غلزي او لودي په نومو دي. له بلي خوا بیا ښایي د هیرودوت پانتیماتوی د (پاندومتي) یا (پاندو متي) یوناني شکل وي چي د هغو (پرشیائي متي) په مقابل کي یاد سوي وي چي د اتلسمې ستراپۍ ماتیینوي او په سر سره هغه ولس دی چې سترابو ( ۸ .xi جغرافیه) د ماتیانوی په څېر یاد کړي دي او د (پراخواتهروس) تر غرو لاندي په (میدیانو) پوري پراته دي. یعني د پرشیا په هغه برخه کي اوسي چي د البرز د لړۍ جنوب ته موقعیت لري. سترابو د خپل اثر په یوه بل ځای .ii (۵ کي (ساورومتای) د هغو قومونو په ټل کي بیانوي چي د کسپین او ایوکسین د سمندرګیو تر منځ د قفقاز تر لیرو حدودو پوري پراته دي. د متي ولس یوه بېله څانګه هم سته چي (سورمتي) یا (دلمر د ذات متي) نومېږي خو د ذات دا خصوصیت ئې د افغانستان د متي قوم په مورد کي سر نه سي خوړای ځکه لکه دمخه چي یې بیان راغلی دی ، دوی د شیخ بېټ بېټني اولاده وه چي په افغانستان کي د راجپوت د سپوږمۍ د ذات یا شاهانه سکیتیانو د سر ممثل نیکه ګڼل کېږي. په افغانستان کي د راجپوت مربوط د سپوږمۍ ذات، د شیخ بېټ یعني د بهتي د سرخېل د اولادې په څېر ټوله د (پانډو) له نسب څخه و او د ډهلي د پال په نامه د شاهي کورنۍ پانډو واکمنانو چي د راجپوت د توآر، تواري یا توري له قبیلې څخه وه - له نورو راجپوتي پاچهانو سره یو ځای د ډېرو پېړیو دپاره په افغانستان کي حکومت کاوه، څو چي د دوی قدرت بالاخره د غزني د سلطان محمود له خوا څخه د یوولسمي پېړۍ د سر په کلونو کي مات سو.

د افغانستان متي د غلجي او لودي دوو غټو ښاخونو ته وېشل کېږي. غلجي ګومان کېږي تر جاخارتیس پوري خوا له یوې ترکي قبیلې څخه

راوتلی وي چي خليچي (توره وهونكي) نومېږي. خو د دې قبيلې د جوړښت له مخې چي قضاوت وسي نو د غلجي نوم په زيات احتمال د هندوستان او راجواري د راجپوتي كيروچ يو مسخه سوی شكل ښكاري چي د اباسين په اوږدو كي د ګورايش، ګوريچ، كورېش، ګريچ، كوروش او داسي نورو سره تلفظ كېږي. ځكه د دوی د خپلو نومونه تر ډېره ځايه يوې راجپوتي او هندي منبع ته راجع كېدای سي او هم دا قبيله په پښتو خبري كوي او پښتونولي (د قوانينو او تعاملاتو پښتني كوډ) پالي. همدا شان د دې پر ځای چي د كوم روايت له مخې يوې تر كي مورينې ته ځان منسوب كړی، دوی خپل نسب د غور له يو پاچازاده شخه رانيسي چي د يو بېټني سرخېل له لور شخه ئې د اولادونو لړی منځ ته راغله. هغه بېټني سرخېل د غزني شاوخوا په غونډيو كي د مځكي نيوكه درلوده. دا د قضيې يوه توجيه ده. خو بله توجيه ئې بيا داسي كېږي چي د بېټني او غلجي نومونه ښايي د كوچنی آسيا هغه قبيلې تمثيلوي – چي بيتهايني او كيليكي نومېدی – او دوی د ليديا د كرويسوس پاچا له رعيتو شخه وه كله چي نومو‌ړی د پرشيا د پاچا داريوش هيستاپسېس په وسيله له پاچهی شخه ولوېدی نو ښايي چي داريوش همدغه قبيلې او هم د دې سيمي نوري قبيلې د خپلي امپراتوری ختيځو ولاياتو ته را انتقال كړي وي او په دې نوي ځای كي لومړی قبيله ئې ښايي د پليني د بتهني له خوا شخه تمثيلېږي. خبره چي هر راز وي خو غلجي خپلونه لكه شنګه چي موږ ليدلي دي په نامه كي زياتره هندي غونډي معلومېږي.

د افغانستان متي ښكاري چي په لرغونې زمانه كي د ارغنداب ناوه او د كندهار شمالي خوا ته د هيلمند ختيځه غاړه نيولې وه او له دې ځايه شخه د ختيځ لوري ته د غزني د غرنيو سيمو له لاري د سليمان د لړی تر لمني پوري غزېدلې وه او بيا نو مخ په وړاندي شمالي پلو ته د سفيد كوه د لوېديځو غرنيو سيمو له لاري د جلال آباد تر پولو او د كابلستان د كمبوجيا

تر علاقې پورې رسېدلې وه. د دغې تړانګې لوېديځه برخه په پخوا وختو کې د متې ولس د لودي ځانګې نيولې وه. خو دوی ډېره زمانه دمخه له دې ملک څخه تللي او په هندوستان، په تېره ئې ييا اصلاً په سرهند کې اړولي وه. اما د تړانګې ختيځه برخه چې د کلات غلزي له نواحيو څخه تر جلال اباد پورې رسېږي، تر اوسه لا هم د غلزيو له خوا څخه نيول سوې ده.

تر پانتيماتوی پسې هغه څوک راځي چې هيرودوت پاوسيکای بللي دي. دغه نوم ښايي د هندي ژبې (پشي - کي) تمثيلوي چې د (پشي مربوط) معنا افاده کوي. دوی په ښکاره هم هغه پاسياني (چې د هندي نامه د پارسي د جمع شکل دی او معنا ئې [پاسي خېل] کېږي) غوندي ولس دی چې ستراېو د هغو سکيتي قبيلو له ټله څخه يو قوم بللی دی چې د يونانيانو لاس ئې د باکتريانا له واکمنۍ څخه وکښې. ستراېو وايي (۸ .xi جغرافيه) " زياتي مشهوري قبيلې چې باکتريانا ئې ديونانيانو له لاسه څخه وايسته هغه آريوی، پاسيانوی، توخاريوی او ساکاراولوی نومېدې. دوی له هغه ملک څخه راغلې چې ساکای او سغديانوی ته مخامخ د جاخارتيس تر شا واقع او همدارنګه د ساکای له خوا څخه نيول سوی و".

آريوی به ښايي د هغې لرغوني آريا (اوسني هرات) وګړي وي چې د باکتريا (اوسني بلخ) لوېديځ ته ئې موقعيت درلودی او دا وګړي د يونانيانو تر رارسېدو پخوا لا په همدې ملک کې اوسېدله. توخاريوی به ښايي د منځنيو پېړيو د تخارستان وګړي وي چې د باکتريا شمال او شمال - ختيځ ته پروت و او دې ولايت د باکتريا ختئځه خوا او د سغديا ورځرمه برخه شاملوله او په ترکيب کې ئې د غونډيو هغه ټوله ملک راتلی چې د آمو د سرچينو په ساحه کې واقع و. دا ولس د توغياني ترکو تر نامه لاندې د اباسين ټولې کوزې ناوې ته راخپور سو. د دوی خاص نوم ښکاري چې د مفرد په شکل (توغ) و خو توغياني او توخاري ئې د جمع شکلونه دي چې دا يو ئې پارسي او هغه بل ئې بلوڅي ګڼل کېږي.

د (آري) د جمع شاوندي زياتره د بلوڅي قبيلو په نومو کي د پارسي د (آني) په عوض کي ډېر استعمالېږي. د ساکاراولوی په باب ځيني دا ګومان کوي چي د اوسني ساريکولي له خوا څخه تمثيلېږي خو که ئې دا نوم د (ساکاراولوی) پر ځای د (ساکاتاوروی) په بڼه ولوستل سي نو بيا ئې د سمي پېژندني يوه غوره توجيه لاس ته راتلای سي. ځکه په دې صورت کي نو بيا د باکتريا ختيځ ته د (کاتاور) يا (کاتور) هغه ستر او پياوړی قوم وينو چي په کابل او کشمير کي ئې همزمانه شاهي کورنياني تأسيس کړي او هغه په افغانستان کي تر اوسه پوري د چترال او کاشکار د شاه – کاتور د شاهزادګانو په وسيله تمثيلېږي.

بالاخره پاسياني به ښايي هغه اوسنی (پشه ئي) وي چي د باکتريا جنوب ته له باميان څخه نيولې د کافرستان له لاري د کونړ تر ناوې پوري د غونډيو په تړانګه کي پراته دي. د دې ولس خاص نوم د مفرد په شکل (پاس) يا (پاش) دی. دغه نوم په همدې شکل په (راجاتارينګيني) کي د يوه نظامي مشر دپاره د لقب په څېر د (پاسيکاتهاکور) يعني (د پاسي سرخېل) په نامه کي راغلی دی" (viii,si. ۱۴۸۱ کتاب) دا نوم په پښتو کي پاښ (پاخ) او په بلوچکي کي پغ، پوغ يا پوړ دی. (پشه ئي) يا (پشای) يا (پخائي) د پښتو د نسبتي کلمې د جمع شکلونه دي چي معنا ئې کېږي (پاش يا پاخ ته منسوب) پشه ئي تر اوسه لا هم په دغه خپل نامه د باميان او لغمان په علاقو کي او همدارنګه د کافرستان په جنوبي ناوو کي مونده کېږي. پشه ئي که څه هم اوس مسلمانان دي خو بيا هم له هغه ذاته څخه ګڼل کېږي لکه د دوی نه مسلمانان سوي ګاونډيان چي د هندوکش د جنوبي ډډو په آزاد ملک کي اوسي او د شاوخوا مسلمانو اقوامو له خوا څخه دوی غونډ د (کافر) يا (بېدينه) په نامه بلل کېږي او ملک ته ئې کافرستان وايي. زما په عقيده دا خبره ټيک نه ګڼم چي وايي دغه د سپکاوي کلمات په خپله هغو خلکو غوره کړي دي چي د دوی د ځانو او د ملک دپاره ئې د

ملي نامه په توګه تر اوسه لا هم په کار اچول کېږي. ځکه دا نومونه چې له يوې خوا مناسب او پر يوه حال ثابت نه دي خو له بلې خوا بيا په پخوا زمانه کې ئې د اطلاق حوزه ډېره پراخه وه او د نن ورځې په پرتله ئې خورا ډېر زيات رنګارنګ توکمونه افاده کوله. څلور يا پنځه پېړۍ پخوا ټوله بدخشان او د آمو د لوړو سرچينو په ساحه کې ورپورې ولايتونه د (بولر) د ګرده ملک او بالتيستان سره يو مخيزه د کافرستان په حوزه کې شامل وه او اهالي ئې د کافر په نامه يادېدله. خو له هغه وخته راهيسې د اسلام د پرله پسې پرمختګه سره دغه ټولي په خلګو پښې سيمې چې په آسانه څوک نه سواى ورتلاى د دين کړى ته دننه راجذب سوي نو ځکه د کافر او کافرستان نومونه نن ورځ يوازې په هغو خلکو او ملک پورې محدود سوي دي چې د هندوکش پر مابيني لړۍ او جنوبي ډډو باندي په هغه منځ کې موقعيت لري چې يوې خوا ته ئې د پنجشېر ناوې او بلې خوا ته ئې د کونړ د هغو نالو ناوې پرتې دي چې د کابل سيند ته ورتوېږي. د دغو برخو پشه يان په يوه داسې لهجه خبري کوي چې د هغو لهجو سره د ريښې خپلوي لري چې د کافرو قبيلې ورباندي ږغېږي او دوى ټولي تر هغه ځايه چې پېژندل سوي دي په روښانه توګه د سانسکريت منشأ لري. معلومېږي چې پشه يان پښ لرغوني زمانه کې يو خورا ګڼ شمېره، پراخ غوړېدلى او د نفوذ تښتن يو ولس و. داسې نه و لکه اوس چې د يوې مبهمې غوندي قبيلې له خوا څخه تمثيلېږي او په همدې وجه ئې د محدوديت فکر کېږي. د ګومان له مخې پشه يانو پخوا زمانه يو شمېر هغه د دوى شاوخوا قبيلې په ځان کې شاملولې چې ژبه ئې ورسره ورته وه او يا ئې البته قومي رګې ورسره درلودى، خو اوس هغوى په بېلابېلو نومونو پېژندل کېږي لکه سافي، لغماني، ديهګاني، دره نوري او داسې نور.

دا کافر نو لکه څنګه چې دوى په دغه نامه يادېږي هم اوس او هم د زياتو تېرو پېړيو دپاره د خپلو غرنيو ګوښو په هغو ځايو کې چې په آساني

څوک نه سي ورتلای، په داسي بشپړه انزوا کي اوسېدلي او اوسي او په داسي بشپړه توګه ئې له دباندي نړۍ سره تماسونه پرې دي چي د دوی په باره کي ټیک معلومات چنداني لاس ته نه دي راغلي. د دوی له جملې څخه هغه څوک چي د لغمان سره راشه درشه لري خپل ځانونه کوریش، ګوریش، کورېش، یا کوروش بولي ځکه دغه نوم په بېلابېل ډول تلفظ کېږي او دوی د غونډیو هغه تړانګه نیولې ده چي په خپله د پنجشېر تر ناوې رسېږي. دغو تماسونو، نو یو شمېر هغه سرحدي قبیلې چي اسلام ته رااوښتي دي پر دې خبره راوستلي دي چي ځانونه د عربو له نسبه او د قریشو د هغي نجیبي او مشهوري قبیلې د نیکه ګانو له سلسلې څخه وښیي چي د اسلام پیغمبر اړه ورپوري لري. له دې خبري سره ارومرو دا پوښتنه منځته راځي چي په دغه صورت کي نو ولې او څرنګه ددغسې مشهورو عربي نیکه ګانو همدا اولاده له یوه داسې محترمانه پیونده څخه د کافرو سپک او ټیټ حالت ته راغلی دی. دا ټکی روښانه دی چي د کافرو له خوا د قریش په نسب پوري د ځان د تړلو ادعاء صرف د اسلامي ویاړ یوه خبره ده او دوی په دغه وسیله غواړي خپل واقعي نسب پټ کړي چي له هغه راجپوتي کیروچ سره اړه لري چي د دې برخو یوه ډېره لرغونې قبیله وه او د اباسین په ناوه کي له یوه سره تر بله سره په پراخه توګه خپره وه، لکه څنګه چي موږ د دیره غازي د ګورچاني یا ګوریشاني په بڼه او د دیره اسماعیل او بنو په علاقو کي بیا د کورېش په څېر ولیدله. احتمال لري چي کیروچ په لرغونې زمانه کي د افغانستان یوه ډېره مهمه قبیله وه. د کوروش قبیله چي د پرشیا پاچا قیروس په هغي پوري اړه لري (او ښایي چي عربي قریش هم د هغې یوه څانګه وي) ښایي تر راجپوتي الحاق پخوا له هم هغي قبیلې سره یو شی وي چي د کېروچ تر وروستي نامه لاندي د راجپوت له قومیت سره یو ځای سوه، په راجپوتي قومیت پوري الحاق ئې په افغانستان کي د هغه اقدام په نتیجه کي ټینګ سو، چي دا ملک د

پروپامیسس په شمول، لکه څنګه چي ئې دمخه بیان راغلی دی، د سیلوکس نیکاتور له خوا څخه سندراکوټس (چندراګوپتا موریا، دا لقب ئې یو مطلب افاده کوي) ته وروسپارل سو.

د کافرو په منځ کي کي د راجپوت تر کیروچ علاوه نوري یو شمېر راجپوتي او هندي قبیلې هم د دوی په خېلونو کي سته چي نومونه ئې موږ ته معلوم دي. د هغو کافرو د غټو او مهمو ښاخو له جملې څخه یو شمېر قبیلې چي د چترال او کاشکار سره راشه درشه لرئ، د کهو، کلاشه او ارانیا په نومو یادېږي. دغه درې سره نومونه بې له کومه تغیره د پوره مشهوره راجپوتي قبیلو نومونه دي. کهو د هغه کچواهه یو خېل دی چي ډېره ستره یوه قبیله وه او ښکاري چي په پخوا زمانه کي ئې له دریابه څخه نیولی تر غرونو پوري د ختیځ افغانستان ټوله سیمه له یوه سره تر بله نیولې وه او خپل نوم ئې هغو ملکونو ته ورکړی دی چي د دوی د نیوکي په یوه او بل سر کي پراته دي، لکه په یوه خوا کي کچ کنداوه او د اوسني بلوچستان کچ مکران خو په بله خوا کي بیا هندوکش او کاشکار. کلاشه یا کلاچه د چالوک یا سولانکي مربوط یو راجپوتي خېل دی. ارانیا یا ارنیا همدارنګه (د رهتور یا کچواهه مربوط؟) راجپوت دی او ښایي د (نانوس[1]) د (دیوناسیاکس[2])، (اریسني) تمثیلوي چي په دغه محل کي (لکه څنګه چي [ترویر د خپل اثر [راجاتارینګیني] په ۳۰۷ - ۳۰۸ مخونو کي څرګندوي) دوی له کهوتهي (کهوتهي پښتنو یا د نواګي له کوته) سره له زائوري (د غور له زوري) سره، له جوري (جورا رهتور یا یارو پښتنو) سره او له کسپیري (د کشمیر له کاشوري) سره جوړه سوي دي. (اراثینوی) همدارنګه د (ساموس[3]) د وګړو له جملې څخه (دینېس[4]) نومي په

---

[1] Nonnus

[2] Dionysiacs

[3] Samos

[4] Denis

(بساریکا[۵]) کي له (کاسپېري) او (کوسای) (یعني کاشوري او خاسه) سره یو ځای یاد کړي دي چي د همدې مؤلف په خوله د کاسپېریا (کاشور یا کشمیر) اصلي وګړي وه. یوه بله کافره قبیله چي راجپوتي نوم لري هغه (نورګال) یا (دره نوري) ده چي د نور یا نورکا ځای ئې نیولی دی او دا په لوېدیځ افغانستان په تېره بیا په سیستان او د هرات په شاوخوا کي یوه خورا پراخه تیت سوې قبیله ده. د کافرو د هندي خپلوی اړېکي د دوی د قبیلو او څانګو په لاندي لیست کي په یوه نظر لیده کېږي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| امیشي | ارنیا | اسکین | اشپین | اتېر |
| آیرت | بشګالی | باری | بېره ګالي | چاناک |
| چانېش | چیمي | چونیا | دانګاریک | دېبا |
| دېمیش | دینګ | دوهتک | ګادو | ګمبیر |
| ګواچي | ګوشته | ګومی | جامج | جامکا |
| کاهراه | کایګل | کلاشه | کلتار | کاما |
| کاموج | کاموز | کامپر | کامتوز | کاستوز |
| کټار | کټی | کایاتهه | خاچین | خالم |
| مندیګل | مندول | منچاشي | میل | نورا |
| پاینتار | پشه ګار | پاندو | پاروني | پېت |
| پیمیچ | پونوز | رانا | سایګل | سالار |
| سماجیل | سانو | شونا | سو کوئې | سونیندېش |
| تپه کال | تاري | وادیهو | وائې | وائېګل |
| وامه | وېلی | وائې | او نور | |

د ګل، ګالي او کال شاوندي چي د لوړو نومو په آخر کي لیده کېږي د هندي ژبي له (کولا) او د پښتو له (خېل) سره سمون خوري. دغه شاوندي

---

[۵] Bassarica

بې له کومه تغیره کتې مټ په همدغه شکل د بلوچستان په ځینو قبیلو کي همدارنګه مونده کېږي. دغه شاوندی د (خېل)، (قبیلې) یا (کورنۍ) او (ټولی) معنا ورکوي. له دغو پورتنیو څانګو څخه ځینو ئې اسلام راوړی دی او د جلال آباد او د کونړ د ناوو په خواوو کي د کابل د حکومت رعیت دی خو د چترال د ناوې په خوا کي بیاد کاشکار غټان خپلواک او یا په اوس وخت کي باج ورکوونکي دي. په هر حال د دوی غټه برخه آزاده پاته ده او خپل لرغوني ادیان، دودونه او ژبي ئې تر اوسه خوندي ساتلي دي. پخوا زمانه د کاشکار او کونړ ناوې ټوله کافرو نیولې وې او ختیځ پلو ته د یاسین او پنجکوړې تر ورپوري علاقو پوري غزېدلې وه. یعني د (دارادا) تر ملک پوري رسېدلې وه چي د هغه له بومي وګړو سره داسي ښکاري چي دوی نسبي اشتراک لري. خو اوس دوی - یعني د کونړ او کاشکار اهالي - ټوله مسلمانان دي، چي واکمن طبقات ئې د سني مذهب له فرقې څخه او تابعان او بندګان ئې د شیعه له فرقې څخه دي. پر دغو دوو اسلامي فرقو سربېره هلته یوه بله بدعتي فرقه هم سته چي (مولای) نومېږي. دا کلمه د (دي ګوئیني) له بیانه سره سم د عربي ژبې د ملاحده = (بدعتیان) د کلمې چینایي شکل ګڼل کېږئ. ملاحده هغه نوم دی چي (اسماعیلیه ؤ) ته رکول سوی دی او دوی په اروپا کي د (حشیشیانو) د فرقې په نامه پېژندل کېږي. (مولای) د هندوکش شمالي پلو ته د آمو په پاسنیو ولایاتو کي ډېر زیات پراته دي خود کاشکار په ناوه کي دوی زیاتره د (لودخو) په ناوه پوري محدود دي چي هلته ارنیا او خاچین کافر اوسي او دوی دواړه یو ځای د (کهو) په نامه دي او ژبه ئې کهووار یا کهاجونه (خاچینه) نومېږي.

د کافرو د خېلونو او څانګو په پاسني لیست کي زیات شمېر هغه راز دي چي سوچه راجپوتي نومونه لري. امیشي احتمال لري له امشت څخه نمایندګي کوي چي د کایستهه خېل دی. اسکین د یاسکون (لرغوني اساکاني) یا د یاسین او ګلګیت د یاشکون ځای نیولی دی. باري د شمالي

هند د يوې برهمني قبيلې نوم دی، خو دلته يوه مريي طبقه تشکيلوي چي کافر د کوم ارزښت په سترګه نه ورته ګوري. ويل کېږي چي باري په حقيقت کي د نورو کافرو له جملې څخه يو بېل توکم دی چي په دې وجه ئې تر مرئيتوب لاندي راوستلي او زياتره ئې پر هغو مسلمانانو باندي پلوري چي د مريانو په سوداګري لګيا دي. د بشګالي له جملې څخه يوه برخه ئې اسلام ته را اوښتي دي. د دوی ښځي هغه شان ښکروري خولۍ پر سر کوي لکه د کاشغر د لرغوني جاتا وګړو چي په خاصه توګه پر سر کولې. د دې قبيلې اصلي نوم (بش) يا (پش) دی چي د هيرودوت پاوسيکای، د سترابو پاسياتوی او د افغانانو پشه ئي تمثيلوي. بېره – ګالي د ختري له بېري څخه نمايندګي کوي. چاناک، چانېش او چونيا ښايي د چانن او چوريا ځای نيولی دی چي هندي څاروي روزونکي خېلونه دي. چيمي يا چايمي د ګوجر چماين څرګندوي. دانګاريګ يوه هندي څاروي روزونکې قبيله ده. دېبا پرامارا راجپوت دی. دېميش د برهمن دما تمثيلوي؟ ګادو د ختري له ګادي يا د څاروي روزونکي له ګادي څخه نمايندګي کوي. ګومي د راجپوت ګامو يا ګاموها څرګندوي. جامج او جامکا د جام ځای نيسي چي د راجپوت د جارېجا د شوما دپاره اسلامي بديل دی.

کاهراه يا کاهاراه د پرامارا د کاهوريا، يا د برهمن د کاهاريا ځای نيولی دی. کاما، کاموج، يا کاموز، کامپر او کامتوز ټوله د بشګالي خېلونه دي. کاموز او کامتوز په ترتيب سره پاس او کوز کاما دي. د کاما علاقه د لغمان د پشه يانو اساسي مرکز دی او يا پخوا ئې مرکز و. تر دوی وړاندي ښايي دغه ځای غالباً د لرغوني کامبوه مرکز و چي د هغو د نامه په اقتفاء کمبوجيا بلل کېدی. کټار يا کاتور د هم هغه کاتوران يا کاتورمان نومي ولس سره يو شی دی چي يو ترکي شاهي کورنۍ ئې تاسيس کړه او د هغې دوو ښاخونو په يوه وخت کي د پنځمي پېړۍ له پيله څخه د نهمي پېړۍ تر

وروستی برخي پوري پر کابل او پېښور باندي حکومت کاوه. خو کله چي ئې د خپل قدرت او خاوري زیاته برخه د ډهلي د پاچهانو په مقابل کي چي د راجپوت د (توآر) له قومه څخه وه، له لاسه ور کړه نو بالاخره هم د هغو او هم د غزنویانو په وسیله نسکوره سوه. د کاتور یوئېچي (ګېتای یا جاتا) تر واکمنۍ لاندي په ملک کي د بودیزم دین چلېدی خو د توآر راجپوت د یوې یا اوز پېړۍ په دوران کي بیا د برهمنیزم دین غلبه درلوده څو چي د هندو لاس بالاخره د هغه سبکتګین په وسیله له واکمنۍ څخه وختي چي د غزني ترکي شاهي کورنۍ یې تأسیس کړه. د کاشکار او چترال شاه کاتوري چي په وړاندي بیان کي د سترابو د ساکاراولوی څرګندونکی وبلل سوه، د کافرستان د کټار ولس دی چي ملک ئې پخوا زمانه لږ تر لږه د تیمورلنګ په وخت کي چي د پنځلسمي پېړۍ له پیله سره سمون خوري، د کاتور په نامه یادېدی. کایاتهه له کایاستهه څخه نمایندګي کوي چي د راجپوت مربوط د خطاطانو یا میرزایانو قبیله ده، خالم د کالم ځای نیولی دی چي ګاهلوت راجپوت دی. مندیګل او مندول د کچواهه له مندو څخه نمایندګي کوي. پشه ګار او پشه ګل لکه دمخه چي یاد سوه پشه ئي تمثیلوي. پاروني یا پاروتي د ګاهلوت پوروت تمثیلوي. پاندو د برهمن د پاندې ځای نیولی دی. رانا یا رونو د سولانکي رائوکا څرګندوي. یا خو (د بیدولف په قول) دوی همدارنګه (هورای یا) بلل کېږي چي په دې صورت کي د پرامارا هرایر تمثیلوي.

سایګل یوه ختري قبیله ده. سونیندېش د چوهان د سونیګارا بولګه ده. تاري یوه برهمني قبیله ده. وادیهو چي بیا هم د بلوچستان د قبیلو په جمله کي په مخه راځي ښایي د مهابهارت او نورو (ویدېها) تمثیلوي. (وایې)، وائېګل) او (وېلي وایې) د بایي ځای نیولی دی چي دمخه د یونان (بویوي) ته منسوب وبلل سو او دا یو بې قبیلې خېل دی چي راجپوت په ځان پوري ملحق کړی دی. وامه د برهمن واما تمثیلوي.

په نن وخت کي د کاشکار واکمنه کورنۍ د کاتور له قبیلې څخه ده. د دې کورنۍ د مشرانو څانګه د شاه کاتور په نامه او د کشرانو څانګه د خوشوختي په نامه بلل کېږي. کاتور چي په ټوله کاشکار کي د یوې ممتازي طبقې په څېر خپاره دي اساسي خېل ئې د سنګلیا په نامه دی. د دوی تر تابعیت لاندي (رونو) همدارنګه یوه ممتازه طبقه ده چي مالیه یا باج چا ته نه ورکوي او (د هندوکش قبیلې) په اثر کي (میجر جي. بیدولف) وایي چي دوی د (زوندرې) او (هرای یو) په نوم هم بلل کېږي. دوی د کاشکار او یاسین پر ټوله سیمه تیت دي او زیاتره دولتي چوکۍ په دوی ډکي سوي او د واکمنو دپاره وزیران هم له دوی څخه تهیه کېږي. ژوندرې ښایي چندرا افاده کوي چي برهمني قبیله ده. د کاشکار د ناوې نور پاته اهالي له کرونده ګرو قبیلو او بېلابېلو کسبکارو طبقاتو څخه جوړ سوي دي چي د (فقیر) یا (تابعانو) په نامه یادېږي. له دوی څخه زیاتره ئې راجپوتي او هندوئي منشأ لري. د دغو قبیلو په جمله کي یوه ډېره ګڼ شمېره ئې کلاشه (راجپوتي کلاچه) او بله ئې ارنیا یا کهو (کچواهه) ده. دانګاریک چي د (اشرېت) او (کلکتاک) د علاقو دی هندي جت ګڼل کېږي. شائوکي، جکاني او کاشي همدا راز هندیان دي. کاشي ښایي له هغه اصلي کشواهه (د بلوچستان کچواهه) نمایندګي کوي چي د نامه په اقتفاء ئې د کاشکار او هندوکش نومونه منځ ته راغلي دي.

د چترال د بیر کوټ او ناریسات په علاقو کي یوه قبیله سته چي د ګبریانسرتي په نامه یادېږي. پخوا زمانه د دې قبیلې وګړي په سوات کي خورا ډېر زیات وه او نو ځکه د دوی د نامه په وجه سوات د دیرلسمي پېړۍ تر منځنیو کلو پوري د ګبرک په نامه بلل کېدی. ګبر، ګبارې، ګوارې، نسرتي یا نصرالدین – خېل، چي کله ناکله په همدې نامه هم یادېږي، اوس د بونیر پر سیمه او تر اباسین پوري خوا په پکلي کي خورا ډېر تیت خپاره دي. بشګالي کافر په هغه ملک کي اوسي چي د وائېګالي شمالي پلو ته

پروت دی او د اوسپدوني ناوې ئې جنوب – ختيځ ته له هندوکش څخه نيولې بيا په بيرکوټ کې د کونړ تر سينده پوري رسېدلي دي. دوی له يوې داسي قبيلې څخه نمايندګي کوي چې ذات ئې له راجپوتي او هندي توکمونو څخه بېل دی. (بيدولف) وايي کافر پر درو غټو قبيلو وېشل کېدای سي لکه رومګالي يا لومګالي (لغماني) چې له هندوکش څخه جنوب– لوېديځ پلو ته په غزېدلو پاسنيو ناوو کې اوسي. دوهم وائېګالي دي او دوی په هغو ناوو کې اوسي چې له هندوکش څخه نيولې بيا په چغان سرای کې د کونړ تر ناوې پوري جنوب – ختيځ پلو ته غزېدلي دي. دريم بشګالي دي چې ليري د شمال خوا ته په هغو پاسنيو ناوو کې اوسي چې جنوب – ختيځ خوا ته تللي او په بيرکوټ کې د کونړ تر ناوې رسېدلي دي. دغه درې ګونی وېش ښايي داسي مفهوم ولري چې رومګالي (د رهتور مربوط [راماکولا] يا [رامادېوا]) راجپوتي قبيلې دي، بشګالي ([بشکولا] يا [پشه ئي] او يا [پاوسيکای]) د جاتاسکيتي قبيلې دي او وائېګالي ([بای – کولا] يا [بويوی]) يوناني قبيلې دي.

د داريوش هستاپسيس د امپراتورۍ د حوزې د يوولسمي ستراپۍ په ترکيب کې د اقوامو له جملې څخه وروستنی ولس چې هيرودوت ياد کړی دی، د (داريتای) په نامه دی. دوی هغه څوک دي چې (مانو) او (پورانس) ئې (دارادا) سترابو ئې (دېردای)، پليني ئې (داردای)، پتوليمي ئې (دارادرای) او زموږ د وخت وطني وګړي ئې (داردو) بولئ. د دې ولس په باره کې د پروفيسور ډبليو. جي. ليتنر څېړنو موږ ته ډېر په زړه پوري معلومات برابر کړي دي چې زياتي خبري ځني زده کېږي.

د لرغوني داريتای ملک ښايي داسي وښوول سي چې د حوزې ترکيب ئې د جګو غرونو ټوله هغه ښاخونه شاملوله چې سيخ د هماليا او هندوکش د يو ځای کېدو د محل تر جنوب پوري غزېدلې وه. د هماليا د (څونګينګ) برخه له هندوکش سره د غټ (تاغدومباش) (تاغنونګباش)

یا (د غرونو د سر) په یخچالي سیمه کي یو ځای سوې ده. دا ملک د جنوب په خوا کي لیري د پنجکوري او سوات د سیندونو د سرچینو تر لړی پوري او د اباسین پر لوېدیځه خوا د بونیر شمال ته د کانړه-غوربند تر ناوو پوري غزېدلی او د پکلي تر علاقې او د (کیشن ګنګا) په ختیځه غاړه کي د هغه د سرچینې تر غاښي پوري رسېدلي دي. په لوېدیځه ساحه کي د کاشکار د دېري جګي برخي هغه ناوه کښېباسي چي (مستوچ) نومېږي. په ختیځه برخه کي ئې بالتیستان یا کوچني تبت حدود ټاکي. خو البته په هغه صورت کي چي پخوا زمانه ئې دغه خاوره په خپله حوزه کي نه وې شاملې کړې. د (دارد) ملک یا داردستان نو په دغه ترکیب او ترتیب د هغې سیمي پر شمالي پولو باندي چارپېره یو منحني جوړوي چي موږ په تېر بیان کي د اوومي ستراپی، د ګنداریوی ولس ته منسوب کړي دي. کله چي د دې ملک د حدبندی، خط تر اباسین تېرېږي نو دمخه تر هغه چي (بونجي) ته څرمه د جنوب پر خوا کوږ سي د اباسین د لوېدیځ مسیر په جنوبي او شمالي غاړو کي په همدغه ترتیب له کشمیر او بالتیستان سره پوله جوړوي. په دغه ډول همدا ښوول سوی ملک په خپله نیمه شمالي خوا کي د مستوچ، یاسین، پونیال او ګلګیت علاقې د (هونزا) او (ناګر) د (کانجود) له ملک سره یو ځای کښېباسي. دغه ټوله ځایونه له بالتیستان سره د وړاندي ختیځو څواوو په ګډون د (بولر) ملک تشکیلوي. خو په خپله نیمه جنوبي خوا کي د ګور، دارېل، تانګیر، کاندیا او نورو په نامه وړې ناوې کښېباسي چي د ګلګیت جنوب ته د اباسین پر لوېدیځه غاړه پرتې دي اما پر مخامخ ختیځه غاړه باندي بیا چیلاس، استور، کاغان او د پکلي مربوط د شینکاري علاقه کښېباسي. دا ټوله ځایونه د کوهستان حوزه یا د(دارد) مربوط د شینکاري خاوره تشکیلوي چي د اباسین پر لوېدیځه غاړه باندي ئې یوې برخي ته تر اوسه لا هم د یو آزاد ملک په څېر د ځان خپلواکي ساتلې ده. پخوا زمانه د پکلي ټوله ملک داسي ښکاري چي په

داردیستان کې شامل و. د هغه جنوبي سرحدي سیمه د (داروابهیسارا) سره سمون خوري چې په (راجاتارینګیني) کې ئې نوم یاد سوی دی، یعني د (دوره) او (ابیسارا) له علاقو سره سر خوري. له دغه (ابهیسارا) څخه (چې د آرریان د یادوني له مخې د ابیسارېس ملک دی) د اوسني وخت د (هزاره) د علاقې نوم راوتلی دي چې چچ او پکلي کښېباسي.

د اوسني (دارد) یا (داردو) په دغه ټوله ملک کې غالبه قبیله د (شین) په نامه ده چې ژبه ئې (شینا) بلل کېږي. میجر جي. بیدولف په خپل اثر کې چې (د هندوکش قبیلې) نومېږي د ډاکټر لیټنر هغه پلټني او څېړني بشپړې کړي دي چې د دغې ناپېژندلې یا لږ تر لږه اروپائیانو ته د نامعلومې سیمې په باره کې سر ته رسولي دي. ځکه بیدولف د هغو بېلابېلو کاستونو په باب ډېر په زړه پوري او ارزښتناکه معلومات وړاندي زیات کړي دي، چې په دې ملک کې اوس مونده کېږي. د ده له بیانه څخه څرګندېږي چې (ګلګیت) چې په لرغونې زمانه کې (سارګین) نومېدی او تر اوسه هم د هغه د اوسېدونکو له خوا څخه د (سارګین ګیلیت) په څېر بلل کېږي، داسي ګومان را پیدا کوي چې ښایي دا به د سانسکریت د لرغونو ادبیاتو (ګهلاته) وي. بله دا چې د هغه پخوانیو واکدارانو د (را) لقب درلودی او پر هغه ګرده ملک ئې حکومت کاوه چې وړاندې د داردیستان په توګه وښوول سو. ددې واکدارانو له جملې څخه وروستی ئې (شري بودوټ) نومېدی او د څورلسمي پېړۍ په پیل کې د هغه مسلمان یرغلګر په وسیله له واکمنۍ څخه ولوېدی او ووژل سو چې شاهي کورنۍ ئې بیا وروسته د (تراخانې) په نامه یاده سوه.

دریم دا چې تر شري بودوټ دمخه واکداران چې پر دې ملک ئې حکومت کاوه د (شاهرېئس) په نامه بلل کېده. له دې ټوله بیانه څخه دا مطلب معلومېږي چې ګهلاته، ګیلیت یا ګلګیت په پخوا زمانه کې د یوه راجپوتي شاهزاده د حکومت مرکز و چې د ګراهیلوت یا ګاهلوت په هغه

ستره قبیله پوري ئې اړه درلوده (چې بیا وروسته ئې یو په بل پسې د (اهاریا) او (سیسودیا) نومونه واخیسته) او د (دارد) وړاندي ښوول سوی ملک ئې ټوله د مملکت حوزه تشکیلوله. د دغي راجپوتي قبیلې په باب، تاد په خپل اثر (د راجستان پېښه لیک) کي وایي چي نوموړي قبیلې د ګراهیلوت یا ګاهلوت خپل لرغونی نوم په (اهاریا) واړاوه او ورپسې ئې بیا همدغه اړولی نوم په (سیسودیا) باندي الیش کړ چي اوس ګاهلوت په هغه باندي پېژندل کېږي. سیسودیا موږ ته وړاندي په مخه راغلې ده چي په یوسفزو او نورو پښتني خېلونو کي ئې د (سیهساده)، ساده او سادو (سدو) په شکل څرګ لیده کېږي. دا نوم به یو ځل بیا هم د دراني خېلونو په جمله کي مخي ته راسي.

مسلمان تراخانې فاتح غالبه دا ده چي یو ترک یا د چنګېز د دربار یو مغلي ترخان او یا د هغه د اخلافو له جملې څخه یو سړی و. ترخان[1] د مغلو په منځ کي د شاهزادګانو او اشرافو د یوې ممتازي طبقې دپاره د لقب په څېر استعمالېدی. زیاتره د مغلي او ترکي سرخېلانو کورنۍ چي دغه لقب ئې درلودی د چنګېزخان له وختو څخه نیولې بیا د بابر تر وختو پوري په مرکزي آسیا کي د مغلو د برم او غلبې په زمانو کي د قدرت او حکومت واکمنو مقامونو ته جګېدله. خو شري بودوټ چي د مسلمان یرغلګر په وسیله ئې له واکمنۍ څخه لاس وختی او په قتل ورسېدی غالبه دا ده چي د (بډا) د هغه خپل یو غټ سړی یا شاهزاده و چي د سپوږمۍ د توکم د یادو راجپوت په قبیله او بودائي دین پوري ئې اړه درلوده. لکه څنګه چي (تاد) (د راجستان په پېښه لیک کي) وائي چي د غزنوي محمود د بریدونو په زمانه او هم تر هغه وړاندي د څو پېړیو په دوره کي

---

[1] Tarkhan ښایي دراني کلیمه له همدغه څخه راوتلې وي .

هندوستان څلور غټ مملکتونه درلوده، ډهلي د توآر او چوهان تر واکمنۍ لاندي و، کناوج د رهتور تر واکمنۍ لاندي و، مېوار د ګاهلوت، او انهالواره د چاتورا او سولانکي تر واکمنۍ لاندي وه. دوی ټوله په خپل وار د غور د (سور) يعني هغه سلطان شهاب الدين په لاس کي ولوېده چي هند ئې په دائمي توګه ونيوی. شري بودوټ چي وړاندي ئې يادونه وسوه ښايي چي د ميوار په مملکت پوري د يوې تړلي برخي په څېر ئې د ګلګيت ځپل امارت په لاس کي و. شاهرېئس چي د ملک په حکومت کي د شري بودوټ د سلف په څېر ياد سوه، ښايي د هغه (راجا ساهريس) د کورنۍ يوه څانګه وه چي د ابوالفضل او فرشته په حواله (تاد) وايي چي په لرغونې زمانه کي ئې پر سند حکومت کاوه، چي د ده پای تخت (الور) و او د ده د واکمنۍ توابع په شمال کي تر کشميره پوري غزېدلي وه. د ساهريس پاچهي کورنۍ ښکاري چي د زياتو نسلونو په يوه اوږده لړۍ کي ئې واکدارۍ ادامه درلوده څو بالاخره په ۷۱۷ ميلادي کال کي هغه مهال رنګه سوه چي محمدقاسم د اسلام د مخکښ په توګه د هند خوا ته د خپل پرمختګ په لار کي سند ونيوی او (راجاداهر) ئې وواژه. د داهر له کورنۍ څخه بيا وروسته چي اسلم ته واوښته، ډېر احتمال لري چي د خراسان هغه طاهري کورنۍ منځته راغله چي د المامون د خلافت پر وخت د طاهر له خوا څخه په ۸٦٩م کي تاسيس سوه. دغه طاهر چي د (مساب) له کورنۍ څخه و د الخوزي (يعني د خوزا د بومي) په تخلص يادېدی خو شهرت ئې د (ذواليمينين) يا (له دواړو لاسونو څخه د يو شان کار اخيستونکي) په نامه ډېر درلودی. پخوا تر دې چي په خپله طاهر د خلافت لوړ مقام ته مامون ورسوي او په هغه وخت کي مامون د خراسان والي و نو دی د مامون د ځواکونو جنرال و. د طاهري په نامه شاهي کورنۍ (د ډي. هيربېلوت په قول چي د ده له بيانه څخه پورتنۍ څرګندوني را اخيستل سوي دي) هغه لومړنۍ شاهي کورنۍ وه چي د خليفه ګانو تر امپراتورۍ لاندي د

مسلمانانو تر منځ تأسیس سوه. دې کورنۍ د پرله پسې پنځو پاچهانو تر واکمنۍ لاندې د یوې شپږ پنځوس کلنې دورې دپاره ادامه درلوده او پر ځای ئې هغه صفاري کورنۍ کښېناسته چې د سیستان د یعقوب بن لیث له خوا څخه تاسیس سوه. دغه جزئیات ځکه زه ټکي په ټکي بیانوم چې په سیستان کې لکه وروسته چې به ئې وګورو هلته یوه قبیله سته چې شاهرې یا شاهرېکی (یعني په شاهرې مربوط) نومېږي او هغه ښایي د راجاشاهریس د کورنۍ د یوې بلې څانګې له اولادې څخه نمایندګي کوي.

د قاسم تر مړینې وروسته د سند په ملک باندې د انصاري عربو له خوا څخه حکومت کېدی، خو دوی ژر د (سومرا) په نامه د وطني شاهي کورنۍ په وسیله له واکه ولوېده. سومرا (یعني د راجپوت د پرامارا د قبیلې اومرا سومرا) بیا په خپل روڼ د یوې بلې وطني شاهي کورنۍ له خوا څخه نسکوره سوه چې سامه یا شامه (د جاریجا قومي نوم دی) نومېده او د سیویستان (اوسني سیبی) د یادو راجپوت له ذاته څخه وه. دې کورنۍ ته منسوب شاهزادګان تر هغه وروسته چې اسلام ته واوښته نو ئې ځان له یو پرشیائي نسب څخه ښکاره کاوه او د (جام) هغه لقب ئې واخیستی چې په بلوچستان کې د لاس بېلې دواړه ایالت د جاریجا پر سرانو باندې تر اوسه پروت دی. موږ دغه راجپوتي قبیلې وینو چې د هغو پښتني قبیلو د (اومرا) او (شامو) په څانګو کې په پراخه توګه ډېرې زیاتې تیت سوي دي چې د اباسین د ناوې او د سلیمان د لړۍ په ټوله اوږدو کې پرتې دي.

په ګلګیت او داردستان کې د (شین) په نامه ولس له (چینا) څخه نمایندګي کوي چې نوم ئې د (منو) له خوا د (کشتریا) په هغه طبقه یا راجپوت کې یاد سوی دی چې له برهمنیزم څخه وګرزېده او په همدې وجه نو ورو ورو د (سودرا) په طبقه کې ډوب سوه چې د هندوانو د څلورو طبقو له جملې څخه ډېره ټیټه طبقه ګڼله کېږي. چینا چې په دغه ډول له کشتریا څخه د سودرا طبقې ټیټ دریځ ته راځوړه سوه نو د منو له خوا ئې د

(پارادا)، (پهلوا)، (کیراتا)، (دارادا) او (خاها) سره یو ځای نوم یادسوی دی. دغه ټوله توکمونه په هغه غرني ملک کې اوسېده چې د کابل ا وکشمیر تر منځ پروت و او هلته له اوږدې زمانې راهیسې بودیزم خپل پیاوړی حاکمیت ټینګ ساتلی و. پارادا او پهلوا ښایي د پروپامیسس، بلخ او بامیان ملکونه نیولي وه، کیراتا او خاسا په کشمیر کې میشته وه (چې هلته [کولي] طبقه تر اوسه هم خاسا بلل کېږي او دا له کاشوري یا کشمیري څخه یو ځانته بېل ولس دی)، چینا او دارادا د پکلي او بولر په ملکونو کې پراته وه چې دا ځایونه وړاندې ښوول سوی داردستان ګڼل کېږي. د کیراتا او دارادا کلمات ویل کېږي چې دواړه د سانسکریت له ریښې څخه دي او د (غرني) معنا افاده کوي. په دې صورت کې نو د داردستان نوم د کوهستان د نامه سره متراف دی چې د دې غرنی سیمي دپاره اوسنی عام نوم ګڼل کېږي. نور اقوام چې د منو له خوا څخه په دې ردیف کې یاد سوي دي هغه د کمبوجیا، یا وانا او ساکا په نومو دي. دوی ښایي د اوسني کافرستان د کمبوه یا کاما قبیلې، د پرشیا یا باکتریا دیونا یا اسلامي یونس او یا د یوناني (Iwvas) قبیلې او د ساګستان یا سیستان د ساکا قبیلې وي. نور درې توکمونه چې نومونه ئې د پورتني لیست په همدې جمله کې راغلي دي د اودراء پاوندرا کا او دراویرا په نومو دي. دوی داسي ښکاري چې په جنوبي هند کې اوسېدله. دوی په دې خپلو دغو نومو باندي د افغانستان د اباسین د پولې په اوږدو کې چیري نه سي موندل کېدلای.

د (شین) ملک شینکاری نومېږي او په همدغه نامه د اباسین پر دواړو خواوو باندي یوه علاقه کښېباسي. پر ختیځه غاړه ئې چې د پکلي یوه برخه کېږي په اوس وخت کې افغاني قبیلې، سواتیان او نور ولسونه پراته دي. خو هغې ته مخامخ پر لوېدیځه غاړه ئې چې د ګور او غوربند تر منځ واقع ده، د (شین) خپلواک ولس مېشته دی. د شین یوه جالبه

ځانګړتیا د دوی هغه کړکه ده چې د غوا او هم د هغې د محصولاتو په نسبت ئې کوي. دوی همدارنګه له کورنۍ چرګانو څخه ښه نه وړي. سره له هغه چې د څو تېرو نسلونو راهیسي دوی اسلام ته اووښتي دي خو بیا هم دغه دواړه حیوانات نجس ګڼي او له تماس څخه ئې ځان ساتي. د شین په باب ویل کېږي چې د (رونو) په پرتله په ټیټ کاست پوري اړه لري. خو دوی په خپله ځانونه یو لوړ ذات بولي. شین د خوارۍ له کاره او د لاسي شیانو له جوړولو څخه بد وړي. لاکن ښکار او کرهڼي ته د یوازینیو ویاړلو چارو په سترګه ګوري. په بالتستان کي چې هلته د تاتاري اوسېدونکو تر تابعیت لاندي دي، شین د بالتي تاتاریانو له خوا څخه د (بروکپا) یعني (غرنیانو) په نامه بلل کېږي. خو دوی خپل ځانونه (روم) بولي او څلور ښاخونه لري چې په لاندي نومو یادېږي:

شارسینګ ګابوردورو یودای

ویل کېږي چې (روم) له هغه (یاشکون) سره واده نه کوی چې هغه په (خارمنګ) او (هیمباپس) کي همدارنګه د بروشه (بیوریشه راجپوت) په نامه بلل کېږي. د پورتنیو نومو له جملې څخه (روم) ښایي (راما) تمثیلوي چې د راجپوت مربوط د لمر د توکم ستر نیکه ګڼل کېږي. ګابور د ګبارې ځای نیولی دی. (دورو) د راجپوت له (دوره) څخه نمایندګي کوي. او یودای یا یودې د راجپوت مربوط د سپوږمۍ د توکم او بودائي دین یادو تمثیلوي. هغه یاشکون چې بروشه بلل کېږي – او دا له بوریش یا بوریشو سره یو شی دی چې په روان بیان کي به خبري پر وسي – پر دې ټکي باندي دلالت کوي چې دوی د بوریش د قبیلې د یوې برخي په څېر پېژندل سوي دی اما دا څرګنده نه ده چې دغه پیوند ئې د وینې د نسبي اړیکو او یا د قبیلوي الحاق پر اساس رابنا دی.

تر شین وروسته نو بیا یاشکون اهمیت لري. د (بیدولف) له بیانه سره سم د (هونزا)، (ناګر) او (پونیال) ټوله نفوس د (یاسین) دا هم تقریباً

ګرده او د (ګلګیت)، (سای)، (داریل) او (استور) دا تر نیمي زیات اهالي یاشکون تشکیلوي. په هونزا او ناګر کي دوی خپل ځانونه بوریش بولي او په یاسین کي چي تر اوسه لا د وورشیګوم (بوریشګوم) په خپل زاړه نامه پېژندل کېږي، دوی خپل ځانونه وورشیک او بوریشو یادوي. د دوی ژبه بوریشکي، بوریشاسکي او ووریشکي نومېږي چي ډاکټر لیټنر د (خاجونه) په نامه ښوولې ده. خو بیدولف وایي چي د (خاجونه) کلمه د ګلګیت د خلګو له خوا څخه د (ناګر) د (بوریشکي) دپاره په کار اچول کېږي، که څه هم د ده له قوله په هغه ملک کي دا نوم هیڅکله استعمال نه لري. دلته هغه پیوند چي (یاشکون) یا (یاسکون) (د یونانیانو اساکانوی) ئې د یاسین یا ووریشګوم د وورېش یا بوریش) د راجپوت له بایوریشه) سره لري د څېړني دپاره یوه ډېره په زړه پوري موضوع په تېره بیا له دې پلوه منځته راوړي چي د غور د هغي ښېټنی قبیلې د وارشپون یا اشپون او خاچین یا غرشین سره ئې ارتباط وکتل سي چي پخوا ئې بیان تېر سوی دی. په رشتیا هم دا د اعجاب وړ خبره ده چي د یاسین د بوریش ژبه خاجونه وبلل سي، که څه هم د کهو کافرو یو خېل د کاچین په نامه سته او کاچو د کافرو تر منځ د یو خاص نوم په څېر عمومیت لري (ما په خپله دوه تنه کافر سړي لیدلي دي چي یو ئې د سایګل له قومه څخه و کاچو نومېدی او بل ئې د دروش له جملې څخه و چي کاچوک نومېدی)، پر دې سربېره لا دا خبره هم سته چي دغه ژبه باید له هغو ټولو لهجو څخه چي ګاونډیان ئې خبري په کوي ډېر څرګند توپیر ولري. مېجر بیدولف وایي چي بوریشکي (د ډاکټر لیټنر خاجونه) داسي فکر کېږي چي ښایي دا به له تورانې کورنۍ څخه وي. په دې ارتباط نو په غور ارزي چي دا ژبه له هغي ژبې سره مقایسه سي چي د مانیپور او د آسام د سرحد هغه کاچین خبري په کوي چي د ګومان له مخي د ارجونا په توسط د پانډو له نسبه څخه ګڼل کېږي، که څه هم ډېر احتمال خو دا خبره لري چي دوی – زموږ د افغانستان د کاچین یا

خاچین سره یو ځای – په واقعي توګه د ناګا له ذاته څخه دی. د کشمیر او د هغه شمال ته د غرني ملک بومي اوسېدونکي د ناګا له توکم څخه وه او دغه قومي نوم ئې ښايي د پورته یاد سوي اوسني ناګر د علاقې په نامه کي ژوندی پاته دی. داسي ښکاري چي د یاشکون او بوریش په منځ کي یو ډول ګډوډې غوندې راغلي دي. د هونزا او ناګر د کونجود په ملک کي خلک خپل ځانونه بوریش بولي خو د شین له خوا څخه دوی یاشکون بلل کېږي. دوی ځایي کرونده ګر دي او د دوی له جملې څخه د بیل نسب د کورنیو په واسطه حکومت پر کېږي. د دې حاکمو کورنیو ټاکلی نوم (تم) دی چي وايي دا چینایي کلمه ده او معنائې له (والي) سره برابري لري، او د بیدولف له قوله دوی د هغو غبرګولیو وړونو اولاده ده چي یو ئې مغلوت او بل ئې ګیرکیس نومېدی او دوی د پنځلسمي پېړۍ د پای په شاوخوا کي ژوند کاوه. د ناګر حاکمه کورنۍ (مغلوت) او د هونزا هغې (آیشي) بلل کېږي. دغه دواړي کورنۍ د (سوري) لقب لري. د دوی ماینې ګانیش او زامن ئې ګاشپور بلل کېږي. دا دري سره کلمې د سانسکریت له ریښې څخه راوتلي دي. د مغلوت او ګیرکیس نومونه پر دې دلالت چي د سر په نیکه کي مغلي او قرغزي منشأ لري، او آیشي ئې د چندرابانسي یا د راجپوت د سپوږمۍ د توکم (بودایانو) سره ارتباط څرګندوي ځکه ترکی آیسي (سپوږمۍ ته منسوب) معنا ورکوي. د (تم) چینائي لقب پر هغه حمایه باندي دلالت کوي چي دا خارجیان تر هغې لاندي د خپلو موجودو دریځونو په ټینګولو کي ځني برخورداره وه. (سوري) او نور هندي لقبونه ښايي واردواره خپلو رعیتو پر دوی باندي ایښي وه خو وروسته بیا د همدې حاکمانو له خوا څخه د ځانو دپاره ومنل سوه. د پونیال او هراموش اوسېدونکي یاشکون دي او دوی د (شینا) په ژبه رږغېږي. په دې وجه نو د بوریشکي یا خاجونا ژبه داسي معلومېږي چي ښايي د (بوریشو) یا (وورشیک) یوه ځانګړې لهجه وي، نه دا چي د یاشکون ژبه وبلل سي.

ACKU

د داردستان پر پورتنیو یادو سوو قبیلو سربېره یو ګڼ شمېر نور تر مرئیتوب غوندي لاندي اهالي هم سته چي زیاتره ئې د یاشکون تر منځ مونده کېږي او دوی د (کرامین) (چي په چترال او کاشکار کي ئې استاد بولي) یا (کاسبانو) له طبقاتو څخه د ډمانو یا سندربولو په ګډون جوړ سوي دي. همدارنګه په ګلګیت کي د کشمیریانو یوه کالوني سته چي د تېري پېړی د منځنیو کلونو د شاوخوا راهیسي ئې هلته اړولي دي. د ګوجرو خورا ګڼ شمېر وګړي همدا ډول هلته سته چي غرنی برخي ئې د ګلګیت تر جنوبه پوري نیولي او د سوات، بونیر او نورو تر ګوټه پوري غزېدلي دي. دوی یو مخیزه د څړوالو، شپنیانو او مال روزونکو په څېر په خواریو لګیا دي او د ملک د نورو وګړو سره په هیڅ خوا کي نه ورګډېږي. ګوجر د خپلو هغو قومیانو په شان لکه په سوات، باجوړ او عموماً کوهستان کي چي اوسي د پنجابي ژبي په یوه لهجه ګړېږي.

دغه بیان نو د هغو قبیلو په باره کي زموږ طرحه بشپړېدو ته رسوي چي له کاسپیوی څخه پرته د یوولسمي ستراپی په ترکیب کي د شاملو اقوامو پر هغه سیمه اوسي چي د همدې اقوامو په نامه بلل سوې ده.

# دوولسمه ستراپي

هیرودوت وایي دوولسمه ستراپي له هغي حوزې څخه جوړه ده چي (باکتروي) بیا لیري تر (آیګلای) پوري کښېباسي. د باکتري نوم یوه جامعه کلمه ده چي د اصلي باکترا د ملک د ټولو اهالیو دپاره په کار اچول کېږي خو البته له باکتریانا څخه توپیر لري ځکه هغه بیا پر یوه ډېره پراخه ساحه باندي دلالت کوي. باکتریا په ټیک معنا په هر حال ښایي موږ د خپلي پلټني په منظور داسي په پام کي ونیسو چي د اوسني بلخ او بدخشان ملکونه کښېباسي او ساحه ئې په لوېدیځه خوا کي له هغه تالابه څخه پیل کېږي چي اوبه ئې د اندخوی سیند ته وزي او په ختیځه خوا کي تر سریکول پوري رسېږي. په شمالي خوا کي ئې د آمو او د خش د سیندونو په وسیله خو په جنوب کي ئې د هندوکش او کوه بابا د لړیو په وسیله حدود ټاکل کېږي. په دې ټوله حسه کي اوس کومه دا ډول قبیله نه مونده کېږي چي د باکتري په نامه وي. د دوی ځای ښکاري د الي (د یوناني ایولوی) قبیلې نیولی وي چي اوس عام ډول د د (شیخ الي هزاره) په نامه بلل کېږي. دا د پام وړ یوه خبره ده چي د دغه بلخ په ټوله ملک کي د خلګو روایات د محمد(ص) زوم حضرت علي ته راجع کېږي او د اتل والو کارنامو یوه ډېره لویه مجموعه ئې د سپېڅلو زیارتونو او پخوانیو ټاټوبو د کنډوالو په ذریعه چي آثار ئې پر ګرده ملک باندي خپاره تیت دي، د نمانځني په څېر تجلیل کېږي. په داسي حال کي چي حضرت علي هیڅکله د آسیا دغه ګوټ ته نژدې کوم چیري نه دی اوسېدلی. د (الي) او

(علي) د نومو تر منځ شباهت معلومېږي چې مسلمان سوو کسانو ته ئې یوه ترغیبي زمینه برابره کړې ده چې خپل واقعي نسب په دې وسیله پټ کړي چې د خپلو یوناني نیکه ګانو مربوط روایات د خپلي مذهبي فرقې په مشر پوري وتړي. لکه څنګه چې ئې په رشتیا هم دغه شان یوه خبره د قبیلې د قومي نامه یعني (شیخ علي) له ترکیبه څخه څرګندېږي ځکه دغه ترکیب په دې معنا دی چې (مسلمان سوی الي) افاده کوي. ولي چې د (شیخ) کلمه پخوا د درناوي یو لقب و او زیاتره هغه چا ته ورکول کېدی چې وختي به اسلام ته را اوښتی وه او دلته هم په ښکاره د (الي) د کلمې سره جوړه سوی دی چې د ګومان له مخي د قبیلې د سر نیکه دی او ترکیب ئې د قبیلې د قومي نامه په څېر غوره سوی دی. (شیخ الي) اوس په هزاره و کي شمېرل کېږي خو د دوی یوه غټه برخه چې (علي الهي) (یا هغه څوک چې د علي پر الوهیت عقیده لري) بلل کېږي د وروستنی زمانې د راغلو ترکمني او ازبکي چپاویانو له جملې څخه ګڼل کېږي. د باکتریا یونانیان لکه دمخه چې ئې بیان راغلی دی د ځینو سکیتي قبیلو په وسیله له واکه ولوېده چې د هغو په ټل کي (توخاري) یو ډېر مهم ځای درلودی. سره له هغه چې د دغه ملک نیمی لوېدیځي برخي او په تېره بیا د آمو د شمالي غاړي یوه ولایت ته ئې خپل نوم ورکړی دی خو اوس د بلخ د ملک په کومه برخه کي چې هلته د دوی ځای نن د ترکمنو او اوزبکي تاتاریانو بېلابېلو قبیلو نیولی دی دوی د یوې څرګندي قبیلې په څېر چې د توخاري نوم ولري چیري نه مونده کېږي.

توخاري ښکاري په سر سره هغه ولس وي چې په (رامایانا)، (مهابهارت) او (هاریوانسا) کي د توچارا یا توشارا په څېر یاد سوي دي (د [ترویرس] د اثر [راجاتارینګیني] په دوهم ټوک کي ۳۲۱ مخ وګورئ). دوی د ډېري لرغوني نېټې یو (اندو – سکیتي) توکم ګڼل کېږي او له هغه (ناګا) ولس سره متحد دی چې د شمال له لوري پر هند باندي ډېر وختني

ACKU

چپاویان معلومېږي. توخاري په یوه پخوانۍ زمانه کي سر تر پایه د اباسین پر ټوله ناوه خپاره وه او هلته ئې اولاده په تېر وخت کي د توغیاني ترکو په څېر پېژندل کېده. نن ورځ دوی په همدې نامه د یوې ټاکلي قبیلې په توګه په افغانستان کي نه مونده کېږي، که څه هم دا خبره له شکه وتلې ده چي د دوی زیاتي قبیلې د افغانستان د اباسین د پولي په ټوله امتداد کي د پښتني قبیلو په هغو خېلونو او څانګو کي تمثیلېږي چي تر اوسه ناپېژندلي پاته دي او په تېره بیا البته د افغاني شجرو په هغه ترکلاني ښاخ کي چي په روان بیان کي به پر ورېغېږو.

د اصلي باکتریا په نیمه ختیځه خوا کي چي د بدخشان، واخان او شیغنان غرنۍ علاقې کښېباسي له یوې لیري لرغوني زمانې راهیسي هغه وګړي مېشته وه چي د پرشیائي نسب او ژبي سره ئې اړه درلوده. دا وګړي اوس د تاجک د نامه په عمومي کلمه ښوول کېږي چي د مرکزي آسیا د قومونو په منځ کي ئې له پرشیائي قومیت څخه څرګندونه کوي. دوی په بڼه (صورت) او خوی (سیرت) کي له خپلو هغو ګاونډیانو څخه یو څه توپیر لري چي د هندوکش پر جنوبي خوا باندي پراته دي. خو هغه بیا چي په ډېرو هوارو او خلاصو علاقو کي مېشته دي او هلته له اوزبکي چپاویانو سره ګډ سوي دي، له دغه حکمه څخه وتلي دي. ځیني وګړي ئې چي د هندوکش پر شمالي ډډو باندي اوسي ویل کېږي چي د کافرستان د اهالیو له توکمه څخه دي. دوی له هغو سره همدا شان عموماً دوستانه مناسبات او د سوداګرۍ نژدې تعلقات لري. (وردوجي) یا د (وردوج) د علاقې خلګ داسي ښکاري چي په یوه پخوانۍ زمانه کي ئې غزني ته څرمه یوه کالوني ځای پر ځای کړې وه. هلته اوس د دوی اولاده د (وردګو) د قبیلې له خوا تمثیلېږي. دا تمثیل ئې یوازي له دې درکه نه دی چي د وردوج او وردګ نومونه سره ورته دي بلکي نور تائیدي شواهد لکه د بڼې، خوی او عادت تر منځ شباهتونه ئې هم ددې خبري څرګندونکي دي. وردک د نسب په

حساب نه افغان، نه پټهان، نه غلزی، نه هزاره، نه ترک او نه هم مغل دی. د ځينو له خوا دوی په تاجکو کې شمېرل کېږي خو ځيني نور بيا دوی (شيخ) بولي، په داسې حال کې چې دوی بيا خپل نسب د عربو له قريشو څخه ګڼي. دوی پښتو وايي خو په داسې يوه مسخه سوې لهجه چې زياتې پردۍ کلمې ورسره ګډې دي او ښايي دا کلمې ئې د وردوج له ژبې څخه وي. د تېر بيان له څرګندونو سره سم که څه هم اوس داسې خېلونه د بلخ په ملک کې نسته چې د باکتري په نامه وي خو د دې لرغوني ولس خپل اوسني نمايندګان ښايي د هغو بختيارانو په وجود کې تمثيلېږي چې زيات شمېر ئې نن ورځ په پرشيا کې خپاره دي او هم دلته هلته د کوچنيو ډلګيو په څېر د سليمان د لړۍ په شاوخوا کې تيت مونده کېږي. پخوا زمانه بختياري په پرشيا کې يوه ډېره ګڼ شمېره قبيله وه او په نظامي ساحه کې د خپلو عالي صفاتو په وجه ئې زيات شهرت درلودی. په افغانستان کې ئې هغه وخت خپل ځانونه په خلکو وپېژندل چې د تېري پېړۍ په منځنيو کلونو کې ئې د نادرشاه په مشرۍ د کندهار د غزنۍ کلا مورچل ونيوی. تر دې پېښې ډېر دمخه هم دغې قبيلې د کندهار په ملک کې ټاټوبي درلوده. بختياري له زياتو څانګو څخه جوړ سوي دي. خو په افغانستان کې ئې ډېرې مشهورې څانګې دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| اکو | اتو | الياس | کرای | مرغاچي |
| موکوري | نزري | پاري | توري | يحيا |
| اونور | | | | |

له دغې جملې څخه درې آخري نومونه د راجپوت پاريهار، توآر او جوهيا تمثيلوي. تر دوی دمخه درې نومونه ټوله پوونده خېلونه دي چې د هغو له جملې څخه لومړي دوه ئې د غزني په جنوب کې د دوی هغو ټاټوبو ته منسوب دي چې په (مرغه) او (موکور = مقر) کې واقع دي.

هيرودوت وايي چې باکتري ليري تر آيګلای پورې غزېدلي دي اما

دا نه ښيي چي د آيګلای موقعيت چيري دی. البته دوی ښايي د هيکلي يا د پښين د هيکلزي له خوا څخه تمثيلېږي. لکه وړاندي چي وويل سوه توخاري اوس په افغانستان کي د تر کلاڼي يا کراراڼي او ياکرالاڼي له خوا څخه تمثيلېږي چي دا ئې صرف يو عمومي نوم دی. تر کلاڼي د کودي او کاکي په نومو دوه ښاخه لري. د کودي په ټل کي دلازاک، آئورکزي، منګل، توري، موسا، هاني، وردګ او واټو شاملېږي. دوی ټوله مو په تېرو پاڼو کي شرحه کړي دي. په دې طريقه د نومورو د قبئلو رايوځای کېده ښايي د هغو سياسي اړيکو يو ډول نښه وي چي توخاريو د افغانستان د دې برخي له خلکو سره درلوده. دلازاک چي د دوی د لويو قبيلو له جملې څخه يوه قبيله وه نو لکه دمخه چي ئې بيان راغلی دی د ډېر وخت دپاره ئې پېښور په لاس کي و.

د دلازاک څانګي دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| اما | امان | باچو | بوری | خيدار |
| لوری | مندر | مانی | متی | سامر |
| سانی | اومر | واټک | يعقوب | ياسين |
| زکريا | او نور | | | |

د کاکي په ټل کي افريدي، خټک، جدران، خوګياڼي، شيتک، سليمان او نور شاملېږي چي ټوله مو دمخه څېړلي دي. دا چي دغه پښتني قبيلې د تر کلاڼي يا کراراڼي تر عمومي نامه لاندي راغلي دي ښايي د هغه ملک پر پراختيا باندي دلالت کوي چي د توخاري ولس تر غلبې لاندي و. (کاتور) يا د توخاري سره په قومي لحاظ خپلوي لرونکې قبيله د جاتا، ګيتا يا يوئېچي له جمه هغه ډېره پياوړې او مهمه قبيله وه چي د باکتريا يونانيان ئې راچپه کړه. کاتور يو خپلواک مملکت تاسيس کړ چي له هماليا څخه تر بلوچستان او سنده پوري ئې د اباسين ټوله ناوه او هم ئې له کابل او غزني څخه د هندي ښديا او لاهور تر پولو پوري ټوله مځکه نيولې

وه. د دوی پاچهان ګرده بودایان وه او د دوی حکومت تر میلاد وړاندي له دوهمي پېړۍ راهیسي بیا د نهمي میلادي پېړۍ تر هغه مهاله پوري ادامه درلوده څو چي په کابل کي ئې د برهمنیانو یوې شاهي کورنۍ ځای ونیوی. کټار اوس په دغه نامه په افغانستان کي یوازي د چترال په ناوه او د کافرستان په ورپوري علاقو کي مونده کېږي. همدا راز د اباسین ختیځ پلو ته د راولپنډۍ او جهیلم د علاقو په یو شمېر برخو کي هم مونده کېږي. د لرغوني باکتریا غټه برخه لکه دمخه چي وویل سوه اوس د ترکمنو او اوزبکو قبیلو نیولې ده. چي د آمو له پوري خوا څخه راغلي دي. دوی په بڼه، ژبه او دودونو کي د دې ملک له پخوانیو اهالیو سره که هندي، پرشیائي یا یوناني وه له ټولو سره یو مخیزه توپیر لري.

د ترکمنو او ازبکو د قبیلو خېلونه او څانګي تر اوسه پوري نه دي بشپړي سوي. یو پوره لیست به ئې بیا وروسته له دې لیکني سره یو ځای سي.

*****

# دیرلسمه ستراپي

د هیرودوت ورپسې - یعني دیرلسمه - ستراپي له پکتیکا اوارمنیانو، او ګاونډیو ولسونو څخه جوړه ده چې لیري د ایوکسین تر سمندره رسېږي او دا ساحه یو مخیزه تر هغې سیمي دباندي ده چې زموږ پلټنه ورپوري محدوده ده. خو دلته دا خبره په غور ارزي چې د دغي لوېدیځي پکتیکا او د اباسین پر سیمه د پکتیکا تر منځ د نومو یو شی والی -چي دواړي په دغه نامه هیرودوت یادي کړي د ي- او د دغو دوو یو له بل څخه لیري ملکونو تر منځ چې د پکتیکا نوم وړباندي ایښوول سوی دی، د طبیعي خصوصیاتو شباهت او هم له دې حقایقو سره جوخت له یوې خوا دا چې ارمنیان له افغانانو سره د خپلوۍ ادعاء کوي او له بل یخوا بیا افغانان په خپله وایي چې نسب ئې د هغو اسیرانو د ډلي له اسرائیلیانو څخه راپیل سوی دی چي د میدیا او د ارمینیا پولو ته وشړل سوه. دا ټولي داسي خبري دي چي د څېړني دپاره خورا عجیب او په زړه پوري موضوعات راوړاندي کوي. موږ به دې موضوع ته په یوه وروستۍ برخه کي هغه مهال بیا راوګرزو چي د افغان د نامه منشاء تر پلټني لاندي ونیسو، ولي چي دا نوم اوس د هغه ملک د ټولو خلګو دپاره په کار اچول کېږي چي موږ ئې افغانستان بولو.

# څورلسمه سترا پي

د ترتیب په حساب تر دې وروسته څورلسمه ستراپي راځي چې د هیرودوت په قول له سګارتوی، سرانګوی، تمنای، اوتوی، میکوی او هغه چا څخه جوړه سوې ده چې د سره سمندرګي پر ټاپوګانو پراته دي او دې ځای ته پاچا تور سوي کسان د اوسېدني دپاره را استوي. دغه ستراپي داسي ښکاري چې د افغانستان جنوب – لوېدیځه برخه – یعني اوسنی سیستان (د عربو سجستان یا سګستان) کښېباسي. د دې ستراپۍ پولي د اټکل له مخي دا ډول ښوول کېدای سي: شمال ئې د سیاه کوه د لړۍ یا سیاهبند هغه برخه ټاکي چې راسپرې اوبه ئې د (اوبې) په ملک کي د هرات سند ته د راوتلو اوبو بهیر له هغه بهیره څخه بېلوي چې د سیستان د جهیل پر لور وربهېږي او د پاروپامیسس دغه برخه هغو تالابونو تشکیل کړې ده چې د پاسني هلمند او پاسني ارغنداب دواړو په ګډه منځته راوړي دی. په جنوب کي ئې هغه د رېګو بیابان راځي چې کندهار له خاران او سیستان له مکران څخه بېلوي. لوېدیځ ئې هغه کوهستان ټاکي چې سیستان له کرمان او یزد څخه جلا کوي. ختیځ ته ئې د غزني په جنوب کي هغه لوړي هواري پرتې دي چې له همدې ځایه د ترنک رود او د هغه د ارغسان او کدني په نومو مرستیالان راوزي او کښته د کوړک (کهوجک) امران تر هغې لړۍ رسېږي چې کندهار له بلوچستان څخه بېلوي. یا په نورو الفاظو چې وویل سي، دغه ستراپي ښایي داسي په نظر کي ونیول سي چې په جغرافیائي حساب ګویا د اوسني کندهار او سیستان له خوا

تمثیلیږي. د پورتنیو قبیلو له جملې څخه چې هیرودوت یادي کړي دي، سګارتوی په دغه خپل نامه اوس په افغانستان کي نه مونده کیږي. په مکران کي د پنجور شمال ته د غونډیو یوه لړۍ او هم یوه علاقه سته چې سګرکند نومیږي او دا ځای چې د سیستان پر جنوبي حدودو واقع دی ښایي د سګرتوی پخوانی نیوکه ښکاره کوي. البته د هغي قبیلې اوسني نمایندګان ښایي د دغي سیمي د پرښیایي (ایلات) یا کوچیانو تر منځ موجودیت لري . ځکه لکه هیرودوت چې وایې سګرتوی یوه پرشیایي قبیله وه چې کوچیي عادتونه ئې درلوده. سرنګای په سر سره هغه زرنګای یا درنګای غوندي دی چې خپل نوم ئې لرغوني درنګیا یا د سترابو، پلیني او پتولیمي ډیري پراخې درنګیانا ته ورکړي او د دوی نوم په اوسنیو زمانو کي د هغه افغاني مملکت د (دراني) نامه د قومي عنوان په وسیله ژوندی پاته دی چې د تېري پېړۍ په منځنیو کلونو کي، لکه دمخه چې ئې بیان راغلی دی، د احمدشاه ابدالي له خوا څخه تأسیس سو. تمنای ښه ډېره زمانه دمخه (سر. ایچ. راولیسن) د غور د ملک د اوسنیو تایمنیانو په څېر پیژندلی دی او د دوی په باب موږ هغه وخت خبري کړي دي چې چارایماق مو تر څیړني لاندي وه. دوی (یعني تایمني) د کندهار، فراه او هرات په منځ کي د غور د غرونو جنوب – لوېدیځه برخه اشغالوي. دا کټ مټ هم هغه موقعیت دی چې د هیرودوت تمنای نیولی و. د دوی پای تخت د تایبارا یا تایوارا ښارګوټی دی چې د خاش پر سیند باندي هغه (زرنی) یا (غور) ته نژدې واقع دی چې د غور د مملکت لرغونی پای تخت او د هغو سوري شاهزاده ګانو او قوم مرکز و، چې پخوا زمانه ئې د غور د ملک لوېدیځه برخه یا پاروپامیسس چې دواړه مشابه مفهوم افاده کوي او (د غرني ملک) معنا ورکوي، له یوه مخه په لاس کي وه. اوسني تایمني ادعا کوي چې دوی له هم هغه ذاته څخه دي چې د سلیمان د لړۍ کاکړ ورپوري اړه لري او رشتیا هم د کاکړو یو غټ شمېر وګړي له دوی سره په خاوره کي شریک

دي. تايمني دوه لوی ښاخونه لري چې (د رازي او کيبچاک) نومېږي، لکه څنګه چې ئې دمخه څرګندونه سوې ده. اوتوی لکه وړاندي چې ويل سوي دي د اوسني (اوت) او (اتمان) له خوا څخه تمثيلېږي. د دوی لرغونی مرکز احتمال لري د بست (د پتوليمي لرغونی ابيستي) ګرشک او زميندااور شاوخوا د هيلمند د بهير په اوږدو کي واقع وی. امکان لري د کلات غلزي اوتک، يا هوتکي (هات، هوت، اوت) ښايي د لرغوني (اوتي) له اولادې څخه وي. اوسني اتمان – خېل (چې په يوه تېره برخه کي له مندڼ او يوسف سره يو ځای د اباسين لوري ته د دوی د لېږدېدني بيان راغلی دی) همدارنګه د تايمنيانو په شان له کاکړو سره د خپلوی ادعاء لري، که څه هم په اوس کي دوی له هغې قبيلې څخه بېخي بېل ګڼل کېږي. ميکوی، لکه دمخه چې ويل سوي دي ښايي اوس د کندهار د درانو د ماکو ولس له خوا څخه تمثيلېږي. ويل کېږي چې د ماکو ولس يوه غټه برخه هندوستان ته ولېږدېده چې د جنګېز خان تر مشرۍ لاندي د مغولو د چپاو له خطرونو څخه وژغورل سي. د ماکو د کام ځيني شانداره، خو وړې، کالونياني په ملتان او د اباسين د ناوې په دېره جات کي موجودي دي. ماکو په عمومي توګه لکه وړاندي چې ئې بيان راغلی دی له ځګواني سره پيوند دي چې د خوګيانو يوه څانګه ده او له دوی سره يو ځای د ماک يا ماکهـ له توکمه څخه ګڼل کېږي چې زما په ګومان دا به د راجپوتي شجرې مکواهانه وي.

د افغان نسبي شجرې په هغو قبيلو سره راپيل کېږي چې د استوګني ټاټوبی ئې هغه ملک دی چې همدا اوس ورباندي ږغېږو، يعني د کندهار اوسنی ولايت. نومړي قبيلې ټوله د افغاني قوميت تر سربني (سوريا بانسي) ښاخ لاندي راځي. سربني دوې لويي څانګي لري چې شرخبون يا شرف الدين او خرښبون يا خيرالدين نومېږي او دوی دواړه همدا شان بې له کومه توپيره د فارسبون په عنوان يادېږي. شرخبون له پنځو قبيلو څخه

جوړېږي چې ترين، شېراني، ميانه، بړېڅ او اورمړ دي. خرښبون له درو څخه جوړېږي چې د کند، زمند او کانسي په نومو دي.

د ترين قبيله درې څېلونه لري چې ابدال، سپين ترين او تور ترين نومېږي. د ترين نوم ښايي د شمالي هند د برهمني قبيلې له تري څخه نمايندګي کوي چې د هغو لرغونی مرکز ښايي د ترنک په ناوه کې و. د ابدال يا اودال نوم ګومان کېږي هغه ابتيلاهون (هايتل چې جمع ئې هياتله کېږي) تمثيلوي چې د بيزنتين پوهانو د ييپتليانو يا نيپتليانو په نامه بللي دي. خو دا احتمال هم سته چې دا نوم له يوې راجپوتي ريښې (البته له آئودي يا اودي) څخه راوتلی وي. ځکه ابدال تر دوو ښاخو لاندي تصنيف کېږي چې يو ئې راجر يا رازر او بل ئې کاکی يا کاکه نومېږي او دا دواړه نومونه سوچه راجپوتي نومونه دي چې د هندي صحرا او اباسين د پولي قبيلې ورباندي يادېږي.

د رازر، راجر يا راجوار خېلونه د ايسا، ماکو، الي او آود يا اود په نومو دي.

د ايسا څانګې دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ابدي* | اچک | اکا | اليکو | اپو |
| ايوب | بهادور* | بهنول | بای | باکل |
| باکو | بانو | بارک | بسامه | بايان |
| بور | چالاک* | درزای* | دولت | فيروز* |
| غېبی | ګورجی | حسن | هاوا* | اسهاک |
| اسمائيل | جائېب | کلندر | کانو* | کهوجک (کوړک) |
| کهونسی | لشکر | لوت | ميلا | مهيا* |
| مندن* | معروف | موسا | نسرت | نور* |
| پاګل* | پنجپای* | پوپل | پروت | سادو |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| سافو | سنجر | سر کلي | شېخ | اومر |
| اوتمان | يعقوب | يادو | زاکو | زنگی |
| زیرک | زیتک | اونور | | |

پورتني نومونه زياتره راجپوتي او هندي دي او د ډېرو يادونه ئې دمخه راغلې ده. ايوب ښايي د رهتور مربوط د جوبسيا اسلامي پوښ وي. بهادور يا باتور د گوجر د بتار يا د راجپوت د باتر ځای نيولی دی. باکل لکه د ليست په لاندي برخه کي پاگل غوندي د سولانکي له بهاگېل څخه نمايندگي کوي. گورجي يا د غور په ملک کي د گورجستان د علاقې يو بومي او يا د قفقاز د جيورجيا له اهاليو څخه دی. جائېب ښايي د سوداگر پېشه راجپوت جائېل يا جائېمو تمثيلوي. کانو د راجپوت کاني ځرگندوي. ميلا له مهيلا څخه نمايندگي کوي چي ځاروي روزونکې هندی قبيله ده. مندان يوه برهمني قبيله ده. پروت د راجپوت مربوط گاهلوت گڼل کېږي. يعقوب ښايي د ترکو د سکلاب مربوط اقوبي تمثيلوي. له پورتنيو نومو څخه هغه چي د ستوري په نښه ټاکلي دي ابدالي گڼل کېږي او دا نور که څه هم له ابداليو سره تصنيف سوي دي خو د دوی له جمه نه بلل کېږي.

د ماکو څانگي دا دي:

بېدل فيروز اونور چي د اوسنی زمانې اسلامي نومونه دي.

د الي څانگي دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| اليک | گيورا | حسن | خوايداد | خير |
| ماشو | شېخ | سکندر | سوگاني | |

له دغې جملې څخه گيورا ښايي له گاهور څخه نمايندگي کوي چي د راجپوت د گاهلوت په قبيله پوري اړه لري. ماشو هغه مشوانی تمثيلوي چي د تېري يادوني سره سم لرغوني ماسياني گڼل کېږي.

آود يا اود په همدغه نامه اوس په افغانستان کي نه مونده کېږي. ويل

کېږي چي په دغه نامه د سر له قبیلوي نیکه څخه یو مذهبي زاهد جوړ سوی دی. د دې خبري معنا ښايي دا وي چي دغي قبیلې د اسلام له منلو سره خپل اصلي نوم په اسلامي نوم باندي اړولی دی.

د کاکي خېلونه سلمان (سولانکي؟) او ځگوانی دي. لومړی ئې له غلزو سره یو ځای سوی دی او دوهم ئې د څوګیانیو یوه څانګه ده. د دواړو په باره کي دمخه څرګندوني راغلي دي.

د سپین ترین څانګي دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ادهم | ادوانی | لغجام | لسران | مرپانی |
| ښادی | سلیمان | وزیر | یحیا | او نور |

په دغه جمله کي ادهم او ادوانی داسي ښکاري چي سره یو شی دی او دوی هغه آدم تمثیلوي چي د کاتور ترک یو خېل دی. مرپانی البته له سرپانې سره یو شی دی چي دمخه ئې یادونه سوې ده. لغجام او لسران به یو ځل بیا د بلوچي قبیلو په څېر مخي ته راسئ. دا نور نومونه په دمخه کي ښوول سوي دي.

د تور ترین څانګي دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ابابکر | احمد | الي | بادو | بالې |
| باتې | ګوندری | هدیه | هارون | حیدر |
| هیکل | اسمائیل | کند | کربلا | کموخ |
| ملکیار | مالموني | منا | مانی | منګل |
| مزل | نېکبختانی | سیکهی | سید | تورل |
| او نور | | | | |

په دغو نومو کي بادو ښايي د برهمن بیدا تمثیلوي. بالې د ختري بهالې څرګندوي. باتې د ګاهلوت له باتېسوارا یا باتېوارا څخه نمایندګي کوي چي سوداګر پېشه راجپوت دی. ګوندری، د ګونده ځای نیولی دی

چي څاروي روزونکې هندي قبیله ده. هدیه د جت د هودي څرګندونه کوي. هیکل لکه څنګه چي مي دمخه ویلي دي د هیرودوت له آیګلای څخه نمایندګي کوي. منا او مانی داسي ښکاري چي سره یو شی وي او ښایي مانت تمثیلوي چي سوداګر پېشه راجپوت دی. منګل یوه ختري قبیله ده. سیکهي په ښکاره د اوسنی زمانې یو راغلی نوم دی چي د پنجاب له سیکهـ څخه اخیسته سوی دی. نېکبختانی (بختور) زما په خیال چي دمخه مي یادونه هم کړې ده ایورګېټېس (خیر رسوونکی) تمثیلوي چي دا د هغه نامه یونانی ترجمه ده چي قیروس لرغوني اګریاسپوی یا اریاسپوی ته د هغه خدمتونو د منني په خاطر ورکړ چي د سیکتیانو مقابل ئې د ده د لښکر په سوقیاتو کي سر ته رسولي وه. آرریان چي په دې ملک کي د سکندر د پوځي عملیاتو په باب بیان کوي نو په خپلو څرګندونو کي ئې د دوی نوم یاد کړی دی او په دغو ټکو باندي دا خبره هم زیاتوي چي "سکندر چي کله دا واورېده چي دوی د خپلو ګاونډیانو په څېر د بدویانو غوندي ژوند نه کوي بلکي د یونان د خورا بانظمه دولت په شان ئې د عدالت اداره قائمه کړې ده نو ئې دوی آزاد اعلام کړه او څونه مځکه چي ئې په ګاونډي ملک کي غوښته هغونه ئې دوی ته وسپارله، ځکه د دوی غوښتني پر حد برابري وې". له کلات غلزي څخه چي هغه احتمال لري د لرغوني اریاسپي د پای تخت ساحه په نښه کوي، تقریباً لس میله لیري د ترنک پر غاړه باندي یو شمېر کنډوالې سته چي تر اوسه لا د یوه ښار څرک ګڼل کېدای سي چي (سري اسپ) نومېدی. د ارغنداب د ناوې شمالي خواوو ته په ګاونډو غونډیو کي یوه وړه قبیله ده چي نېکبی – خېل (د نېکبین خېل پر ځای) یعني (خیر رسوونکې قبیله) نومېږي. نېکبي – خېل د سوات په ناوه کي یوه لویه مېنه لري چي هلته دوی د (سیبوجونه) له خېله سره یو ځای سوي دي. دغه وروستی نوم د (سیپت) او (جونه) د دوو راجپوتي قبیلو له پیونده څخه جوړ سوی دی. نېکبي – خېل همدارنګه د

اباسین د ټولي پولي په اوږدو کي د زیاتو پښتني قبیلو د خېلونو تر منځ مونده کېږي خو کله د نېکبي - خېل، کله د نېکنام - خېل او کله بیا د نېکبختام په نامه وي. سکندر ایورګیتیس ته د زرنګیا یا درنګیا له ملک څخه راغی یعني له هغه ملک څخه چي د هیلمند د سیند پر لوېدیځه یا ښي غاړه باندي پروت دی. دغه نو د سیستان اوسنی ملک دی. دا خبره دغه درنګای ولس یا د دوی د اولادې له سلسلې سره اړه لري چي زموږ د زمانې درانیو خبل نوم له هغه څخه را ایستلی دی. احمدشاه ابدالي چي کله افغان ولس د تېري پېړۍ د منځنیو کلونو په شاوخوا یا لږ تر یونیم سل کاله په زمانه کي د یوه خپلواک ملت دریځ ته د خپل توکم د یوه پاچا تر واکمنۍ لاندي وخېژاوه نو دی هغه لومړی څوک و چي دغه نوم ئې د خپلو بومي رعیتو دپاره د یوه ځانته ملي لقب په څېر واخیست. ځکه لکه څنګه چي څو کلونه پخوا ما ویلي دي او په دې لیکنه کي ئې هم دمخه یادونه راغلې ده د "احمدشاه پر سر په کندهار کي د پاچهۍ تاج کښېښوول خو دا مراسم د افغان ملت د واکمن په څېر نه بلکي د دراني ولس د پاچا په څېر سر ته ورسېده. په دې ترتیب نو دغه نوی پاچا د درنګیانا لرغوني ولایت د یوه خپلواک مملکت په شان بیا را ژوندی او راجګ کړ او د درنګای لرغونی نوم چي په ښکاره له منځه څخه تللی و د دراني په اوسني نامه کي ئې بیا راژوندی کړ".

په دې ډول نو د لرغوني درنګیانا - د کندهار اوسنی ولایت (د سیستان په شمول) - خلک اوس د درانو په څېر وپېژندل سوه. "خو د افغانستان نور پاته اهالي چي د احمدشاه دراني له خوا د تاسیس سوي مملکت په وطني حوزه کي شامل وه د بر دراني یعني "دباندني یا اضافي دراني) په عنوان باندي یاد سوه. خو د حکومت نوم او همدارنګه شاهانه لقب یوازي دراني و - چي د لرغوني درنګای اوسنی شکل ګڼل کېږي. په وروستیو کلونو کي چي کله برتانوي حکومت تېنتېدلی او بدبخته شاه

شجاع بیرته د خپلو نیکه ګانو پر تخت باندي بیا کښېناوه نو دغه نوی مملکت د یوې لنډې مودې دپاره د دراني امپراتورۍ تر تېل سوي لقب لاندي ناټکی مخ وموندی".

درانی د زیرک او پنجپای په نومو دوه لوی ښاخونه لري. زیرک ښايي جیران تمثیلوي چي سوداګر پېشه راجپوت دی او پنجپای له پنجپاینده یا پنجپایندو څخه نمایندګي کوي. د زیرک ښاخ د پوپل، الیکو، بارک او اچک له ټولیو څخه جوړېږي. د پنجپای ښاخ د نور، الي، اسهاک (یا سهاک یا ساک) خګواني او ماکو له ټولیو څخه جوړېږي. د زیرک او پنجپای کلي نومونه (چي لومړی د راجپوت د زیرانکي یا جیرانکي مخفف دی او دوهم د راجپوت د پنج پاندو لنډکی دی) ښايي د اوسنیو درانو یا د کندهار د ملک پر هغو پخوانیو راجپوتي ښاخونو باندي دلالت کوي چي په دې محل کي د هندي قبیلو په اقتفاء نومېدلې. له هغو ټولیو څخه چي تر دغو دوو سترو ښاخونو لاندي ئې نومونه یاد سوه د هري یوې په شمېر او قدرت کي له هغه وخته څخه ډېر زیاتوب راغی چي دوی په دراني کامنویلت (مشترک المنافع اتحادیه) کي سره یو ځای سوه. د زیرک ټولی، پوپل، الیکو او بارک زما په خیال هغه یوناني پایوپلای، ایولوی او بارکای تمثیلوي، چي یادونه ئې دمخه راغلې ده. خو اچک چي په خپله د درانیانو له خوا څخه هم یوه بېله قبیله ګڼله کېږي زما په خیال له هندی اچي یا اچیهولادا څخه نمایندګي کوي. د راجاتارینګیني له خوا یاد سوی (ښورښي اچي) د دامره (دومړ کاکړ چي پخوا ئې یادونه سوې ده) د قبیلې یوه څانګه ده چي د کشمیر په تاریخ کي هغه زمانه د یوه پیاوړي او ښورښي ولس په څېر د لاهور او شمالي پنجاب په شاوخوا کي ښوول کېږي چي د اوانتیوارما له ۸۵۷م څخه تر ۸۸٦م پوري او د هارشا له ۱۰۹۰م څخه تر ۱۱۰۲م د واکمنۍ دوره ده او دواړه د کشمیر د پاچهانو په توګه حکومت کوي. دوی ښايي د توخاري یا توغیاني ترک او یا د کاتور له قبیلو څخه

نمایندګي کوي. د پنجپای ټولی نور او ماکو زما له دمخني بیانه سره سم د راجپوت نور یا نورکا او د راجپوت مکواهانه تمثیلوي. الي د یوناني ایولوی ځر ګندوی ګڼل کېږي. اسهاک (د اسحاق په شکل - مترجم) د ساکا یا ساک اسلامي تقاب دی چې د پرشیاوالو له ساکا او د یونانیانو له سکای څخه نمایندګي کوي او دا هغه سکیتي فاتحان دي چې خپل نوم ئې سیستان، د عربي لیکوالو سجستان او د هندي لیکوالو ساکاستان ته ورکړی دی. د ساکائي سکیتیانو یوه بله څانګه د هزاره و په ساګپائي او ساګجوئي خېلونو کې مونده کېږي چې دمخه ئې یادونه سوې ده. خګواني له خوګیاني سره یو شی دي چې په تېر بیان کې د هیرودوت د هایګینوی په څېر بلل سوی دی. راسئ اوس د دغو دراني ټولیو د هري یوې جوړښت ته کتنه وکړو. د پوپل څانګې دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| الي | ایوب | بادو | بهلول | بامي |
| بنو | بسامه | قلندر | حبیب | حسن |
| اسمائیل | کاني | معروف | نسرت | سادو |
| صالح | اومر | زینک | | |

له دغې جملې څخه ایوب د رهتور د جوبسیا ښکارندوی دی (اجب د پښتنو تر منځ یو عمومي خاص نوم دی). بادو د ترکو بادیا تمثیلوي. بهلول د سولانکي بېهیلا څرګندوي. بامي د برهمن د باما ځای نیولی دی. بنو د راجپوت له بنافار څخه نمایندګي کوي. نسرت په کونړ او سوات کې د یوې قبیلې نوم دی او ښایي د ترکو د کاتور یوه څانګه وي. زینک یا زاینک هم دا رنګه ترک دی. نور نومونه په دمخه کې یاد سوي دي. پوپل ښایي د راجپوت د ګاهلوت د قبیلې پیپارا یا یوناني پایوپلای تمثیلوي لکه وړاندي چې وویل سوه. لکه څنګه چې دمخه څرګنده سوې ده هیرودوت پایوپلای په داسي توګه یادوي چې دوی د داریوش هیستاپسپس په امر د ستریمون له سنده څخه د پایونوی یا پانونوی له بېلابېلو قبیلو سره یو ځای

ولېږدول سوه او د فرایګیا په یوه علاقه کي مېشته سوه. هغه قبیلې چي په دغه راز لېږدونه کي ئې نوم راغلی دی د پایونوی، سیروپاینوی، پایوپلای او دوبیروی قبیلې وې. معلومېږي چي دغه قبیلې د ختیځ لوري ته کډه سوې او په لرغوني درنګیانا (اوسني کندهار) کي ئې اړولي دي ځکه موږ اوس په همدغه ملک کي ځیني قبیلې مومو چي کټ مټ هغه راز او یا له هغو سره ډېر ورته نومونه ئې دي. په دې ترتیب نو پایونوی یا پاننوی د هغه موجوده پانني افغانانو په وسیله تمثیلېږي چي له دوی څخه زیاتره هندوستان ته کډه سوي دي اما د قبیلې یو څه پاته سوي وګړي ئې په سیبي او د شال په شاوخوا ملک کي اوسي. سیروپاینوی د هغه سرپانني یا مرپانني له خوا څخه تمثیلېږي چي اوس د پښین د سپینو ترینانو تر منځ مونده کېږي. پایوپلای بیا د کندهار پوپلزي یا پوپلي تمثیلوي او دوبیروی بیا د هلمند په حوزه کي د زمینداور داوري، او د اباسین پر پوله د (داور) داوري یا دائوري تمثیلوي. له بلي خوا بیا پوپل ښایي د ګاهلوت د پیپارا ځای نیولی دی چي دغه خېل تر زیاتي اندازې له راجپوتي څانګو څخه جوړ سوی دی. سربېره پر دغو پاسنیو څېړنو اسمائیل، کاني، سادو او اومر د راجپوت له سیماله اوکاني، د ګاهلوت له سیسودیا او د پرامارا له اومرا څخه نمایندګي کوي. سدو (سادو) هغه قبیله ده چي دراني پاچا احمدشاه ابدالي په هغې پوري اړه لري. د سدوزو قبیله چي پاچاخېل سوه نو ئې په شمېر، ثروت او رسوخ کي خورا ډېر زیاتوالی راغی او ژر ئې یو شمېر کوچني ښاخونه پیدا کړه چي هغه تر ډېره ځایه اوسني اسلامي نومونه لري. له دغو نومو څخه ځیني زیات مشخص ئې په تېره بیا د راجپوتي خپلوی په ارتباط دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| الي | هارون | اسمائیل | کمال | کامران |
| خیدر | مغدود | موسا | رستم | سرمست |
| شاجل | یارا | زعفران | او نور | |

له دغي جملې څخه الي ښايي د يوناني ايولوی ځای نيولی وي. هارون (کچواهه) ارانيا تمثيلوي. اسمائيل د راجپوت سيماله څرګندوي. کمال او کامران دواړه ترکي نومونه دي. خيدر يا خضر د پرامارا له کهېجار يا له کيهدار څخه نمايندګي کوي چي سوداګر پېشه راجپوت دی. مغدود د ماکو سره يو شی دی او ښايي چي مکواهانه تمثيلوي. موسا ښايي د موسوی دين له اسرائيليانو څخه، يا د ليديا له لرغوني مايسوی څخه او يا د اباسين د ناوې او سيند له موسي څخه نمايندګي کوي چي ترمخه ئې بيان راغلی دی. رستم د افسانوي زمانو يو وطني قهرمان دی او ښايي چي صرف (د غروال) معنا افاده کوي. سرمست البته د راجپوت مربوط د شري مت دېټولو دپاره يو اسلامي پوښ دی. شاجل جي سوجت تمثيلوي سوداګر پېشه راجپوت دی. يارا د رهتور له جورا څخه نمايندګي کوي. زعفران (چي د زعفار جمع ده) د پرامارا جيپرا څرګندوي. د خيدر يا (خواجه خدر) پورتنی څانګه هغه خېل دی چي د ابدالي احمدشاه کورنی اړه پوري لري. د سدوزيو ملک د ترنک په ناوه کي د (شهري صفا) شاوخوا واقع دی او د پوپلزو دا په عمومي ډول د کندهار شاوخوا او د هيلمند په حوزه کي د خاکرېز تر علاقې پوري رسېدلی دی. پوپلزي چي شمېر ئې لس زره کورنی ګڼل سوی دی، يوه برخه ئې کرونده ګر او بله برخه ئې کوچي دي. دوی په دې باندي شهرت لري چي متمدن خلک دي او يا خو لږ تر لږه د نورو افغاني قبيلو په پرتله ډېر کم بدوي ګڼل کېږي.

اليکو يا اليکوزي چي خپله د کندهار پر شرقي، شمالي او غربي خواوو باندي ئې د جلدک، ارغنداب، پنجوايي او داسي نوري علاقې نيولي دي، شمېر ئې پنځلس زره کورنيو ته رسېږي چي زياتره ئې په کرهڼه لګيا دي. د اليکو نوم د (اليکا) سره يو شی چي د (الي مربوط) معنا افاده کوي. الي (اليخېل او اليزي) په افغانستان کي په ډېره پراخه توګه تيت يوه قبيله ده او زما په عقيده له يوناني ايولوی څخه نمايندګي کوي. د کندهار

ACKU

دننه او شاوخوا پر هغو علاقو سربېره چې نومونه ئې پورته یاد سوه دوی همدا شان په خاکرېز او د میوند شمال ته په غونډیو کي او د هیلمند پر لوېدیځه غاړه په زمینداور کي مېني لري او لوېدیځ پلو ته لیري تر هراته پوري غزېدلي دي. د هزاره په ملک کي دوی د شیخ علي په څېر او د بلخ د ولایت د ترکمنو تر منځ د علي الهي په څېر څرګندېږي. الي همدارنګه د پښتني قبیلو تر منځ د کابل او غزني په ملکونو او د برتانوي حوزې د پېښور د دوآب او د راولپنډۍ د چچ په علاقو کي او همدا ډول (د جنوبي هند) د دکن په ځینو برخو کي مونده کېږي. د الیکوزو اساسي وړې پښې د نسو، سرکاڼي او زیورا په نومو دي. د ابدالي احمدشاه مور د الیکوزو له قبیلې څخه وه. همدا راز د هرات مشهور وزیر یارمحمد د نسو په څانګه پوري اړه درلوده.

بارک یا بارکزي چې شمېر ئې د هغو پوپلزو دوه چنده دی چې له دوی څخه ئې په ۱۹ – ۱۸۱۸م کي د حکومت واګي واخیستې. له همدغي نېټې راهیسي نو د برتانیې په مرسته په افغانستان کي حکومت د بارکزو په لاس کي دی. بارکزي یو څه کرونده ګر او سوداګر دي خو زیات شمېر ئې کوچي او نظامي ګڼل کېږي. دوی د هغه ملک یوه غټه برخه نیولې ده چې اوبه ئې د ارغسان رود ته وزي. دغه برخه په ختیځ کي د کوږک امران د لړۍ د توبې او مرغې له لوړو هوارو څخه نیولې بیا په لوېدیځ کي د ګرمسېل تر حدودو پوري د کندهار د جنوب په ټوله امتداد کي د ښوراوک تر پولو او د بلوچستان د ریګو تر دښت پوري غزېدلې ده. د دغي ټرانګي په جنوب – ختیځه برخه کي بارک پخواله اچک سره متحد وه خو احمدشاه د خپل دراني مملکت له تاسیسه سره دغه پیوند وشکاوه او اچک اوس د یوې بېخي ځانته بېلي قبیلې په څېر پېژندل کېږي او د ټولو دراني خېلونو تر منځ دوی ته د خورا ناپوه او بدوي وګړو په څېر چنداني په درنه سترګه نه کتل کېږي. بارکزي اوس په افغانستان کي واکمن دي او د

ACKU

خپلو نظامي مهار تونو په وجه چي له برتانويانو سره ئې په جګړه کي ځرګند کړه نو د همدې پياوړيتوب په نتيجه کي ئې خورا زيات شهرت وګاټه. ښکاري چي دوی په سر سره هم هغه د لوګر د برکي يا بارکي او د ختکو د قبيلې د بارک په شان خلګ وي، که څه هم ډېر پخوا سره بېل سوي دي او اوس دوی په خپله لا اقل د کومي دغسي خپلوۍ په باب په څه نه پوهېږي. بارکزي په افغانستان کي تر دېرش زره کورنۍ زيات دي او د دوی لومړنۍ پخواني مرکز لکه څنګه چي په تېر بيان کي ويل سوي دي زموږ د زمانې د برکيانو له ټاټوبو څخه ډېر ليري نه دی. د برکيانو په باب ويل کېږي چي پخوا زمانه ئې تر هغه خورا ډېره ساحه نيولې وه لکه نن چي ئې په لاس کي ده او د يو څو مورچلي کلاوو او کليو له مخي څخه تمثيلېږي. برکيان که څه هم د افغانستان له نورو ټولو قبيلو څخه په خپله د همدې هيواد د بومي اهاليو له خوا، د يوه بېل ولس په څېر پېژندل کېږي، خو سره له دې هم د يوه لوړ توکم په سترګه ورته کتل کېږي او د خپلي زړه ورتيا او نظامي مهارتونو په وجه ئې قدر کېږي. برکيان د ملک د بارکزي واکمنانو سره خورا جوړ دي او د هغو له خوا څخه د باوري ساتندويانو په توګه چره کېږي او د پاچهي ماڼيو د خدمت دپاره ګومارل کېږي. دغه شان وضعي کم از کم د اروابښاد شېرعلي خان تر زمانې پوري جريان درلودی.

اچک، اچکزي له يوه مخه په چوپاني ژوند او داړه ماري لګيا دي. دوی د کدني په ناوه او د کوږک امران د لړۍ په شمالي ډډو باندي بيا د توبې تر جګو هوارو پوري پراته دي. خو دوی ليري تر لوېديځو خواوو پوري کوچېږي او په ټوله ملک باندي تر هرات او بادغيس او هم د غور د ملک تر ځينو برخو پوري تيت مونده کېږي. دوی په شمېر پنځه زره کرۀدۍ ګڼل سوي او دوه ښاخونه لري چي د بهادور او ګجن په نامه دي. (د کندهار په عامه لهجه کي دغه دوه نومه د بادين او ګوجن په بڼه اورېده کېږي – مترجم).

د بهادور (چي د راجپوت مربوط د باتر یو بې قبیلې خېل دی) څانګې ئې دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| اشدان | باکر | فام | غابې | کاکو |
| شامو | اونور | | | |

ګجن (چي د ناګا د قبیلې کاچین دی) څانګې ئې دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ادا | ادراک | الي | اشې | بادی |
| هارون | جالی | کامل | لالی | ملی |
| ماپی | موشکی | شکر | اونور | |

له پورتنیو څانګو څخه اشدان او اشې ښکاري چي سره یو شی وي او دوی د اچي او اچک بېل شکونه ګڼل کېږي. ځیني نوري څانګې ئې لکه فام، غابې، ادا او ادراک نه دي پېژندل سوي. نور نوموړنه ټوله هندي دي او په دمخه کي تشریح سوي دي. که څه هم شامو همدا رنګه یو ترکی نوم دی او بادي او کمال همدا راز ترک دي او هارون اسلامي نوم دی.

نور یا نورزي چي پنجپای دراني دي د کندهار د ملک لوېدیځې برخې ئې نیولي دي او دوی زیاتره کوچیان او داړه مار دي. دوی دېرش زره کورنۍ ګڼل سوي دي چي د هیلمند شاوخوا په ګرمسېل، فراه، دراوت (ده راوت یا داهي راوت، چي راوت د مال روزونکو او څړوالو یوه راجپوتي قبیله ده) د غور د سیاه بند په غونډیو، په اسافزار (چي همدارنګه اسفراین، سفید راون او سپېروان یاد سوی دی) او د ادرسکند په ناوه کي د سیستان تر پولو پوري تیت دي. د نور یا نورزي نوم په ښکاره د راجپوت له نور یا نورکا سره یو شی دی او په اصل کي دوی سکیتیان دي چي غالباً د ساکا ولس یوه څانګه یا خېل ګڼل کېږي. د نورزو له ښاخونو څخه د بادي څانګه ترک او چالاک ئې (چالاک یا سولانکي) راجپوت دي. د دې قبیلې په باره کي ډېر معلومات نسته.

الي یا الیزي په شمېر شپاړس زره کورنۍ ګڼل سوي دي او په سر

سره ئې هغه علاقې نیولي دي چې د دوی قومي خپلوان یعني الیکو چې دمخه ئې بیان راغی هلته اوسي. د دوی اساسي مرکز د هیلمند لوېدیځ پلو ته د بست او چکنسور تر منځ د زمینداور پر ډاګ باندي واقع دی. د الیزو سره (اود) یا (اودزي) یو ځای کېږي چې په شمېر پنځه زره کورنۍ دي. دوی په دراوت، نادالي، ګرمسېل، ماروف او نورو ځایو کي مېني لري. د (اود) نوم ښایي د راجپوت (اودی) یا د هیرودوت (اوتی) تمثیلوي.

اسهاک، سهاک، ساک یا اسهاکزي یو څه کوچي او یو څه هم کرونده ګر دي. دوی د کندهار او بست تر منځ د ارغنداب د سیند په کوز مسیر او هم د هیلمند په اوږدو کي د سیستان تر تالابه پوري پراته دي. د دوی اساسي مرکزونه په خان نشین او د لاش - جووین په اوکات او فراه کي دي. په شمېر دوی دوولس زره کورنۍ ګڼل سوي دي چې له هغې جملې څخه یو زر ئې د بلخ په ملک کي اسهاک هغه لرغونی ساکا تمثیلوي چې سیستان یا ساکاستان ئې ونیوی او نو د دوی په نامه باندي یاد سوه. پخوا دا ملک د ختیځ والو له خوا څخه د نیمروز (د نمرود یعني د بابل د پاچا د ملک) په نامه او د یونانیانو له خوا څخه د درنګیا په نامه یادېدی.

خګواني او ماکو یو د بل سره یو ځای سوي دي. دوی په شمېر بېخي لږ دي او پرته له دې چې د غزني پر سیمه ئې د ښار په اطرافو کي یو څو کلي سته نور نو د ځان په نامه خپله کومه خاوره نه لري.

په دې بیان سره د هغو قبیلو په باب زموږ څېړنه بشپړېدو ته رسېږي چې په افغاني نسبي شجرو کي د ترین تر عنوان لاندي تصنیف سوي دي. د سربني افغان د شرخبون د ښاخ ورپسې قبیله شېراني ده چې همدارنګه د چار (د راجپوت چاوره یا چائوره) په نامه یادېږي. د کرنیل (تاد) له بیانه سره سم (چې د راجستان په پېښه لیک کي ئې راوړي دي) چائوره یو زمانه د هند په تاریخ کي یوه مشهوره قبیله وه، که څه هم اوس د ده له قوله د هغې نوم چنداني څوک نه پېژني او منشاء ئې تر ابهام لاندي ډېره سوې ده.

دا قبیله نه د لمر او نه د سپوږ ى په ذات پوري اړه لري او احتمال لري چي له سکیتي نسبه څخه وي. دا نوم په هندوستان کي څوک نه پېژني او له یو زیات شمېر نورو قبیلو سره چي منشاء ئې تر اباسین پوري خوا منځته راغلې ده یوازي د سوراشترا په ټاپووزمه پوري محدود دی. (تاد) د خپل بیان په ادامه کي وایي چي که چیري دا قبیله د اصلي هند په نسبت پردۍ قبیله وي نو د هغې استقرار به ضرور په یوه لیري زمانه پوري اړه لري چي د همدې قبیلې وګړي د میوار د کورنۍ د اوسنیو شاهزادګانو له سوراجبانسي اجدادو سره په ازدواجي کړی کي هغه مهال پیوند سوي دي چي د دې کورنۍ غړي د (بالابهي) باداران وه. د چاپورا پای تخت ټاپوئي (دیوبندر) و چي د سوراشترا پر غاړه ئې موقعیت درلودی. د سومنات معبد د دې د غاړي له ډېرو نورو معبدونو سره چي (بلناتهه) ته وقف وه د (سورا) یا د لمر لمانځونکو دغي قبیلې ته منسوبېږي. دا د (دیو) شاهزاده (ویناراجا) یا (بنراج) و، چي په ۷۴۶م کي یې د (انهالوارا) بنیاد کښېښووی او دده کورنۍ هلته یوسل او څلور اتیا کاله حکومت چلاوه څو بهوجراج چې تر مؤسس راهیسې په اووم پښت کي د چائورا د قبیلې وروستی واکمن و په ۹۳۱ ـم کي د خپلي لور د زوی، مولراج په وسیله چي د سولانکي په قبیله ئې اړه درلوده، له پاچهۍ څخه ولوېدی. مولراج اته پنځوس کاله پر انهالوارا باندي پاچهي وکړه.

د ده د زوی او خلف چاوند یا چاوندرای د واکمنۍ په دوره کي چي اسلامي تاریخ پوهان هغه د جمند په نامه یادوي، د غزنۍ محمود د انهالوارا پر مملکت باندي هجوم راوړی او د هغه ځای بې شماره ثروتونه ئې یووړه څکه انهالوارا په هغه زمانه کي د ختیځي او لوېدیځي نیمي کرې د محصولاتو منځنۍ کړی ګڼل کېده. انهالوارا د محمود تر ورانیو وروسته بیا له نوي سره آباده سوه او پر دې باندي (سدرای جي سینګ) له ۱۰۹۴م تر ۱۱۴۵م پوري حکومت کاوه چي تر موسس را وروسته ئې اووم واکمن

و. دا وخت که په هندکي انهالوارا د ډېر جنګي مملکت په حساب کي نه راتله خو د ثروت له مخي تر ټولو بډایه ګڼل کېده. په یوه وخت کي دوه ویشت امارتونه له کرناټک څخه نیولې بیا د همالیا تر لمني پوري د نوموړي واکمن تر قدرت لاندي وه. تر ده وروسته واکدار د چوهان د قبیلې مربوط د پریتهویراجانومي په وسیله له تخته ایسته سو او پر تخت باندي ئې هغه (کومارپال) کښېناوه چي ده د چوهان خپله قبیله پرېښووله او د سولانکي قبیلې ته ورشامل سو. هم (سدرای) او هم (کومارپال) دواړه د بودیزم پالونکي او ساتونکي وه. د کومارپال د واکمنۍ آخره د شهاب الدین د نظامي افسرانو له خوا څخه تر ستونزو لاندي راغله. په ده پسې چي باللومالدیو نومېدی په ۱۲۲۸م کال کي ئې هغه مهال خپلې شاهي کورنۍ ورټوله کړه چي د (سدرای) له اولادې څخه د بهاګېلا شاهي کورنۍ ئې پر تخت کښېناسته. د بهاګېلا تر واکمنۍ لاندي هغه وراني ویجاړې ترمیم سوې چي د مذهبي څورني پر بنا منځ ته راغلي وې، او سومنات دخپلو کنډوالو له منځه څخه راپورته سو او د بهلیکا رای مملکت بیرته خپل پخواني برم ته ورسېدی. خو کله چي د ګاهلاکاران په نامه د څلرم شاهزاده د واکمنۍ دوره وه نو په دې وخت کي د انهالوارا پر مملکت باندي د علاوالدین چپاو راغی او هغه ئې ړنګېدو ته ورساوه. بډای ښارونه او د ګوزیرات او سوراشترا آباد ډاګونه ئې لوټ او تالا کړه. د بودا مجسمې هر چیري راونړېدې او ماتي سوې. د بودا د مذهب کتابونه په هر ځای کي وسوځول او پوپناه سوه. د انهالوارا ښار له خاورو سره برابر سو او بنیادونه ئې له ریښو څخه وکښل سوه. د سولانکي د شاهي کورنۍ پاته کسان په هیواد کي تیت او پرک سوه او د هند دا برخه تر یوې پېړۍ لا زیات په داسي حال کي پاته سوه چي د سر کوم پیاوړی مشر ئې نه درلودی. خو کله چي سهاران، تاک تر مسلمانېدو وروسته د ظفرخان تر نامه لاندي چي د مظفر لقب ئې درلودی د ګوزیرات تخت ته ورسېدی نو د دې برخي برم

بیا له سره را ژوندۍ سو او بینادونه ئې بیرته ودان سوه. ظفرخان دغه تخت خپل زوی احمد ته پرېښووی چي هغه د احمدآباد بنا کښېښووله.

ما دغه اوږد بیان د (تاد) له اثره څخه چي (د راجیستان پېښه لیک) نومېږي په دې منظور په زیات تفصیل رااخیستی دی چي هغه د سلیمان د لړۍ او د اباسین د سرحد د زیاتو اوسنیو پښتني قبیلو پر خپلویو باندي ډېره رڼا اچوي. (چاوندرای) چي اسلامي لیکوالو د چمند په نامه یاد کړی دی په څرګنده توګه د سړبني افغان د خرشبون د څانګي د (زمند) د ښاخ سرچینه ده. دا چي کومارپال د چوهان خپله قبیله پرېښووله او په سولانکي پوري ئې ځان وتاړه په ښکاره د هغه افغاني بیان منشاء ګڼله کېږي چي وایي شېرانیو سړبني څانګه پرېښووله او د افغان ملت په غرغښتي څانګه پوري ئې ځان وتاړه. بهاګېلا اوس په افغانستان کي د پاګل، بهاګل او باکل د څانګو په وسیله د سلیمان د لړۍ په زیات شمېر قبیلو کي تمثیلېږي. د چائورا او ورپسې پاچهي کورنیو د حکومت په دوره کي چي د پېړیو، پېړیو په اوږده زمانه کي ئې دوام درلودی، د افغانستان ټوله ختیځه برخه اساساً د سکیتي د نسب مربوط راجپوتي او هندي قبیلو نیولې وه. دوی دغه ملک ته په بېلابېلو وختو کي او هم غالباً له بېلابېلو خواوو څخه راغلي وه. پخواني راتګ ئې سیده له هغو ملکونو څخه په سر رسېدی دی چي د آمو د سیند په شمال کي پراته دي خو وروستی راتګ ئې بیا د هندوستان له خوا څخه ګڼل کېږي.

شېراني یا چار درې ښاخونه لري چي دامر، جلواني او هریپال نومېږي. دامر، دومور یا دومر چي سره یو شی دي زه ئې د راجاتارینګیني هغه دامره بولم چي دمخه ئې یادونه سوې ده او دوی هغه څوک وه چي د نهمي او لسمي پېړیو تر منځ ئې د کشمیر په تاریخ کي ډېر څرګند نقش درلودی ځکه په دغه زمانه کي معلومېږي چي دوی د لاهور شاوخوا ملک نیولی و او د خپلو ښورښونو له کبله ئې پر څو موقع ګانو باندي یو لړ

تکليفونه ايجاد کړه. کله ناکله د دوی نوم د لوانيا او اچيهولادا سره چي هغه قبيلې هم د دوی په شان ښورښي خصلت لري يو ځای يادېږي خو په دې مورد کي زموږ دپاره د يوې خاصي علاقې خبره دا ده چي د دوی نومونه په پښين او شال کوټ (کوېټه) کي د افغان يا پښتون دومر د ځينو موجودو ګاونډيانو له نومو سره يو شی دي چي هغه لوني پښتانه او اچکزي دراني دي. اچکزي لکه دمخه چي څرګنده سوه د خپل ښورښي او بدوي خلقت په وجه تر نورو ټولو افغاني قبيلو زيات شهرت لري. د سانسکريت په ژبه کي د اچي – هولادا يا اچي – هولرا نوم چي راجا تارينګيني راوړی دی همدغه راز خصلت افاده کوي څکه معنا ئې له (ښورښي اچي) سره برابرېږي. تاد د هندي ښدیا د هندو قبيلو په خپل فهرست کي د اشياک نوم يادوي چي ښايي دا نوم به د سانسکريت له اچي نمايندګي کوي او نو په څرګنده توګه د هغه افغاني اچک منشاء ګڼله کېږي چي په تېر بيان کي مو د دراني ټوليو په جمله کي ياد کړی دی. د سيبي او د شال او پښين د پولو اوسېدونکي لوني په واضح ډول هم هغه د راجا تارينګيني له خوا ياد سوي لوانيا دي او دوی په لوی سر کي د راجواري د لوني د سيند له غاړو څخه راوتلي دي. د سليمان د لړۍ لواني، ليوانني او لوهاني همدارنګه ښايي له دغي سرچينې څخه وي.

د دومور يا دامر څانګي دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| احمد | انجر | بابر | بويا | دولت |
| هميم | هاني | هورمز | جهيم | کاپيپ |
| لندومر | مياني | موسا | نيازان | پنبه زن |
| سيد | سنجر | شاهمير | اومر | او نور |

له دغي جملې څخه بابر د ګوجر يو خېل دی. بويا ښايي د بای يو بل شکل وي او د هغي قبيلې ځای ئې نيولی دی چي د پرشيا د ديلامي په نامه د شاهي کورنۍ هغه شاهزادګان ځني راوپاڅېده چي د (بووي) په نوم بلل

کېږي. د دغي کورنۍ موسس چي (بويا) نومېدی ویل کېږي چي د (کباخسرو) يو زوی و. کبا د راجپوت د پرامارا د قبیلې یو خېل دی. هاني ښايي د برهمن هانا تمثیلوي. همیم ښايي له همیر څخه به نمایندګي کوي چي د سند یوه راجپوتي قبيله ده. جهیم د چوهان نښه ده. نیازان د نیازي په شان دی چي ترمخه ئې یادونه راغلې ده. پنبه زن يعني (پنبه ورېشونکي) په ښکاره يو اسلامي نقاب دی. بابر یا بابور اوس د دومر خورا ګڼ شمېره څانګه ده چي د یوې بېلي قبیلې په څېر ګڼله کېږي او عموماً له کاکړو سره چي ګاونډیان ئې دي يو ځای کېږي. انجر ښايي د بلوچستان د کلات د انجیرا له علاقې سره يو پیوند ولري. سنجر ترک دی او په دې نامه یوې کورنۍ په کندهار کي حکومت کړی دی.

د شېرانیو د جلواني ښاخ په څرګنده توګه د راجپوت د جهالا (مکواهانه) څخه راوتلی دی چي احتمال لري خپل نوم ئې د بلوچستان د کلات د جهالاوار برخي ته ورکړی دی.

د جلواني څانګي دا دي:

| کونګری | مروت | مایار | نېکبیخېل | سالار |
|---|---|---|---|---|
| سيپند | | | | |

له دغي جملې څخه کونګری د کهنګر ځای نیولی دی چي بومي هندیان دي. مروت د هندي بیدیا له مارو څخه نمایندګي کوي. مایار د موهار څرګندونه کوي چي (سوداګر) راجپوت دي. نېکبیخېل دمخه څېړل سوي دي. سالار هم په راجپوت او هم په ترکو کي راځي. سيپند د راجپوت سېپت تمثیلوي.

هرېپال یوه وړه قبیله ده چي د بوري او ږوب د ناوو تر منځ په پرتو غونډيو کي اوسي او هلته دوی له یوې ګاونډي کوچي قبیلې سره يو ځای سوي دي چي د (اسوت) یا (سوت) په نامه ده او د رهتور یوه بله طایفه ګڼله کېږي.

هرپيال چي يو سوچه هندی نوم دی لاندي څانگي لري:

يوسک نازک توری يا تواری

د سړبني افغان د شرخبون ورپسې ښاخ د ميانه قبيله ده چي زما په گومان د ليديا لرغونی ميونوی تمثيلوي. مياني له خيبره څخه نيولې تر بولانه پوري د اباسين په ټوله اوږدو کي خپاره تيت دي خو اساسي ټاټوبی ئې د اباسين د لړی په ديره جات او دامن کي واقع دي.

د مياني څانگي دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| اهير | اکا | بای | بودر | غرشين |
| غورانی | هاتی | جوت | کټی | کېکهی |
| ختران | لاس | لوانی | لوهانی | ملاهی |
| مشا | مشوانی | موسا | نانا | نورو |
| پاسنی | رانا | رهوانی | سرگهی | سپڼ |
| شادو | شکون | سيلاج | سوت | سومرا |
| سور | توغ | وړوکی | زاکوری | زمری |
| زورا | | | | |

په دغو نومو کي اهير د هند مال روزونکې قبيله ده. اکا يو ناگائي خېل دی. بای له يوناني بويوی څخه نمايندگي کوي. جوت د جات يا جت نوم تمثيلوي. کټی يوه سکيتي قبيله ده چي خپل نوم ئې د غزني د کټواز علاقې ته ورکړی دی. د دې قبيلې ستري هندی څانگي خپل نوم د سوراشترا په ټاپووزمه کي کتياوار ته ورکړی دی. کېکي يا کايکي د کاکړ د نامه يو شکل دی. لاس د بلوچستان يوه قبيله ده چي يادونه به ئې وروسته په مخه راسي. لوانی او لوهانی وړاندي ياد سوه. ملاهی د رهتور مهولي څرگندوي. رهوانی د ريواري په څېر ده چي هندی مال روزونکې قبيله گڼله کېږي. شکون يا شکوان(؟)، توغ له توغياني يا توخاري ترک

څخه نمایندګي کوي. زاکوري یا زکوري د جاکهر او زمري د میساري ځای نیولی دی چې هندي قبیلې دي. زورا د رهتور جورا تمثیلوي. د میاني د قبیلې زیاتره وګړي د پوونده یا کارواني سوداګرو په ورهنه لګیا دي او په دوی کي زیات مشهوره ئې هغه دي چې لوهاني، سوت، سېن، بابر، پاسنی، رهواني، کتې او داسي نور نومېږي.

پر دې میاني علاوه د پېښور په اشتنغر او نورو ځایو کي د (میان) په نامه یوه بله قبیله هم سته چې منشاء ئې هندي ده. دوی په دې کار لګیا دي چې د شمال پلو ته لیري تر چترال او بدخشانه پوري د غرنیو علاقو سره کارواني سوداګري کوي. دوی د کاکا - خېل ختکو سره پیوند دي او د غرنیو وګړو تر منځ د کومو سره چې دوی سوداګري کوي همدا شان د هغه خېل په څېر له مذهبي درناوي څخه برخورداره دي. همدا راز د خپلو خلګو یعني پښتنو له خوا څخه هم دوی ته د مځکي د نیولو په برخه کي ځیني امتیازات ور کول کېږي.

د سړبني افغان د شرخبون ورپسې ښاخ د بهرېچ یا برېچ قبیله ده چې ما د اګنیکولا راجپوت د چوهان د قبیلې د هغه خېل په څېر پېژندلی دی چې بهارائېچه نومېږي. (دا خېل په هندوستان کي زیات شهرت لري او هلته ئې خپل نوم د (اوده) یوې غتې علاقې ته ورکړی دی). دوی د کندهار د ښوراوک په علاقه کي اوسي چې د بلوچستان د ریګي دښت سره پوله لري او له بست څخه نیولې (چې دا ځای پخوا د غزني د محمود د ژمي استوګنځای و) بیا تر سیستانه پوري د هیلمند د سیند په اوږدو کي غزېدلی دی. دوی چې یو شمېر په کرهنه اخته او یو شمېر ئې کوچي دي په سیارو کوډغالو کي اوسي چې کډله ئې بولي د کډلې جوړوونکي چوکاټونه د غزه له چیخلو څخه اودل سوي او سرېره د ختو استر ور کول سوی وي. دوی ډېر ښه جنس اوښان په زیات شمېر کي ساتي او د افغانانو تر منځ ئې په دې کار کي نوم وړی دی چې د دغه حیوان روزلو ته ئې خپل ځانونه

سپارلي دي. بهرېچ په زياته اندازه هندوستان ته لېږدېدلي دي او هلته ئې د ډهلي پر سيمه، په جهاججار، گوهانه او نورو ځايو کي زياتي کالونۍ جوړي کړي دي.

د بړېڅو څانگي دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| بادل | بارک | بسا | چوپان | دادو |
| حسېن | ملاهي | مندی | مردان | شکور |
| سابيت | زاکو | اونور | | |

په دغو نومو کي بادل ښايي د راهتور له بهادايل څخه نمايندگي کوي. بسا يا باسو د باسي څرگندونه کوي چي د هند د زرعي سرفانو يا موروثي مريانو قبيله ده. چوپان لکه دمخه چي ويل سوي دي د هزاره و دای چوپان تمثيلوي چي په خاک چوپان (يعني د چوپان په خاوره يا قبر) او يا کاک چوپان (يعني د چوپان په ناور يا د اوبو په زېرمه کي) ئې يادونه راغلې ده. دادو له دادي څخه نمايندگي کوي چي له دمخني بيانه سره سم د هيرودوت لرغونی دادیکای تمثيلوي. ملاهي د رهتور مهولی څرگندوي. مندی د کچواهه مربوط د مندو ښبه ده. مردان دای مردا تمثيلوي چي د آرريان او سترابو له خوا ياد سوي لرغوني ماردي گڼل کېږي. شکور د برهمن له شوکول څخه نمايندگي کوي. سابيت يا شيخ ثابت د (پاريهارا؟) راجپوت مربوط له سېپات سره لگېږي. زاکو د جاگا ځای نيولی دی چي هندی سندربوله قبيله ده.

د سړبني افغان د شرخبون ورپسې او وروستۍ څانگه د اورمړ قبيله ده چي بيان ئې دمخه راغی دی. ويل کېږي چي اورمړ د امارالدين زوی و او د خپلي زوکړي د ځای په نامه باندي نومول سوی دی. احتمال لري اورمړ د پرامارا د قبيلې اومرا تمثيلوي چي دا نوم د راجپوت د پرامارا د اومرا سومرا د خپل د يوې برخي دپاره په کار اچول کېږي. اورمړو د امپراتور اکبر د واکمنۍ په دوره (يعني په ۱۵۸۰م ۱۵۹۰م کلونو) کي د

پېښور پر سرحد باندي د خپلو فعالیتونو په سبب چي د روښانیه فرقې (تنویر سوو بدعتي تعلیمات ئې خپروله خورا ډېر ښورښونه ایجاد کړه. اخوند درویزه چي د سوات مشهوره مذهبي شخصیت او په دغو برخو کي د روښانیانو د موسس بایزید معاصر او کلک مخالف و نو هغه د سپکاوي په توګه د [پیر تاریک] په نامه یادوي ځکه د "تاریکي مرشد ئې ګڼی". اخوند درویزه په خپله (تذکره) یا (یاداښتونو) کي د دغي فرقې او د روښانیانو د کړو په باب یو لړ څرګندوني لیکلي دي. روښانیه یا (تنویر سوي) د تناسخ، آزادي میني او د شیانو د اشتراکیت په باب تعلیمات غوره کوي او د (اسماعیلي ملاحده و) یوه څانګه ګڼله کېږي چي په اروپا کي د (حشیشیانو) په نامه باندي زیات شهرت لري. پښتانه دوی ته اورمړ وایي (په پښتو کي اور fire او مړ د extinguished معنا ور کوي) دا کټ مټ هغي فرقې ته ورته دي چي د پرشیاوالو تر منځ د چراغ کش (ډېوه مړه) په نامه بلل کېده او دا نوم ئې د هغه جال په نسبت اخیستی و چي د شپې د غونډو په وخت کي ئې د څراغ وژنه د دې علامه وه چي نور نو دوی خپل د تاریکی کارونه پیل کړي. ویل کېږي چي د (اورمړو) فرقه واردواره په کانیګروم کي راپیدا سوه او هلته دغي فرقې د سلیمان د لړی هغه ټوله علاقه ونیوله چي اوس مسود وزیري پکښي اوسي. کله چي په کابل کي د اکبر د نظامي واکمن له خوا څخه دغه فرقه وځکول سوه نو له دې سره اورمړ تاشي په تاشي او تر زیاتي اندازې پوري ور ک سوه، خو د اولادې پر تیت او پر ک ټولیو باندي ئې نوم تر اوسه لا پاته دی. سردار حیات خان (سي. ایس. آی) چي د پنجاب د (واه) له علاقې څخه دی په خپل اثر (حیات افغاني) کي وایي چي د اورمړو د کهېکاني، بېکاني، خرمجاني، مولاتاني او جیراني له څانګو څخه درې یا څلور سوه کورنی د کانیګروم په خپلو پخوانیو ټاټوبو کي تر اوسه لا ژوند کوي. په دغو نومو کي وروستی نوم د سوداګر پېشه راجپوت د یوې ډېري مشهوري قبیلې نوم دی اما لومړی نوم

د کایکان یو مسخه سوی شکل دی چي (کایکایا) یا (کاکړ) تمثیلوي. ځیني اورمړ همدا شان د کابل په لوګر کي د برکیو تر منځ شته دي او یوه وړه کالوني ئې بیا د پېښور د علاقې د اورمړو په کلي کي مونده کېږي. دوی آرام، خواریکښ خلک دي چي زیاتره په کرهڼه او سوداګري باندي لګیا دي.

له دې بیانه سره د هغو قبیلو په باب زموږ کتنه بشپړېدو ته رسېږي چي د دراني افغانانو په ترکیب کي شامل دي. اوس موږ ته په کار ده هغه قومونه پسي راواخلو چي په لرغوني درنګیا (اوسني سیستان) کي اوسي او دا هغه ملک دی چي درانیانو خپل نوم هم له هغه ځخه اخیستی دی. سیستان په پخوانی زمانه کي (د نمرود د نامه په اقتفاء چي د بابل پاچا و) نیمروز نومېدی او دا د جمشید او نورو پرشیائي پاچهانو هستوګنځای و، چي د پېشدادي په نامه د افسانوي یا روایتي خاندان سره ئې اړه درلوده. همدا شان دغه ځای د داسي مرکز په ځېر مشهوره دی چي له هغه ځخه پرشیائي قدرت راوپاځېدی او د قهرمان رستم ټاټوبی هم دلته و. د سیستان غټ شمېر اوسېدونکي سیستانیان دي او دا یو ډېر ارجل ولس دی چي د ځان خپله مځکه نه لري او د ملک د غالبو قبیلو تر منځ ئې د مریيتوب غوندي یو دریځ نیولی دی. د دې غالبو قبیلو په ارتباط د سیستان تقسیمات ښایي د (اوکات) په توګه بیان سي. (اوکات OKAT د اوک OK یا اواک AWAK جمع ده او البته دا د ترکی ژبي له اوي oe یا اوې awe ځخه راوتلې ده چي د کور اوسېدني house habitiation معنا ورکوي). په دې حساب نو په لاش - جووین کي د درانیو له جملې ځخه اسهاک یا ساک مېشته دي. په جکانسور کي بیا سراپاني بلوڅ پراته دي. دسدکوهه محل کایاني ولس نیولی دی (چي اوس زیاتره د پرشیائي خراسان په غاین کي راځي) ګرمسېل بلوڅو، برېڅو، نورزو او نورو درانیانو نیولی دی. د کندهاري په نامه سیمه د شاهریکي او کردي وګړو له خوا

څخه نیول سوې ده. له دغې جملې څخه بلوڅ چې عموماً سربندي (سراباني؟) بلل کېږي او هم شاهرېکي (يعني د شاهري مربوط) د شمېر او نفوذ له پلوه غالبې قبیلې دي. خو کایاني ئې هغه ډېره لرغونې ده او ویل کېږي چې د کای په نامه د هغې شاهي کورنۍ له ذاته څخه دي چې قیروس (کوروش) ئې بنا ایښې وه. سربېره پر دغو قبیلو یو څه تاجیک هم سته چې د ګومان له مخې د لرغونو پرشیاوالو اولاده به وي او هم ځینې نامعلومې وحشي قبیلې هلته سته چې په ښکار او د څارویو په څر باندې ګوزاره کوي. دوی د هامون یا د سیستان د جهیل پر څنډو باندې پراته دي چې د هغه په منځ کې یوه ځانګړې پرښه د کوه (زور) یا (سور) په نامه بلل کېږي او وایي چې دا د رستم د مورچلیزې کلا مرکز و.

دراني اسهاک، سهاک یا ساک مو په دمخه کې یاد کړي دي. خو بلوڅ البته یوه خاصه پاملرنه غواړي. دوی په افغاني شجرو کې شامل سوي نه دي خو سره له دې هم د افغانانو له خوا څخه د یوه داسې ذات په څېر پېژندل کېږي چې له دوی سره د خپلوۍ قومي رګی لري. دا چې دوی په افغاني شجرو کې نه دي شامل سوي سبب ئې دا دئ چې چاري ئې د پښتونولۍ له دودونو سره سمون نه لري او نه هم په پښتو ژبه خبري کوي. بلوڅ په خپل حکومت کې فیودالي طریقه پالي او د افغانانو او پښتنو په څېر ئې اداره ولسي (جمهوري) بڼه نه لري. دوی یوه ځانته ژبه وایي چې بلوچکي (د بلوڅو مربوط) نومېږي. دغه ژبه یوه هندۍ لهجه ده چې پارسي ته اوښتې ده. او تر بلې هري ژبي سندي ته ډېره ورته ده. بلوڅ همدارنګه د بڼې په کړووړو، جامو، خویونو او دودونو کې له افغانانو څخه توپیر لري. خو دا توپیر ئې په هغه اندازه ډېر نه دی لکه سیکه جت چې ئې د پنجاب له مسلمان جت څخه لري او نه هم دونه زیات دي چې د تېرو پېړیو په اوږده زمانه کې دي د دوی د ژوند د بېلابېلو سیاسي شرایطو له مخې تشریح کېدای نه سي. بلوڅ په لومړي سر کې د راجپوت د اګنیکولا د چوهان

مربوط بلائیچه وه او د برېښو جنوب پلو ته چي وړاندي ئې یادونه وسوه د نوشکي په علاقه کي ئې واړول. دا به ډېره په زړه پوري وي چي د دغي قبیلې تاریخ وڅېړل سي ځکه د افغانستان د قبیلو د بلي هري یوې په تناسب دا قبیله په څرګنده توګه تر زیات مستقیم، بشپړ او دوامداره پرشیائي نفوذ لاندي راغلې ده. معلومېږي چي دوی په شمېر او قدرت کي خورا ډېر زیاتوب کړی دی او خپل نوم ئې یوه ټاکلي قومیت او د ملک یوې غټي برخي ته ورکړی دی چي هلته زیاتي بېلابېلي قبیلې مونده کېږي چي ځیني ئې په خورا لیري لرغوني وخت پوري اړه لري او ټولي غونډي یو ځای د بلوڅ تر عمومي نامه لاندي راشاملي سوي دي. موږ چي کله په دې روان بیان کي د بلوچستان د قبیلو څېړني ته راورسېږو نو به سمدلاسه پر دغو قبیلو بلاندي وړغېږو. خو هغه توپیرونه چي د راجپوت د پخواني چوهان د دې دوو ګاونډیو خېلونو – یعني بهارائېچه او بلائېچه تر منځ لیده کېږي خورا ډېر اعجاب راخوځوي. ځکه برېښ افغانان په پښتو خبري کوي او جمهوري اصول پالي خو بلوڅ بیا خپله ملي ژبه لري او حکومتي اداره ئې پر فیوډالي طرز باندي را بنا ده. دوی دواړه له کومه وخته چي اسلام ته اووښتي دي نو د سني له حنفي مذهبه څخه پیروي کوي. خو دا یو ئې د هند له خوا څخه تر تاثیراتو لاندي راغلی او دا بل ئې بیا د پرشیا له خوا څخه تر تاثیراتو لاندي واقع سوی دی. هغه توپیرونه چي اوس بلوڅ او افغان په نښه کوي او دوی ځانګړو قومیتونو ته سره بېلو په ښکاره د سیاسي عواملو نتیجه ګڼله کېږي. خو اوس موږ نه سو کولای چي نور نو دغه موضوع تر څېړني لاندي ونه نیسو.

بلوڅ لکه برېښ غوندي د خپلو کوچي او داړه ماري عاداتو له مخي څخه پېژندل سوي دي او هم دواړو د اوښانو د روزلو خواری ته ځانونه سپارلي دي چي له دې کاره څخه هم د ګذارې او هم د شتمنۍ دپاره د یوې وسیلې په څېر استفاده کوي. لاکن دا یو ئې بلوچکي وایي او دا بل ئې

په پښتو ږغېږي. بړېخ ادعاء کوي چي د نسب سلسله ئې له اسرائيلي کايس يا کاش، عبدالرحمن، پټهان سره اړه لري (ښايي دا له کاش يا کوش څرګندونه کوي چي د راما زوی و. راما د راجپوت د لمر د ذات ستر نيکه دی چي د کشواهه يا کچواهه د قبيلې باني دی) بلوڅ بيا خپل نسب له عربي اجدادو سره تړي چي د هغو ټاټوبی په (اليپپو) کي و (ښايي دا به د ارابيوس د سيند په حوزه کي له لرغوني ارابيتای ولس سره اړه لري چي آرريان ئې يادونه کړې ده او په اوسني وخت کي [حب] يا [د عربي ژبي] الحب وي). په دې هر يوه مورد کي يوازي په دې باندي باټېده څرګندېږي چي دوی اسلام ته اوښتي دي. بړېخ له نورو افغانانو سره په دې وياړي چي ځان له بني اسرائلو څخه بولي خو بلوڅ بيا دې نظريې ته په درنه سترګه نه ګوري چي نسب ئې له افغانانو سره مشترک دی.

د سيستان د بلوڅانو سره يو شمېر بېلابېل خېلونه او قبيلې لکه سربندي، نهروئي، سنجراني، تائوکي، ماماساني، کوردګالي او نور هم يو ځای سوي دي چي د جنوب په دښتي برخو کي ګرزي راګرزي او ليري د کرمان، يزد، غاين تر ګاونډيو پرشيائي علاقو پوري او د خراسان د غونډيو په ټوله اوږدو کي تر مشهد او قم پوري رسېږي. سربندي په پخوا کي دلته يوه مهمه قبيله وه، څو چي د دوی قدرت د تيمورلنګ له خوا څخه ړنګ سو او ويل کېږي چي هغه د دې قبيلې يوه غټه برخه همدان ته ولېږدوله، خو نادرشاه بيا بيرته د هغو له جملې څخه يو شمېر سيستان ته راوستل. نهروئي په وروستيو وختو کي له بلوچستانه راغلي دي. سنجراني يوه ترکي قبيله ده او دوی زياتره کوچي وګړي دي چي د بوريائي موادو او چيخلو په جوړو سوو کوډيو او چپريو کي اوسي. هغه زمانه چي د سنجر پاچهي کورنۍ په کندهار کي حکومت کاوه نو دوی په دغو برخو کي يوه غالبه قبيله ګڼله کېدله. تائوکي له ارجلو توکمونو څخه يوه مريي قبيله ده چي زياتره ئې د سنجراني قبيلې بندګان دي. ماماساني احتمال لري هغه

ماميسي تمثيلوي چي پليني ياد کړي دي او په (Hist. Nat. v ۱۹) کي وايي چي د سوريې د کوييلي (کويلې) د ماميسي په (ټېترارکي[۱]) (tetrarchy) کي اوسېدله. دوی په مکران او کرمان کي خورا زيات دي او د سکندر د بري په زمانه کي د جاخارتيس شاوخوا پراته وه. ماماساني، تائوکي او سنجراني ټوله يو ځای د تکهای يا نوګهای په نامه بلل کېږي. دوی ټوله ترک دي او ډېر يا لږ کوچي ګڼل کېږي.

دلته د کافي تعجب خبره دا ده چي (کوردګالي) په خپل نامه کي هغه بل نوم هم ساتلی دی چي د دې سيمي د قومونو د تشريح په ترڅ کي پليني هغه د دوی د اجدادو په څېر ياد کړی دی يعني (د ګائيلي د ولس نوم چي يوناني ليکوالو کادوسيوی بللی دی). د پرشيا کورد له ډېري وختي زمانې راهيسي د لرغوني کادوسيوی په توګه پېژندل سوی دی. دلته په سيستان کي نو موږ وينو چي د ګائېلي او کادوسيوی دوه نومونه په اوسني (کوردګالي) کي سره يو ځای سوي دي. د پليني ګرده تشريح (Hist. Nat. vi. ۱۸) په دې ارزي چي په غور تر کتني لاندي ونيول سي. دی وايي د قفقاز د لړۍ په اوږدو کي د مرګيانا له غرنيو ارتفاعاتو څخه رانيولې د ماردي وحشي توکم (چي دمخه مو د داهي مارده هزاره و په څېر پېژندلی دی) يو آزاد ولس دی چي ليري تر باکتري پوري رسېږي. د ماردي تر علاقې راکښته موږ هغه قومونه وينو چي اورقياني (د ارغنداب د ناوې ارغندي)، قوموروی (د اپرېدو او بلوڅو مربوط کماري او کمبري)، بيردريکائي (بيردرنګائي، اوسني بر دوراني؟)، هارماتوتروپي (يا د ګاډۍ د آسانو روزونکي چي البته د راجپوت د رهتور مربوط [راتهوان] يعني ګاډيوان کېږي). سيتوماريائي (نه دي پېژندل سوي)، قوماني (ترک

---

[۱] تيترارکي هغي دولتي اداري ته ويل کېږي چي څلور واکمن ئې چلوي او يا هغه مملکت افاده کوي چي څلور حکومتي واحدونه لري. دلته (ماميسي) د همدغسې څلورګونې اداري ساحې نوم ښکاري. (مترجم)

کومان، ترکمن)، ماروقائي (مارو – کي يعني [د مارو] چي راجپوتي قبيله ده)، او مندروآني (چي دمخه د هيلمند د ناوې او د پېښور د يوسفزو د اوسنيو منډړو په څېر پېژندل سوي دي) نومېږي. پليني زياتوي چي دلته مندروس (هيلمند) او چندروس (ارغنداب) واقع دی. د دغو قومونو شا ته چي پاس ئې نومونه ياد سوه خوراسمي(خراساني)، کنداري (کندهاري)، اټاساني، باريکاني، سرنګائي (زرنګي يا درنګائي چي اوسني دراني کېږي)، ماروتياني (مروتي چي دمخه ئې يادونه راغلې ده)، آئورسي، اوګائېلي اوسي چي يوناني ليکوالو قادوسيي بللي دي (چي پاس ياد سوي کوردګالي کېږي).

همدلته د هيراکليا په نامه هغه ښار و، چي سکندر ئې بنياد کښېښووی خو بيا تر هغه وروسته وران سو او کله چي له نوي سره څخه بير ته د انتيوخوس له خوا څخه دوباره آباد سو نو ئې د (اچايا) په نامه وباله (چي ساحه ئې اوسنی کلای کاه ټاکي). همدارنګه هلته د پربيکي (د راجپوت د سندربولي قبيلې د هربکی) اوسي چي د آمو له جهيله څخه تر رابېلېدو وروسته د آمو سيند ئې د خاوري له منځه څخه تېرېږي. همدا شان سيرمتای (وړاندي ياد سوی سورمتي)، اکسيدراکای (واخان او درواز؟)، هېنيوچي (پخوانی وښيتيانی کالونيوال؟) بتېنی (پخوا ياد سوی بتهنی) سراپرای (د بلوچستان سرپاره چي وروسته به په مخه راسي) او باکتري اوسي چي د دوی غټ ښار زري اسپ (هزاراسپ) و او په وروسته کي ئې بيا د باکترا نوم د هغه ځای له سينده څخه واخيستی. وروستی قوم د پروپاميسس د غره شا ته د اباسين د سرچينو په مقابل کي پاس اوسي چي د اچوس سيند ئې چارپېره واقع دی.

آئورسي چي پاس ئې د نامه يادونه وسوه د سترابو له قوله (۵ .xi جغرافيه) يوه ستره سوداګره قبيله ده چي د کسپين د سمندرګي شمال او شمال ختيځ پلو ته اوسېده او دا احتمال لري چي په دې برخو کي ئې يوه

کالوني هم درلوده. دوی اوس په دغه نامه په افغانستان کي نه سي مونده کېدای. پر ته له هغه چي د داهي زنګي هزاره و یوه څانګه د اوراس یا اوراروس په نامه لیده کېږي. هینیوچي ښکاري د وینیتي یا وینیتیایانو یوه کالوني به وه او په باکتریا کي ئې د سوداګری په مقصد اړولي وه. خو دوی معلومېږي چي له یهودو سره یوه ځای هغه مهال غایب سوي دي چي د اروپا (بیزنتیوم) او لیري ختیځ تر منځ د وچي پر مخ سوداګري ختمه سوه.

شهریکي د محلي روایاتو له قوله د سیستان یوه لرغوني قبیله ده. ما د سند د شاهریس له پاچهي کورنۍ سره د دوی ارتباط ښوولی دی. خو دا احتمال هم سته چي ښایي دوی (د همدان له شهروان څخه؟) پرشیائي منشاء ولري. ځکه ویل کېږي چي دوی په غاین، کیرینان، لار او نورو ځایو کي د پرشیا پر مځکه تیت خپاره دي. سیستاني هم دا رنګه دهقان بلل کېږي چي د دغه ملک اصلي اوسېدونکي تمثیلوي. دوی اوس د عمومي اهالیو تر منځ په یو ډېر تیټ دریځ کي راغلي دي او له خارجي عناصرو سره خورا زیات ګډ سوي دي. دوی د ځان خپله مځکه نه لري لاکن په بېلابېلو صنعتي کسبونو او لاسي کارونو کي استخدامېږي. دوی د سربندي بلوڅو او شهریکي ولس هغه راز بندګان دي لکه تاڅوکي چي د سنجراني وګړو دي. د سیستان کوردګالي د کردستان د کوردو (د لرغونیانو په خوله قوردېني او کاردوخي) یوه څانګه ده چي د دوولسمي پېړۍ شاوخوا ئې (د کرمان او خوزستان تر منځ) په لورستان کي یوه پاچهي کورنۍ تاسیس کړه او تر هغې زمانې ئې خپل واک هلته وساتی څو چي شاه عباس د دوی ولایت په خپله حوزه پوري وتاړه. د ملک کورد پاچهي کورنۍ د شمس الدین کورد له خوا څخه چي په خراسان کي د سلطان غیاث الدین غوري والي و د ۱۲۴۵م کال شاوخوا په غور کي تاسیس سوه. د ده واکمني د مغلي امپراتور هلاکو له خوا څخه چي دی ئې له بندګانو څخه شمېرل کېدی، هم

منظور سوې وه او د هغه د خلف اباکاخان د حکومت په دوره کي د ده قدرت او صلاحیت نور هم خورا ډېر زیات سو. تر شمس الدین پسي په هرات کي چي پاى تخت ئې و د هغه زوى رکن الدین پر پاچهى کښېنستى. رکن الدین د کندهار ښار ونیوى او په ۱۲۸۰ م کال کي هغه وخت مړ سو چي د سلطان ارغون خان د واکمنۍ دوره وه. بیا نو د ده ورور چي غیاث الدین ملک کورد نومېدى د ده پر ځاى کښېنستى او د مغلي امپراتور الجایتوخان له خوا څخه پر غور باندي د ده واکمني د اباسین د حوزې د ولایاتو تر حدودو پوري منظور سوه. د ملک کورد د شاهي کورنۍ تر دې پسې د خپوې د امیر قازان له خوا څخه د بندګۍ درجې ته رامحدوده سوه او په ۱۳۸۳م کال کي بالاخره هغه وخت ختمه سوه چي امیر تېمور (تېمورلنګ) هرات ونیوى او د دې کورنۍ وروستى شاهزاده چي یو بل غیاث الدین و له خپله زویه سره ئې وواژه. دغه بیان د هغو قبیلو په باب زموږ کتنه بشپړېدو ته رسوي چي د څورلسمي سټراپۍ په ټاکلې حوزه کي اوسي.

# پنځلسمهستراپي

پنځلسمه ستراپي د هيرودوت له قوله د سکای او کاسپيوی وګړو جوړه کړې وه. د دې حوزې موقعيت او ساحه اوس خيوه او بخارا تمثيلوي او دا هغه سيمه ده چي زموږ د پلټني له حدودو څخه وتلې ده.

# شپاړسمه ستراپي

شپاړسمه ستراپي له پارتيوی، خوراسموی، سغدوی او اريوی څخه جوړه سوې ده. دې ستراپی د آمو پر جنوبي او شمالي دواړو خواوو باندي يوه ډېره پراخه ورشو نيولې ده. دا ستراپي چي د پروپاميسس او باکتريا د لوېديځو پولو له يوه سره تر بله پوري غزېدلې وه نو په جنوب - لوېديځ کي ئې له سيستانه نيولې بيا په شمال ختيځ کي تر خوقنده پوري راڅرخېدلې منحني جوړاوه. په دې ملک کي د آمو جنوب ته پارتيوی او آريوی اوسېده. پارتيوی داسي ښکاري چي اساساً له (کومان ترکو) يا زموږ د زمانې له ترکمنو څخه جوړ سوې وه. دا پارتيوی د کوچيانو يوه زياته ګڼ شمېره او پياوړې ګدی وه چي د کسپين د سمندرګي ختيځو، شمالي او لوېديځو خواوو باندي ګرداورده غزېدلې پراته وه او په وروسته کي ئې بيا د هغه سمندرګي جنوبي غاړي همدارنګه ونيولې. د دې قوم يوازنۍ برخه چي زموږ د پلټني په ساحه کي دننه راځي هغه د مشهد او مرو د علاقو ترکمن دي. دوی مو پخوا لا د چارايماق د قبيلو سره يو ځای ياد کړي دي

او د دوی د هرزګي په نامه څانګه مو ښوولې ده چي د هغه لرغوني ارسکي اوسني ممثلان دي چي د پارتياني امپراتورۍ مؤسس دی. سترابو (۹ .xi جغرافيه) وايي "پارتيا يو وړوکی غرنی ملک دی چي په ګڼو ځنګلو پټ او کوم محصولات نه لري. په همدې دليل نو تر پرشيائي تابعيت لاندي او هم تر هغه وروسته د اوږدې زمانې په دوران کي چي مقدونيان د دې ملک باداران وه د باج د تاديې په منظور له هير کانوی سره يو ځای سوی و. په اوسني وخت کي (سترابو په ۲۴م کال مړ دی) چي د دې ملک ورشو پراخه سوې ده نو کوميسين او خورين د پارتين برخي دي او البته دا ملک همدارنګه ليري د کسپين تر دهنو، رهاګوی او تاپيروی پوري رسېږي چي پخوا ئې په مېديا پوري اړه درلوده". کوميسين چي دلته ياد سوی دی، د پرشيا هغه علاقه ده چي (قم) يا (کوميس) نومېږي. خورين ښکاري هغه خارين به وي چي سترابو ئې (۲ .xv جغرافيه) نوم ياد کړی دی او دا د بلوچستان د اوسني خاران سره يو شی دی.

آريوی د آريا يعني د هرات د اوسني ولايت خلک وه چي د هروي يا هراتي ولس له خوا څخه تمثيلېږي. د ميلاد په لومړنيو پېړيو کي د هرات ولايت او په تېره بيا د هغه لوېديځ پلو ته پروت د غونډيو ملک ابداليو (هياتلي هونيانو) نيولی و. خو دا وګړي داسي ښکاري چي البته د نهمي پېړۍ په شاوخوا کي د ختيځ لوري ته کډه سوي او د سليمان د لړۍ پر لوېديځه لمن ئې په لوړو هوارو برخو باندي اړولي دي او د هرات په ملک کي د دوی پخواني مرکزونه اوس د کرای يا ګارای ترکانو له خوا څخه نيول سوي دي. آريوی د سترابو له قوله (۲ .xv جغرافيه) د پاروپاميسا درې څنګ ته پر لوېديځه خوا پراته او د درنګيا هم شمال او هم لوېديځ دواړو ته دونه نژدې ور رسېدلي وه چي ګويا دوی ئې احاطه کوله. سترابو په يوه بله برخه کي وايي (۵ .ii جغرافيه) "تر هند ها خوا ته پر لوېديځه حصه چي غرونه ښي پلو يا شمال ته پاته سي، هلته يوه پراخه سيمه ده چي

د خاوري د شډل توب په خاطر ناآباده ده او د بېلابېلو توکمو انسانانو چې يو مخيزه په وحشي حالت کي دي له ناچارۍ څخه ئې پر دغه سيمه باندي اړولي دي. دوی آريوی نومېږي او له غرونو څخه نيولې تر ګيدروسيا او کرمانيا پوري رسېدلي دي". دغه پراخه سيمه چې دلته ياده سوې ده اوسنی سيستان او بلوچستان مکران کښېباسي او بېلابېل وحشي توکمونه د کوچي او داړه وهونکو بلوڅو د بېلابېلو قبيلو له خوا څخه تمثيلېږي. په يوه بله برخه کي سترابو وايي (xi. ۱۰) "آريا او مرګيانا چې د آسيا د دې ګوټ ډېري ښې علاقې دي د (آرينس) او (مارګوس) په سيند باندي اوبېږي. درنګيانا ليري تر کرمانيا پوري له آريا سره يو ځای د باج د ورکړي سربښته کوي".

# اووه لسمه ستراپي

اووه لسمه ستراپي له پاریکانوی او آسیائي یوتوپیاوالو (حبشیانو) څخه جوړه ده. دا له اوسني بلوچستان سره سمون خوري چي سترابو، پلیني، آرریان او نورو د ګادروسیا یا ګیدروسیا په نامه یاد کړی دی. دا ستراپي هغه ټوله غرني، شاړه، شنډه او تر ډېره ځایه دښتي او په پاشلې توګه مسکونه سیمه کښېباسي چي شرقاً او غرباً له اباسین څخه نیولی او د کرمان تر پرشیائي ولایت پوري رسېدلې ده. دا په شمال کي هغه رېګي بیابان احاطه کړې ده چي همدا ستراپي له کندهار او سیستان څخه بېلوي او په جنوب کي ئې حد د عربو سمندرګی دی. د دې سیمي لوېدیځه برخه په پرشیا اړه لري او د پرشیائي بلوچستان په څېر پېژندله کېږي. دا تر ډېري اندازې د سرحد غرنیو لړیو او لوړو هوارو پوښلې ده او حوزه ئې د سرحد، بامپور (په دغه نامه ښارګوټی د بلوچستان د دغي حصې پای تخت دی) دیزک، ګاه او نورو علاقې کښېباسي. ختیځه برخه ئې په هند اړه لري او د بلوچستان کلات نومېږي (په دغه نامه ښارګوټی د بلوچستان د دغي حصې پای تخت دی) او حوزه ئې د سارا وان، جهالاوان، کچ ګنداوه، لاس بېله او کج مکران ولایتونه کښېباسي. دغه ټوله سیمه چي اوس بلوچستان بلل کېږي داسي ښکاري چي په لرغونې زمانه کي د کش یا کج (یا د پرشیاوالو له تلفظ سره سم د کوش یا کوچ) په نامه وه او دغه نوم ئې هم په ختیځو او هم په لوېدیځو دواړو برخو کي په ترتیب سره د کش ګنداوه او کچ یا کج مکران په نومونو کي څرګنده لیده کېږي. پر دې

سیمه باندي د کش یا کچ په نامه توکم اوسېدی (چي په انجیل کي قوش راغلی دی ځکه هلته وایي چي [قوش نمرود وزېزاوه] او هیرودوت بیا آسیائي حبشیان بللي دي. له دغه کش یا کچ څخه د راجپوت د نسبي شجرو ستر کشواهه یا کچواهه (یا په بل تلفظ کوش واهه یا کوچ واهه) منځ ته راځي.

پاریکانوی (د هندي ژبي د پارو - کا چي د [غرني] معنا ورکوي، د پارسي د جمع شکل دی) چي هیرودوت له آسیائي حبشیانو سره یو ځای یاد کړی دی، اوس د براهوئي، براهوي، یا باروهي له خوا څخه تمثیلېږي چي همدغه د نامه وطني کلمه ئې هم هغه د (غرني) معنا لري. د آسیائي حبشیانو اصطلاح چي هیرودوت دلته راوړې ده، د لرغونو قوشایتیانو هغي ځانګي ته راجع ده چي په یوه ډېره وختي زمانه کي ئې د دجلې پر ناوه اړولي وه او له هغه ځایه څخه بیا د سمندر د څنډي په اوږدو کي تر اباسین پوري راوغزېده. له دغو برخو څخه مخ د ختیځ پر لوري د راجپوتانه یا راجواره مرکز ته د کچواهه په څېر خپاره سوه او لیري د شمال پلو ته تر هندوکش پوري ورسېده چي هلته د کچواهه قبایلو په توګه د کافرستان او کونړ یا کاشکار د خلګو تر منځ موږ ته په مخه راغلي دي. د بلوڅو تر منځ جاري روایت وایي، د دوی اجداد د سورېې له الیپو څخه راغلي دي، په ښکاره د هغه ملک د لرغونو اوسېدونکو قوشایتي منشأ ته راجع کېږي.

سترابو چي کله د لرغوني آریانا - زموږ افغانستان - دغه برخه تشریح کوي نو وایي (۲ .xv جغرافیه) چي له اباسین څخه نیولې تر کرمانیا (پرشیائي کرمان) پوري د سمندر پر څنډه پرتې قبیلې د اربیس دي خو یوه قبیله چي د اربیس د سیند پر ختیځه غاړه پرته ده دوی ئې له اوریتای څخه بېل کړي دي او بیا نو اوریتای راځي. په دوی پسې ایختیوفاګوی او بیا نوکرمانوی اوسي. تر ایختیوفاګوی لوړ ګیدروسیا واقع ده. پلیني همدارنګه د اوریتای نوم د ایختیوفاګی اوریتای په څېر

يادوي (Hist. Nat. vi ۲۵) چي هغه د خپل ځان په يوه خاصه ژبه ږغېږي چي هندی لهجه نه ده او دوی چي د ګيدروسيا او پاسيريس ګاونډيان دي له هنديانو څه د اربيس د سيند په وسيله جلا سوي دي. آرريان چي د دې سيمي په ساحه کي د سکندر پر سوقياتو باندي خبري کوي نو وايي تر هغه وروسته چي نيارکوس د سمندري ځواکونو بېړی په حرکت راوستلې نو سکندر په خپله د اربيوس د سيند د غاړي په اوږدو کي سوقيات پيل کړه چي پر اوريتای حمله وکړي او دا اوريتای د هند يو قوم وچي دغه سيند ته څرمه اوسېدله. اوريتای د دې له ورنژدې کېدو سره دښتونو ته وتښتېده او سکندر د دوی پر ملکونو باندي د چپاو په جريان کي هغه کلي ته راورسېدی چي رامباکيا نومېدی او د اوريتای دپاره ئې د يوه غټ مرکزي ښار په توګه کار ورکاوه. کورتيوس د همدغو سوقياتو په باب په خپل بيان کي وايي چي سکندر په همدې ځای کي يو ښار ودان کړ او اراخوتوی ئې په هغه کي ميشته کړه. آرريان د خپلو خبرو په ادامه کي وايي چي سکندر سمندري غاړي ته نژدې خپله لار مخ ته وهله څو د يوې تنګي درې له لاري د ګيدروسوی سيمو ته ننوتی او د وړاندي مارش په سلسله چي له سمندره څخه ئې فاصله درلوده، پر داسي يو ډېر خطرناکه سړک باندي ئې تګ ته مخه سوه چي د ژوند هيڅ راز اړتياوي په هغه کي نه پوره کېدې څو د اوريتای له خاوري څخه تر را رهي کېدو وروسته په شپېتمه ورځ پورا (بامپور) ته راورسېدی چي د ګيدروسوی پای تخت و. تر هغه وروسته چي په پورا کي ئې ساه واچوله نو-بيا د کرمانيا پر خوا باندي ور رهي سو. يوازني خلک چي آرريان د آريانا د دغي برخي د اوسېدونکو په څېر ښوولي دي هغه اوريتای او ګيدروسي دي. د اوريتای نوم ښايي د (غرنيانو) په معنا يوه يونانی کلمه وي او د پاريکاني له وطني نامه سره برابري لري چي د هيرودوت له خوا ياده سوې ده او دا دواړي کلمې په اوسنی محاوره کي د براهوي په وسيله تمثيلېږي. له بلي خوا بيا د هارا په

نامه د غرونو لړی سته چي لاس بېله - د اورتیای ملک - له مکران څخه بېلوي او دا نوم ښايي د اوريتای د نامه لومړنی مأخذ وي. خبره چي هر راز وي خو دغه د ګیدروسوی او اریتای دواړه ولسونه د ایختیوفاګوی تر یوه نامه لاندي راغله چي د فارسي ژبي د (ماهي خوران) [کب خوړوونکو] د تر کیبي نوم یوناني معادل ګڼل کېږي او تر دې آنه لا په مکران کي ژوندي پاته دي.

پورا (بامپور) د آرریان له قوله د ګیدروسوی پای تخت و، چي د دوی په نامه پسې دغه ټوله سیمه د ګیدروسیا په نامه وبلل سوه. احتمال لري دوی په هغه زمانه کي غالبه او ډېره ګڼ شمېره قبیله وه. د دوی نوم تر اوسه په هغه ځای کي د دوی د اوسنیو څرګندویانو یعني د لاس بېلې د ګادر د ولس په نامه کي ژوندي پاته دي چي غټ شمېر ئې هلته د سوداګرۍ په چارو لګیا دی. د سلیمان د لړۍ په ځینو پښتني قبیلو کي د ګیدړ په نامه څانګي ښايي له همدې سرچینې څخه یا خو ئې بیخي سیده د (لومري) له نامه څخه منشأ اخیستی وي چي هغه هم کټ مټ دغه معنا افاده کوي. او لکه په دمخه کي چي ویل سوي دي غزني ته نژدې د سلیمان د لړۍ جدران هم په سر سره دغه خلک تمثیلوي. خو لرغونی ګیدروسوی اوس احتمال لري چي تر ډېره حده په بلوچستان کي د (لومري) له خوا څخه تمثیلېږي چي د ګیدړ دپاره صرف یو بل هندی شکل دی او دا دواړي کلمې د (چغال) او (ګیدړې) معنا افاده کوي. له بلي خوا بیا پښتني ګیدړ ښايي د سانسکریت د (ویدور) ځای نیولی وي او ممکن هغه هوښیاره او لیرلیده قبیله تمثیلوي چي په مهابهارت کي د (ویدورا) په نوم یاده سوې ده اما ګادري بیا له هغه ګړندي ګادورا څخه نمایندګي کوي چي د ناګا دښمن ګڼل کېږي.

د لرغوني ګیدروسوی ځای اوس بلوڅو نیولی دی چي په ملک کي د شمېر له پلوه خورا زیاته قبیله ده او صرف یو سل او پنځوس کاله پخوا کله

چي زموږ تر پلټني لاندي افغانستان د پرشيائي واكمنۍ له توابعو سره نادرشاه وتاړه نو ويل کېږي چي دغه سيمه ئې د همدې قبيلې په نامه پسي د بلوچستان په نامه وبلله.

ما په يوه تېر بيان کي بلوڅ د راجپوت د بلائېچه په څېر پېژندلي دي. په پخوانۍ زمانه کي دوی ضرور يوه پياوړې قبيله وه او خپل نوم ئې د هغو قبيلو او توکمو يو نامتجانس مخلوط ته د ملي نامه په څېر ورکړی دی چي اوس د بلوڅو د خېلونو په توګه سره يو ځای سوي دي. په هر حال بلوڅ په هغه ملک کي چي د دوی په نامه يادېږي يوه غالبه قبيله ده. دغه دريځ د براهوي له خوا څخه نيول سوی دی. راسئ اوس د لرغوني ګېدروسيا يعني اوسني بلوچستان د دغو دوو سترو قبيلو (يعني براهوي چي لرغوني پاريکانوی يا اوريتای تمثيلوي او بلوڅ چي لرغوني آسيائي حبشيان يا ګېدروسوی تمثيلوي) ترکيب تر څېړني لاندي ونيسو. واردواره براهوي رااخلو.

د براهوي نوم ويل کېږي چي د با - روهي د کلمې څخه (چي د غرو) يا (غرنيانو) معنا ورکوي يو مسخه سوی شکل دی او دا نوم دغو خلګو ته له هغو نورو بلوڅانو څخه د با - روهي څخه توپير ورکوي چي دوی ورته نا - روهي (نارهوی) (يعني - د غرو - نه) يا (د سمي د اوسېدونکو په نامه) وايي. براهوي د بلوچستان د کلات د سروان او جهالاوان په ولايتونو کي پراته دي او د براهوي يا براهويک په نامه د غرونو لړۍ جنوبي پلو ته د دغو علاقو او لاس بېلې له منځه څخه تېره سوې او په شمال کي له شال کوټ (کويټه) څخه نيولې بيا په جنوب کي تر سمندري څنډې پوري رسېدلې او ختيځي خوا ته د کچ کنداوه او لوېديځي خوا ته د نوشکي او خاران په وسيله احاطه سوې ده. د غرونو او لوړو هوارو سيمو دغه پراخه ورشو د هغو غرنيانو مرکزي ټاټوبی دی چي براهوي نومېږي او دا ئې هغه ملک دی چي د براهويکي په نامه د دوی ژبه دلته چلېږي. د براهوي نوم په هغه ترتيب

چي وښوول سو د کوهستان له هغې کلمې سره برابرېږي چي د اباسين د سرحد په شمالي انتهاء کې د سوات او بونير د ملکونو د (غرنيانو) دپاره په کار اچول کېږي، خو د کوهستاني نوم چي په يوه لحاظ ډېر ټيک د دغو وګړو دپاره په کار اچول کېږي اما د دوی ټيک ايتنيکي نوم ګنل کېږي. د براهوي د ولس او د هغه د ژبي سم ايتنيکي نوم براهه دی او دا يوه بومي قبيله ده چي له (لومړي) سره په توکم کې خپلوي لري. خو د براهه او براهوي، براهويې او باروهي نومونه په واقعي توګه سره يو شی دي او هغه خلک چي په دې نامه بلل کېږي له هم هغه ذاته څخه دي چي کورد يا کوردګالي اړه ورپوري لري. براهوي که څه هم په ډېر زيات شمېر په هغه ساحه کې متمرکز دي چي حدود ئې دمخه بيان سوه خو سره له دې هم د بلوچستان پر ټوله سيمه او لکه څنګه چي مو وليده همدارنګه د سيستان پر حاوره باندې مونده کېږي. دوی که څه هم په خپل بومي هېواد کې په ډېره عامه توګه براهوي بلل کېږي خو تر هغه دباندي زياتره عموماً د کورد يا کودرګالي په نامه يادېږي. په داسي حال کې چي د براهوي او کورد دواړه نومه هم هر چيري د ده دپاره عام استعمال لري. براهوي يا کورد په واقعيت کې د لرغوني آسوري يا خالدي له اولادې څخه دي. د دېرلسمي او څورلسمي پېړيو په دوران کې کورد د افغانستان يو مهم ولس و. د ملک کورد تر شاهي کورنۍ لاندي (چي دمخه ئې يادونه تېره سوې ده) چي د همدې کورنۍ له شاهزادګانو سره د چنګېزخان او د هغه د اخلافو له خوا څخه د نازولو بندګانو په څېر سلوک کېدی نو ئې د هرات، غور او کندهار حکومت د اباسين د حوزې د ولاياتو تر حدودو پوري په واک کې و. د ملک کورد پاچهي کورنۍ لکه پخوا چي ئې بيان سوی دی، په افغانستان کې د تېمورلنګ په لاس له منځه واخيستل سوه. خو په بلوچستان کې بيا د کلات د اوسني خان د ستر نيکه له خوا څخه چي د کوردو د کمبر دخپل يو سر مشر و بيرته له نوي سره را ژوندي سوه. دغه

تاریخي بیانونه مي ټکي په ټکي ټوله ځکه راوړه چي دوی د ترکي عناصرو (چي د کوردو رعیت وه) د هغه مخلوط په تشریح کي تر یوې اندازې پوري مرسته کوي چي د بلوچستان د قبیلو په جوړښت کي یا د براهوي او یا د بلوڅو د خېلونو په څېر مونده کېږي. په دغو دواړو سترو قبیلو پوري مربوط د خېلونو او څانګو نومونه د (آني) په شاوندي سره ختمېږي چي د پارسي د جمع (تمليکي) شکل دی. آني (چي کله ناکله په آنري یا آری سره هم بدلېږي) د هندي ژبي له (کا) یا (کي) او د افغاني (خېل) او (زي) سره سمون خوري.

براهوي: غټ براهوي خېلونه لاندي ښوول کېږي او دوی ټوله بیالړ یا ډېر پر یو شمېر وړو څانګو باندي وېشلي چي ځیني ئې آن یو څو کورنۍ کښېباسي. غټ خېلونه ئې په دې ډول دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| امل | بنګل | بیزنجو | غجګی | جاتاه |
| کاللوی | کمبر | کېدار | کوچیک | کورد |
| لنګائو | لاری | لوتی | محمودشاهي | مندر |
| مینګل | نوشیرواني | پاژ | پهوګ | رئیس |
| راکش | رود | ساهولی | سماله | سرپاره |
| شیرواني | شیخ حسیني | سوناري | تامبر | زېهري |
| زیګار | اونور | | | |

له دغو نومو څخه غجګي له کج - کي څخه نمایندګي کوي چي د کج یا کیج اصلي اوسېدونکي ګڼل کېږي. جاتاه د جت له جملې څخه دی. کیدار د کېهدار ځای نیولی دی چي سوداګر پېشه راجپوت دی. لنګائو د چالوک یا سولانکي راجپوت لنګاهه تمثیلوي. لاری د لار بومي څرګندوي (چي کورد دی). لوتي د لوت یا د یزد او کرمان د دښت د بومي اوسېدونکو نوم دی. محمودشاهي ښایي د هغو ناقلینو اولاده وي چي غزنوي محمود

دلته مېشته کړې وه. د مندر بيان په دمخه کي راغلی دی. نوشيرواني او د ليست په لاندي برخه کي شيرواني ښکاري چي سره يو شی وي او د پرشيا د پاچا نوشيروان اولاده تمثيلوي. پاژ يا پاش البته د پاس، پاښ يا پاخ په څېر له هغه پشه ئي سره يو شی دي چي دمخه ياد سوی دی، يا په بله توجيه له هغه باش سره يو شی دي چي د کافرستان د بشگالي په توگه وړاندي په مخه راغلي دي. رئيس يا رئيساني ښايي د سولانکي له رائوکا څخه نمايندگي کوي چي د مسلمانۍ تر نقاب لاندي پوښل سوی دی. رکش يا رکاش (رکشائي) د رکهاج ځای نيولی دی چي د عربي ژبي د الروخج او د يوناني ژبي د اراکهوتيا يا اراکهوزيا بومي دي. سماله راجپوت دي. سرپاره ښايي له سرابارای څخه نمايندگي کوي چي پخوا ئې يادونه راغلې ده او پليني د پاروپاميسس د جنوبي خوا د قبيلو په جمله کي ښوولې ده. شيخ حسيني په ښکاره يو اسلامي لقب او نوم دی او دا هغه چا ته ورکول سوی دی چي اسلام ته را اوښتي دي. سون يا سوناري د سوني ځرگندونه کوي چي سوداگر پېشه راجپوت دی. نور ټوله کوردي يا براهوي خېلونه دي. د دوی په جمله کي کمبر د کلات د غټ واکمن يعني کمبراني خان د قبيلې نوم دی. امل يا امالار او تامبراني دواړه د بيزنجو کورد وړې پښې دي. زيگار د مينگل يوه څانگه ده او دوی دواړه هندو جاکهر او منگل تمثيلوي. سربېره پر هغو څانگو چي پاس ئې يادونه وسوه يو غټ شمېر نوري وړې پښې هم سته چي د زياترو نومونه بې له کومه توپيره د براهوي او د بلوڅو په څېر ښکاري.

بلوڅ : داسي ښکاري چي بلوڅ (د راجپوت د اگنيکولا د چوهان مربوط بلائېچه) په يوه ډېره پخوانۍ زمانه کي د افغانستان له نورو راجپوتي قبيلو څخه رابېل سوی او پېړۍ پېړۍ تر ېخي مستقيم او بشپړ پرشيائي نفوذ لاندي پاته سوي وي. د دوی ملک البته په هغو ځايونو کي نه و شامل چي د تېر بيانه سره سم د سيليوکس له خوا څخه سندراکوتوس

ته وسپارل سوه. بلوڅ د خپلو ليري اجدادو په باره کي په څه نه پوهېږي خود مسلمانانو په حيث ځانونه د عربي نسب له داسي اجدادو سره تړي چي په الیپو کي مېشته وه. دغي ادعاء ښايي په ملک کي له دې جاري روايته څخه منشأ اخيستې وي چي وايي د دې ځای لومړني اوسېدونکي واردواره له هم هغه ګوټه څخه راغلي دي.

په کچ مکران او کچ ګنداوه کي بلوڅ د براهوي ولس له خوا څخه د ناهروي (ناروهي) په نامه يادېږي او ويل کېږي دا په دې منظور چي له دوی (باروهي) څخه ئې توپير وسي. خو دغه نوم ئې د قبیلوي تقسیماتو یا توکميزو نوم اېښوونو سره کومه اړه نه لري. په کلات کي براهوي عموماً د بلوڅو د یوې برخي په څېر ګڼل کېږي او وايي د بلوڅو ګرده قبيله له درو سترو ښاخونو څخه جوړه سوې چي په نامه باندي براهوي، ريند او نومري يا لومري يادېږي. دغه ښاخونه په حقیقت کي هغه درې غټ ایتنيکي عناصر تمثيلوي چي د بلوڅو اوسنی قومیت تشکيلوي. براهوي له بومي باراها او کورد څخه څرګندونه کوي، ريند له راجپوت او هندي عناصرو څخه او لومری له حبشي او قوشايت څخه. لومري يا نومري يو ډېر لرغونی ولس دی او البته هغه نمرودي یا د بابل خلک تمثيلوي چي د نمرود (پياوړي ښکاري) رعيت وه. نمرود د حمايت د قبيلې مربوط د قوش زوی و او داسي ګومان کېږي چي د نامه په اقتفاء ئې د سيستان ملک نيمروز بلل کېدی. دوی نو په دغه ترتيب د لرغونو آسوريانو يوه څانګه وه چي البته د مهابهارت له آسورا سره لګېږي او رکشاسا ئې د رخج یا اراکهوزیا له رکاشا سره برابرېږي. (ريند) په لومړي سر کي د کچ له (رين) یا (ران) څخه منځ ته راغلي دي چي د مالګي د کډهل غټه ګړۍ وه او د راجواري د لوني (مالګي) د سيند په وسيله جوړه سوې وه (د [راجستان د پښبه ليک] په دوهم ټوک او ۲۹۵ مخ کي) د تاد په خوله دا يو داسي نوم دی چي د سانسکريت له ارانيا (شاړه سیمه) څخه راوتلي او يوناني ليکوالو د

(ایرینوس) په شکل ساتلي دي. موږ تر مخه د کافرستان د قبیلو په جمله کې د ارانیا نوم د هغه کلاشه په ګاونډیانو کې د ارینیا یا ارانیا په څېر ولیدی چې ما د (اګنیکولا) راجپوت د سولانکي د قبیلې د کلاچه په توګه پېژندلي دي. د (ریند) نوم یو ارضي نوم دی چې د بلوڅو یا بلائېچه و او د راجپوت د چوهان مربوط د نورو هغو قبیلو دپاره په کار اچول سوی دی چې لومړنی مرکزي ټاټوبی ئې د چوهان په ملک کې د لوني د سیند پر غاړو واقع وه. او د دې پر ځای لکه اوس چې څنګه د بلوڅو یوه څانګه ګڼله کېږي په اصل کې دا هغه قبیله ده چې بلوڅ ئې په خپله ټیک مفهوم (بلائېچه) یوه څانګه ده. خو د څېړني په منظور مناسبه دا ده چې د بلوڅو پاسنی درې ګونی وېش په پام کې وساتو. موږ براهوي وښوړله او اوس د نومري او ریند جوړښت تر پلټني لاندي نیسو.

نومري درې لوی ښاخونه لري لکه د لاس بېلې نومري، بولفات یا بورفات او جوکیا چې هر یو ئې بیا زیات شمېر ورو څانګو ته وېشل سوی دی. دوی ټوله په جدګالي یا جت ګالي لهجه خبري کوي چې دا د سند د جتکي یا د جت د ژبي یوه لهجه ده او د بېلابېلو خېلونو تر منځ توپیر هم سره لري.

د نومري یا لومري څانګې دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| اچرا | انګاریا | بهره | بارودیا | بورا |
| چوټا | دودا | ګادریا | ګنګا | جمهوت |
| منګیا | مندوري | ماسور | رانجا | رویغا |
| شالوکا | شېخ | سود | سینهان | سینګر |
| سوتهرا | اونور | | | |

له دغو نومو څخه اچرا، لکه دراني اچک غوندي ښایي له هغه اچي څخه څرګندونه کوي چې دمخه ئې یادونه راغلې ده. انګاریا د سمندري غلو د یوې مشهوري قبیلې نوم دی، چې د پارس د خلیج او د عربي

سمندرگي د غاړو په اوږدو کي پراته وه او ښايي د برهمن له انګيرا يا د سوداګر پېشه راجپوت له اګګار څخه نمايندګي کوي. بهره يا وهره ښايي د ختري بهري تمثيلوي. براديا او بورا د برارِيا او بور ځای نيولی دی چي سوداګر پېشه راجپوت دی. چوتا د برهمن چاتو تمثيلوي. دودا راجپوت دی. ګادريا يا ګادر د يونانيانو له خوا ياد سوی لرغونی ګيدروسوی څرګندوي. جمهوت د جاريجا سره يو شی دی او لکه دمخه چي ئې بيان راغلی دی دغه نوم هغه مهال دې قبيلې واخيستی چي اسلام ته راواوښته. جمهوت د جام د کورنی يا خېل معنا ورکوي. ماسور يا ماسوريا د هندي بيابان د ميسارا قبيله تمثيلوي. رانجا او رانغا سره يو شی دي لاکن نه دي پېژندل سوي چي څوک څرګندوي. شالوکا د چالوک يا د رجپوت د سولانکي ځای نيولی دی. سينهان د ختري سينهاله تمثيلوي. سينګر د راجپوت د سينګرهٔ ځای نيولی دی. سوتهرا ښايي د پرامارا له سورتيا څخه نمايندګي کوي.

بولفات يا بورفات د (ابوالفتح) يو مسخه سوی شکل دی چي هغه اسلامي لقب ګڼل کېږي چي د (بري پلار) يا (د خورا ستر بريمن) معنا ورکوي او د دې قبيلې نيکه ګانو هغه مهال چي اسلام ته را اوښتي دي دا لقب ئې اخيستی دی. بولفات دوه ښاخونه لري چي يو ئې بپپاه، بپپاهاني او بل ئې امل يا املانري نومېږي. د بپپا يا بپپاهاني نسب د چيتور د مشهور واکمن له کورنی څخه رانښلي چي د راجپوت د ګاهلوت له جملې څخه و او د بپپا په عنوان يادېدی اؤ تاريخ ئې د تاد د (راجستان په پېښه ليک کي) راغلی دی. بپپا د ميلاد په ۷۲۸م کال د ګاهلوت د پاچهي کورنی بنياد په مروار کي کښېښووی. له ده څخه خورا ډېره اولاده پاته سوه او کله چي مړ کېدی عمر ئې سلو کالو ته رسېدلی و. تاد وايي ده د خپل دوران په آخر کي "خپل اولادونه او خپل ملک پرېښووی. ده خپلي وسلې له ځانه سره واخيستې او لوېديځ پلو ئې مخ د خراسان خوا ته ونيوی. هلته ئې ځان

ټينګ کړ او د (بربريانو) له جملې څخه ئې نوي ښځې وکړې چې له هغو څخه ئې ډېر زيات اولادونه وسوه". تاد زياتوي چې بېپا د (مېرو) په ښځ کې يو زاهد څني جوړ سو او کله چې ئې د لوېديځ ټوله شاهزادګان مغلوب کړه لکه د اصفهان، کندهار، کشمير، عراق، اېران، توران او کافرستان شاهزادګان چې د هغو د ټولو لوښي ئې ځان ته کښېنولي وې او له دې ماينو څخه ئې يو سل او دېرش زامن وسوه چې نوشيره پښتانه نومېږي. بيا نو وروسته په هم هغه ځاى کي ژوندى ښخ سو. له دې زامنو څخه هر يوه ئې يوه قبيله تاسيس کړه چې هغه ئې د مور په نامه باندي ياده سوه. د ده هندو اولاده په شمېر اته نيوي کسه وه او د (اګني او پاسي سورياوانسي) يا (د لمر زوکړي اوړ نمانځونکي) په نامه بلل کېده. امل يا املاني په ښکاره له هغه ايمل يا ائېمل سره يو شى ايسي چې د نامه سره ئې د اباسين په ناوه کي پاس تر پېښوره پوري پر ټوله لار د زياتو پښتني قبيلو د څانګو تر منځ څو واره مخامخ سوي يو او هلته د کوهاټ درې ته نژدې په دغه نامه باندې يو کلى هم سته. هغه چې تاد ئې (نوشيره پښتانه) يادوي ښايي اوس د نوشيرواني يا شېرواني بلوڅو له خوا تمثيلېږي. د دوى لومړنى مرکز د (نوشکي) (يعني د نوش) علاقه تمثيلوي چې دا نوم د نوشيرواني يا نوشيره لنډکي شکل دى. د بولفات څانګې تر اوسه پوري نه دي پېژندلي سوي.

د جوکيا څانګي دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| بند | بارډېجا | بيزنجو | غاد | ګيدور |
| هاميراکا | هرياپوترا | هرتى | هينګاره | جدګل |
| کالمتي | مهمت | مېداه | موسي | پاغ |
| پانده | پونوار | رئيس | رېغاني | سبرا |
| سالاريا | شاهزاده | شيکارى | تبار | وارديلي |

د پاسنيو نومو له جملې څخه جوکيا ښايي د جاګا او بند د بهاند ځاى نيولى وي چې دواړه د شاعرانو يا سندربولي طبقې راجپوتي قبيلې دي او د

همدې ټولۍ د مشهوره چاران سره شباهت لري چې يو وخت ډېر پياوړي وه. باردېجا له برېجا څخه څرګندونه کوي چې سوداګر پېشه راجپوت دي. ګيدور د ګادر غوندي دي او د سانسکريت له ګادورا څخه (چې په مهابهارت کې راغلي دي) نمايندګي کوي چې د يونانيانو له خوا د ياد سوي ګېدروسيا يا ګادروسيا نوم هم له هغه څخه راوتلی دی. هاميراکا د هامير اولاده تمثيلوي چې د ګاهلوت يو مشهوره سرخېل و او په سند کې ئې د عربو سره مقابله کوله. هريا پوترا (يعني د هري زامن) د جارېجا يادو يوه څانګه يا د هري قبيله ده. هرتی البته د هاردين ګوجر اصلي شکل دی. هينګاره ښايي د هينګلاج له معبده سره اړه ولري. جدګل يا جتګل جت ګڼل کېږي. دا د اعجاب له مخې د پام وړ ټکی دی چې د (ګل) او (ګالي) شاوندی دلته د ختيځ افغانستان په جنوبي نهايت کې کټ مټ هغه شان استعمالېږي لکه د دې سرحد په شمالي نهايت کې چې د کافرو قبيلو تر منځ ليده کېږي، مثلاً د وائېګال، بيراګل، باشګل او داسي نورو نومو کې چې دمخه ياد سوي دي. جدګل همدارنګه جګدل بلل کېږي او د هجاګانو دغه راز بدلون او د صامتو حروفو دغه ډول ګډوډي يا تحريف په بلوچستان کې غير عادي خبره نه ګڼله کېږي. دا احتمال لري چې په افغانستان کې هغه ځايونه چې د کابل د جلال آباد په سيمه کې جګدلک او د کندهار د کلات غلزي په علاقه کې جلدک نومېږي، ښايي پر دې دلالت کوي چې دا ځايونه پخوا د جت د هغه ذات تر اجارې لاندې وه چې په ټوله شمالي هند باندې هر چيري خپور دی او هلته په تېره بيا په پنجاب کې د اهاليو د جوړښت عمده ايتنيکي عنصر تشکيلوي. کالمتي د پرامارا له کالموه څخه څرګندونه کوي. مهمت، موهميت يا مهميت موږ دمخه د وزيرو د يوه خېل په څېر وليدی. دا ښايي مهاماد يا مهامېد (يعني ستر ماد يا مېد) تمثيلوي او د ميداه د ورپسې څانګې له خلکو سره يو شی دی چې هغې د مېد يا ماد د هغې قبيلې ځای نيولی دی چې د دې برخو يوه ډېره

لرغونې قبيله ده او د پرشيا د مدای يا ميديانو يوه څانګه وه. مېد دلته يوه ساحلي قبيله ده چې اساساً د ماهيګانو او کب نيوونکو په څېر کاروبار کوي خو په پخوا زمانو کي ئې سمندري داړي وهلې. دوی د يونانيانو له ايختيوفاګوی څخه نمايندګي کوي او اوسني مکراني دي چې د نامه په اقتفاء ئې ملک مکران بلل کېږي. موسي يا موسا (چې عموماً موسياني يادېږي) د موسې – کا غوندي دي چې د سکندر تاريخ پوهان ئې موسيکاني يادوي. پاغ چې په ښکاره د نورو بلوڅي قبيلو د پاڅ او پهوګ سره يو شی او هم د کافرو د پاش او باش (بشګالي) غوندي دی، ښايي د پشه ئي ځای نيولی وي چې ترمخه ياد سوی دی. يا خو ښايي د جت مربوط د پاچهاده يعني له هغه (پاچهه) څخه نمايندګي کوي چې بيا هم پشه ئي تمثيلوي. پانده د برهمن د پاندې ځای نيولی دی او پونوار له پوآر څخه نمايندګي کوي چې د پرامارا راجپوت يو بل شکل دی. رئيس يا رئيساني د چالوک يا سولانکي پر رائوکا باندي دلالت کوي. سبرا د ختري د سبر يا سبروال ځای نيولی دی. سالاريا د سالار څرګندونه کوي چې وړاندي ئې يادونه راغلې ده. تبار يا تېپورا سوداګرپېشه راجپوت دی. واردېلي د واديهي سره يو شی معلومېږي چې د کافرو يوه قبيله ده.

ريند: د ريند ټولی له يو غټ شمېر خېلونو څخه جوړېږي چې په زياته عمومي توګه د بلوڅ په عام شموله کلمه سره پېژندل کېږي او په دې ډول نو همدا د ريند قبيله اوس د بلوڅو د يوې څانګي په څېر ګڼله کېږي دغه ټوله خېلونه يا قبيلې چې د ريند تر نامه لاندي راځي زيات شمېر وړو څانګو ته وېشل کېږي چې ځيني ئې صرف يو څو کورنۍ کښېباسي. د بلوڅو غټې قبيلې لاندي راځي او د هغو وړې پښې او څانګي لکه دمخه چې ئې بيان تېر سوی دی د (آني) يا (آری) د جمع تمليکي شاوندی لري.

د بلوڅو قبيلې:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| باري | بولیدا | بوزدار | بوګتي | بوردي |
| درېشک | دور | دومکي | ګیچکي | ګوریچ |
| همر | هوت | جاکر | جالوي | جتوي |
| کاڼوداي | کاسر | کتوار | ختران | کهوسه |
| کوروا | لغاري | لندي | لاشاري | لاټي |
| لوري | لوند | مګازي | ملاي | مماساني |
| مرواري | مري | مزاري | مېد | نتهکا |
| نوهاني | نوشپرواني | رکش | رېند | سجودي |
| سنګریا | اوتان | اونور | | |

له پاسو نومو څخه بلوڅ د بلاڼېچه ځای نیولی دی چې د راجپوت په چوهان پوري اړه لري. باري د برهمن باري یا بارو تمثیلوي. بولیدا (چې پتولیمي ئې یادونه کړې ده) د هزاره و له هغه پولادي یا فئولادي سره یو شی دی چې ترمخه یاد سوی دی او په پخوانیو زمانو کې د دې سیمو یوه مهمه قبیله وه او خپل نوم ئې د مکران یوې غټې علاقې ته ورکړی دی. لومړنی اصلي نوم ئې داسي ښکاري چې بول، بولا یا پولا و (چې له هغه څخه د بول په نامه د ملتان عبادتځای، د بولان درې او د پولاجي معبد چې لیري نه دی ځني پروت خپل نومونه اخیستي دي). بول د برهمن له بالا څخه نمایندګي کوي او د بولیدا شکل ئې سندي دی چې د هندي د بولیکا (یعني د بولا، پولا یا بالا سره د مربوط په معنا) سمون لري، بوزدار (د پارسي ژبې بزدار چې (د بزو رمه) افاده کوي) ښایي د ورپسې څانګې یعني بوګتي پارسي شکل وي چې د بهګتا په نامه له هندي مال روزونکي قبیلې څخه نمایندګي کوي. بوردي د بهورتا ځای نیولی دی چې سولانکي راجپوت دی. دومیک د دومرکي نښه ده او له هغه دامرا څخه نمایندګي کوي چې ترمخه ئې بیان سوی دی. ګیچکي د کجکي سره یو شی دی او د کش یا

ACKU

کچ ځای ئې نیولی دی چي له هغه څخه ترمخه یاد سوی کچواهه راوتلی دی. ګوریچ د راجپوت د کیروچ څرګندونه کوي چي پخوا ئې بیان تېر سوی دی. همر یا همراري د همر اولاده تمثیلوي چي پورته ئې یادونه وسوه. هوت په ظاهره د هغه اوتان سره یو شی دی چي د لیست په پای کی راغلی دی او دوی دواړه د هیرودوت (اوتي) او هغه (اوت) او (اتمان) تمثیلوي چي د یوسفزو تر منځ ئې پخوا یادونه سوې ده. جاکر د جاکهر ځای نیولی دی چي د هندي بیدیا هندو قبیله ده او د جت په جمله کي ګڼله کېږي. جالوی د راجپوت جلیا تمثیلوي. جتوی جت دی. کائودای له لرغوني کای څخه نمایندګي کوي (چي له هغه څخه کایاني راوتلی دی) چي سندی شکل ئې (کائودا) (یعني د کای) او پارسي شکل ئې کائودائي (یعني د کائودا) کېږي. همدغه کای د کافرستان د کائو په څېر ښکاري. کتوار د راجپوت کتیار تمثیلوي. ختران د خاتیران ځای نیولی دی چي د خاتېر د جمع شکل دی او په سوداګر پېشه راجپوت پوري اړه لري. کهوسه د هندي صحرا او جیسالمیر یوه هندو قبیله ده.

کوروا د جت مربوط کوري تمثیلوي. لغاري او لاشاري د لاساري بېلابېل تلفظونه دي او د لاس له بومي وګړو څخه نمایندګي کوي چي ځیني وختونه په تېره بیا د اوسنیانو له خوا څخه د لاسي په نامه بلل کېږي. د دې نوم انتقالي پړاوونه لاس، لاش، لاخ او لاغ دي چي دغه وروستی شکل ئې د لغجام په بڼه دلاساري سره یو ځای چي لومړی شکل ئې دی د وړاندي بیان سوي سپین ترین په جمله کي راغلی دی. لغجام یو ترکیبي نوم دی چي له لاسي او جموت څخه جوړ سوی دی او لاساري بیا د لاسي د جمع شکل دی. لاشه او لاغه لکه څنګه چي ئې ترمخه بیان راغلی دی، یو په بل پسې د ګورچاني او کسرائي د څانګو په څېر ښکاري (کسراني چي د کاسر جمع ده او د بلوڅو د قبیلې په پاسني لیست کي راغلی دی د ریند یوه څانګه ګڼله کېږي) لندی او لوند سره یو شی دي او دا له لوني څخه نمایندګي کوي چي د تېري څېړني سره سم د سانسکریت د لوانیا سره

سمون خوري. له لاتي ځخه ښايي مطلب لاسي وي. لوري له لاري ځخه نمایندګي کوي چي د لارستان بومي او لرغوني آسوري ولس تمثیلوي. مګازي ښائي د ګاهلوت مربوط د مګر اسا، ملای د رهتور مربوط د ملاهي یا ماهولي ځای نیولی دی. مماساني دمخه یاد سوی دی. مرواري د مروار بومي دي. مري د پرامارا مربوط مروري یا د مېر په نامه بومي هندی قبیله تمثیلوي. مزاری د میساري ننبه ګڼله کېږي چي د هندي بیابان هندو قبیله ده. مېد وړاندي ځېړل سوی دی. نتکا یا نتکاني د ناټ ځای نیولی دی چي د ځیګانو (gypsies)، جادوګرانو او ډالبازانو هندی قبیله ده. نوهاني له لوهاني، لوني او لوانیا ځخه نمایندګي کوي چي پورته ئې یادونه وسوه. نوشېرواني یا هغه نوشیره تمثیلوي چي پاس ئې بیان تېر سو او یا د پرشیا د هغه مشهوره پاچا نوشېروان له اولادې ځخه نمایندګي کوي چي پای تخت ئې د دجلې په حوزه کي مداین یا کتېسیفون و او د اته ځلوېښت کلو تر واکمنۍ وروسته چي د هغې په دوران کي ئې د ملک پر دغه برخه باندي بیا لیري تر اباسین پوري وګړي مېشته کړه، په ۵۷۹م کال کي مړ سو. رکش د راکاش ځای نیولی دی او لکه وړاندي چي وویل سوه د یونانیانو اراکهوزیا تمثیلوي. د ریند په باب دمخه بیان راغلی دی. سجودي ښایي د سوجتي بېلګه وي چي سوداګر پېشه راجپوت دی. سنګریا د سېنګړه ځای نیولی دی چي په راجپوت پوري اړه لري.

د پورتني لیست غټي قبیلې پر وړو ښاخونو وېشلي دي چي په لاندي ډول بیانېږي. د مري ځانګي دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| الي | بیجار | چلګري | غزني | ګوساره |
| جنګي | قلندر | کندار | کایاني | کونګره |
| لنجا | لوهار | پوادي | سهېجا | سالار |
| سرور | شېره | سومرا | او نور | |

له دغي جملې ځخه بیجار د راجپوت بیجهېریا تمثیلوي (بیجار د ریند له ټولۍ ځخه دی). چلګري (چلوکاري) له چالوک یا سولانکي ځخه

نمایندګي کوي چې په راجپوت اړه لري. دا همدارنګه شلګري بلل کېږي چې خپل نوم ئې د غزني د شلګر علاقې ته ورکړی دی. ګوساره د ګاسوره ځای نیولی دی چې سوداګر پېشه راجپوت دی. کونګره د کهنګر یا کهنجر سره لګېږي چې د ځیګانو بومي هندی قبیله ده. لنجا د سولانکي لنګاهه او لوهار د برهمن لاهیري تمثیلوي. پوادي د پاوریا نښه ګڼله کېږي چې سندربوله قبیله ده. سهېجا د ختري ساهني تمثیلوي. سرور د سولانکي له سروریا څخه نمایندګي کوي. سومرا د پرامارا د سومره ځای نیولی دی.

د مزاري ځانګې دا دي:

| بلوڅ | بنګی | باتیل | بهیمبر | چائوغی |
|---|---|---|---|---|
| دهارو | ګولا | هارو | ایسان | جالا |
| جاسک | کاسر | لوت | ماچي | ماسید |
| مستاک | مهر | مهروی | مینګل | مورکا |
| موسی | پاندې | پولاتي | رستم | سدو |
| سهېجا | سماله | سنه ټا | سنجر | سیلات |
| سیاف | سولا | سوت | سورېجا | تاکر |
| تالپور | تورکا | اومرا | وائو | زمکا او نور |

له دغي جملې څخه باتیل د (کچواهه؟) راجپوت له بوتیلا څخه نمایندګي کوي. بهیمبر د سوداګر پېشه راجپوت بهمبو تمثیلوي. ګولا د هندو او راجپوت مربوط د موروثي مریانو یوه قبیله ده. هارو د چوهان مربوط د هارا بولګه ده. ایسان یا ایساناني نه دي پېژندل سوي. ښایي دا به د یاسین له هغې ځانګې سره سمون خوري چې څو کرته د پښتني قبیلو د ځانګو په جمله کي په مخه راغلې ده. لوت یا لُت د لوتي د قبیلې ځای نیولی دی چې د کرمان د لُت نومي صحرا سره اړه لري. مهر او مهروي سره

یو شی دي او د مېر ځای ئې نیولی دی چي د میرواره بومي قبیله ده. مورکا د هندي بېدیا هغه هندو قبیله تمثیلوي چي موهور نومېږي. پولاتي له بولیدا څخه نمایندګي کوي چي ترمخه تشریح سوه. سنه ټا د برهمن له سه ندیا څخه نمایندګي کوي. سیلات یا سیلاتیا د سیتهولیا نښه ده چي هندی رمه روزونکې قبیله ده. تاکر د جت د تهاکور ځای نیولی دی.

د لوند څانګي دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| الو | باکر | برنا | بهې | بورټا |
| چاتو | ګادی | ګاج | ګېرا | ګوریچ |
| هوت | جامو | ګنجو | جتو | کالی |
| کمبر | لادی | لودا | ماری | متو |
| نتو | ساهو | ساکا | سوها | سوربا |
| سومرا | یارو | زاره | اونور | |

له دغي جملې څخه بورټا د سولانکي بهورټا تمثیلوي. چاتو برهمن دی. ګادی هم د یوې ختري او هم د یوې هندی رمه روزونکي قبیلې نوم دی. ګاج له کج یا کچ څخه نمایندګي کوي. جامو د لاس بېلې د جموت دپاره راځي. کمبر لکه دمخه چي ئې یادونه سوې ده یو کوردی خېل دی. لادی او لودا سره یو شی دي او له لادي ساکا څخه نمایندګي کوي چي د سوداګر پېشه راجپوت (یوه سکیتي قبیله ده). ساهو او سوها سره یو دي او د ختري ساه تمثیلوي. ساکا زیاتره له لادي سره یو ځای دی او د پرشیاوالو او یونانیانو له خوا هغه ساکای (sacae) تمثیلوي چي د تېر بیان سره سم د نامه په اقتفاء سیستان د ساکاستان په نوم یادېدی. سوربا د سوربیا ځای نیولی دی چي سوداګر پېشه راجپوت دی او یا د راهتور د جوره ځای نیولی دی.

د درېشک څانګي دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| عرب | ارشو | براهیم | فوګیل | ګامو |
| ګونفاز | ایسان | جاسک | کاتوهل | کیرمان |
| مالو | مندو | مینګو | میتل | نوک |
| سامي | سرګنی | شیخ | او نور | |

له دغو نومو څخه ګامو د ګاموها ځای نیولی دی چې په راجپوت اړه لري. له ګونفاز څخه ښایي مراد ګنداپور وي چې پخوا ئې یادونه راغلې ده. فوګیل د پاګل ځای نیولی دی او د سولانکي بهاګېلا تمثیلوي.

د ګوریشاني یا ګورچاني څانګې دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| الي | بابول | بادل | بنګل | بازګیر |
| چنګ | چوتی | دود | دورکا | ګابول |
| هارو | هېل | هوت | جاسک | جوګی |
| کلنګ | کنګ | کتال | کورپت | خلیل |
| لادی | لاشاری | مېو | میتا | موتیک |
| موسا | پیتانی | سالو | سندیل | سارمور |
| شال | شیک | سوها | سور | تنګو |
| ترکال | او نور | | | |

له دې نومو څخه زیاتره موړ، ولیده او ترمخه وځېړل سوه. بابول د بابر ځای نیسي چې ګوجر دی. بنګل جت دی. چوتی د برهمن چاتو تمثیلوي. دود او دورکا سره یو شی دي او د راجپوت دور تمثیلوي. ګابول د کاپول ځای نیولی دی چې سوداګر پېشه راجپوت دی. هېل جت دی. کورپت له کور او پهاټک څخه جوړ سوی یو ترکیبي نوم دی چې دواړه یو ځای هندي رمه روزونکي قبیلې دي. خلیل ښایي خاللیا وي چې هندي مال روزونکې قبیله ده. مېو د راجواري د مېوات بومي دي. سندیل برهمن دي او یا ښایي د راجپوت د پاریهارا د قبیلې له سیندهیل څخه نمایندګي کوي. پورتني

مثالونه د هغو قبیلو او خېلونو د ترکیب د څرګندوني دپاره کافي دي چي د بلوڅ تر نامه لاندي راټول سوي، او یو ځای تر هغه رېند، رین یا رن لاندي تصنیف سوي دي چي د بلوڅو له راجپوتي څانګي څخه ګڼل کېږي.

د جت بلوڅ څانګي دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ابرا | آسلامیا | بنګال | بنګی | دلال |
| دېسی | دهې | ګاتواره | هاورا | هېل |
| هودي | جګدل | جاکهر | جتوی | کالهورا |
| کهندیا | کهوکهر | کوری | مچی | مانجها |
| ناوناګا | پاچهادا | پلال | پسرار | تهاکورایلي |
| تهینوا | ودېرا | اونور | | |

له دغي جملې څخه ګاتواره د ګاتو په څېر، آسلامیا د ایسلامیا په څېر، جګدل د جدګل په څېر، جاکهر د جاکر او زیګار په څېر، کوری د کوروا په څېر، مانجها د مانجو په څېر، ناوناګا د نانا په څېر، پاچها – دا د پاش، پاژ، پاغ او پهوګ په څېر، تهاکورایلي د تاکر او تکر په څېر، تهینوا د تانیا په څېر، ودیرا د وار دیلي او وادیهي په څېر وړاندي په مخه راغله.

د بلوچستان پر هغو قبیلو سربېره چي وړاندي ئې نومونه یاد سوه ځیني تیت او پرک افغانان او عرب هم هلته اوسي. عرب زیاتره په لوېدیځو ساحلي علاقو کي پراته دي چي هلته د سوداګری او کرهنې په چارو لګیا دي. د بلوچستان په دغو برخو کي دوی د یوې مذهبي فرقې هغه غټه ټولی جوړوي چي ژیکاري نومېږي او داسي معلومېږي د روښانیانو یو ښاخ وي چي البته د (ماني) په پیروانو پوري به اړه لري. روښانیان د بابي افغانانو له قبیلې څخه یوه وړه کالوني لري چي اصلاً په کلات کي اوسي او له یوه مخه د سوداګری په کاروبار اخته ده. دوی احتمال لري د راجپوت د پرامارا له بهیبا څخه منشأ اخیستې ده. د کلات په همدغه علاقه کي د پرشیائي ذات یوه ځائي ټولی هم مونده کېږي چي (دهوار) یا (کلیوال)

نومېږي او دوی د سیستان د هغه (دهقان) سره برابرېږي چي په پارسي خبري کوي او یو مخیزه په کرهڼه لګیا دي. د ځینو له خوا دوی د تاجکو په ځېر ګڼل کېږي او تاجک هغه کلمه ده چي عموماً په افغانستان او مرکزي آسیا کي ټولو هغو پارسي ویونکو وګړو ته په کار اچول کېږي چي د تابعانو په ځېر یا مریانو غوندي دریځ لري. دوی چي په کلیو او ښارګوټو کي په ځائي توګه اوسي نو د ځارویو په روزنه او د ملکي کسبونو په ورهڼه اخته دي. د تاجک د نامه په وسیله نو له نظامي، کوچي او داړه وهونکو غالبو طبقاتو څخه د یو بېل ولس په ځېر توپیر پیدا کوي. دغه بیان نو د هغو قبیلو په باره کي زموږ کتنه بشپړېدو ته رسوي چي په بلوچستان یا لرغوني ګیدروسیا کي اوسي او دا هغه ملک دی چي د هیرودوت د اوولسمي ستراپی په احاطه کي واقع دی.

# اتلسمه ستراپي

اتلسمه ستراپي له ماتیونوی، ساسپیروی او الارودوی څخه جوړه سوې ده. دا د اوسني پرشیا شمالي برخه کښېباسي او ساحه ئې زموږ د روانې پلټنې تر حدودو دباندې ده. دا د میدیا یوه حصه شاملوي چې زموږ د افغانستان د هغې علاقې سره نښتې ده چې په لرغونې زمانه کې آریا نومېده او هلته د ماتیوئوی یا متي په نامه یوه قبیله اوسېده چې بولګه ئې موږ ته د اوسنیو افغانانو په جمله کې خورا زیاته په مخه راغلې ده.

# نونسمه ستراپي

نونسمه ستراپي له تیبارېنوی، مکرونوی، موسینویکوی او مارسوی څخه جوړه وه. دا د وړاندې ستراپۍ په تناسب ښه ډېره لیري د لوېدیځ خوا ته د ایوکسین د سمندرګي د غاړو په پر شاوخوا پرته وه. نوموړې ستراپي یوازې په دې وجه زموږ د علاقې وړ ده چې د هغې په جوړښت کې د مکرونوی او د موسینویکوی نومونه یاد سوي دي. د مکرونوی په نامه کې موږ ته د بلوچستان د مکراني په څېر نوم ښکاري چې په دمخه څېړنه کې ئې (د کب خوړونکو) یعني د یونانیانو د (ایختیوفاګوی) په توګه معنا وښوول سوه. دا نوم ښایي د ایوکسین د جنوبي غاړو ساحلي قبیلو ته په هم هغه دلیل ورکول سوی وي لکه څنګه چې د لرغوني ګیدروسیا یا اوسني بلوچستان اهالیو ته ورکول سوی و. موسینویکوی د یوه داسې ولس د نامه

په څېر هيرودوت ياد کړی دی چي په ښکاره د ده له ياد سوي مکرونوی څخه توپير لري. خو سترابو چي د پونتوس د ځينو غرونو د اوسېدونکو په باب ږغېږي نو وايي (۳ .xiii جغرافيه) چي دوی ټوله وحشي دي او د نورو په جمله کي ئې هغه سوآنوی هم شامل دي چي پخوا مکرونوی بلل کېده. بله دا خبره کوي چي ځيني د دوی له جملې څخه د ونو په منځ يا په وړو برجانو کي ژوند کوي او له همدې جهته څخه لرغونو خلکو دوی د موسينويکوی يعني (د برجانو د اوسېدونکو) په نامه بلله. ځکه برجان د موسينوی په نوم يادېدله. په دغه باب زه دلته دا خبره يادولای سم چي د اباسين د ناوې په بېلابېلو برخو کي چي هلته مځکه چمني وي او موسمي سيلونه ورباندي راځي نو چوپاني وګړي د اوسېدني لوړ تختونه يا برجونه پر نيغو اچو باندي دروي څو د سيلونو پر وخت هلته واوسي او د غوماشو او نورو خزندو له ځورېدني څخه ځانونه وژغوري. دغه بناوي دوی د (مچان) (machan) په نامه بولي چي ښايي همدا کلمه به د هغه يوناني موسينوی په وسيله تمثيل سوې وي چي وړاندي خبري پر وسوې. د هغه سوآنوی (اوسني مينګرېليان) په باب چي پخوا مکرونوی بلل کېده، زه دلته دا ټکي يادولای سم چي د بلوچستان د مکران په برخه کي يوه داسي علاقه سته چي د (سيانه – کوه) په نامه يادېږي. همدارنګه د خواجه امران او د سليمان د لړيو د يو ځای کېدو په برخه کي د بلوچستان پر شمال – ختيځو پولو باندي (چي سيانه – کوه ئې د شمال – لوېديځ سرحد په دننه کي واقع دی) يوه بله علاقه سته چي سيونه – ډاګ نومېږي. د پښتو د ډاګ کلمه بايد د ترکي ژبي د (داغ) يا (تاغ) سره چي د پارسي ژبي د (کوه) يعني (غره) معنا ورکوي، په ګډوډي کي رانه سي. د پښتو ژبي ډاګ يا ډاګه د يوه سپېره، هوار بيابان معنا ورکوي، چي مځکه ئې کلکه او له ډېرو ډکه وي. خو دلته د سيونه ډاګ کلمه د هغو کلکو، ډبرينو او وچو سپېرو لوړو هوارو دپاره د نامه په څېر استعمال سوې ده چي د توبې د غرنيو سيمو يو

ټاکلی تصویر تشکیلوي. پر دې سربېره دا خبره لا هم سته چې لکه څنګه چې مو ولیده د سلیمان د لړۍ د دغې سیمې د پښتني قبیلو یوه څانګه د سیاني په نامه یادېږي.

# شلمه ستراپي

شلمه ستراپي چې وروستۍ ده د هیرودوت له بیانه سره سم هندیان شاملوي. د هندیانو کلمه یوه پراخه او په کافي اندازه نامعینه ده، خو زموږ دپاره د خوښۍ خبره دا ده چې دغه ستراپي زموږ د پلټنې تر ساحې دباندې ده.

ACKU

# د افغان د نامه منشاء

اوس موږ په خورا زياته بېره تر هغه چي ما غوښته د داريوش هيستاسپيس د پرشيائي امپراتورئ پر شلو ستراپيانو باندي چي د هيرودوت له خوا يو په بل پسې يادي سوي دي، په ډېره منډه راتېر سوو او په لنډه توګه مو د هغو وګړو نومونه واخيسته چي د لرغوني آريانا - يا زموږ د هغه افغانستان - په ساحه کي دننه پراته دي چي حدود ئې د دې پلټني په پيل کي وښوول سوه. موږ د دې سيمي د موجودو اهاليو تر منځ لږ تر لږه د نامه په څرک د هغو زياترو قومونو اوسني څرګندويان وپېژندل چي هيرودوت په خپل وخت يعني تر مسيح دمخه د پنځمي پېړۍ په منځنيو کلونو کي د دې ځای اوسېدونکي بللي دي. ما د يو زيات شمېر هغو افغاني قبيلو اوسنی ترکيب تر څېړني او تجزيې لاندي ونيوی چي د هم هغو لرغونو اقوامو په نامه دی او يا ئې د هغو په خاورو کي اړولي دي. د قبيلو او د دوی د وړو څانګو په اوږده ليست او ګڼ شمېر کي د زياتو رنګا رنګ نومونو او توکمونو تر منځ، هغه خبره چي په خورا روښانه توګه په ډاګه کېږي دا ده چي د دې وګړو اوسني ملي نوم چي خلک او ملک ئې ورباندي يادېږي هيچري کورټ په مخه نه راځي. داسي قبيله يا عشيره او يا څانګه چي د افغان په نامه وي او يا دې ته ورته کوم نوم ولري هيڅ موږ ته په مخه نه ده راغلې.

د دې خبري تر معلومېدو پسې نو بيا يوه بله خبره چي هم په ډېره پاملرنه ارزي، د هغو راجپوتي او هندي توکمونو د زيات ډېرښت خبره ده

چې له اوږدې زمانې راهيسي د اسلامي ورورګلوۍ په کلي ګډېدنه کي له نظره ورک سوي دي او که څه هم په طبيعي توګه د دې سيمي په ختيځو برخو کي غلبه لري خو د هغې په ټوله ورشو کي سر تر پايه تر بېخي ليرو لوېديځو حدودو پوري هر چيري مونده کېږي. د لرغوني آريانا د وګړو هندي عنصر په اوسني افغانستان کي د هغو ورته قبيلوي نومونو په واسطه ډېر ښه تمثيلېږي چې په لږ يا هيڅ املائي تغير سره زموږ تر دې زمانې پوري ژوندي پاته دي او تاريخ په داسي ډول ثبت کړي دي چې د دې سيمي اوسېدونکي قومونه د هغو پېړيو په دوران کي په همدې نومونو يادېده چې زمانه ئې تر ميلاد دمخه په ۳۳۰ق م کال د سکندر له خوا د يوه بل داريوش (کودومانوس) د پرشيائي امپراتورۍ تر راچپه کېدو لږ دمخه او وروسته وه.

مقدوني برى د يوه کافر – يا بت نمانځونکي – قوم برى و پر يوه بل همداسي قوم باندي. هم يوناني او هم هندي مذهبي پرستش سره له هغه چې تر منځ ئې يو بېخي بېل پرشيائي دين واقع او دوى ئې سره جلا کړي وه خو بيا هم په دواړو کي ډېر ټکي يو د بل سره مشترک وه او ميتولوجيګاني په دې اندازه سره يو شى وې چې هره خوا په دې پوهېده چې له يوې واحدي (مصري، سامي) موريني څخه ئې منشأ اخيستې ده. پرته د ژبې له تفاوته څخه نور نو د دوى تر منځ ستر توپير په دې خبره کي و چې د يوناني تمدن درجه ډېره اوچته وه او هغه د ادبياتو، هنرونو او نظامي سازمان په برخه کي وړاندي تللى و. د يونانيانو همدغه اوچت تمدن و چې د سکندر اخلاف ئې په دې برياني کړه چې يونانۍ سلطه پر هغو ملکونو باندي چې ده لاندي کړي وه، ټينګه وساتي. ښکاره خبره ده چې د يونانيانو سره د دې وضعي په تأمين کي د بومي اهاليو د زړه همکاري اغېزه درلوده ځکه يونانيانو په داسي حال کي چې د ستر صلاحيت واګي ئې په خپل لاس کي ساتلې نور ئې نو له بومي وګړو سره د متقابل ازدواج روابط پالله او هم ئې

هغو ته په حکومت کي مناسبه دنده ورکړې وه. په هغه دوران کي چي ستره یوناني واکمني برحاله وه او په نوو فتوحاتو کي د یوناني کېدو سلسله روانه وه نو شک نسته چي دا زمانه له کوچنۍ آسیا او په خپله له یونان څخه د مهاجرو یو لوی بهیر د یوناني مملکتونو هغو حوزو ته رابهېدی چي په لرغونې آریانا کي ئې تاسیس کړي وې. ځکه چي هلته ئې کالونیاني درلودې. یوازي د یوې دغسي فرضیې پر بنا نو نن ورځ د افغانستان په اوسېدونکو کي د زیاتو هغو قبیلو، خېلو او ځانگو موجودیت توجیه کولای سو چي لقبي نومونه ئې کټ مټ د هم هغو نومو سره یو شی دي چي په لرغونې زمانه کي د مقدونیا، تراکیا، لیدیا او د کوچنۍ آسیا د نورو برخو اوسېدونکي قومونه او قبائل ورباندي نومېدله. دغه لرغوني نومونه لکه څنګه چي د لرغونو پېړیو د یوناني او رومي لیکوالو له خوا څخه ثبت سوي دي، په هیڅ وجه کومو هندي ولسونو ته چي د هغو په باره کي موږ معلومات لرو نه سي راجع کېدای. هغه قبیلې چي له پورته ښوول سوو سرچینو څخه راپیدا سوي او اوس په افغانستان کي مونده کېږي نو تر هغه ځایه چي ما پېژندلي دي د خپلي څېړني په جریان کي می یو او بل وخت ښوولي دي. په دې کي شک نسته چي یو ښه په کار پوه پلټونکی به ښایي د دغه شان قبیلو شمېر ته نوري ډېري هم ور زیاتي کړي.

د آسیا په دې سیمه کي یوناني واکمني تر میلاد وړاندي د ۱۲٦م کال په شاوخوا کي د گیتای یا جاټا (په چینائي ژبه د یوئیچي) ولس د چپاو په وسیله رانسکوره او بالاخره ړنګېدو ته ورسېده. خو په (دي کونسولات او هیلویام) کي د سینیکا په قول یوناني ژبه لا د ده په زمانه (یعني په ۵۰ میلادي کال) کي د اباسین پر غاړو ویله کېدله. همدا ژبه وه چي په وروسته زمانه کي د ډېرو پېړیو دپاره بریمنو اقوامو د سکو پر مخ باندي استفاده ځني کوله. جاټا د خپل حرکت په سلسله د افغانستان د غرنیو سیمو له منځه څخه، په داسي حال کي چي پرته د هوارو مځکو له ټاټوبو

څخه ئې ځيني غرنی مېني هم هلته تر شا پرېښوولې پرله پسې د اباسين ناوې ته راشيوه کېده او له هغه ځايه بيا ټوله پنجاب او شمالي هند ته خپرېده چې د نفوسو غټه برخه ئې اوس د همدوی اولاده تشکيلوي. جاتا د هند ګوتيان دي او له هم هغه ذات څخه دي چې د اروپا ګوتيان ورته منسوبېږي. لکه څنګه چې د اروپا ګوتيانو په خپله ساحه کي کوم نقش ولوباوه، دوی هم هغسي دلته د ټولو چارو په نظم کي يو بشپړ اوښتون راوستی. دوی په مذهب بودايان وه او د دغه دين او سيستم ډېر جدي پالونکي ګڼل کېدله. د دوی تر واکمنۍ لاندي برهمنيزم او د هغه سره سم د ټولني نظم په هيواد کي پای ته ورسېدی او په دې ترتيب د مسيحيت دپاره لاره هواره سوه. مسيحيت تر هغه وروسته چې په دريمه پېړۍ کي ټينګېدو ته ورسېدی وختي لا د هيواد په ګوټ ګوټ کي خپور سوی و لاکن دا وخت ئې ونه موندی چې د اسلام د ناقابل انکار حريف تر ظهور پخوا خپلي ريښې ډېري ټينګي کړي، خو په شمالي هند کي بيا د برهمنيزم له‌بيا را ژوندي کېدو سره په بېره د بوديزم کمبله هلته ټوله سوه.

د يو بريمن ولس په څېر د عربو ګرنديو پرمختګونو او حيرانوونکو بريالیتوبونو ډېر ژر لوېديځه آسيا د اسلام په پيروانو ډکه کړه. افغانستان د يو لړ پرله پسې وطني پاچهي کورنيو تر واکمنۍ لاندي – چې ځيني ئې له تازه راجپوتي ريښې څخه او ځيني ئې له يوې ليري يوناني ريښې څخه راوتلي وې – او دوی په خراسان او د آمو د شاوخوا ملکونو په حوزه کي د هغه چا له منځه څخه راپاڅېدلي چې د اسلام نوي دين ته را اوښتلي وه، نو دا هيواد اسلام ته د خپلي اوښتني په هغو لومړنيو وختو کي خورا ژر ومنل سو. بيا ئې نو د يوولسمي پېړۍ په دوران کي دغه دين هندوستان ته ورساوه او هلته بالاخره د افغاني بريمن شهاب الدين غوري له خوا څخه د دولتي دين په څېر د ديرلسمي پېړۍ په پيل کي تثبيت سو. مسيحيت دا وخت سره له هغه چې په لوېديځ کي د صليبي شخړو ناکامیابه قضيه ور

پېښه وه خو بيا هم په افغانستان کي د (هغه مقدس کتاب) د يوه دين په حيث زغمل سوی و چي د يهوديانو، مسيحيانو او مسلمانانو له خوا څخه په يوه سويه مقدس ګڼل کېږي. د مغلو د فتوحاتو په سر کي د يوه څه وخت دپاره مسيحيت ته په پرشيا او افغانستان کي يوه خاصه توجه راواوښته. خو د مغلو په امپراتورۍ کي چي د جنګېزخان وروستنيو اخلافو د مسيحيت په نسبت اسلام ته ترجيح ورکوله نو مسلمانانو خپله پخوانۍ لوړتيا ژر په ژره بيا لاس ته راوړه او له دې زمانې راهيسي نو د افغانستان خلک په دې صفت وپېژندل سوه چي محمدي دين ته ئې خپل ځانونه وقف کړي دي.

افغانان – چي هر څوک وه – خو د دوی د خپلو رواياتو په اساس د هغه چا له جملې څخه وه چي په ډېر وختي کي ئې د عربي پيغمبر له خوا څخه ابلاغ سوی دکتورين ومانه. دغه دکتورين د خدای د وحدانيت او د خدای د استازي په توګه د محمد د رسالت ښوونه بيان کړه او د بتانو نمانځنه ئې وغندله. په دې خصوصياتو کي اسلام له يهوديت سره پوره توافق درلودی. ځکه يهودانو هم پر خپل واحد قادر خدای باندي عقيده لرله او موسی ئې د خدای د قانون چلوونکي په ښېر مانه چي هغه تر محمد (ص) لا په زيات شدت سره د بتانو نمانځنه منفوره بلله. د افغانانو په دې ادعاء کي چي ځانونه يهودي، يا خو اسرائيلي نسب ته منسوب ګڼي او په وياړ سره د بني اسرائيل (يعني د اسرائيل د اولادونو) په نامه ځانونه يادوي ارومرو د حقيقت يو رګی سته او هغه له دې ټکي سره اړه لري چي دوی ډېر وختي د اسلام هغه دين ته اوښتي دي چي په اساساتو کي د دوی له خپله دينه سره خورا ډېر شباهت موجود دئ. ځکه د دوی خپل روايتونه په خورا روښانه توګه څرګندوي چي د محمد د ظهور تر زمانې وړاندي او هم تر

هغې پوري افغانان (تورات خوان) يعني (د پينته[1] ټوک لوستونکي) وه او موسوي قوانين ئې پالله. که چيري خبره دغه ډول وه نو دوی به ضرور يهوديان وه ځکه اسرائيليان خو حتی تر اسارت پخوا لا د بتانو د نمانځني خوا ته ښوهېدلي وه او موږ کوم داسي مدرک نه لرو چي تر تيت او پرک کېدو وروسته دي بيا دوی يهوديت ته راګرزېدلي وه. افغانان په داسي حال کي چي په ډېره کرکه دا مفکوره ترديدوي چي دوی له يوه يهودي نسب سره اړه لري اما د هغه برخلاف بيا ادعاء کوي چي دوی اسرائيليان دي او خپل نسب تر ساروِل (د اسرائيلو پاچا، ساول) پوري رسوي چي د کايس (کيش) زوی و. دوی د کايس نسب له يعقوب، اسرائيل الله (د [خدای اسرائيل] جاکوب) څخه رانيسي. د افغانانو ټول تاريخ لکه څنګه چي په روايتي ډول د دوی تر منځ جريان لري، او له دې سره يو ځای د افغاني قبيلو يوه نسبي شجره په هغه کتاب کي راغلي دي چي (مخزن افغاني) يعني (افغاني خزانه) نومېږي. دا کتاب د مغلي امپراتور جهانګير په دوره کي د خان جهان لودي په پاملرنه د ۱٦۲۰م کال په شاوخوا کي تاليف سوی دی. نوموړی اثر (چي په ۱۸۲۹م کال کي د پروفيسور (دورن) له خوا په انګرېزي ژبه ترجمه سوی دی) د هغه څه په باب زموږ د ټولو معلوماتو اساسي کره منبع ده چي په خپله افغانان ئې د خپلي منشأ په باره کي وايي. داسي ښکاري چي دا به د افغاني تاريخي رواياتو هغه لومړنی اثر وي چي د ليکني په بڼه ثبت سوی دی. په دې اثر کي که څه هم د افغانانو په باب ځيني اتفاقي يادوني د نورو هغه اسلامي ليکوالو له آثارو څخه رانقل کېږي چي هند ته د اسلام تر راتګ په وروسته زمانه پوري اړه لري، خو بيا هم په اصل کي يو مستقل تاليف دی او د هغو پلټنو په نتيجه

---

[1] Pentateuch دا د عهد قديم (زړې ژمني) لومړي پنځه کتابه دي چي پښتو غوندي (پنځه ټوکه) نومېږي (مترجم).

کي منځته راغلی دی چي دغه زمانه په ملک کي تر سره سوي دي.

د جاکوب، ایساو او موسیس په باره کي افغاني څرګندوني او هم د هغه مهاجرت (Exodus) قصې چي د موسی په لارښوونه اسرائیلیانو له مصره څخه سر ته ورساوه او له دې سره د اسرائیلیانو د هغي جګړې نکلونه چي له امالیکاتیانو سره ئې وکړې او فلسطین ئې ونیوی او همدارنګه د نوح د بېړۍ (Ark of the Covenant) په باب روایتونه او د مملکت د پاچهۍ دپاره د ساول د ټاکلو او داسي نورو او نورو په باب کي ټوله افغاني بیانونه په څرګنده توګه د انجیل (بایبل) پر متن رابنا دي او د (زړې ژمني) په باب د یوې پوهني پر موجودیت باندي دلالت کوي. دا پوهنه که څه هم دا خبره نه ثابتوي چي مسیحیانو د نفوسو د یوې غټي برخي په توګه موجودیت خو لږ تر لږه د دې څرګندوني له ټینګښدو سره مرسته کوي چي افغانان د محمد د ظهور تر وخته پوري د (پنځو ټوکو) لوستونکي وه. دوی مؤسس د موسی کلام الله (موسی د څښتن د کلام) په نامه بولي او هغه دین چي ده ابلاغ کړی دی د اسلام په نامه ئې یادوي چي دا نوم همدا راز د محمد له خوا د ابلاغ سوي دین دپاره استعمالېږي. ساول دوی سارول ملک تالوت بولي (یعني ساول د لوړ دامت خاوند شاهزاده). دوی وایي کله چي ساول له خپلو لسو زامنو سره په هغه جګړه کي ووژل سو چي د کفارو پر ضد ئې کوله نو ئې دوه پس مرګي زامن پاته سوه چي له بېلابېلو مندو څخه په یوه ورځ او پر یوه مهال زېږېدلي وه. دا زامن چي براخیه (براکیه) او ایرامیه (جیرمیه)[1] نومېده د داود له خوا څخه چي په مملکت کي د ساول جای نشین و د زامنو په څېر واخیسته او لوی ئې کړه.

---

[1] دغه برخه په کار ده چي د مخزن افغاني له اصلي متن سره وکتل سي او په تېره بیا د نومو املا ته یې له هغه اثره سره سمون ورکول سي (مترجم).

کله چي دوی راغېږ سوه او د سږي ځای ته ورسېده نو داود لومړی د خپل سر وزیر او دوهم د خپل سراعلی قوماندان په څېر وټاکه. براخیه د آصف په نامه یو زوی درلودی او ایرامیه د افغنه په نامه. د سلیمان (سولومان) په دوره کې چې هغه تر داود وروسته پر تخت باندي کښېنستی، آصف او افغنه هم هغه مقامونه نیولي وه چې پخوا ئې پلرونه پر ناست وه او سلیمان پر دې سربېره افغنه ته دا دنده هم ور وسپارله چې په بیت المقدس کي د هغه معبد د ودانېدو چاري وڅاري چې د داود له خوا پیل سوي او اوس بشپړېدو ته نږدې و. اصف اتلس زامن درلوده او د افغنه د زامنو شمېر څلوېښتو ته رسېدی. د دوی اولاده د اسرائیلو تر بلي هري قبیلې په شمېر کي واوښته.

کله چي بخت نصر (نیبوچادنیزر) بیت المقدس ونیوی او ړنګېدو ته ئې ورساوه او اسرائیلیان ئې بېخي مات کړه نو ئې درست شام (سوریه) تر خپل تابعیت لاندي راوستی او له دې ځایه څخه ئې اسرائیلیان چې د دوی په جمله کي (زیز) او (دنیال) (دانیل) هم شامل وه لیري پسي واخیسته او د غور او کوه فیروزه په غرنیو سیمو کې یې مېشته کړه چې هلته د آصف او افغنه اولادې له شاوخوا کفارو سره د جګړو په سلسله هغه ملک د ځانو دپاره ونیوی او د سلطان محمود غزنوي او سلطان شهاب الدین غوري تر زمانې پوري ئې تر سلطې لاندي و. په هغه وخت کي چې بخت نصر اسرائیلیان له شام څخه وایستل نو د دوی له جملې څخه ځینو ئې په عربستان کي پناه واخیسته او مکې ته څرمه ئې واړول چې هلته عربو - د سلیمان له زمانې راهیسته پنځلس سوه کاله - د محمد پیغمبر تر ظهوره پوري د (بني اسرائیل) او (بني افغنه) په نامه یادوله. تقریباً په دغه وخت کي ولید مړ سو چې هغه د عتبه زوی او هغه بیا د اکرمه زوی و چې د افغنه په قبیله پوري ئې اړه درلوده. دی عموماً د یوه قریش په څېر مشهوره سوی و ځکه په دغه قبیله پوري مربوط عبدوس شمس د مور له خوا څخه د

ده نیکه ګڼل کېدی. لاکن دی خپله په حقیقت کې یو اسرائیلی و. له ولید څخه پر مېنه دوه زامن پاته سوه چې یو ئې خالد او بل ئې والد نومېدی. دوی دواړو اسلام راوړی او د محمد خورا کلک پلویان سوه. خالد په ډېره زړه ورتیا د پیغمبر د داعیې دپاره وجنګېدی او له هغه څخه ئې د سیف الله (د خدای د توري) لقب واخیستی. تر دې وروسته ئې نو بیا د پرله پسې خلفاوو په دوره کې د دین د یو بریمن سرتېري په شان شهرت وګاټه.

دغه خالد بن ولید چې د افغنه – یا د ځینو په خیال د قریشو – له قبیلې څخه و نو د مسلمانېدو سره سم ئې یو لیک هغو افغانانو ته ولېږی چې د ده خپلوان – اسرائیلیان وه او له هغې زمانې راهیسې د غور په غرونو کې اوسېده چې بخت نصر اسرائیلیان له شام څخه وایستله. په دې لیک کې ئې دوی خبر کړه چې (د زمانې وروستي پیغمبر) ظهور کړی دی او بلنه ئې ورکړه چې د هغه دین ومني. په نتیجه کې نو یو شمېر افغاني لویان له کایس سره چې تر ټولو ستر و د هغه په مشرې مدینې ته رهي سوه او هلته ئې له رسېدو سره سم د خالد په لارښوونه دا نوی دین ومانه. په دغه ځای کې چې د اسرائیلیانو سره یو ځای سوه نو خورا ژر ئې د مکې د قریشو په مقابل کې د محمد د داعیې په پلوي باندې ځانونه مشهور کړه. په هغه جګړه کې چې هلته ئې سر ته ورسوله، ویل کېږي چې کایس په خپل لاس د قریشو اویا تنه ووژله. د دغې موقع د خدمتونو په مقابل کې پیغمبر پر دوی باندې ډېرې زیاتې مهربانۍ وکړې او کله چې ئې د دوی د هر یوه د نامه پوښتنه کوله نو ورته معلومه سوه چې د دوی دا ټوله عبري نومونه وه او د خپلو لطف د یوې نښې په توګه ئې هغه په عربي نومو باندې ورواړول. د دوی مشر چې کایس نومېدی او دا ئې یو داسې نوم و چې پیغمبر ته عبري ایسېدی نو ئې په عوض کې د عبدالرشید نوم ورباندې کښېښووی چې (د لارښوونکې د بنده) معنا ورکوي. له دې سره یو ځای ئې د (ملک) یعنې (پاچا) هم هغه لقب ورکړ چې د دوی پر ستر نیکه (ملک تالوت) باندې

پروت و او هغه په قرآن کي هم په دغه لقب یاد سوی و. همدا راز ئې اعلام کړه چي دغه لقب باید هیڅ کله د دوی له غړانو څخه بېل نه سي بلکي دوی باید هر کله د قیامت تر ورځي پوري په هغه باندي وبلل سي. په همدې وخت کي کله چي پیغمبر دغه افغانان د کور پر خوا باندي را رخصتوله نو ئې عبدالرشید ته سپارښتنه وکړه چي د خپلو خلکو تر منځ دغه دین خپور کړي او ده ته ئې د پیهتان خاص نوم ورکړ چي وایي دا یوه سوریایي کلمه ده او معنا ئې د بېړۍ له شترینګه سره برابرېږي، ځکه سر له اوسه نو ده ته په هغه لار کي چي د ده خلک باید ورباندي ولاړ سي د لارښود په سترګه کتل کېدله. کایس غور ته تر راستنېدو وروسته دغه نوی دکتورین په داسي بریالیتوب خپلو خلکو ته تشریح کړ چي هغو سمدستي اسلام ومانه او ده ډېر کلونه داسي ژوند وکړ چي د هغو له خوا څخه ئې درناوی کېدی. (خو سره له دې دا خبره کېدای سي چي افغانان د ده د یادګار په نامه کوم زیارت نه لري. په داسي حال کي چي نسبتاً د را وروسته زماني اسلامي بزرګان سر تر پایه په ټوله ملک کي دونه زیات دي چي ډېرښت ئې حیرت راپاڅوي).

کایس د محمدي سنې چي هغه د ٦٦١م کال د می له شپږمي څخه راپیل کېږي، په ۴۱ کال کي مړ سو. همدغه کایس عبدالرشید پټهان هغه څوک دی چي اوسني افغانان خپل نسب له ده څخه رانیسي او ده ته د خپل قوم د لومړی نیکه په سترګه ګوري. همدغه کایس دی چي د دوی د ټولو نسبي شجرو د پیل ټکی ئې جوړ کړی دی. دوی وایي کایس درې زامن درلوده چي سربن، بټن او غرغښت نومېده او د دوی په نومو پسي ګرده قوم په درو سترو ټولیو کي تصنیف سوی دی چي سربني، بټني او غرغښتي نومېږي. د دوی جملې ته د ترکلانې په نامه چي معنا ئې (ترک قومیان) کېږي د وصلي افغانانو یوه څلرمه ټولۍ وراضافه کېږي چي هغوی که څه هم په پښتو خبري کوي او پښتونولي، یا افغاني رواجونه او دودونه پالي خو

له هغه نسبه څخه نه ګڼل کېږي چې افغانان اړه ورپورې لري.

دا په لنډه توګه هغه افغاني بیان دی چې د نسب او اسرائیلي منشأ په مورد کې ئې په خپله د همدوی له خوا څخه څرګند سوی دی. له هغو روښنائیو سره چې اوس ئې خپل په وړاندې لرو دا مشکله نه ده چې د دوی روایتي تاریخ شرحه کړو او د شجروي نومونو ترتیب او تصنیف ئې سم سره ولګوو. د دوی بیانونه دا وایي چې د غور او فیروزه په غرونو کې دوی اوسېدله او هلته د ګاونډیو ولسونو له خوا څخه د افغان او بني اسرائیل په نامه یادېدله. دغه ملکونه له هغه وخته راهیسې چې بخت نصر اسرائیلیان له شام څخه راوایستل دوی لاندې کړې وه او د سلطان محمود غزنوي تر زمانې پورې ئې په خپله سلطه کې ساتلې وه. څرنګه چې همدغه سلطان د دوی پر قوم باندې پېرزوینه درلوده او د افغانانو غټ شمېر ئې د سرتېرو او ناحیوي والیانو په څېر په خپل خدمت کې چره کوله نو دوی دې ته مخه وکړه چې له خپلو وطني غرونو څخه راووزي او د سلیمان په لړۍ کې مېنې جوړې کړي. په دې جریان کې د دوی زیاتره غټان د هند د مهمو قوماندانانو لوړو مقامونو ته جګ سول. وروسته بیا کله چې د سلطان محمود د غزني د کورنۍ پر ځای د غور شاهي کورنۍ کښېناسته او سلطان شهاب الدین غوري د خپلو اسلافو په شان پر افغان ولس باندې خپله مهرباني جاري ساتله نو د افغانانو ټوله قوم ئې له بار و بنې، د کورنیو او رمو سره یو ځای له غوره څخه راکډه او د اباسین په لړۍ کې ئې میشته کړه. دوی ئې په شمال کې له باجوړ څخه بیا په جنوب کې تر کشینغر پورې (یا هغه چې د کوه کاشي یا کاسي کوه په نوم هم بلل کېږي) د هندوستان د لورې پر سرحد باندې د یوه ګارډ په څېر واچول. دوی وایي دغه کیشنغر هغه لومړنی ځای و چې افغانانو د سلیمان لړۍ ته د دوی تر لېږدېدو وروسته هلته واړول.

له دغو ټاټوبو څخه افغانانو په دوامداره توګه د کاتور او هندو پر

قبیلو باندي چپاونه وروړل شو بالاخره ئې د هغو لاس له ملک څخه وکښی او په خپله د هغو پر مځکو باندي د اباسين په ناوه کي خپاره سوه، چي هلته ملک نصرالدين کبه د سلطان شهاب الدين له خوا څخه د ملتان والي و. نور نو زيات تر دې ضرورت نه لرو چي د افغانانو تاريخ نور هم پسي تعقيب کړو. د دوی د خپلو ځاني بيانونو وړاندي سوې خلاصه چي اسلام ته تر اوښتني وروسته په افغانستان کي د دوی لېږدېدني څرګندوي زموږ د پلټني په منظور پوره بسېدنه کوي. خو دلته دا خبره زه بايد ياده کړم چي پور ته ياد سوی په ملتان کي د شهاب الدين والي نصرالدين کبه په ښکاره د نسب له پلوه د پرامارا راجپوت د کبه له خېله څخه و. (ډې هېربليوت) چي دی "قبه، د سلطان شهاب الدين غوري يو آزاد کړی مريی) بولي نو وايي چي د خپل بادار تر مړيني وروسته ئې د ملتان په ولايت کي او هم پر هغه ګرده ملک باندي حکومت کاوه چي د اباسين د پولي په حوزه کي تر زابلستان پوري رسېدی او غزني ئې پای تخت و. هغه زياتوي چي د دغي سخي او پر تمين شاهزاده په نسبت د ټولو طبقاتو بې شمېره وګړو هغه زمانه د ده په حوزه کي پناه لټوله چي چنګېزخان پر پرشيا باندي يرغل وکړ. ده له ټولو پناه غوښتونکو سره خورا ښه وضعيت کاوه څو له خپله ملکه څخه د راوتلو او تعقيب خواشيني ئې له زړه څخه ووزي. نصرالدين د خپل دوران په آخرو وختونو کي د شمس الدين التمش برخلاف (چي په نسب ترک) او د شهاب الدين يو بل آزاد سوی مريی او پخوائې لا د ډهلي د سلطنت بادار له ځانه جوړ کړی و، په يوه ناوړه جګړه کي کښېوتی. د ده لښکر چي د التمش له خوا ماته وخوړه نو کبه د ژغورني لپاره باکر ته وتښتېدی. خو څرنګه چي لټونه په پسې وه نو ئې يوې بېړۍ ته ځان واچاوه چي د هغې له ټوټه کېدو سره په اباسين کي ډوب سو

دا خبره چي افغانان د بيت المقدس ړنګېده او د اسرائيليانو ښړل کېده بخت نصر ته منسوبوي او د اسيرانو په جمله کي د (دانيل) نوم اخلي

نو دا په ځرګنده توګه تر میلاد دمخه په ۶۰۴ کال کې هغه یهودي اسارت ته راجع ده چې بخت نصر لومړی بیت المقدس ونیوی او فینیقیان، قبطیان، سوریایان او یهودیان ئې په اسارت باندې بابل ته یووړه او د همدې یهودیانو په جمله کې دانیل او د هغه ملګري هم شامل وه. د بخت نصر له خوا وروستی ځل اسارت او د بیت المقدس ورانېده تر میلاد وړاندې په ۵۸۶ ق م کال کې منځ ته راغله چې په دې وخت کې پاته یهودیان بابل ته یووړه سوه او یا مصر ته وتښتېده. د اسرائیلیانو د هغه (اسارت) په جریان کې چې د (تیګلاث پېلېسر) له خوا پیل سوی و او څو کاله وروسته د هغه د خلف (سلما نېسېر) له خوا تر میلاد وړاندې په ۷۲۱ ق م کې بشپړېدو ته ورسېدی، دغه ولس پاسنی مېسوپوتامیا، ارمېنیا او مېدیا ته بوتله سو. په دې ترتیب نو موږ هم د یهودیانو او هم اسرائیلیانو دواړو درست قومونه ګورو چې د جګړې د اسیرانو او د رعیتو توکمونو په توګه هغه غور ته په نژدې ملکونو کې واچول سوه چې افغانان وایي هلته ئې اسرائیلي نیکه ګان د بخت نصر له خوا د اسارت له زمانې یعنې تر میلاد دمخه له ۶۰۰ ق م نېټې راهیسې بیا دهغې شاهي کورنۍ تر وخته پورې اوسېده چې بنیاد ئې په غزني کې د سبکتګین له خوا کښېښوول سو او سلطان محمود ئې ډېر مشهوره واکمن او د اسلام ډېر پیاوړی اتل و، یعنې تر ۹۰۰م کال پورې. د دغو پنځلسو سوو کلونو د زمانې په دوران کې نو بیا د افغانانو نوم تر هغه مهاله پورې هیچرې په تاریخ کې نه دی اورېدل سوی څو چې د خلیفه عبدالملک بن مروان په واکمنې کې د افغانانو له قوله د هجرت په ۸۶ کال (چې د ۷۰۵م د جنورې له لومړۍ نېټې څخه راپیل کېږي) د پونتیف ستر قوماندان حجاج بن یوسف او د هغه وراره امام الدین په ګډه د دې ماموریت دپاره ټاکل کېږي چې د سیوستان ملک او د هغه توابع (چې اوسنې سیبي او پاسنی سند شاملوي) تر حملې لاندې ونیسي او تر تابعیت لاندې ئې راولي. د غور پولو ته چې دغه عربي لابکر

راورسېدی نو له دې مهاجمانو سره ډېر افغانان چې هغوی ئې په زياته علاقه استقبال کړه يو ځای سوه او د همدې نظامي عملياتو په اته کلنه دوره کې ئې د عربي قوماندانانو دپاره د سرتېرو په څېر خدمت کاوه. د دې عملياتو په سلسله چې سيوستان ونيول سو او د هغه راجا ووژل سو نو تر دې وروسته افغانانو ته رخصت ورکول سو چې بيرته خپلو کورونو ته ستانه سي. داسي ښکاري چې د يوه ولس په څېر دغه د افغانانو لومړنی يادونه ده او د هغو عربو له خوا څخه دا يادونه سوې ده چې دوی په پرشيا او ارمينيا کې له خپلو دمخنيو فتوحاتو څخه راګرزېدلي وه او د غور د غرني ملک په پولو کې له افغانانو سره مخامخ سوه. د هغو بيانو سره سم چې افغانان ئې د ځانو په باره کې کوي، دغه مهال ديرلس سوه کاله زمانه له هغه وخته څخه تېره سوې وه چې دوی دلته اړولي وه او لکه څنګه چې ئې له خپلو بيانو څخه په ښکاره څرګندېږي د دوی د ګاونډيو ولسونو له خوا څخه د افغان او بني اسرائيل په نومو باندي بلل کېدله. خو دا چې په همدغو نومو دې دوی خپل ځانونه بللي وي يوه داسي خبره ده چې د دوی په ځاني بيانو کې هيچري په څرګنده توګه نه ده راغلې. په دې اساس نو معلومېږي چې دغه نومونه له اصله څخه د هغه ولس خپل ذاتي نومونه، نه وه چې د دوی د پېژندني دپاره په دغه زمانه کې په کار اچول کېده او يا ئې هم هغه وخت د يوه ملي لقب او نسبي مورېنې په څېر اخيستې وه. البته کټ مټ په همدې توګه هغه وګړي چې د خپلو ګاونډيانو له خوا د کافر او کورېش په نامه بلل کېږي نو دا کلمه ئې د خپل ملي نامه په څېر اخيستې ده او ځانونه د عربو له نسبه څخه بولي. هغه شان لکه د سانسکريت د کمبوجيا (کافر) چې ويل کېږي دوی د کوم يوه داسي ولس له خوا څخه (کورېش) بلل کېده چې په دغسي ورته نامه (پرشيائي کوروش او راجپوتي کيروچ) يادېدی اود معلوماتو له مخې په لرغونې زمانه کې د يونانيانو د پروپاميسس پر دغو ختيځو علاقو باندي اوسېدی، همدغه راز د غور افغان

(غروال) ښايي د کوم يوه داسي ولس له خوا څخه بني اسرائيل بلل کېده چي هغه بيا د معلوماتو له مخي په لرغونې زمانه کي د پروپاميسس پر هغو لوېديځو علاقو باندي اوسېدی.

موږ په تېرو پاڼو کي د بېلابېلو لرغونو اقوامو هغه نومونه وليده چي د پخوانيو يوناني ليکوالو له خوا څخه د پروپاميسس مربوط (د غور) په دغه سيمه کي د اوسېدونکو په څېر ياد سوي دي او زياتره مو د دوی له جملې څخه وموندل چي اوس د يو شمېر قبيلو په وسيله تمثيلېږي چي د ملک د موجودو اوسېدونکو تر منځ په هم هغو پخوانيو نومونو باندي بلل کېږي. خو د آريانا په ټوله پراخه سيمه کي چي په بشپړه توګه زموږ تر پلټني لاندي سر تر پايه وکتل سوه، موږ هيڅيري له کومي داسي قبيلې يا د يوې قبيلې د وړې پښې سره نه سوو مخامخ چي هغه دي افغان بلل کېږي او يا دي دغه ته ورته کوم نوم ولري. حتی د دې قوم په هغو نسبي شجرو کي هم په مخه نه دی راغلی چي په خپله د افغانانو له خوا څخه تدوين سوی دی. د دوی د خپلو بيانو له مخي افغانان به ضرور يوه نيمه پېړۍ تر هغه دمخه په غور کي مېشته سوي وي چي هيرودوت خپل تاريخ وليکی او يا تقريباً څلورنيمي پېړۍ تر هغه دمخه چي سترابو خپله جغرافيه وليکله. که چيري دوی د زمانې په دغه اوږده موده کي د يوې ټاکلي ارضي قبيلې په څېر موجوديت درلودی نو دا نه سوای کېدای چي د پورته ياد سوو ليکوالو له نظره څخه ولوېږي او يا هم په دې صورت کي د هغه وروستيو لرغونو ليکوالو لکه آرريان، پليني، پتوليمي او نورو له پامه ولوېږي چي په خاصه توګه ئې د دغو سيمو په باره کي ليکني کړي دي. تر هغه ځايه چي ما ته رامعلومېدای سي د لرغونو يوناني او رومي ليکوالو له جملې څخه يوه لا هم د کومي داسي قبيلې يا ولس کومه يادونه، نه ده کړې چي هغه دي افغان بلل کېږي. خو سره له دې د دغي مودې په ټوله دوران کي يهوديان او اسرائيليان، پرته له مځکنيو نيوکو يا ځانته قبيلوي تنظيمونو، دلته، هلته

د ځانګړو کورنیو یا وړو ټولیو په څېر شاوخوا تیت او پرک مونده کېږي چي د بندګانو او مریانو د طبقاتو په توګه د مځکي د مالکانوسره اوسي او د سوداګري د ورهېو. د صنعتي هنرونو، د بېلابېلو مسلکونو او کسبونو او حتی د سرتېرو په شان بېلابېلو کارونو ته ګومارل کېږي. وایي چي لوی سکندر د یهودیانو یوه پیاوړې قطعه په خپل لښکر کي درلوده چي د هغې په مرسته ئې ختیځه پرشیا ونیوله او عبري توکم بې له شکه د ده د قرارګاه د ملګرو د مختلط جمعیت په لوی ترکیب کي دېربښت درلودی. خو عربو چي بیا کله پر پرشیا باندي هجوم راوړ او د دوی په یوه لاس کي قرآن او په بل کي توره وه نو بې له شکه ئې د هغو اسیرو اسرائیلیانو او یهودیانو د اولادې تر منځ چي د ملک د عمومي اهالیو په جمله کي ئې د پاملرني وړ عنصر تشکیلاوه او دا نوی دکتورین فقط ورته د خپل زوړ سوي یهودیت یو اصلاحي شکل ایسېدی، هغه څوک وموندل چي په خپله خوښه مسلمانان او د عربو مرستیالان سول. دوی چي اسلامي وروروګلوی ته د ور داخلېدو په وخت کي د خپل ځان کوم ملي تشکیل یا د ارضي نیوکو پر بنا خپل مستقل قبیلوي تنظیم نه درلودی، نو ښایي ژر تر ژره په خوښي سره دې ته مایل وه چي د خپلي مورینې او بندګۍ په باب هر څه له یاده وباسي او له یامه ئې واچوي، او ځانونه له خپلو بریمنو ساتندویانو او همدینه یارانو سره یو غوندي کړي او په بېړه د مسلمانانو په عمومي پرګنه کي له نظره ووزي. بیا نو یو او بل وخت، دلته هلته د سیاسي انقلابونو په بهیر کي د بخت څرخ د همدې توکم وګړي د امتیاز او قدرت جګو مقامونو ته خېژول. دغه معتبرۍ ته رسېدلي وګړي به ځیني وختونه معتقد یهودیان او زیاتره به مسلمانان وه، خو څرنګه چي اصل او نسب به ئې نه و معلوم نو کله چي به ئې د بریالیو فاتحانو او خپلواکو واکدارانو په څېر په تاریخ کي یو لوړ مقام ونیوی نو به د نسب له پلوه د هغو غالبو توکمونو یا قبیلو یوه یا بل ذات منسوب کېده چي دوی به ئې په منځ کي ژوند کاوه. د مسلمانانو

په تاریخ کې داسې موارد ځو ځو ځله ثبت سوي دي چې معتقدو یهودیانو د جګې درجې مقامونه نیولي او د آسیا د دغې برخې د مسلمانو شهزادګانو او پاچهانو تر حکومت لاندې حتی د وزیر، یا صدراعظم ځای ته رسېدلي وي. همدا شان د افغانستان په دننه او شاوخوا ورشو کې ئې یو شمېر داسې مسلماني شاهي کورنیانې راپیدا سوي دي چې د ثبوت له مخې یو داسې مؤسس ته راجع کېدای سي چې نسب ئې تر اسرائیلي، یوناني یا راجپوتي اجدادو پورې رسېږي. له دغې جملې ځنې ساماني، سلجوقي، طاهري، صفاري، بووي او نوري دي چې موسسانو ئې د اسلام د منلو سره د دین د اتلانو په څېر یو دم د خپل وړاندې تګ د لارې ستر خنډ له منځه واخیست او د خپلو طبیعي استعدادونو او طاقتونو په کار اچولو سره مخ ته ولاړه.

د دې پلټنې په بهیر کې موږ ولیده چې پر افغانستان باندې د یونانې واکمنۍ په وخت کې د غور پر غرني ملک د (سور) په نامه یوه قبیله مېشته وه چې ښایي هغه به له سوریائي او یا له هندي موریني ځنې منځته راغلې وه. د لومړي احتمال په صورت کې به نو البته دا قبیله له هغو اسرائیلیانو ځنې جوړه وه چې افغاني روایتونه وایي په همدې برخو کې ئې اړولي وه او د دوی د هغې ادعاء دپاره چې ځانونه بني اسرائیل بولي، د ثبوت مدرک ګڼل کېږي. د دا بل احتمال په صورت کې به نو دا قبیله هغه (سوریا) یا (سوریابانسي) تمثیلوي چې د راجپوت مربوط (د لمر توکم) ګڼل کېږي او دې برخو ته غالبه ښکاري د هغه جریان په نتیجه کې راغلي وي چې د اباسین ولایات او د پروپامیسس ټاټوبې د سیلیوکوس نیکاتور له خوا ځنې لکه دمخه چې ئې بیان تېر سوی دی سندراکوتوس ته وسپارل سوه.

خبره چې هر راز وي خو هغه ټکي چې اوس له موږ ځنې پام غواړي دا دئ چې د افغان نوم له کومه ځایه ځنې راپیدا سوی دی. افغاني روایات یو نیکه یادوي چې افغنه نومېدی او دی د جېرمیه د زوی په څېر ښوول سوی دی چې هغه د اسرائیلیانو د پاچا ساول نامي زوی و. وایي چې ده د اسرائیلو

د پاچا سلیمان په لښکر کي د سراعلی قوماندان مقام نیولی و او هم هغه پاچا دې دندې ته ټاکلی و چي د بیت المقدس د معبد د جوړېدو چاري وڅاري. موږ د افغان د نامه په توجیه کي چي ګاونډیانو دا ولس په هغه باندي باله، ټولي دغه راز څرګندوني په ډاډه توګه د یو جعلي بیان په څېر له نظره اچولای سو. دغه نوم د محمدي سنې د لومړۍ پېړۍ د وروستۍ برخې د کلونو په شاوخوا کي چي تر میلاد وروسته د اتمي پېړۍ د پیل له کلونو سره سمون خوري، د لومړي ځل دپاره په تاریخ کي وپېژندل سوه. ښکاري چي په دې پسې نو دا نوم د افغانستان د اوسېدونکو د یوې برخې (یعني درانیو قبیلو) له خوا څخه د خپل ملي نوم په څېر واخیستل سو او له افادې څخه ئې نه یوازې تاجک او هزاره ولسونه ووتل (چي هغوی پښتو نه وایي او داسي نه ګڼل کېږي چي د افغان له قوم سره دي کوم تعلق لري ځکه رشتیا هم یو مخیزه له بېل توکم څخه دي او بېله ژبه وایي) بلکي دا رنګه یو زیات شمېر هغه قبیلې هم ځني ووتلې چي د دوی په نسبي شجرو کي په داسي توګه شاملي دي چي د دوی سره یو ځای له خپل هغه مشترک وروستني نیکه کایس څخه را پیدا سوي دي چي د محمدي سنې د پیل پر وخت ئې په غور کي ژوند کاوه او په ٦٦١ م کال کي مړ سو. خو له دې سره سره د عمومي استعمال په جریان کي او په تېره بیا د خارجیانو له خوا څخه د افغان کلمه په یوه جامع معنا د افغانستان د ټولو اهالیو دپاره له هره توکمه څخه چي وي او هره ژبه چي وایي بې له کومه توپیره په کار اچول کېږي[1].

درانې افغانان له دې سره موافق نه دي چي د (افغان) کلمه د سلیمان د لړۍ د پښتو ویونکو قبیلو یعني په ټیک معنا د پښتنو یا پټهان دپاره په

---

[1] مطلب دا دی چي د (افغان) نوم د (افغانستاني) معادل ګرزېدلی دی (د مترجم یادداښت).

کار واچوي. همدارنګه غلزي په دغه نامه نه یادوي چي هغه په خپله هم رشتیا له دې څخه ډېره کوي چي دا نوم د خپل ملي نامه په ځېر ومني. دوی همدا شان یو زیات شمېر وړې قبیلې چي نه دي تصنیف سوي لکه برکي، وردک، کوړېش او نوري په دې نامه نه بولئ. خو تر کلانې قبیلې دوی یوازي د وصلي افغانانو په ځېر مني چي هغه پښتو وایي او پښتنولي پالي. لاکن تاجک او هزاره (چي دواړه په ځرګنده توګه ځانته جلا او بېل توکمونه دي) له بلوڅو سره یو ځای (چي د دوی په ځېر له یوه راجپوتي ذاته څخه دي) ټوله یو ځای د پردیانو په شان ګڼي چي د دوی په نسبي شجرو کي نه دي شامل سوي. لکه څنګه چي موږ د دې پلټنې په تېرو پاڼو کي ولیدل، د بلوڅي قبیلو اکثریت که څه هم پارسي وایي او په پښتو نه ږغېږي او د پښتونولۍ په مورد کي په څه نه پوهېږي خو بیا هم په سر سره له هم هغه راجپوتي ذاته څخه دي چي په افغاني شجرو کي د شاملو قبیلو له جملې څخه د پخوا زمانې ډېرې مهمي او ګڼي قبیلې په زیات شمېر اړه ورسره لري. د افغانستان په لوېدیځه برخه کي د پښتو ویونکو قبیلو دا ادعاء چي د افغان لقب یوازي په ځان پوري منحصر بولي یوه بې اهمیته خبره نه ده او په روان بیان کي به ئې تر ځېړنې لاندي ونیسو.

د افغانانو تاریخ په مخزن افغاني کي ثبت دی او دا اثر چي وړاندي ئې یادونه سوې ده (فقط یو ۲۷۰ کلونه دمخه) هغه زمانه په هند کي ولیکل سو چي دا مهال د افغانستان ختیځې برخي د کندهار په شمول، په هندي امپراتورۍ پوري اړه درلوده، خو د ملک لوېدیځې برخي بیا د بلوچستان په شمول، او کله ناکله د کندهار له علاقو سره په پرشیا پوري اړه درلوده. ځکه نو افغاني شجرې یوازي د اهالیو له هغې برخي سره اړه لري چي په هند پوري د مربوطي خاوري په حوزه کي اوسي. د دې پلټنې په سر کي د تعریف سوي افغانستان د شاملي سیمي دغه سیاسي وېش له یوې وختي زمانې راهیسي له هغه وخته څخه منځته راغلی دی چي دلته یوناني

واکمني رانسکوره سوه. د دې سيمې پر لوېديځه برخه چې جنوبي خوا ته د مکران له سمندري غاړې څخه راپيل کېږي او بيا په شمال کي د آمو د زيم تر کوړمونو او ليري د هغه تر سرچينو پوري رسېږي، سر تر پايه د پرشيائي تسلط او نفوذ دوره تېره سوې ده. د دې برخې ختيځ حد د هيلمند سيند د خپلې ټولي مجرا په وسيله تر هغې تقاطع پوري ټاکي چې په بُست کي له ترنک سره ګډېږي او له هغه ځايه بيا د خاران او مکران له لاري چې دا دواړه هم پکښې شامل وه، د سيستان د بېديا له منځه څخه تېرېدی. زموږ د افغانستان په دغه ټوله جنوبي، غربي او شمالي برخه کي د خلګو ژبه پارسي ده چې په بېلابېلو لهجو ئې خبري کوي او ورسره د هغې په شمالي پولو کي ترکي هم ويله کېږي. د افغانستان پر ټوله ختيځه برخه باندي چې په شمال کي له هندوکش څخه نيولې بيا په جنوب کي تر هندي اقيانوس پوري رسېده او په لوېديځ کي له هيلمند څخه رانيولې د براهوي د ملک په شمول بيا په ختيځ کي تر اباسين پوري رسېده، د هندي تسلط او نفوذ واکمني تېره سوې ده. په دغه ټوله سيمه کي چې د کافرستان او کاشکار يا (کاتور) غرنۍ علاقې، کابل او غزني، د سليمان لړۍ او د ترنک ناوه، له پښين او شال سره يو ځای د هغو د توابعو په شمول د صحرا تر حده پوري کښېباسي، د خلګو ژبه پښتو او د سانسکريت د مشتقاتو د جملې نوري لهجې دي. خو براهويکي په جنوب او بوريشکي په شمال کي چې له توراني ذاته څخه دي له دغه حکمه څخه استثناء کېږي.

د ژبو د دغه وېش په ملاحظه موږ اوس دې ته اقدام کولای سو چې د افغان د کلمې مورينه وپلټو.

هيرودوت د اباسين پوله يا زموږ د افغانستان ختيځه برخه د پکتيکا يا پکتيا په نامه سره بولي. هغه ملک چې په دې نامه ياد سوی دی د لرغوني پرشيائي امپراتورۍ ختيځ سرحدي ولايت تشکيلوي او د شلو ستراپيانو له جملې څخه چې داريوش هيستاسپېس د باج د تادياتو په

منظور خپله امپراتوري ورباندي وېشلې وه اوومه ستراپي جوړوي. دا نوم لکه د هغو اقوامو نومونه (لکه څنگه چي مو ولیده) چي هیرودوت د دغه پکتیا د ملک اوسېدونکي بللي دي زموږ تر زمانې پوري ژوندی پاته دی. د افغانستان دغه ختیځه برخه د هغې د اوسېدونکو له خوا څخه د بېلابېلو قبیلو له تلفظه سره سم پخت، پوخت، پخته، پوخته او پوختون - خوا بلله کېږي. وروستنی شکل ئې د (پوختون ملک) افاده کوي او ښايي چي دا به په اصل کي د (پوختون - کا) هندی شکل و، چي د (پوختون مربوط) معنا لري او له هغه څخه د هیرودوت (پکتیکا) اخیسته سوی دی. د دې ځای اوسېدونکي خپل ځان په ځانگړې توگه (پوختون) او په ډله ئیزه توگه (پوختانه) بولي. له دغه وروستي شکله یا له (پوختان) څخه چي د پوختون یو بل شکل دی د پټهان مروج هندوستانی شکل راپیدا سوی دی. د پوخت دغه ملک د هغه د هندي گاونډیانو له خوا څخه (روهـ) بلل کېږي. دا یوه هندۍ کلمه ده چي د پارسي د (کوه) سره سمون لري او معنا ئې (غر) دی. د روه د ملک په باب ویل کېږي چي په شمال کي د سوات او باجوړ له غرنیو سیمو څخه رانیولې بیا په جنوب کي د عربو تر سمندرگي پوري، خو په لوېدیځ کي له کندهار او غور څخه رانیولې بیا په ختیځ کي تر اباسین او حسن ابدال پوري غزېدلی پروت دی. لاکن په محدوده معنا دا نوم یوازي خپله د سلیمان لړۍ ته له خیبره څخه تر بولان پوري په کار اچول کېږي. د (روهـ) روهیله بلل کېږي او دا د (روه - والا) یو لنډکی شکل دی چي د (روه د بومي) (غروال) معنا ورکوي. د پوخته کلمه د پارسي ژبي د پشته د کلمې زېږ غرنی تلفظ دی چي د (غره) یا (غونډۍ) په معنا دی، که څه هم اوس په دغه معنا د کلمې استعمال هم د پښتو او هم د پارسي په دواړو محاورو کي لږ یا ډېر نابابه سوی دی. ځکه پر ځای ئې د (کوه) او (کوهستان) یعني (غره) او (غرني ملک) او (کوهستاني) یعني (غروال یا غرني) کلمات استعمالېږي په تېره بیا کله چي د افغانستان د

دغه ختیځ سرحد په شمالي برخه کي غرني علاقې ښوول کېږي، مثلاً لکه د کابل (کوهستان)، د سوات کوهستان او داسي نور، یا لکه د داردستان په مورد کي چي بیا یوازي (کوهستان) یادېږي. د داردستان وروستی کلمه په حقیقت کي د سانسکریت کي د (دارادستهان) یا د (دارادا د ملک) معادله پارسي کلمه ده. د (دارادا) د کلمې خپله معنا (غروال) یا د (دار مربوط) کېږي چي دا لومړی کلمه ئې د (غره) په معنا ده. د (غروال) دپاره یو بل سانسکریت نوم چي په لرغونې زمانه کي د کشمیر مربوط د اباسین د پولو د غرنیو وګړو دپاره استعمالېدی (که چیري په واقعیت کي د دارادا یو بل نوم نه و) هغه کیراتا و، ځکه (کیرادا) معنا (د کیر مربوط) چي (د غره مربوط) مفهوم افاده کوي. (د کیر یا غیر معنا د غره سره برابره ده). دا وروستی نوم چي یاد سو اوس په دې برخو کي چندانې نه اورېده کېږي خو د (دارادا) نوم تر دې ګړي پوري لا د داردستان په اوسني (داردو) کي ژوندی پاته دی.

په دې ترتیب نو موږ وینو چي له یوې خورا لیري زمانې راهیسي زموږ د افغانستان د ختیځې برخي ټوله حوزه په بېلابېلو ژبو او لهجو کي د (غرونو) یا (د غرو د سیمو) او اوسېدونکي ئې د (غروالو) یا (غرنیو سیمو د غرنیانو) په نومو ښوول کېدله. د هیرودوت پکتیا په روښانه توګه د پټهان (پوخته) ده چي د نرمي پارسي د (پشته) د کلمې زېږ غرنی تلفظ دی او دا کلمه دغي غرنی سیمي ته هغه وخت په کار اچول کېده چي د پرشیائي امپراتوری یوه برخه ئې جوړوله. د هندي ژبي د (روه) نوم ئې ښایي سندراکوتوس ته د دغو ولایتونو تر سپارلو وروسته هغه مهال منځته راغلی وي چي دا ملک په هندوانو باندي ډک سو. د سانسکریت (دارادا) او (کیراتا) د پکتیا تر ملک ها خوا شمال ته پراته وه دا نومونه دېر لرغوني وه چي ښایي پکتیا ئې هم تر هغه پخوا چي د پوشتي پارسي نوم واخلي په خپله حوزه کي شاملوله. د روه د ملک جنوبي نهایت چي د بولان

د درې جنوب ته واقع دی نو که څه هم کوهستاني بلوڅ بلل کېږي خو په محلي نامه (براهویکي) یعني د (براهوي مربوط) یا (د براهوي ملک) نومېږي چې د (بوروهي کي) یعني (د غرنیو خلکو) په معنا سره تشریح کېږي. په دې ډول نو له خورا لیري زمانې راهیسي موږ وینو چې د افغانستان په دغه ختیځه برخه کي یو زیات شمېر ملي نومونه لکه پوختون (پښتون – مترجم) یا پټهان، روهیله، کوهستانی، باروهي یا براهوي او داردا یا داردو، ټوله یو شانته د (غرني) معنا ورکوي.

راسئ اوس نو زموږ د افغانستان لوېدیځي برخي ته مخ راوګرزوو. دلته موږ هغه سرحد وینو چې د نن زمانې د پرشیا سره تېر سوی او په شمال کي د پرله پوري غونډیو د یو ځنځیر په سلسله له ګورګان (لرغوني هیرکانیا) څخه نیولې بیا په جنوب کي تر کرمان (لرغوني کارمانیا) پوري غزېدلی دی، د (کوهستان) په پارسي نامه باندي بلل کېږي چې د (غرنیو سیمو) معنا ورکوي. د دې سرحد یوه برخه چې د هرات لوېدیځ پلو ته واقع او په اوس کي د (کرای ترکو) هغه نیولې ده، وایي چې دا ځای د ورستني عصر د ابدالي افغانانو مرکز و.

دغه ټوله لړۍ د (هشیشیانو) د هغي فرقې له مرکزونو او مورچلونو څخه وه چې د حسن صباح مریدان وه. دغه مرشد چې د شیخ الجبال او د (جبال د امیر) په نامه یاد سوی دی (د عربو له خوا څخه د جبال نوم د پرشیا پر غرشینانو باندي ایښوول سوی دی) په اروپا کي (د غرونو د پیر) په نامه شهرت لري. دې فرقې ته منسوب وګړي خپل ځانونه اسماعیلي بولي خو دوی د بنیادي مسلمانانو له خوا څخه د (ملاحده) یا (ناروا خلکو) په نامه بلل سوي دي. احتمال لري چې د افغاني قبیلو زیاتره هغه وړې ښېې چې د اسمائیل په نامه دي ښایي له دغي فرقې څخه تر هغه وروسته چې هلاکو خان له منځه یووړه راپیدا سوي وي. د بنګښو بیا ښایي ټولي قبیلې په دې فرقه پوري اړه درلوده. د لوېدیځ افغانستان باقي پاته برخه

په خپله جنوبي نیمه خوا کې د سیستان ریګن دښت او د مکران ټیټو غونډیو نیولې ده. هلته یوه تړانګه د اوسني سیستان په ګډون پخواني اسلامي لیکوالو د یوه روایت له مخې په دې ګومان د نیمروز په نامه وبلله چې هغې په لرغوني زمانه کې د (نمرود) په امپراتوري پوري اړه درلوده چې د بابل پاچا و. په نیمه شمالي خوا کې د لوېدیځ افغانستان غټه برخه د (غور) غرني ملک نیولې ده چې د سکندر مورخانو پروپامیسس بللی دی او دا کلمه ګومان کېږي د هندي ژبې له (پروا – باما) څخه راوتلې وي چې (سرهواره غره ته) ویل کېږي او په اوس کې د (هزاره) په نامه دی. دغه ملک زیاتره د اسلامي لیکوالو له خوا څخه د (کوهستان غور) په کلمه سره یاد سوی دی چې په مفهوم کې ئې تکرار راغلی دی او معنا ئې (د غرونو غرني ملک) کېږي. ځکه غور د پښتو د (غر) یو شکل دی چې د سانسکریت د (غیر) سره برابرېږي چې د (غر) په معنا دی او په همدې شکل د غرستان (زموږ د ساحوي نقشو د غرجستان) په نامه کې راغلی دی چې د هغه د علاقو له جملې څخه د یوې علاقې نوم دی. د دې نامه تاریخ په ښکاره ډول تر مقدوني برې وروسته له یوې زمانې څخه راپیل کېږي او ښایي دا نوم دې ملک ته د هندیانو له خوا څخه هغه مهال ورکول سوی وي چې د دې ملک کالخوایي ئې په لاس کې اخیستې وه. د هزاره اوسنی نوم ئې صرف د چنګېزخان د مغلي چپاو له زمانې څخه راپیل کېږي چې د دیرلسمي میلادي پېړۍ په لومړۍ نیمايي کې پېښ سو او توجیه ئې داسې کېږي چې د هزاره پارسي کلمې څخه ئې منشاء اخیستې ده ځکه دا (د یوې زر کسیزي ټولۍ) نوم و چې تر مغلي واکمنۍ لاندې د نظامي قطعاتو یا لواوو د ښوونې دپاره چې ملک ورباندې وېشلی سوی و له دغې اصطلاح څخه کار اخیستل کېدی. خو د اباسین پر ختیځه غاړه یو بل ملک یا علاقه هم سته چې اوس د همدغه هزاره په نامه بلل کېږي اما د نامه په مورد کې ئې وړاندې سوې توجیه سر نه خوري. ځکه د اباسین هزاره په

څرګنده توګه د سانسکریت له ابهیسارا څخه راوتلی اوسنی شکل دی.
ابهیسارا (چي د سکندر مورخانو د ابیساریس ملک یاد کړی دی) د راجاتارینګیني په اثر کي د کشمیر د توابعو له جملې څخه د یوې سیمي په توګه د (دوروابیسارا) تر نامه لاندي یاد سوی دی چي دا کلمات د (ابیساره د دور ناوه) افاده کوي. خو له کوم تاریخي سند څخه پرته د غور د هزاره د نامه په برخه کي د پاسني توجیه د سموالي په ارتباط یوه بله قاطعه خبره هم سته او هغه دا چي دغه کلیمه ( د هزاره جات ) د جمع په شکل عمومي استعمال لري او دا دملک پر هغه پخواني تقسیم دلالت کوي چي نظامي علاقو ته وېشلی و او هره علاقه ئې د (هزاره) یا د لښکرو د هغي ټولی په حساب پېژندل کېده چي د نامه له مخي زر کسیزه وه او یوه ټاکلې علاقه ئې تر خپلي خاصې لواء لاندي په واک کي وه.په نن ورځ کي د څلورو ایماقي قبیلو له جملې څخه هره یوه چي بیان ئې دمخه تېر سوی دی او همدارنګه د داهي د نامه څو قبیلې هره یوه یو هزاره بلل کېږي او دا نوم ئې هم په خپله قبیله او هم هغه علاقه معرفي کوي چي په دې قبیله پوري اړه لري. مثلاً لکه تایمني هزاره، تیموري هزاره، داهي زنګي هزاره، داهي چوپان هزاره او داسي نور. په حاضر وخت کي د هزاره یا هزاره جات نوم د غور د ټوله ملک دپاره د بل هر نامه ځای نیولی دی. خو دا یوازي د هرات ختیځي او لوېدیځي خوا ته د غونډیو ځیني علاقې دي چي اوس کله ناکله د کوهستان په څېر یادېږي. لاکن اوسېدونکي ئې چي په خپلو خاصو نومو ښه پېژندل سوي دي د کوهستاني په نامه نه بلل کېږي. د غور د اهالیو ایماق او هزاره هیڅ کله د ملک د هغو خلګو له خوا څخه چي دوی په منځ کي اوسي د افغان په نامه نه یادېږي. دوی رشتیا هم لکه څنګه چي مو ولیده ښځي بېل توکمونه دي او د افغانانو سره چي په دې نامه یاد سوي دي هیڅ د اشتراک وجه نه لري.

د غور د ملک په شمال کي د اوسني افغانستان د ترکستان ولایت

واقع دی. دا د ترکو او اوزبکو ملک دی چې د افغانانو ارضي قبيلې هلته نسته. ځکه نو ضرورت نه لرو چې د ملک په دغه برخه کې تم سو. د افغاني ترکستان په ختيځه برخه کې بدخشاني، واخي، شيغني اوسي. دوی له هغو نورو لرغونو پارسي – ويونکو وګړو سره يو ځای چې اوس د ملک په سمو او هوارو او همدارنګه په غرنيو ښارګوټو او ښارونو کې مونده کېږي، د تاجکو په صنف کې شمېرل کېږي. په افغانستان کې د تاجک کلمه په جامعه توګه د سمو مځکو پارسي ويونکي بزرګي طبقې او په ښارګوټو او ښارونو کې د هغو کسبکارانو، مسلکي، تجارتي او چوپړ وهونکو طبقاتو دپاره په کار اچول کېږي چې ژبه ئې پارسي وي. په (کلات بلوڅ) کې له پارسي– ويونکو کروندګروڅخه جوړه د دهوار کالوني همدا راز تاجک ګڼل کيږي. همداسي دغه ته ورته د تاجکو وړې کليوالي ټولنې د ملک په بېلابېلو برخو لکه په لوګر، د کابل په اطرافو، غزني، کندهار او نورو ځايو په تېره بيا د کابل په کوهستان کې سته چې هلته د اهاليو زياته برخه تاجک دي او تر ډېري اندازې له هغو کافرو څخه جوړ سوي دي چې اسلام ته را اوښتي دي. د تاجيک يا تازيک لغت لکه څنګه چې په افغانستان کې استعمالېږي د پارسي ژبي د (تاز) يو مصغر شکل دی چې د (مريي غوندي، ټيټ، کم – اصله، رعيت) معنا ورکوي او په دې معنا ښکاري په پرشيا او مرکزي آسيا کې د عربو د برتري په هغه دوران کې راپيدا سوي وي چې هلته د ملکي اهاليو عاميانه ژبه پارسي وه څو په دې وسيله چوپړ وهونکي او کسبي طبقات له حاکمو او نظامي طبقاتو څخه بېل وپېژندل سي. لکه څنګه چې د (ترک يا تاز) په عبارت کې جنګيالي او نظامي ترک له سوله ئيزه او مريي غوندي چوپړ وهونکو پارسيانو څخه بېل پېژندل کېږي او د تازيک، مازيک يا تاجيک ماجيک په څرګندونه کې چې د سپکاوي په مفهوم استعمالېږي همدا مطلب پروت دی چې د پارسي ويونکو اهاليو او د دوی غوندي نورو وګړو غلامانه او سپېره کليوالي طبقات

افاده سي. په افغانستان کي د تاجک کلمه نژادي نسب نه افاده کوي ځکه تر دغه نامه لاندي يو ډول بې قبيلې وګړي اما تر مرئيتوب لاندي نژادونه چي پرشيائي، هندي، راجپوتي، ناګائي او داسي نور وي ټوله راشامليږي. په افغانستان کي هغه څوک چي له پېژندلي پرشيائي نسب څخه وي د پارسيوان په نامه بلل کېږي. د پرشياوالو له خوا څخه د تاز نوم هغه چا ته ورکول کېږي چي په پرشيا کي د عربو له اولادې څخه وي او همدارنګه د دوی له خوا څخه په خپله پر هغو عربو باندي ايښوول کېږي چي په پرشيا کي ئې اړولي وي. هر هغه شی چي په پرشيا کي له عربي ذات يا نسل سره اړه ولري د پارسيانو له خوا څخه (تازي) يعني (عربي) بلل کېږي لکه (اسپ تازي)، (يعني عربي آس)، او (سګ تازي) يعني (عربي سپی) خو دا دواړه ترکيبي نومونه ځانته مستقلي معناوي هم لري چي د (مسابقې آس) او (د مسابقې سپی، ښکاري سپی) افاده کوي او دا معناوي ئې د پارسي د (تاختن، تاز) (يعني ځغستل، ځغلول) او نورو سره اړه لري او له همدې توري څخه نو ښايي هغه (تاز) راوتلی وي چي پارسيان ئې د عربو دپاره په کار اچوي.

د ملک د بېلابېلو برخو نومونه چي زموږ د مراجعې د يوناني او رومي ليکوالو او په وروسته کي د اسلامي ليکوالو له خوا څخه ذکر سوي دي زموږ د پلټني په پيل کي وختي لا موږ ياد کړي دي او دې ته ضرورت نسته چي اوس يو ځل بيا تکرار سي. زموږ د کتني په جريان کي مو د هغي سيمي پر ټوله ورشو باندي نظر واچاوه چي په دمخه کي زموږ د پلټني په منظور د افغانستان په توګه تعريف سوې وه او هيچري موږ د هغې کومه برخه ونه موندله چي يا د لرغونيانو، يا د وروستنيانو او يا حتی د هغې د موجودو اهاليو له خوا څخه د افغانستان په نامه بلل سوې ده. ځکه سره له هغه چي دا نوم دوی ته ورمعلوم دی خو د ملک دپاره ئې د نامه په څېر د دوی له خوا څخه نه استعماليږي. له دې حکمه څخه يوازي د اهاليو برخه

وتلې ده چي ځانونه دراني افغان بولي ځکه صرف د تېري پېړۍ له منځنيو کلونو راهيسي د دوی له خوا څخه په دغه نامه يادېږي. کوم نوم چي دغه سيمه د خپلو اهاليو له خوا څخه وربانديې پېژندله کېږي او وربانديې يادېږي هغه خراسان دی. داسي ښکاري چي د افغانستان نوم د پرشياوالو سره راپيدا سوی وي او د هغه ترکمن نادرشاه د بري تر زمانې وړاندي نه دی چي د پرشيائي امپراتورۍ پوري د دې سيمي بيا الحاق د ده له خوا څخه منځته راغی. تقريباً يو سل او پنځوس کاله پخوا ئې جنوبي برخه د هغه ځای د غالبي قبيلې د نامه په تعقيب بلوچستان او شمالي برخه ئې د هغه ګوټ د غټ ولس په نامه پسي چي ده چاري ورسره تړلي وې افغانستان وباله. خو د تېري پېړۍ په منځنيو کلونو کي چي کله ابدالي احمدشاه ځان په دې سيمه کي د نادرشاه د فتوحاتو کالخوايه وګرزاوه نو ئې د افغانستان نوم هغه ټوله ملک ته وغزاوه چي موږ د لرغوني آريانا په اساس تعريف کړی دی. افغانستان که څه هم د يوې ارضي ساحې د نامه په توګه د بېخي وروستنۍ نېټې يو نوم دی خو افغانان په خپله له يوې خورا ليري زمانې راهيسي په تاريخ کي راڅرګنديږي. دا څرګندېدنه لږ تر لږه زموږ د ميلادي سنې د اتمي پېړۍ له پيل څخه رانيول کېږي چي په دې وخت کي د سيستان شمالي پلو د غور په غرنيو سيمو کي پراته بدوي داړه مار غرنيان د هغو وختنيو عربي چپاويانو له خوا څخه چي پر دې سيمه ئې هجوم راوړی و د افغان او د جمع په شکل د افاغنه په نامه باندي پېژندل کېږي. له دې زمانې راپه هيسته وړاندي د ورپسې دوو پېړيو په دوران کي چي کله پر دې سيمه باندي جګړې رواني وې او شاهي کورنياني ترله اوړي نو د افغان نوم يو او بل وخت د يو ښورښي او بربري ولس په څېر د ختيځ پېژندني په تاريخ کي داسي تصويرېږي چي دوی زياتره کوچي يا چوپاني خلک دي. په غ‍ريزي توګه جنګيالي او داړه اچوونکي دي، او په طبيعي ډول د ښې درجې نظامي او حکومتي استعدادونه لري. څو دا دی چي

بالاخره د غزني د غوري کورنۍ په واکمني کي د خپل برم او شهرت اوج ته هغه وخت رسېږي چي مشهور شهاب الدين غوري هندوستان ونيوی او ده نه يوازي اسلام هلته ټينګ کړ چي د غزني د دمخني ترکي کورنۍ د سلطان محمود له خوا څخه ورغلی و بلکي له دې سره جوخت ئې تيارسی افغاني لښکر په داسي سويه هلته ځای پر ځای کړ چي د غوري کورنۍ تر زوال وروسته، همدې لښکرو لکه څنګه چي د ډهلي د پښتني پاچهانو له خوا څخه تمثيلېږي، افغان د هند ستري واکمنۍ ته وخېژاوه. موږ له دې خبري سره علاقمند نه يو چي په هند کي افغاني سرګذشت تر هغه ځايه تعقيب کړو چي بيا ئې مغلو ځای ونيوی، خو ښايي مناسبه به وي چي له دې ټکي څخه مخ هغي پلټني ته راواړوو چي دغه افغانان څوک وه. هغه پاچهي کورنۍ چي په غزني کي د سبکتګين له خوا څخه تاسيس سوه د ترک په نامه مشهوره ده، که څه هم (سبک) په خپله ښايي د غزني د ملک يو بومي وګړی او علاوه پر دې يو راجپوت و. په هر حال ده د هغو قبيلو له يوې قبيلې څخه ښځه وکړه چي د غزني شاوخوا اوسېدله، له دې ښځي څخه ئې زوی او خلف هغه مشهوره محمود پيدا سو چي دی لومړی اسلامي شاهزاده دی چي د سلطان لقب ئې واخيستی. دغه محمود پر افغانانو باندي خاصه پېرزوينه درلوده او په زيات شمېر ئې نه يوازي دا چي په خپل لښکر کي چهره کوله بلکي همدارنګه ئې پر بېلابېلو دولتي چوکيو باندي مقرروله. له دې لاري نو افغانانو دونه ستر قدرت او نفوذ موندی چي د غزني پر تخت باندي ئې د ده د کورنۍ ځای ونيوی چي بيا د غور افغان ته ورانتقال سوه.

د غزني د شاهي کورنۍ غوري افغان د غور د سور په قبيله پوري اړه درلوده. دوی سوري افغان وه. سور مو دمخه د غور د قبيلو په جمله کي ښوولی دی خو دا خبره نامعلومه پاته سوه چي آيا دغه سور له سوريائي يا هندي اصله څخه راوتلی دی. د ډهلي پښتانه پاچهان چي د غزني د غوري

کورنۍ پر کنډوالو باندي راپورته سوه له لودي قبیلې څخه وه. دوی لودي افغان وه او په ښکاره د سوري ګاونډیان وه، خو د یوې ارضي قبیلې په څېر ئې اصلي موقعیت ښه نه دی معلوم. که څه هم احتمال لري چي هغه غزني ته نژدې د ارغنداب د ناوې پر خوا یو چیري واقع دی. لودي د سلطان محمود له وخته راهیسي د نظامي قواندانانو او ولایتي والیانو په څېر د پرله پسې سلطانانو تر واکمنۍ لاندي ډېر څرګند تبارز کوی، څو چي په خپله د ستري واکمنۍ مقام ته ورپورته کېږي. اوس د دې قبیلې څوک په افغانستان کي درک نه لري او نه ئې هم د هغه د خاوري په ساحه کي د خپلي پخوانۍ نیوکي کومه محسوسه نښه هلته پرې ایښې ده. که څه هم دا ویل کېږي چي دوی د هغه ټوله ملک یوه ډېره مهمه قبیله وه چي موقعیت ئې د هیلمند پر غاړه د بست یعني د محمود د دربار د ژمني هستوګنځای او د غزني یعني د هغه د دوبي د هستوګنځای تر منځ ټاکل سوی دی. ویل کېږي چي پر هندوستان باندي د محمود د مکررو چپاوونو، په تېره بیا په سومنات کي د هغه له بریالي کېدو سره مادي مرستي کړي دي. په هند کي (لودي) یا لکه څنګه چي هلته بلل کېږي (لودهي) زیاتي شاندازه کالونیاني په تېره بیا د سرهند په علاقه کي جوړې کړي دي چي هلته د دوی د غټو مېنو له جملې څخه یوه ئې هم د لودهیانې ښارګوټی تمثیلوي چي اوس تر بر تانوي واکمنۍ د لوېدلو او تبعید سوو افغاني امیرانو د پناه ټاټوبی دی. د لودي، لدي، لودهي یا لدهي نوم د راجپوتي قبیلو او خېلونو تر منځ نه لیده کېږي. خو د شمالي هند د برهمنیانو تر منځ د لهدي په نامه یو خېل موجود دی. ښایي همدغه د لهدي برهمنی خېل د اوسني لودي مورینه وي او یا دوی امکان لري د لیدیا له لرغوني لودي څخه په خپله د لهدي برهمني وګړو سره یو ځای راپیدا سوي وي. خو خبره چي هر راز وي د سوري او لودي له نومو څخه یو لا هم د افغان د نامه د مورینې په پیدا کولو کي چي د یوه ملي نامه په څېر دغه دواړه قومونه تر هغه لاندي

تصنیف سوي دي، زموږ سره مرسته نه کوي. په دې ډول نو موږ په دې کې هم ناکامه سوو چې د افغان د نامه مورینه د هغو خلکو تر منځ پیدا کړو چې پر دوی باندي د ملي نامه په څېر په یقیني توګه د میلاد د اتمي پېړۍ د پیل له وخته څخه پروت دی. راسئ اوس د لرغوني پرشیائي امپراتورۍ په دننه کي چې دې سیمي ئې د تمامیت یوه برخه جوړوله یو بل چیري پسي وګورو.

هیرودوت د هغو شلو ستراپیانو په باب چې وړاندي یادي سوې، د خپلي څرګندوني په سلسله کي وایي چې "دیرلسمه پکتیا کښېباسي چې هلته ارمنیان له څرمه اقوامو سره لیري تر ایوکسین پوري پراته دي". او تر آخریني ستراپۍ وروسته چې کله یو څه وړاندي د هندیانو په باره کي خبري کوي نو وایي "نور هندیان هم سته چې د کاسپاتیروس د ښار او د پکتیکا د ملک پر پوله باندي د هغو نورو هندیانو شمالي خوا ته پراته دي چې د ژوند طرز ئې باکتریایانو ته ورته دی". په دې ترتیب نو د پکتیا په نامه دوه ملکونه په مخه راځي چې یو ئې د لرغوني پرشیا پر لوېدیځو پولو او بل ئې د هغې پر ختیځو سرحدونو باندي واقع دی. د اباسین د حوزې پکتیکا مو دمخه د پوختون - خوا (هندي پوختون کا) د پوخته، یا د پوختانه، یا د پټهان یا د روهیله مربوط د روه د ملک په توګه وښووله او همدا کلمات مو د اوسنۍ پارسي ژبي د کوهستان، یا کوه او کوهستاني معادل وبلله چې په ترتیب سره (د غرني ملک) یا (غرونو) او (غرنیانو) معنا ورکوي. د ایوکسین د حوزې ارمینیائي پکتیا چې د اباسین د حوزې د هندي پکتیا په شان ئې یو راز غرنی خصوصیت درلودی نو په ښکاره د پوختون - خوا یا پوخته (چې غالباً د نرمي پارسي پښتي هغه تلفظ دی چې غرنیان ئې کوي) په هم هغه پارسي نامه باندي یادېده چې معنا ئې (غرنی ملک) کېږي. په افغانستان کي د پوخت او روه زاړه نومونه په محاوره کي له استعماله لوېدلي دي او ځای ئې د اوسنۍ پارسي ژبي کوهستان نیولی

دی چې هغه هم هغه معنا ورکوي. ما ته دا نه ده رامعلومه چې د یوناني پکتیکا په بڼه تمثیل سوی زوړ نوم ئې آیا تر اوسه پوري په ارمینیا او ورپوري ملکونو کي د پوختون - خوا او پوخته په شکل لکه د اباسین په سرحد کي ژوندی پاته دی او که نه. خو احتمال د دې سته چې هلته همدارنګه زوړ نوم له محاورې څخه وتلی او ځای ئې د داغستان اوسني نوم نیولی دی چې د کوهستان د کلمې ترکی معادل دی. د ترکي ژبي د (داغ) او (داغستان) یعني (غرونو) او (غرني ملک) او (داغستاني) یعني (غرنیانو) کلمات که څه هم سر تر پایه په کوچنۍ آسیا کي عموماً د دې دپاره استعمالېږي چې غرنۍ علاقې او د دوی اوسېدونکي افاده کړي خو په ښخي خاصه توګه د ارمینیانو د غرونو په هغه برخه کي چې د کسپین او ایوکسین د سمندرګیو تر منځ پرته ده او شمال پلو د قفقاز لړۍ احاطه کړې ده، د یوې ښلي علاقې او د هغې د اوسېدونکو دپاره په کار اچول کېږي. د دغي سیمي ختیځه برخه د شېروان ولایت نیولې ده چې سترابو او پلیني د البانیا په نامه یاد کړی دی او دا هم هغه ملک دی چې اوس په ښخي خاصه توګه داغستان یادېږي او اوسېدونکي ئې داغستاني بولي. البته دا په دې وجه چې د ملک په وروستنۍ غالبه ژبه کي همدا کلمات د پوختون - کها او پوختون د بومي نابابه سوو کلماتو کټ مټ معادل دي.

روښانه ایسي چې د البانیا نوم دغه ملک ته د رومیانو له خوا څخه ورکول سو. الباني د (غرني ملک) معنا لري او د هغه اوسېدونکي الباني (غرنیان) نومېده چې البانیان کېږي. دا نوم د هیرودوت په اثر کي نسته او ښایي د هغه پارسي نامه لاتیني معادل وي چې د ده پکتیائي تمثیلوي. او هغه په غالب احتمال د پشته یا پوختون - کها کلمه وه. د لاتین اصلي نوم ئې ښایي (البا) و چې د پارسي له (پشته) سره سمون لري. له دې نامه څخه (البانیا) راپیدا سوه چې د پشتون - کها سره برابري کوي. د دې جریان پر اوونه ښایي داسي وښودل سي: البا = پشته = (غر)، البان = پشتان =

(غرني)، البانيا = پشتون – کها = د غرنيانو ملک، الباني = پشتون = د غرنيانو د ملک اوسېدونکي، يا البانيائي. لاتيني البان په ځرګند ډول دهغه ارمينيائي (الوان) مورينه ده چي دا ئې د البانيو دپاره د خپلي ارمني ژبي نوم دی. ارمينيائي الوان، الفان يا البان که څه هم په عادي توګه بې له کومه توپيره دغه راز تلفظ کېږي خو په ارمينيائي خط کي په داسي تورو سره ليکل کېږي چي د تلفظ ليکنه ئې د (اغفان) يا (اغوان) په صورت لوستل کېږي. دغه کلمه چي په ارمينيا کي د (الفان) او داسي نورو په ډول تلفظ کېږي د دوی د خپلو ختيځو ګاونډيانو د محاورې په لهجه کي په (Aofghan – اوغان)، (Avghan – افغان) او (Afghan – افغان) سره اوړي. دا وروستی شکل ئې د هغه د عربي جمع (افاغنه) سره هغه شکل دی چي عام ډول د عربو او نورو اسلامي ليکوالو له خوا څخه تر استعمال لاندي راغلی دی. دا کلمه په مفهوم کي کټ مټ هغسي ده لکه د (کوهستاني) رائجه پارسي کلمه او د (داغستاني) ترکي کلمه او د (غرني) معنا ورکوي.

په دې ترتيب نو موږ وينو چي د لرغوني پرشيائي امپراتورۍ ختيځي غرنۍ سيمي او د هغو اوسېدونکي په بېلابېلو زمانو او د سيمي په بېلابېلو برخو کي په داسي نومونو باندي بلل سوي دي چي ټوله يو شان د (غرونو) او (غرنيانو) معنا ورکوي. د پارسي ژبي قديمه (پوخته) او د هغې اوسېدونکي (پوختون) (په هندوستاني ژبه کي پټهان) چي ژبه ئې (پوختو) يا (غرنۍ ژبه) ده (او د لوېديځو افغانانو له خوا پښته، پښتون او پښتو تلفظ کېږي) د يوناني ژبي (پکتيکا) او (پَکتيس) (چي په انګليسي کي پکتيانز کېږي) د هندي ژبي (روه) او (روهيله) د سانسکريت (داردستان) او (داردا) (چي د محاورې شکل ئې داردو دی) او د پارسي ژبي اوسنی (کوهستان) او (کوهستاني) ټوله يو شان په دغه ترتيب سره د (غرونو) او (غرنيانو) معنا ورکوي. همدغه ته ورته د پرشيائي امپراتورۍ په لوېديځو غرنيو سيمو کي د پارسي ژبي قديمه پشته او پشتان چي د

هیرودوت د پکتیکا او پکتیس مورینه ګڼل سوي دي او د لاتیني ژبي البانیا او الباني چي له هغه څخه د ارمینیایي ژبې الوان، اغفان او افغان راوتلي دي او د ترکي ژبي داغستان او داغستاني ټوله یو شان د (غرونو) او (غرنیانو) معنا ورکوي.

د ارمینیائي (اغفان) په وجود کي زموږ د افغان د مورینې له پیدا کېدو سره نو د پورتنیو تشریحاتو له مخي څخه دا په ښکاره څرګندېږي چي د افغان نوم صرف د (غرني) معنا ورکوي او د رومي الباني ارمینیائي شکل دی چي د اوسني وخت له البانیائي سره یو شی دی او بل دا چي په اصل کي ګردسره د یوه ځانته نژادي قومیت دپاره یو ایتنیکي نوم نه دی بلکي د یوې ټاکلي غرنۍ سیمي د اوسېدونکو دپاره یې له دې څخه چي ملي یا نژادي خپلوي ئې په نظر کي نیول سوې وي ټش یو افادوي نوم دی. دا نوم نو دغه وروستنی مفهوم دی چي د افغانستان د اوسېدونکو دپاره په کار اچول کېږي ځکه افغانان تر هغه ځایه چي موږ ئې پېژنو په یقیني توګه له زیات شمېر بېلابېلو نژادي قومیتونو څخه جوړ سوي دي. خو افغانان په خپله هره هغه قبیله چي د مورنۍ ژبي په توګه پښتو نه وایي د افغان په څېر نه ګڼي او په دې ډول نو د دې نامه په کارولو کي یو څرګند توپیر په نښه کوي. په افغانتسان کي د افغان نوم اصلاً په ځینو هغو قبیلو پوري محدود دی چي د کندهار په ملک کي اوسي او ژبه ئې پښتو ده. خو لکه څنګه چي ئې دمخه بیان تېر سو، نوري پوختو – ویونکي قبیلې چي د سلیمان د لړۍ او د هغې د ښاخونو اوسېدونکې دي د پوختون یا پټهان په نامه بلل کېږي. که دا بیان په نورو الفاظو وسي نو لوېدیځ افغانستان افغان او ختیځ افغانستان پټهان دی.

دا چي د افغان ارمینیائي کلمه چي په اصل کي له لاتیني څخه راوتلې وه، څرنګه تر داسي استعمال لاندي راغله چي د وړاندي بیان سوو محدودیتونو سره د لوېدیځ افغانستان د خلکو د یوې برخي دپاره خاص

په کار ولوېده، یوه داسي پوښتنه ده چي ځېړنه غواړي. زه ګومان کوم چي دانوم په خپله خاص د هغي زمانې له تاریخه سره اړه لري چي په کوچنۍ آسیا کي رومي واکمني چلیده او کېدلای سي تر دې رومي واکمنۍ پسي یوازي کوم وخت د هغو خلکو دپاره په کار لوېدلی دی چي اوس هم په یادېږي. ښایي دا کار به د پارتیاني امپراتورۍ د زمانې په دوران کي هغه مهال سوی وي چي ارمینیا ئې یوه مهمه برخه جوړوله. د ارسکي پاچهانو په اوږده سلسله کي چي تر څلورنیمیو پېړیو زیات ئې د آسیا په دې برخه کي حکومت کاوه، ځیني د دوی له جملې څخه په اصل او نسب ارمنیان او نور ئې د ارمینیائي شاهزادګانو او اشرافو سره د خپښۍ په وسیله ډېر نژدې خپلوان وه. د لوېدیځ افغانستان ټوله ساحه چي د (ارسکي) له بومي مرکز سره نښتې وه او د پارتیاني امپراتورۍ یوولایت ئې تشکیلاوه نو ضرور ئې په دغه وخت کي د هغه له لوېدیځو ولایاتو سره آزادانه راشه درشه درلوده. همدارنګه احتمال سته چي بېلابېلې هغه قبیلې دا ګړی په افغانستان کي موجودي وي چي د تراکیا او لیدیا د لرغونو اوسېدونکو اقوامو په شان نومونه ئې وه او زما له ګومانه سره سم دوی د لومړي ځل دپاره دې ملک ته د یوناني واکمنۍ په دوران کي راغلي وي او د ارسکي واکدارۍ په اوږده دوره کي د خپلو قومیانو نوي ډلي له نورو داسي وګړو سره چي دې برخو ته د لومړي ځل دپاره راتله، ورته را رسېدلي وي. ځکه په لرغونې زمانه کي د بسته قومونو او قبیلو خورا زیات او غټ مهاجرتونه بې له شکه له تراکیا څخه لیدیا ته پېښ سوي دي او له هغه ځایه بیا وړاندي د ختیځ پر لور د هغو زمانو په دوران کي لېږدېدلي دي چي په کوچنۍ آسیا کي د رومي امپراتورۍ او ورپسې د هغو پر ځای د پارتیاني واکمنانو دورې وې. دا کار هم ښایي د دغي زمانې په دوران کي سر ته رسېدلی وي چي لودي یو ځل بیا له لیدیا څخه د هغو بتنیو (د پلیني په خوله د بتېني) سره چي له بیتینیا څخه رارهي وه، یو ځای افغانستان ته

راغله او دوی دواړه په افغانستان کي یو د بل سره پیوند سوه.

افغاني روایتونه لکه څنګه چي دمخه وویل سوه، د خپلو لومړنیو نیکه ګانو ځای د دې ملک په هغه غرنۍ سیمه کي ښیي چي د هیلمند او هرات د سیندونو تر منځ پروت دی او کوهستان غور نومېږي. وایي چي هلته ئې نیکه ګان د ګاونډیانو له خوا څخه د بني اسرائیل او افغان په نامه یادېدله. خو لکه څنګه چي موږ ولیده دغه راز قبیله یا ولس چیري نسته چي په دې نامه باندي د لرغونو لیکوالو له جملې څخه یو چا یاد کړی وي، په دغو برخو کي د افغانانو د موجودیت لومړی تاریخي یادونه د اسلامي لیکوالو له خوا څخه سوې ده او هغو د عربي جنرال حجاج د ۷۰۵م کال د سوقیاتو په ارتباط چي د سیوستان په مقابل کي ئې سر ته رسوله، دوی ته پام اړولی دی. ښایي خبره داسي وي چي عرب به د افغان له نامه سره په دې مفهوم آشنا سوي وه چي په ارمینیا کي (غرنیانو) ته ویل کېږي او نو د لومړي ځل دپاره ئې دا نوم د غور پر هغو غرنیانو باندي کښېښووی چي دوی ئې د چوپاني یا کوچي خویونو سره د یوه داسي بربري او ډاکو ولس په څېر وموندل چي ملي قانون یا منل سوی مشر نه لري خو له بېلابېلو قبیلو او نژادو څخه جوړ دي چي په یوه مشترک نامه باندي نه بلل کېږي. یا خو ښایي لکه څنګه چي په غالب احتمال معلومېږي خبره داسي وي چي په وختني کي لا دوی ته دا نوم ورمعلوم و چي د ګاونډیانو له خوا څخه دغو افغانانو ته په کار اچول کېږي او په دې صورت کي نو موږ دا نتیجه اخیستلای سو چي دوی د ارمینیا د (اغفان) یوه کالوني وه او د محلي قبیلو سره په ګډه له یهودیانو او ارمنیانو څخه جوړه سوې وه. یهودیان چي دغه وخت په دغو برخو کي تر هغه ډېر وه لکه اوس چي په پرشیا کي دي، نو البته دوی ټوله ئې د بني اسرائیل په نامه باندي مسمی کړي وه او اوس دوی په خپله د همدې افغاني قبیلو د هغو خېلونو په وسیله تمثیلېږي چي د موسا په نامه دي. ارمینیایان غالبه دا ده چي مسیحیان وه او د پخوانیو

اسرائیلي اسیرانو اولاده ئې هم په جمله کې شامله وه. د دوی اولاده بیا په همدې افغانانو کې ښایي د (ایسا) د نامه د هغو خپلونو په وسیله تمثیلېږي چي په بېلابېلو قبیلو کې موجودیت لري. له ارمینیا څخه د دغو مهاجرینو په ټل کې ښایي هغه (سیاني) راغلي وي چي د خاچین بټني یوه څانګه ده او معلومېږي چي دوی خپل نوم لکه څنګه چي دمخه وویل سوه د سلیمان د لړۍ (سیونه ډاګ) او د لوېدیځ بلوچستان (سیانه کوه) ته ورکړی دی. ځکه د دوی نوم کټ مټ د (ارمینیا) د (سیونه داغ) د علاقې د (سواني) په شان دی چي د (اراکسیز) او (کور) د سیندونو تر منځ موقعیت لري او اروپائیان ئې د (سوآنیا) یا (سوآنېتیا) په ډول پېژني.

ارمینیان چي له قدیمه څخه ئې د عبري ولس سره خپل نژدې پیوند تل تر تله ساتلی دی افغانانو ته په داسي ستر ګه ګوري چي له دوی سره په نژادي لحاظ قومیان ګڼل کېږي. دوی یو روایت لري چي وایي امیر تېمور (تېمورلنګ) د څورلسمي پېړۍ په پیل کي "یو شمېر ارمینیان [د الوانز Aluans] له ملک څخه واخیسته او د کندهار په هغه ملک کي ئې مېشته کړه چي هلته ئې خپل دین واړاوه". یعني مسیحیت ئې د اسلام په خاطر باندي پرېښووی. پادري چامیچ چي د (ارمینیا تاریخ) لیکلی دی او هغه په انګرېزي باندي [جي. ابدال] ترجمه کړی دی د کلکتې د چاپ په (دوهم ټوک او ۲۱۷ مخ) کي د پورتني اقتباس سوي بیان تر څرګندوني وروسته دا هم زیاتوي چي "د کندهار یوه برخه د دوی په نسبت د الوانیانو یا افغانانو په نامه یادېږي. ځیني د دغه روایت په تائید کي څرګندوي چي د دغي برخي اهالي د خورک په وخت کي پر خپله ډوډۍ باندي د صلیب نښه کاږي". سربېره پر هغو څرګندونو چي پورته ئې یادونه وسوه نوري زیاتي نښي نښانې هم د دې خبري پر ثبوت باندي سته چي مسیحیت په پخوا کي د افغانستان د اهالیو د یوې لویې برخي دین ګڼل کېدی. خو دا یوه داسي موضوع ده چي اوس له هغې سره موږ سروکار نه لرو.

ACKU

زموږ د مطلب دپاره دا کفایت کوي چي افغانان مو د ارمینیانو تر منځ ومندله او هلته د کوچنی آسیا د البانیانو د نمایندګانو په څېر موجودیت لري. اوس موږ ښایي خپل بیان په دې څرګندونه سره پای ته ورسوو چي زموږ د افغانستان افغانان فقط زموږ د هندي البانیا البانیان دي او د بر تانوي (البیون) په ختیځه امپراتورۍ پوري اړه لري.

د ۱۸۹۱ م کال د جولای اتلسمه

ایچ. ډبلیو. بیلیو

د دې اثر د پښتو ترجمې لومړۍ مسوده د ۱۹۹۳م کال د سیپټمبر د میاشتي پر ۱۹ نېټه پای ته ورسېده. د ترجمې کار مي په هغه وخت کي سر ته ورساوه چي زه د مسکو د اطرافو په هغه محل کي مېشته وم چي نوی ایروسلیم (نوی بیت المقدس) نومېدی او هلته د (چیخوف) په نامه یو لاګر (کمپ) د پناه لټونکو دپاره جوړ سوی و.

او دا دی دوهمه مسوده ئې له نوي کتني او سموني سره د ۱۹۹۶م کال د جنوري پر ۲٦ نېټه د مسکو د ښار په یوه کور کي بشپړه سوه. (د مترجم یادابښت).

د مترجم لاسلیک

# زموږ نور چاپ سوي کتابونه

۱. احمدشاهي کندهار – لومړی ټوک/ استاد محمدمعصوم هوتک
۲. احمدشاهي کندهار – دوهم ټوک/ استاد محمدمعصوم هوتک
۳. د کوډو سرنوشت د علمي پلټني په رڼا کي/ استاد نومیالی
۴. د پښتنو د ټولنیز تاریخ مبادي/ استاد نومیالی
۵. انګار – شعري مجموعه/ عبدالقدیم پتیال
۶. شل مقالې – نهمه برخه/ علامه حبیبي
۷. شل مقالې – لسمه برخه/ علامه حبیبي
۸. شل مقالې – یوولسمه برخه/ علامه حبیبي
۹. شل مقالې – دوولسمه برخه/ علامه حبیبي
۱۰. شل مقالې – دیارلسمه برخه/ علامه حبیبي
۱۱. د کندهار دودونه/ عبدالخالق واسعي
۱۲. اوسني لیکوال/ استاد عبدالرؤف بېنوا
۱۳. پردېس بېنوا/ عبدالقدیم پتیال
۱۴. کندهاري ورونه/ استاد محمدمعصوم هوتک
۱۵. په کندهار کي د کورنۍ جوړښت/ ظاهر افق
۱۶. د لومړي افغان – انګلیس جنګ مقدمه/ د نسیم سلیمي ترجمه
۱۷. د پلار لیکونه لور ته/ د نسیم سلیمي ترجمه
۱۸. پښتو متلونه/ د نسیم سلیمي تالیف
۱۹. په افغانستان کي د یوه بندي خاطرات/ د نسیم سلیمي ترجمه
۲۰. پر معیاري ژبه د معیار په ژبه یوه څېړنه/ استاد محمدمعصوم هوتک
۲۱. د کندهار ښار/ عبدالهادي ریښا
۲۲. ځوان کلونه ناځوان وختونه – شعري مجموعه/ سعید لودین
۲۳. د میوند فاتح/ د عبدالنافع ثنا ترجمه
۲۴. پولیټیکل ساینس ته یوه کتنه/ د ډاکټر محمدصدیق ظهیر ترجمه

ACKU

۲۵. نبوي کورنۍ/ مولوي عبدالهادي حماد
۲٦. نبوي معجزې/ مولوي عبدالهادي حماد
۲۷. اراکوزیا/ استاد عبدالقدوس نجیب
۲۸. افغانان نه ژاړي/ حاجي محمد رزمي
۲۹. افغان شاغاسیان - انګلیسي/ استاد محمد معصوم هوتک
۳۰. کشف شاهنامه قبل از دورهٔ مغل/ علامه حبیبي
۳۱. ملي هینداره/ استاد محمدګل نوري
۳۲. له کندهاره تر اټکه/ استاد محمد معصوم هوتک
۳۳. د بېنوا پرېشانه افکار/ استاد بېنوا
۳۴. نومورکي مؤرخین/ علامه حبیبي
۳۵. د کندهار مشاهیر/ محمدولي زلمی
۳٦. پرډېس عربي قاموس/ د اختر محمد جهید ترجمه
۳۷. پښتو ستا میني بوداپیست ته بوتلم/ استاد محمد معصوم هوتک
۳۸. د پښتو ادب لنډ تاریخ/ علامه حبیبي
۳۹. ستاینې او وېرنې/ اروانباد عبدالمجید بابی
۴۰. د پښتو ژبې ننۍ مسألې/ محمد هارون خپل
۴۱. افغانستان، سیاسي کمزوري او بهرنۍ مداخله/ ډاکټر نبي مصداق
۴۲. پټه خزانه/ د محمد بن داود هوتک - د علامه حبیبي سریزه
۴۳. ادبي فنون/ استاد عبدالرؤف بېنوا
۴۴. نړیوال نکلونه/ د عبدالغفار ترین ترجمه
۴۵. ګیدړه او انګور/ د عبدالغفار ترین ترجمه
۴٦. د ډیپارچر ویکبلري، انګلیسي - پښتو/ د نعیم قاسمي ترجمه
۴۷. لیک نښې/ کاندید اکاډمیسین ظاهر افق
۴۸. بین المللي سیاست ته یوه کتنه/ د ډاکټر محمد صدیق ظهیر ترجمه
۴۹. پښتني قبیلې او روایتي شجرې/ استاد محمد معصوم هوتک
۵۰. د افغانستان د ایتنوګرافۍ په باب یوه پلټنه (همدغه اثر)

ACKU

# An Inquiry in to the Ethnography of Afghanistan




by
H. W. Bellew

Translated by
M. A. Numyalai